لا ستا په زلفو کښې ولونه شته دے  زمـــا مـنزل ته مـزلونه شته دے
جرس شـرنګېږی کـاروان روان دے  زمونږ روانه کښې کالونه شته دے

# د پښتو ناول

# منزل ته مزلونه

**پرویز شیخ**

**(ایم اے اردو ، انګلش)**

Ex.Subject specialist in English
& Principal (r)
Mobil#:0343-9643320

**منزل ته مزلونه**(پښتو ناول) **پرویز شیخ**

**ټول حقوق محفوظ دی**

د کتاب نوم : منزل ته مزلونه

لیکوال : پرویز شیخ

اشاعت : جنوری 2014ء

کمپوزنګ: حبیب الرحمن (صافی)

شمېر: (200)

پرېس: اعراف پرنټرز محله جنګی پېښور
0312-5945568

بیعه: ( 200) روپۍ

**د موندلو درکونه**

یونیورسټی بك ایجنسی پېښور
یونیورسټی بك شاپ
دانش کتب خانه ډهکی نعلبندی پېښور

**ټړون :**

د خیبر په پښتونخوا دَ ستر شخصیّت ، سابقه چیف سېکرټري ، دَ پښتو ادبی بورډ پېښور تاحیات چېرمېن ، په پښتو او پښتنو مئین دَ قدرمن **اعظم خان صیب** (چارسده) په نوم .

پرویز شیخ

www.pukhto.net



## ړومبې باب

دَ نوے کال دَ درېمې میاشتې دَ ړومبۍ هفتې درېمه ورځ وه . دَ کچه سپرلي دَ تنکي حسن مسکا دَ پولو، پټو او مېدانونو نه واخله دَ غر د شنې لمنې پورې دَ چېپې وهونکي شین فصل او دَ ځنګلي ګلونو او غُنچو په موسېدلي شکل کښې په ټول چاپېریال خوره وه . دَ غنمو په شین فصل کښې دَ شړشمو زیړ ګلونه ، د ریدي سرۀ ګلونو سره څنګ په څنګ په هسکه غړۍ ولاړ وو او یو زړۀ راخونکے او روح خوشحالونکې منظرېې پېش کوو . دَ لرې نه بهر دَ شین فصل په مینځ کښې دَ جینکو دَ ګورنمنټ انټر کالج سور عمارت داسے ښکارېدو لکه په شین قالین چې دَ ناوې سره ډولۍ پرته وي.

ځابنتي وخت وو ، نرۍ یخه خوشګواره او خوشبوداره هوا چلېده او دَ ځوان کهول په ځوانو رګونو کښې دَ مستۍ ګرمه وینه ګرځېده. یو خوا رنګینې لولکۍ او تنتنکۍ په ځنګلي ګلونو پرېدې، بل خوا په رنګینو جامو کښې دَ کالج جینکۍ ډلې ډلې په منډه منډه کالج ته تلې . په منډه منډه ځکه چې نن په کالج کښې دَ هغوی اخري ورځ وه . نن هغوي دَ سالانه امتحان دَ پاره فري کېدونکې وې. نن دَ هغوي یو بل سره دَ لیدو کتو ، مېل مېلاپ ، ټوقو مسخرو او رازونیاز اخری ورځ وه . نن نه لرې ورځې پس د هغوي سالانه امتحان شروع کېدونکے وو . دَ امتحان په شپو ورځو

کښې دَ هغوي يو بل سره ملاوېدل اوليدل کتل اتفاقي کېدېشو خو زړۀ پورې او اوږد ملاقات نشو کېدے ځکه چې په دغه ورځو کښې هغوي په خپلو خپلو خولو کښې ډوب وي او دَ خپل ځانه او خپل حال احواله خبر نه وي. نن دَ هغوی دَ مياشتو او کالونو ملګرتيا ، دوستانې او ملاقاتو اخري ورځ وه . نن نه پس دَ هغوي دَ جُدائي او هجر لمحې شروع کېدونکې وې .

دَ يؤلسم جماعت دَ طالباتو په خواهش دَ کالج دَ پرنسپلې له خوا دَ دولسم جماعت دَ طالباتو دَ پاره دَ يوې الوداعي پارټۍ بندوبست شوے وو. دے مقصد دَ پاره په هال کښې دننه دَ تقريرونو ، ټېبلو، ټوقو ټقالو دَ لفظونو او دَ اعضاء دَ شاعرۍ او دَ نورو سرګرميو انتظام دَ کالج دَ DPE مېډم رېحانه په نګرانۍ کښې شوے وو. دَ ډهولکي دَ پاره دَ لرې کلي دَ مشهور ډهولك نواز دَ اروابناد ضمير استاذ زوے کاشان سره دَ ډهولکي راغلے وو . هغۀ ځان نه ځادر تاؤ کړے وو ، توري چشمې يې اچولے وے ، د جينکو دَ ډلې نه لرې يو خوا ته سره دَ ډهولکي ناست وو او دېوال ته يې ډډه وهلے وه . دے کالج ته دَ هغۀ راتګ څۀ نوے نه وو . هغۀ په پنځم جماعت کښې سبق وېلے چې په رومبي ځل دَ پرنسپلې په خواهش باندې دَ پلار په ځاے هغه راغلے وو . په دوېم ځل هغه دَ درويشتم مارچ دَ يومِ جمهوريه دَ پروګرام دَ پاره راغوښتے شوے وو . دې نه پس به کال په کال دَ طالباتو الوادعي پارټو او خاص پروګرامونو دَ پاره غوښتلے کېدو . په هغه



www.pukhto.net



وخت کښې دَ هغۀ شونډه لانه وه شنه شوې . دَ سکول جينکو به هغۀ سره چېړ چاړ کوو ځکه چې دغه يوسف پسې هره جينۍ زلېخاوه. چا به ترېنه چشمې تختولې ، چابه ورله غوږ له ډکي اوړل ، چا به پرې نُوکارې لګولې ، چابه پرې چکونه لګول ، چابه دَ هغه په ډهولکۍ خپل خپل نومونه ليکل ، چابه ورله دَ ډهولکي په ځرمن دَ ډِل او تير نښخې جوړولې او چا به پرې روماني او عشقيه شعرونه ليکل . کله کله خو به هغه دَ هغوی دَ شرارت نه دومره تنګ شو چې دَ ډېره سوختـه به په ژړا شو او دَ شکايت دَ پاره به دَ پرنسپلې دفتر ته روان شو. هغوي به هغه په نيمۍ لاره کښې اونيوۀ او تر هغې پورې به يې تخنوو چې دَ هغۀ ژړا به په خندا کښې بدله شوه . بيا به يې پُخلا کړو ، ټولو جينکو او مسيانو به ورله چنده اوکړه او ډك جېبونه به يې رخصت کړو . چې کور ته به اورسېدو نو هغۀ به هغه ډك جېبونه دَ پلار په جولۍ کښې تش کړل . بيا به دَ هغۀ پلار يو يونوټ دَ جولۍ نه راخستو ، ګونجي به يې ورله هوارول او دَ قودې په شکل کښې به يې په بل لاس کښې نيوو . هغۀ به نوټونه هم سمول او کله کله به يې دَ ستاينې په طور هغۀ ته هم په مُسکا مُسکا کتل . دا ټولې زړې خبرې وې . نن دَ هغۀ په مخ کښې هغه شوخ رنګي او نيرنګي نه وه کومه چې څۀ موده مخکښې دَ هغۀ په اننګو کښې لکه دَ سور سپرلي دَ سور ګل ځلېده . داسې معلومېده چې دَ هغۀ ګل مخ دَ هاړ سرې غرمې وهلې او مړاوے کړے دے .

دَ ضمیر استاذ خپل زوړ کورکلے هیچاته معلوم نه وو ځکه چي هغه په څو څو کلو ګرځېدلے وو او نن نه لس کاله اګاهو دَ خپل ایکے یو زوي سره دوه په دوه لړی کلي ته راغلے وو او دَ کلي نه بهر دَ شېردل خان بابا دَ صحرا په یوه زړه کوټه کښې ډېره شوے وو. شېردل خان بابا نه صرف دَ لړی کلي خان وو بلکه دَ خپل دروند خوي او سخا په وجه دَ خواؤ شا کلو په خانانو او غریبانانو هم ګران وو. هغه دَ ښۀ اسپو شوقي وو . دَ هغۀ په طبېله کښې به هر وخت دَ ګوتې ګوتې شپږ اووۀ اسپې ولاړې وې . جانان کاکا دَ هغۀ دَ طبېلې سائېس وو او دَ نوکرانو په مرسته به یې دَ هغۀ دَ اسپو خصمانه کوله . دَ هغۀ دَ اسپو نومونه ، دَ هغوي دَ مور پلار نومونه ، دَ هغوی تاریخ پیدائش ، جائے پیدائش ، دَ هغوي رنګونه ، قدوقامت ، دَ هغوي دَ قام قبیلې نومونه او دَ هغوي کارنامې په یو رجسټر کښې درج وې . رانی ، سیلۍ ، مرغۍ ، مرنۍ ، وږمه او غُنچه دَ هغۀ دَ اسپو نومونه وو . جانان کاکا به هر سحر او ماښام دَ هغوی دَ صحت په باره کښې هغۀ له بریفنګ ورکوو او دَ هغۀ په مشوره به یې عمل کوو . چې کومې اسپې به لږه سپېږمه اووهله یا به اوتو خیده نو په سترګه رپ کښې به ورته دَ حیواناتو ډاکټر حاضر ولاړ وو . دَ جانان کاکا په نګرانۍ کښې به هغوي هر سحر په خوشبو داره صابن لامبدې ، په صفا تولیو به اوچېدې او دَ شړشمو په سو چه تېلو به مالش کېدې .

شېردل خان بابا دَ اس دَ سورلۍ ، دَ پولو او نېزه بازۍ ډېر



www.pukhto.net



شوقي وو . د دے شوق پوره کولو دَ پاره هغۀ په خپل جائېداد کښې یو لوے ګرؤنډ جوړ کړے وو . هر سحر به هغۀ دَ پاره یوه اسپه زین کړې کېده ، دَ هغۀ سورلۍ ته به اودرېده او دوه درې ګهنټې بلاناغې به په هارس ګرؤنډ کښې زغلېده . دَ هغۀ عمر اګر چۀ دَ شپېتو نه اوختے وو خو دَ ځلوېښت ، پنځه ځلوېښت کالو سړي به دَ هغۀ فولادي وجود ته پسخېدل . هرکال به په درېمه او ځلورمه میاشت کښې دَ هغۀ په هارس ګرونډ کښې دَ هارس رېس ، پولو او نېزه بازۍ مقابلې کېدې . دَ پښتونخوا نه علاوه دَ سندهـ ، بلوچستان، پنجاب او افغانستان نه به دَ مقابلو دَ پاره شوقیان سره دَ خپلو اسپو راتلل. دغه ټولې اسپې به دَ هغۀ په طبیله کښې اودرېدې او مېلمانۀ به په ورځو ورځو دَ هغۀ په حجره کښې ډېره وو . په لړی کلی کښې به دوه میاشتې دَ جشن نظارې او تماشې وې .

کله چې ضمیراستاذ دَ شېردل خان بابا دَ صحرا زړۀ کوټه کښې مېشته شو نو دغه دوه میاشتې به هره ورځ پرله پسې ډهولکے په غاړه هارس ګرؤنډ ته تلو او چې مقابله به شروع شوه نو هغۀ به دَ اسپو دَ چال مطابق ډهولکے وهلو . چې چا به مقابله اوګټله نو ضمیر استاذ به ډنګېدلے ډهولکے په غاړه دَ هغۀ نه تر هغې تاوېدو چې ترڅو به یې انعام نه وو ورکړے . دَ تېرو څو کالونه دا سرګرمۍ ختمې شوې وې ځکه چې شیردل خان بابا بوډا شوے وو او دَ هغۀ زامن بهادر شېر او سکندر شېر په اسلام آباد او پېښور کښې په ښۀ

عهدو سرکاری افسران وو . د دې سرګرمۍ په ختمېدو سره دَ لړۍ کلۍ رونق هم ختم شوے وو او دَ چابړي فروشو ، مزدورانو کاروبار هم ختم شوے وو او دَ ضمیر استاذ دَ امدن لویه وسیله هم ختمه شوې وه دَ شېردل خان بابا دَ مرګ نه پس دَ هغهٔ زامنو هغه ټولې اسپې خرڅے کړے او په هغه پیسو یې ځان ځان له ښکلې بنګلې او خائسته خائسته حجرې جوړے کړے .

ضمیر استاذ دَ تېرو لسو کالونه په لړۍ کلي کښې اوسېدو خو دَ هغهٔ خپل کور کلے چاته معلوم نه وو . چې چابه ترېنه دَ خپل کور ، کلي تپوس اوکړو نو هغه به دَ انګا بنګا ټول کلي دَ ګوتو په شمار راقط کړل او په اخره کښې به یې ورته اووے ، "دغه ټولو کلو کښې ما وخت تېرکړے دے " دَ هغهٔ خبره څهٔ حده پورې صحي هم وه ځکه چې د دغه ټولو کلو مشران ، کشران هغهٔ پېژندل . چې چابه ترېنه دَ کاشان په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه به ورله په لنډه راتاؤ شو او ورته به یې اووے "دا مِ زوے دے " . اګر چې هغهٔ دَ خپلې خبرې څو څو ځله تصدیق کړے وو خو دَ خلقو دَ هغهٔ په خوله باور نه کېدو ځکه چې دَ هغهٔ په ټول بدن کښې یو رګ هم پلار ته نه ووتلے . هم دغه وجه وه چې دَ کاشان متعلق دَ شك وشبهې ډېرې خبرې جوړې شوې . چاوے چې " دَ هغهٔ پرکتے دے ، چاوے دَ هغهٔ لے پالك دے، چا وے دَ هغهٔ هیڅ نه دے بلکه پردے هلك دے ". دَ هغهٔ په بیا بیا یقین دهانۍ هم دَ چا سود نه کېدو ځکه چې دَ شکل وصورت



www.pukhto.net



نه واخله تر قدوقامت ، خبرو اترو اوکړهٔ ، اوړهٔ ، پورې دَ هغوي یوه نښخه پته هم خپلو کښې مشترکه نه وه . ضمیر استاذ تك تور او جګلے ، مندرے سړے وو او کاشان لکه دَ یوناني دیوتا اینډیمین لوړ دنګ او خیره وجود لرلو . دَ هغهٔ جُثه سپینه او سترګې یې تکې سرې وې . داسې سرې چې دَ ژوبلو سترګو ګمان پرې کېدېشو هغهٔ به اوړے ژمے لائټ ډارك چشمې اچولے چې دَ خلقو دَ فضول تپوسونو نه خلاص وي . هغهٔ دَ پلار په ژوند دَ لړۍ کلي په سکول کښې تر لسم جماعت پورې رسېدلے وو خو دَ پلار دَ ناګهاني مرګ په وجه هغهٔ ته دومره ذهني او قلبي صدمه اورسېده چې سبق یې پرېښودو . دَ هغهٔ استاذانو دَ کلاس جائن کولو دَ پاره هغهٔ پسې څو څو خطونه اولېږل خو هغه سکول ته لانه ړو ځکه چې یو خوا دَ هغهٔ څهٔ اسره پاتې نشوه ، بل خوا هغه دَ خپل کلاس فیلوز نه تنګ شوے وو او هغه داسې چې هغه دَ خپل سپین پوستکي په وجه په سکول کښې په White egg مشهور شوے وو . چې څومره به هغه غصه کېدو نو هومره به پرې دغه نامه شتهٔ کېده .

هغه لا ورکوټے وو چې پلار سره به دَ لړۍ او خواؤ شاکلو ښادۍ، خوشحالۍ له هم تلو ،دَ اختر په مېله کښې به یې ورسره هم ډهولکے وهلو او اتوار په اتوار به ورسره دَ مال منډۍ ته هم تلو . دَ کلي خلقو او خپل هم جماعتو سره دَ هغهٔ ناسته پاسته ډېره کمه وه او که څهٔ لږه ډېره وه نو دَ پلار دَ مرګ نه پس یې هغه هم ختمه کړه .

تولـه ورځ بـه پـه خپله کوټه کښې ناست وو او دَ پلار له خوا دَ ښودلي شوي راګـونـو مشـق به يې کوو . مازیګر به دَ لړی کلي بازار ته لاړو دَ غـرمـې او ماښام مشترکه ډوډی به يې ګونګړو ، پيکوړو سره اوخوړه او خپلې ډهېرې ته به يې ځان اورسوو . دَ هغهٔ دَ پلار دَ مرګ نه پس به هغهٔ پسې ماسخوتن ډلې ډلې هلکان دَ ګپ شپ دَ پاره راتلل خو چې هغـه بـه مـاښام تیارهٔ په کوټه دننه شو نو تر سحره پورې به چاله هم دَ کـوټې نـه نـه راوتو . دَ هغهٔ خپل حُسن هغهٔ پورې اور شوے وو. چې شونډه يې بے شنو وه نو دَ اُوار هلکانو نه تنګ وو چې شونډه يې شنه شـوه نو دَ کلي دَ پېغلو نه پوزې له راغی . څو څو ځله په دې وجه بے عـزته شو او اوهلے شو چې هغه چاله توجه نه ورکوي . یو ځل پرې دَ چاقـو ګـزارونه هم شوي وو. ګزارونه اګر څهٔ سرسري وو خو وینه ترېنه ډېره تـلې وه . که فوجی کاکا ترمینځه شوے نه وے او هغهٔ ډاکټر له نه وے بوتـلے نـو خدائے خبر چې دَ هغهٔ به څهٔ حال وو . دې نه پس پـرې يو ځل طماچه هم کړچېدلې وه او که هغهٔ منډه نه وه وهلے نو دَ هغـهٔ مـرګ يقيني وو. دې نه عـلاوه يو ځل دَ هغهٔ په غېر موجودګی کښـې دَ هـغـهٔ دَ کـوټې جرنده ماته شوه او دَ هغهٔ دَ ډهولکي څرمن په چاقو سوری سوری کړې شوه . هغهٔ په خپله بے عزتی نه وو ژړلے ، هغـهٔ پـه خپـلـو وهـلـو او دَ چـاقو پـه ګزارونو نـه وو ژړلے خو چې دَ ډهـولـکي سـوری سوری څرمن ته يې اوکتل نو په چغو چغو په ژړا شو هغهٔ دَ پلار په مرګ دومره نه وو ژړلي لکه دَ ډهولکي په سوری



www.pukhto.net



سـوری څرمن يې چي ژړل . ډهولکے يې خپلې سيني پورې اونيوو او سـلګی يې وهلے . په دغه سلګو سلګو کښې دَ هغهٔ په زړهٔ کښې راغـلـه چې دا خـلـق دَ هـغـه نه ولې نه قلارېږي . دَ ولې په ټکي باندې هـغـهٔ تـه دَ خپـل ماضي او حال تولې وجهې ، تول مطالبات او واردات مخکښې شو . دَ هغهٔ ورځ دَ سرو مچو په ګبين او شپه يې مېږتون وه. هـغـهٔ پـه زړهٔ کښې فيـصـله اوکړه چې هغهٔ له دا کلے پرېښودل او بل خـوا تلل پکار دي . . . .خو بل چرته ؟ دَ چا کوټې له لاړ شي؟ . . . .دَ چا دَ دېوال سيوري ته کښني؟ . . . . .دې سره دَهغهٔ سلګی نورې هم زياتې شوې او په دغه سلګو سلګو کښې اودهٔ شو.

په صبا يې ډهولکے ځنګ ته واچوو ، بازار ته يې يوړو او نوې څرمن يـې پـرې واچـولـه . دَ هغهٔ دَ پلار څلويښتي لانه وه پوره شوې چې په کلي کښې وادهٔ جوړ شو او هغهٔ ته دَ ډهولکي وهلو دَ پاره اووېلې شو. دَ پـلار پـه مـرګ دَ مـاتـم پـه وجه هغهٔ دَ ډهولکي وهلونه انکار اوکړو، کـوټه يې بند کړه او دَ هغه قبر له هديرې ته روان شو. هغهٔ دَ مور مينه نـه وه ليـدلـې خـو پلار هغهٔ له دومره مينه ورکړے وه چې دَ هغهٔ تنده پـرې دَ دوارو اړخه ماته شوې وه . هغه لا دَ پلار دَ خاؤرو سلي ته په ډکو سترګـو ولاړ وو او هـغـهٔ تـه يـې دعا کولـه چي ګلی ترور ورپسې پـه تپـوس تپـوس هـديرې ته لاړه او ورته يې په غصه اووې "ډمکو چيه ، تـهٔ دومـره کبـرژن شـوے چې زمونږ ښادی له نه راځـے ". هغهٔ لا ورته څهٔ انـه بهانـه جـوړولـه خـو هـغـې هيڅ ته پرې نښودو ، دَ لاس نه يې

اونیوو ، ځان سره یې روان کړو او تر هغې ورته دَ ور په درشل ولاړه وه چې سره دَ ډهولکي یې کور ته بوتلو .

دَ لړې کلي وړې ، زړې او پیغلي نیمکۍ هغه سره دومره بلدې وې لکه چې هغه دَ هغوي خپل ملکیت وي . . .لکه چې هغه دَ هغوي دَ لوبو ګوډاګے وي. نه ترې یرېدې ، نه تري شرمېدې. دَ هغۀ شمېر نه په هلکانو کښې وو او نه په جینکو کښې وو ځکه چې هغه ډمکوچے وو . چې هغۀ ډهولکے سُرکړو نو په ګډا ګډا به دَ هغۀ خواله ورتلې او په مستۍ مستۍ به په هغۀ ورپرېوتې . هغۀ چاته هم مخ نشو اړولے ځکه چې هغۀ ته خپل پلار وېلے وو چې هغوي نه صرف کسب ګردي بلکه دَ کسب ګرو کسب ګر دي او نور خلق دَ هغوی نیکان دي که هغوي نایان او که شاخېلان دی . هغۀ ورته دا هم وېلے وو چې که هغوي ته خپل مړے په تخته پروت وي خو چې دَ هغوي فرمائش راشي نو هغه به پرېږدي او دَ هغوي ښادۍ له به ځي. هغۀ ته پلار دا نصیحت هم کړے وو چې ”همېشه به دَ خپل نظر حفاظت کوي . نه به چاته ګوری او نه به چاته خاندي. بس خپل کار سره به کار لري نور هیڅ نه“. هم دغه وجه وه چې هغۀ دَ ځان نه څادر تاؤ کړے وو ، دَ معمول مطابق یې تورې چشمې اچولے وے او دَ جینکو د ډلې نه لرې ، دېوال ته یې ډډه وهلے وه او ځان له ناست وو. لس بجې په کالج کښې د پارټۍ پروګران شروع شو. دَ پروګرام درې برخې وې . ړومبۍ برخه دَ تقریرونو وه ، دوېمه برخه دَ ټېبلو او ټوقو



www.pukhto.net



ټقالو وه او درېمه برخه دَ ګیت سنګیت وه .دَ کالج پرنسپله او نورې استاذانې ناستې وې او دَ دولسم جماعت یوې حسینې جینۍ صبا دَپروګرام کمپېرنګ کوو. دَ پروګرام شروع دَ معمول مطابق دَ تلاوت کلامِ پاك نه اوشوه . دې نه پس یو نعت اووېلې شو او ورپسې تقریرونه شروع شو . چې دوېمه برخه ختمه شوه نو پرنسپله او استاذانې دَ هال نه اووتې او دَ درېم پروګرام دَ پاره مېدان جینکو ته پاتے شو . دے پروګرام دَ پاره چې کاشان هال ته راوستے شو او جینکو دَ هغۀ په څنګ کښې ډهولکے اولیدو نو ځینئ خوش مزاجه جینکۍ ورته په ناستې ناستې په ګډا شوې . دا پروګرام دَ لوبی بګتۍ او دَ اعضاء دَ شاعرۍ نه شروع شو . چې ډهولکے سُر شو نو دَ پروګرام مطابق به یوه یوه جینۍ ستېج ته ختـه او دَ خپل فن مظاهره به یې کوله . دَ پروګرام ړومبۍ لوبه وه ، ”یه ملنګه یاره ، کېږده قدم رو“. دوېمه لوبه وه ،” سپینې سپوږمۍ وایه اشنا به چرته وینه “درېمه لوبه وه ، ”یو قدم به مخکښې بل به روستو ورته اړدمه “. دې لوبو سره به څۀ جینکۍ پاس په ستېج ګډېدې او څۀ به لاندې په فرش ګډېدې . چادَ موبائیلونو په ذریعه دَ هغوی دَ ګډا او لوبو عکس بندۍ او صدا بندۍ کولې او چا دَ کېمرو په ذریعه دَ هغوي فوټو ګرافۍ کولې. کاشان سر ټیټ کړے وو او په خپل سُر کښې یې دَ هغوي دَ ګډا او لوبو مطابق ډهولکے وهلو . دَ هغۀ دَ سر لوې لوې وېښتۀ دَ جال په شکل کښې دَ هغۀ په مخ خوارۀ وو . دَ تورو ویښتو او تورو چشمو په

وجه دَ هغۀ دَ مخ تصویر کشی صفا نه کېده . دَ جینکو دَ څو څو خواستو او منتونو باوجود هم هغۀ نۀ سر اوچتوو او نه يې هغوي ته کتل . چې دَ نورو جینکو نه ناپوره شوه نو صبا په مُسکا مُسکا دَ هغۀ خواله ورغله ، هغه سره کېناسته ، په يولاس يې دَ هغۀ وېښته شاته واړول او په بل لاس يې دَ خپل سر نه ربن لرې کړو او دَ هغۀ سرته يې واچوو . دَ هغې په دے جرأت دَ جینکو یوه لویه خندا په هال کښې اوکړنګیده . د دې هر څه باوجود هم نه هغۀ سر اوچت کړو، نه مسکے شو او نه يې هغوي ته اوکتل . صبا سر ټيټ کړو په مُسکا مُسکا يې دَ هغۀ سترګو ته اوکتل او وې وئیل ، "اُف الله ، ته خو چاته ګورے هم نه ؟لږ خو راته اوګوره کنه پلیز . لږې سترګې راواړوه کنه پلیز " . دَ هغۀ زړۀ غوښتل چې دَ هغې دَ زړۀ دَ پاره هغې ته اوګوري او دَ هغې دَ مُسکا جواب په مُسکا اوکړی خو چې دَ پلار نصیحت ورته رایاد شو چې، "همیشه به دَ خپل نظر حفاظت کوے ، نۀ به چاته ګورے او نه به چاته خاندے . بس خپل کار سره به کار لرے نور هیڅ نه " . په دې وجه هغۀ خپله اراده اوځانګوله ، نه يې سر اوچت کړو او نه يې هغې ته اوکتل . چې اونشوه نو بیا پاسېده او دَ پښتو دَ یوې مشهور لوبې په طرز او دَ نوے الفاظو په امیزش يې یوه لوبه شروع کړه . هغې ګډا هم کوله او لوبه يې هم وېله . لوبه داسې وه :

ے لږې په چل چل کښې سترګې راواړه وه کاشانه

لوګې لوګې شمه دَتانه



www.pukhto.net



لږې په چل چل کښې سترګې راواړه وه کاشانه

درته منت کومه ، راته اوګوره

راغلې تاله یمه دَ سترګوتوره

دَ خپله ځانه په ما ګرانه

سترګې راواړه وه کاشانه .

زړګے م تاپسے خوږېږي

لالیه دا به څۀ چل کيږي

تۀ خبر نه يې دَ خپله ځانه

سترګې راواړه وه کاشانه

دومره نشه مۀ کوه خپلې ځوانۍ باندې

دومره غرور مۀ کوه دلربائۍ باندې

زۀ کمه نه یمه دَتانه

سترګې راواړه وه کاشانه .

هغې ډېر کوشش اوکړو چې هغه خپل ځان ته متوجّه کړي خو چې هغۀ ورته اونه کتل نو هغې په غمژنه لهجه اووې، "اُف الله دومره کبر؟ دې سره هغه دَ ستېج نه کوزه شوه او دَ هال نه بهر اووته . دَ هغې دَ تلو نه پس ګنې جینکۍ ستېج ته اوختې او شاډوله يې جوړه کړه. دَغه تېولې به په ګډا ګډا دَ هغۀ نه تاوېدې او په هغۀ به راغورېدې. هغۀ داسې محسوسه کړه لکه چې هغه دَ مستو ښاپیرو په ډله کښې ګېر شوے وي . هغۀ ډهولکے هم وهلو او په زړۀ زړۀ کښې يې ځان

له دَ تېختې لاره هم لټوله . هغه لا په دغه خیالونو کښې ډوب وو چې میډم ریحانه او صبا دواړه هال ته راغلې . مېډم ریحانه چې دَ جینکو انډوخر ته اوکتل نو دَ قهره تکه سره شوه . اېکدم یې سیهټې اووهله او په قهر یې اووې what is this? what,what,? دَ هغې سېهټې سره ټولې جینکۍ چپ شوې . دَ ستېج نه په یره یره کوزې شوې او په خپلو خپلو ځایونو غلې کېناستې . دَ هغې غصه لا سړه نه وه . ټولو ته یې په قهرېدلې سترګو اوکتل او بیا یې ورته په تحکمانه انداز کښې اووې ،" ټولې جینکۍ بهر اوځۍ او شامیانه کښې کینۍ ، ډوډۍ تیاره ده ، هري آپ ، هري آپ" ټولې جینکۍ تیتې سترګې په یره یره او توندۍ دَ یو بل نه مخکښې کېدې او بهر وتې . دَ هغو ي دَ تلو نه پس هغې کاشان ته اوکتل او وې وئیل : کاشانه ، دې جینکو خو درسره څۀ بدتمیزي نه ده کړې "؟ کاشان دمننې په انداز مُسکے شو او وے وئیل ،"نه بی بی هیڅ بدتمیزي نه ده شوې ". دَ هغۀ په یقین دهانۍ هغه مسکۍ شوه او وې وئیل "تېنك ګاډ . . . ډېره ښۀ ده . ښه ډوډۍ تیاره ده . تۀ دلته خورے که شامیانې ته تلل غوارے "؟.

کاشان (په التجائی سترګو ) "که دلته اوشي نو ستاسو به ډیره مهرباني وي ".

مېډم ریحانه :. O.k ، تاله به دلته راشی . (صبا ته ) "صباتۀ کاشان له دلته ډوډۍ راؤړه . دا ذمه واري ستاشوه خو څۀ بدتمیزي ورسره





اونکړې ".

صبا:. نو مېډم ، چرې هم نه تاسو ته به هیڅ شکایت نه ملاوېږي، دې سره هغوی دواړه دَ هال نه بهر اووتې او کاشان دَ ډوډۍ په انتظار کښې ناست وو. هغه لا دَ ډهولکي مزو او تانګونو کښې ګوتې وهلے چې یوې خاله ډوډۍ راؤړه او هغۀ ته یې مخکښې کېښوده ، هغې پسې صبا هم دَ اوبو جګ ، ګلاس په لاس راغله ، خاله چې بهر اووته نو کاشان دَ سترګو نه چشمې لرې کړے او دَ مخ لاس وینځلو دَ پاره واش روم ته ورغې ، هغه چې دَ واش روم نه بهر را اووتو نو دَ هغوي دواړو سترګې اچانك یو بل سره اولګېدې . صبا په یره یره هغۀ ته اووې ،" اُف الله ، ستا سترګې خو تکې سرې دي لکه چې ډېر دے ژړلي وي"؟ هغۀ چې دَ هغې خبره ووربده نو په ړومبي ځل مسکے شو او وے وئیل ، "نه بی بی ، دَ ژړا ورځې خو لا پاتې دي " دَ هغۀ په خبره هغه مسکۍ شوه او وې وئیل "خُدائے دے هغه موقعه نه راولي او که راولي نو چې مونږ دواړه دَ یو بل اوښکې اوچوو". کاشان چې دَ هغې دَ خبرې په اشاره پوهـ شو نو خبره یې بدله کړه او وے وئیل :." نه بی بی دا ژوبلې نه دي بلکه زما دَ سترګو رنګ سور دي "؟

صبا:. اوه ، امیزنګ ، واقعي ؟

کاشان:. بالکل ، واقعي ، زما سترګې پیدائشي سرې دي.

صبا:. ستا سترګې ډېرې خائسته دي.

کاشان:. شکریه ، دې سره هغه ډوډۍ ته کېنې او ډوډۍ شروع کړې

صبا هغـۀ تـه پـه مُسـکا ګوری او وائی ، "اُف الله ته خو چاته دَ ډوډۍ ست هم نه کوے "؟

کاشان:. بي بي زړۀ مِ غـواړي چه ست درته اوکړم خو دَ څۀ مجبورۍ په وجه داسې نشم کولے .

صبا:. مجبوري ؟ څۀ مجبوري؟

کاشان:. یـوه دا چې تۀ پردۍ جینۍ یې ، او زۀ پردے هلك یم "صبا دَ هغـۀ د خـولې نـه خبره اخلي او وائي"،کاش دَ "پردۍ او پردے "، دا دواړه ټکي زمـونـږ دَ میـنځ نه اوځي ، هغه یوه شیبه خاموشه وي او دَ هغـۀ رِدِ عـمل ته ګوري خو هغه هغې له څۀ جواب ورنکړي او خپله ډوډۍ خوري . صبا هغـه ته وائی ، " ښۀ بله څۀ مجبوري ده "؟ هغه چې نـوړۍ تیـره کـړي نو دَ ابو یو ګوټ وړپسي اوکړي . ګلاس لاندې کـېـږدي او وائـی ، "بـله مجبوری دا ده چې زۀ کسب ګریم او . . . . .".

صبا پـه بـې صبرۍ سره دَ هـغـۀ دَ خولې نه خبره اخلي او وائي ، "تۀ کسـب ګـر نـه یې کـاشـانـه ، بـلـکه آرټسټ یې". هغه دَ هغۀ دَ خولې جُـوته اوبـو نـه یوه دوه ګوټه څکي او بیا وائی "تۀ هغه عظیم آرټسټ یې چې دَ خپـل آرټ پـه ذریـعـه دَ زړونـو تـارونه چیړے . . .په زړونو کښې سازونـه او سـرودونـه جـوړه وے". معلومه نه ده چې هغې به مـخـکښې نورڅۀ څۀ وې چې په دیکښې مېډم ریحانه راغله . هغې چې هغـوي ته اوکتل نو مسکۍ شوه خو ډېر زر یې مُسکا په غُصه بدلـه شـوه او هغې ته یې اووې :. "صبا ته دلته څۀ کوې "؟ صبا چې



www.pukhto.net



هـغې ته اوکتل نو رنګ یې زېړ شو خو ځان یې قابو کړو او وې وئیل، "مېډم ستاسو دَ حکم مطابق خپله ډیوټي کوم".

مېډم ریحانه :. زما دَ حکم مُطابق خپله ډیوټي کوي ؟ څه مطلب؟

صبا:. مېډم تاسو ماته دَ کاشان دَطعام ډیوټي راکړې وه .

مېډم ریحانه :. ماتاله دَ کاشان دَ طعام ډیوټي درکړې وه خو دۀ سره دَ قیام نه . دا نه چې ته ورسره کېنه او د دۀ خولې ته ګوره . وېري شېم فاریو.

صبا:. سوري مېډم .

مـېـډم ریـحانه :. د دې هسې ناستې نه بهتره دا وه چې په خوله کښې دې نوړۍ ورکولې ؟

صبا (غلې غونډې ) کاش داسې اوشي.

مېډم ریحانه :. څۀ دې اووې ؟

صبا:. کاش داسې نه وې شوي . سوري مېډم .

مېډم ریحانه :. o.k . اوس راځه چې دَ جینکو ډوډۍ ته اودرېږي.

صبا:. o.k میـډم ، دې سره هغـه دَ ستېـج نـه کوزېږي او هغې سره روانیـږي . پـه تلو تلو کښې مېډم ریحانه خپه نیولی شي او کاشان ته وائی ، "کاشانه څۀ کم خو نه دي "؟

کاشان :. نه مېډم ، هرڅۀ ډېر دي شکریه .

مېډم ریحانه :. دې خو درسره څه بدتمیزي نه ده کړي .

کاشان :. نه مېډم ، هیڅ نه .

مـېـډم ریحانه . o.k ښـه تـه ډوډۍ اوخوره نـو بیـا دَ پرنسپلې دفتر ته

راشه چې خپله مزدوري دے واخلے .

کاشان :. ډېره ښه ده مېډم ، شکریه .

★★★

## دوېمه برخه

دَ کاشان پـه لیـدو بـاندي هغې ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ ژونـد پـه ژور او فـراخـه سـمـنـدر کښـې هـغـې دَ خپلو ارمـانو حاصلولو دَ پاره په ډوبه ساه هلې ځلې کولې او قریبه وه چې هغه په دغـه تـېـرو کښې او دَ سمندر په چپو کښې غرقه شوې وې او همېشه همـېشـه دَ پاره فنا شوې وې چې یوه رېسکیو کشتۍ دَ هغې خواله راغلـه او اودرېـده . دَ کشتـۍ پـه لیدو باندې دَ هغې په ساه کښې ساه راغلـه او چې هغه په ځان پو هېده نو په کشتۍ کښې ناسته وه او په هغـه چپـو سـوره ګـرځېده کومو چې لږ ساعت مخکښې په هغې دَ لـوبـو لـوبې کولې . هغې دَ امتحان تیارې کوو خو دَ هغې دَ هر کتاب په هرمخ هغې ته دَ سبق په ځاې دَ کاشان تصویر ښکاریدو . هغې به دَ سبق یادولو په ځاے ټوله ورځ دَ هغهٔ تصویر سره خبرې کولې .

دَ هغې امتـحان لا روان وو چې په الوداعي پارټۍ کښې دَ موبائیل په ذریعـه ویستلي شوي دَ هغې او دَ نورو جینکو تصویرونه او دَ هغوي دَ لـوبـو ریـکـاډنګ دَ انټرنیټ په ذریعه په ټوله سیمه کښې خور شو . دَ لـړۍ ، مرجانۍ کالو بانډې اوَ دخواؤ شا نورو کلو خلق چې د دې واقعې نـه خبـر شو نو ټول دَ غصي نه سره لمبه شو ، دَ هغوي او دَ هغوي دَ کلو



www.pukhto.net



دَ خـویـانـدو ، لـونړو ګډاګـانـې ، لـوبې ، سندرې او دَ هغوي مستۍ او خـنـداګـانـې چې دَ کـالج په هال کښې دننه پټ په پټه شوې وې اوس دَ انټرنیټ پـه ذریعـه پـه ټـوله علاقه او بیا په مزه مزه تر لرې لرې خورې شـوې . دا کـار چـا اوکـړو او د دغــه پښـتـنـو پـیـغـلو او دَ درنو کورونو دَ خویـانـدولـونړو حیـا چـا واخستــه ، دا معلومـه نـه وه ؟ خو دا هر چاتـه مـعـلـومـه وه چې دا کـار دَ جیـنـکـو په کالج کښې دَ هغوي دَ الوداعي پـارټۍ په پروګرام کښې شوے دے . خبره تله تله او په کاشان ټکې شوه . دا خبـره ټنګېده ټنګېده اَنُ چې دَ کاشان غوږونو ته هم اورسېده . هغهٔ چې دا خبره وورېده نو خپله یره ورسره ملګرې شوه . دَ هغهٔ یره په ځاے وه ځـکـه چې یـو ځـو شپې پرله پسې هغهٔ ته دَ کوټې ورهم اوګړېدو. خـو چې هـغـهٔ ورلرې نکړو نو دَ کوټې ورسره پس پسې اوشو او دَ هغهٔ غوږ له دا ګنګوسه راغله چې "ځې به چرته ؟ خلاصېدے نشې نن نه صبـا ، صبـا نـه بـلـه ورځ ". هـغـه په زړهٔ اوخوړه چې دَ کلي خلق دَ هغهٔ خـلاف راپـورتـه شوي دي او هله به قلاریږي چې هغه یو خوا ته کړي . هـغـهٔ دَ دې کـلـي نـه تـلل غوښتل خو داسې نه بلکه دَ تلو نه مخکښې هـغـهٔ خپـل ځان سپینول غوښتل . هغهٔ ته دا نه وه معلومه چې هغه دَ لـړۍ کـلـي دَ خـلقو ملزم نه بلکه مجرم دے. دَ هغهٔ خلاف چارج شیټ تیـار شـوے وو او دَ هـغـهٔ پـه غیر موجودګۍ کښې شا په شا هغهٔ دَ پاره سـزا هـم تـجـویـز کـړې شـوې وه . هغه ټوله شپه ډډې په ډډې اوختو را اوختـو او پـه دغـه مسله یې سوچ کوو . سحر چې دَ خوب نه پاسېدو نو

دَ ناشتې کولو په ځاے يې خپله غاړه غوټه اوتړله او دَ کلي دَ مشرانو ، کشرانو سره يې دَ ملاوېدو اراده اوکړه . دَ هغهٔ دَ تيارئ اخرى مرحلې روانې وې چې دَ کلى خلق ورپسې په افه را اووتل هغه يې ګيپ اونيوو ، لاسونه يې ورله شاته اوتړل او دَ کلى لوے ډاګ ته يې بوتلو . هلته يې ورله سر اوخروو ، قميص او بنيان يې ترېنه اوويستو او شنې چوکې يې ورته اونيوے . دَ هغهٔ دَ ژړا ، فرياد يوه يوه چغه تر اسمانه رسېده خو په دغه نزدے کسانو کښې چا هم نه اورېده په وهلو وهلو دَ هغهٔ ټول بدن شنې تغمې او پاړې پاړې شو . بيا يې ورله مخ تور کړو، سخاګئ يې ورله په سر ماتې کړے ، دَ هډوکو اميل يې ورته په غاړه کښې واچوو ، په ژوبل او پمن خرېې سور کړو او دَ هغهٔ ډهولکے يې هغهٔ پسې وهلو . دَ کلى زنانه ورته په لارو ، کوڅو او کوټو ولاړې وې او دَ هغهٔ دَ بې وسئ تماشه يې کوله . په تلو تلو کښې ورته پوچه وينا هم کېده او دَ کاڼو ، ټيکرو او چمانو ګزارونه هم پرې کېدل . په وهلو وهلو دَ هغه مخ ، سر دومره اوپړسېدل چې د پېژندګلو نه اوتے وو . دَ کلى خلق تر هغې ورپسے وو چې دَ لړئ کلي دَ بريد نه يې اوويستو . چې خلق ترېنه واپس شو نو هغه دَ خر نه کوز شو او په لوے سړك لوڅ لغړ او خپې يبله خپې روان شو . چې په کوم کلي به تېرېدو نو دَ هغه کلي واړهٔ به ورپسے شو په کاڼو، لوټو به يې هم ويشتلو او چغې به يې هم ورپسے وهلے ، "لېونے دے لېونے" چې دَ لويو وړو نه تنګ شو نو سم سړك يې پرېښودو او په



www.pukhto.net



شاړو ، مېرو سر شو .

دَ کاشان دَ تلو نه پس دَ لړئ کلي تپ اوختو او ټول خلق يخ کيناستل . لکه څنګه چې دَ کاشان او دَ کالج دَ جينکو تصويرونه دَ انټرنېټ په ذريعه په ټوله سيمه کښې خوارهٔ شوي وو دغه شان دَ کاشان دَ وهلو ، دَ خر د سورلئ او دَ هغهٔ دَ بې عزتئ ټول تصويرونه هم خوارهٔ شو ي وو . دَ لړئ کلي خلقو به په موبائيلونو کښې دَ هغهٔ تصويرونه کتل ، هغهٔ پورې به يې خاندل او هر چا به خپله خپله کارکردګي په خپله ستايله . يو به په خندا خندا کښې وے ، "چې ما پرې کاڼے ورلړه کړو نو په سر اولګيدو ، يو اوچ ټك يې اوکړو او ټك سره ترېنه بوتئ بوتئ وينه رااووته ، بل وے ، چې ماپرې دَ خښتې يوه سوکېداره ډکره ورخوشے کړه نو په ملا اولګيدو او دَ لګيدو سره يې دَ ملا نه دَ وينې دهارې شروع شوې ، درېم وے "يره ماله خو دَ هغهٔ ژړا پورې خندا راتله" څلورم وے ، " ما چې ورله په سر سخا اګئ ماته کړه نو دومره سخا ډډوزې راباندې راغلې چې هلته ايساريدې نشوم . اويَئ ، دَ هغه پرې هډو څهٔ پروا هم نه وه ". هر يو لګيا وو او دَ خپلې مړانې ستاينه يې په خپله کوله . دَ مشرانو په ډله کښې هم په دغه واقعه ګرماګرم بحث روان وو . بارود بن کاکا (بحرالدين کاکا) لګياوو او وے يې ، "ښهٔ اوشو چې دا کلے ترينه خلاص شو اوس دے ګرځي په لوړو جورو". سيدولى کاکا دَ بارودين کاکا دَ خبرې تائيد اوکړو او وے وئيل ، "دهٔ سره هم دغسې پکار وو . دَ ټول کلي حيا يې واخسته ،

هغـهٔ پسـې عـلي جـان کاکا زياته کړه ، "دَ کله نه چې دغه ډمکو چې زلمـې شوې دې نو بهر په ګودرونو ، په کورونو او تنورونو دَ هغهٔ نه سوا بـلـه خبره نـه وه او چې کـلـه نـه هـغه تلـې دې نو ټولې ورپسې دومره خفـه دي چې روحونه ترينه اوتې دي"په دغه ډله کښې فوجي کـاکـا هـم نـاست وو او دَ هغوي خبرې يې اورېدې .چې هغوي خپلې خبـرې ختـمي کړې نو هـغـهٔ هم غاړه تازه کړه او بارودين کاکا ته يې اووې ، "بارودينه ، دغـې هلك ،کاشان له دغه سزا تا تجويز کړې وه "

؟علي جان کاکا دَ هغهٔ دَ خولې خبره په نيمه لاره کښې ځان ته راواړوله او وې وئيـل "نـه يره دې پـه څهٔ کښې دې ؟ دهٔ تـه ګوره او دومره دَ تـورې کار تـه ګـوره . دې پريېږده چې خپـل پرې غرې. دغه سزا ورله دې ځـوان يـعـنـی مـاعـلـی جان تجويز کړې وه او دې ټولو پرې امنه کـړې وه (خـانـدی).مـنـې او کـه نه داسې په شرمونو مِ اوشرموو چې ټول عمر به ياد ساتي او په دې طرف به يې بيا پيريان هم رانشي ،

فـوجي کـاکـا:. يـره عـلي جـانـه، کـه رشتيـا رابانـدې وائې نو د دغـه شرمولو نه يې مرګ بهتر وو .

بارودين کاکا:. دغه چغې هغه هم وهلې چې ، "مړ مِ کړی خو په دې شرم مِ مـهٔ شرمـوی . خدای شته ماهم ورته اووې چې زياتې ورسره مـهٔ کـوی ، چـرتـه شاړې ته يې بوځی او يوه ګولۍ پکښې سره کړی چې سپي پرې ماړهٔ شي ، خو دوی زما خبره اونه منله ".

فوجي کاکا:. هسې علي جانه ، يو تپوس درنه کولې شم ؟


www.pukhto.net



علي جان کاکا:. تپوس كه تپوسونه . وايه فوجي په زړهٔ دې څه دي؟

فوجي کاکا:. په زړهٔ مِ دا دي چې دې هلك څهٔ ګناه کړې وه ؟

عـلي جان (خاندي) هيّـی نـره شابشـې. داتـه لا پـه کـومه دنيا کښې اوسې؟ تاتـه لا دَ هغـهٔ دَګناه پته هم نيشته ؟ هغه خو زمونږ نه حيا واخسته ، په شرمونو يې اوشرمولو او تهٔ لا خبر هم نه يې ؟

بـارودين کـاکـا:. خبـردې . ښـه خبردې خو زمونږ نه خبرې اوباسي. دې خو پټ شو او دَ کلي فيصله يې مونږ ته پرېښوده .

عـلي جان کـاکـا:. تـا هاغـه تـصـويـرونـه نـه دي ليدلې چې پـه ټولو موبائيلوکښې راغلي دي؟

فـوجي کـاکـا:. هغـه مِ ليـدلي دي خو پـه دې پوهـ نشوم چې دغـه جينکۍ هغه کالج ته غوښتې وې او که هغوي غوښتې وو.

عـلي جان کـاکـا:. يـره فـوجي تـهٔ هسې پيشوګان تلې او مږي په پړي کوې.

فـوجي کـاکـا:. نه علي جانه ، نه پيشوګان تلمه او نه مږي په پړي کومه خـو هسې ځان پوهومه . دوېمه خبره دا ده چې دغه جينکۍ په خپله مـرضـۍ ګډېدې او کـه هـغـه پـه زور ګډولې. تاسو چې هغه ته دومره سـنـګـيـنـه سزا ورکـولـه نودَ هغهٔ څهٔ قصور وو ؟ درېمـه دا چې دَ سزا ورکـولـو نه مخکښې تاسو دَ هغه نه بيان اخستې دې ؟ دَ هغهٔ نه مو دَ خپل جرم تپوس کړې دې ؟ هغهٔ له مودَ صفائی موقعه ورکړې ده؟

عـلي جان کـاکـا:. يـه هلکه فوجي ، ته مونږ سره د دغه ډمکو چي په

سرولې نخلے ؟ اغيزلې خبرې مۀ کوه مړه .
فوجي کاکا:. دغه ډمکوچے خوستاسو خپل سړے وو؟ تاسو به په خپله کورته بوتلو او ستاسو زنانه به ورته ګډېدې . لرې به نۀ ځو هغه بله ورځ دَ ګلې ببو دَ نمسي سنت وو ، هغه ورپسې په خپله لاړه او لاس نيولے يې کورته بوتلو . په خپله هم ورته ګډېده ، اينګياندې يې هم ګډيدې او دَ کلي او يو ځاے ، بل ځاے ميلمنې هم ګډيدې . دې نه مخکښې دَ بارودين کاکا دَ زوي شمروزي وادۀ وو او جنج دَ لرې نه مرجانۍ ته تلو . په ټوله لاره ورته د دۀ دَ کور زنانه ګډيدې او دۀ پرې روپۍ شيندلے . که دروغ ويم نو دا دے ناست دے تپوس ترينه اوکړه . . .دې نه مخکښې ستادَ ځوي کوېژدن وه ، هغې دَ پاره تا په خپله کورته بوتلے وو. تۀ هم ورته ګډېدے او ستاسو زنانه هم ورته ګډيدې . . .ښه يوه مياشت نيمه مخکښې د دے سيدولي دَ نمسي سرکلے وو ، هغې دَ پاره دۀ په خپله کورته بوتلے وو . که دغه ټول تصويرونه په موبائيل راغلې وو نو بيا ؟ فوجي کاکا په خبرو خبرو کښې هغوي ټول دَ بنې نه سپک کړل . دَ هغۀ طنزيه خبرې لا روانې وې چې يو يو پاسېدو او روانېدو . چې ټول لاړل نو هغه هم پاسېدو او روان شو .
هلته په مرجانۍ او کالو بانډه کښې دَ جينکو دَ تصويرونو خبرې لا روانې وې چې دَ پاسه پرې دَ کاشان دَبې عزتۍ او رسوائۍ خبرې راغلې . دا خبره دَ صبا نه علاوه دَ هغې رونړو او اورندارو ته هم اورسېده . صبا دَ مرجانۍ کلي دَ ميرعالم خان لور او دَ نورعالم اوګل


www.pukhto.net



عالم کشره خور وه . ميرعالم خان سره دَ خپلې ښځې ځۀ موده مخکښې دَ دې دنيا نه تلے وو خو دَ هغۀ کورنۍ او ډهېره ډانډا لا هغسې دَ هغۀ په نوم چلېده . نورعالم اوګل عالم دَ خپلې ترور دوو لونړو سره وادونه کړي وو .خپله پنځوست ، شپېتۀ جريبه زمکه يې په خپله کرله او ښه رنګه ډهنګه يې جوړه وه . دَ کلي خلقو ورته ډېر په درنه سترګه کتل او دَ کلي په هر مړي ژوندي کښې به دَ مشرۍ په ځاے کښې ناست وو . دواړو رونړو ډېر خوږ وخت تېره وو ځکه چې بهر دَ هغوي رورولې وه او په کور کښې دَ هغوي دَ ښځو خورولې وه .
صبا دَ هغوي ايکې يوه خور وه او هغوي دواړو لکه دَ خوږ لاس ساتله . دَ هغې اورندارې جان پرې او ګل پرې هم دَ هغې نه زارېدې او قربانېدې. دَ کور ټول کار يعني اخلې پخلې او پخول سړول به هغوي او دَ هغوي خدمتګارې کوو او هغه يې سبق ته پرېښې وه. دَ سبق نه علاوه هغې له خپلو رونړو دَ زمکې دَ امدن او خرچې ټوله ذمه واري ورکړے وه . په هر سيزن کښې به هغې دَ زمکې دَ امدن او خرچې حساب کوو او په يو رجسټر کښې به يې دَ هغې اندراج کوو. دَ کال په اخره کښې به يې دَ امدن او خرچې ټوله ګوشواره او ميزانيه هغوي ته پېش کوله . دَ هغې حساب دومره کهره وو چې کوم بچت به هغې په رجسټر کښې اوښودو نو په نغدو روپو کښې به هم هغه هومره وو. دَ هغې رونړه دَ هغې نه دومره خوشحاله وو چې نورعالم دَ پيسو دَ الماری چابيانې راواخستے هغې له يې ورکړے . صباترينه په مُسکا

مُسکا چابیانې واخستې او جان پرې لـه یې ورکړې . بیا یې ورته اووئیـل ، ”مشرې دَ مشـرې بـابـی حق دے او دا بـه یـې کوي “ . هغه دومره نیازبینه وه چې کلـه بـه یې روټـې لړې خړې شوې نو بیا به تـرینـه سره دَ خدمتګارې دواړه خویاندې تاوېدې . چابه ورله په سر زور کـوو ، چابـه ورلـه پـه خپـو لاس زور کوو او چا به ورله نظر ماتې کوو. کـومـه میـنـه چې دَ هـغـې اورندارو هغې سره کوله ، دَ هغې نه زیاته ورسره هغې کوله . چې کله به دَ هغې رونه په څۀ خبره خپلو ښځو ته غـصـه شـو نـو دَ هـغـوی پـه ځـاے به ورته هغه مخې ته ولاړه وه او دَ هـغـوی دَ هرې خبرې جواب به یې کوو. دې نه علاوه دَ هغوی بال بچ سره بـه یـې دَ هـغـوی پـه هـوم ورك کښـې مـدد هم کوو او دَ هغوی تـعـلیـمي کمزوري به یې پوره کوله . دَ هغې غوښتو دَ پاره ډېرې ښۀ ښۀ رشتې راغلې خو دَ هغې دَ سبق په وجه ټولې پاتې شوې . هغې دا ضـد نیـولې وو چې تر څو هغې خپل تعلیم نه وي پوره کړې نو هغه وادۀ تـه تیـاره نـه ده . دَ خـائست نـه علاوه صبا خوږ زبانه هم وه او ازاد خیـالـه هـم وه . ټـولـه شپـه به یې خپلو اورندارو او دَ هغوي بال بچ ته دَ خپـلـو استـاذیانو ، پرنسپلې او خپل کلاس فیلو جینکو دَ ټوقو ټقالو او خـنـدا مسخرو خبرې کولې او هغوي به یې خاندولې . او که چرې دَ بـدقسـمتـۍ نه به دَ هغوي نوکر نورخان ماما راغـۍ نو بیا خوترینه هغه خلاصیدے نشو . په دې وجه هغه اکثر دَ هغوي خواله نه ورتلو.

ډېر خوږ وخت تېریدو خو معلومه نه ده چې هغوي دَ چانظر اووهل. دَ



www.pukhto.net



هـغـوې دَ بـدقسـمـتـۍ نـه دَ هـغـې دَ تـصـویرونو خبره هغوي تـه هم اورسېده . دغه خبره لاچلېده چې دَ پاسه پرې دَ کاشان دَ بې عزتۍ او دَ هـغـۀ دَ سـزا خبره راغله . هغوي ټول دَ هغې دَ تصویرونو او دَ کاشان دَ سزا نـه خبـر شـو خو ټولو دا خبره دَ یو بل نه پټه اوساتله . صبا هم ځان پـه نـاخبرو کښـې واچـوو او دَ هـغـې اورندارو هم ځان په ناپوهو کښې واچوو. دا خبره په مرجانۍ کښې دومره خوره شوه چې په هرکور، لاره کـوڅـه او حـجـره کښې به کېده او چې څومره به وخت تېریدو هومره بـه خورېده . بیـا پـکـښـې خـلـقو نورې نورې خبرې را اوویستلے . دَ نـورعالم او ګل عالم دَ خپلو خپلوانو او خېرخواهانو دَ کوشش باوجود هـم دا خبـره نه پټېده او نه دَ چا په انکار دروغ کېده . خبره دې له راغله چې هـغـوي دَ شرمـه نـه بهـروتـے شـو اونه پټې ته تلے شو . هغوي دواړو دَ یـو بـل نه پټ په پټه داسې منصوبې جوړولے چې هغه په څۀ طریقه دَ مینځ نه اوباسي خو هغوي پرې بدنام نشي . جان پرې دَ خپل خاوند نورعالم په خطرناکه اراده پوهـ شوه . هغه اګرچۀ په ظاهره چپ وه خـو دَ هـغـې پـه زړۀ کښـې دَ مـحشـر هـنګامې وې . نه یې هغه په مـرګ پـېـرزو شـوه او نـه دَ خـاونـد مخې له ورتلې شوه . نه یې دَ هغې صـفـائـی کولې شوه او نه یې دَ هغۀ لاسونه نېولې شو . صباته هم ځان کـچه او ملامته ښکارېدو . په دې وجه هغه دَرونو مخې له نه ورتله او نـه هـغـوي راغـوښـتـه . البته جان پرې به دَ هغې کمرې ته تله راتله او هغه به یې دَ ښو لاندې سارله .

دَ صبا امتحان ختم شوے وو . اوس هغه بالکل فري شوې وه او دَ هغې هغه بهانې هم ختمې شوې وې کومې چې دَ هغې دَ واده په لاره کښې رکاوټ وې . جان پري غوښتل چې هغه زرترزره واده کړي او خپل شرم دَ بل دَ غاړې کړي . هغې دَ هغه خلقو لارې سارلې کوم چې مخکښې دَ هغې رشتې غوښتو له راغلي وو خو دَ هغې دَ سبق په وجه پاتې شوې وې . يو خوا به هغې دَ نورعالم او ګل عالم سترګو ته کتل بل خوا به يې دَ هغوي لارو ته کتل خو چې چايې تپوس اونکړو نوبيا يې دَ استاذي په ذريعه دَ هغوي خولې بوئين کړې خودَ هغې دَ تور په وجه دَ هغې رشتې ته هيڅوك تيارنشو. چې دَتولو نه مايوسه شوه نو بيا يې دَ خپلې ياندې دَ خپل نوکر نورخان دَ پاره دَ هغۀ مور ګلابې ابۍ سره خبره اوکړه .

نورخان دَ هغوي دَ مېښو نوکر وو . دَ مېښو لشل، غوجل غورزول، دَ هغوي پالل، سمبالول او دَ هغوي خصمانه دَ هغه په سر وه . هغۀ خپله هلکانه او ځواني دَ هغوي په نوکرۍ کښې په دې غرض تېره کړه چې ميراعظم خان به هغۀ له واده کوي خو هغۀ به ورسره په چل ول وخت تېره وو . په "نن به شي، صبا به شي"کښې ترينه ميراعظم خان لاړو او دَ نورخان ځواني هم ورپسې لاړه خو دَ هغۀ دَ واده ارمان پوره نشو . دَ هغۀ عمر اګر څۀ دَ ځلوېښتو نه ووختو خو هغه دَ واده دَ مطالبې نه وو ووختے .

ميراعظم خان هغۀ سره په خپل ژوند دَ خپلې خدمتګارې خانزادګۍ خبره کړې وه خو هغه هغۀ سره واده ته تياره نشوه او پېغله زړه شوه. دَ



www.pukhto.net



ميراعظم خان دَ مرګ نه پس ورسره نورعالم دَ خپلې خدمتګارې صابرې خبره اوکړه . هغه هغې سره واده ته تيار شوخو چې صابره خبر شوه نو هغې ورپسې دَ هغوي خدمت هم پرېښودو. اوس هغه دَ نور عالم دَ بلې خدمتګارې جانۍ په طمعه وو . نورخان نرے، نروچکے، سپك دسته سړے وو . څۀ دَ هغۀ غريبي او بې وسي وه ، څۀ دَ هغۀ بدقسمتي وه او څۀ دَ هغۀ ذهني پستې وه . په دې وجه دَ هغۀ واده زانګېدو زانګېدو ان چې دې وخت ته را اورسېدو . دې نه علاوه دَ څۀ بيمارۍ په وجه دَ هغۀ ټول غاښونه اوتي وو. په دې وجه هغه دَ خپل طبعي عمر نه ډېر زيات بلکه بوډا ښکارېدو . دَ کلي خلقو به هغه سره په ټوقو ټوقو کښې دَ هغۀ دَ واده خبرې کولے او دَ هغۀ نه به يې نوې نوې خبرې ويستلې . دَ هغۀ دَ واده خبره تله تله ان چې ټوقه ترينه جوړه شوه او دغه ټوقه بيا په متل کښې بدله شوه . چې کله به په کلي کښې څۀ داسې شخړه پېښه شوه چې دَ هغې حل کېدل به ګران وو نو خلقو به دَ هغې تشبيه دَ نورخان دَ واده سره کوله . دَ کلي دَ خلقو نه علاوه په کور کښې به ورسره صبا هم ټوقې کولې او په ټوقو ټوقو کښې به يې ورته ويلې، "نورخان ماما، خفه کېږه مه ، که دَ ټولو نه پاتے شے نوزمانه پاتے نه يې . تاسره به زۀ واده کوم ". دې سره به هغې هم خاندل او دَ هغې اورندارو هم . هغه به هم په خندا شو او په خندا کښې به بهر اووتو . . . . هغې ته څۀ پته وه چې دَ هغې دَ ټوقو خبره به رشتيا کېږي او هغه به دَ هغې سرتاج جوړېږي.

دَ وادهٔ سامان راچلېدو، په کور کښې اېښودې کېدو خو هغې ته پته نه وه چې دَ هغې وادهٔ دے. البته نورخان ته پته وه. هغه دَ ډېرې خوشحالئ نه په جامو کښې نه ځائېدو. اوس هغه کورته ډېر نه راتلو او که دَ څهٔ ضرورت دَ پاره به راتلو نو مخ پټے به راتلو او مخ پټے به تلو. چې دَ وادهٔ نېټه مقرر شوه نو نورخان په یوه خپه په ټول کلي کښې اوګرځېدو او ټول خلق یې دَ خپل واده دَ نېټې نه خبرکړل. صبا چې نورخان سره دَ خپل وادهٔ نه خبر شوه نو دَ غصې نه سره لمبه شوه. هغې ډېرې چغې اووهلې خو دَ هغې یوه خبره هم چاوونه ربده. کېده کېده چې اخرې سرکرښې له راؤرو. هغه څهٔ اوشو اوکېږی چې دَ هغې په خوب وخیال کښې هم نه وو.

چې څومره څومره به دَ هغې دَ وادهٔ نېټه رانزدې کېده، هومره به دَ هغې په پرېشانئ کښې اضافه کېده. اګر چهٔ هغه په ظاهره چپ وه خو دَ هغې په زړهٔ کښې اتش فشاني لاوې ځُټکېدې. یوخوا کاشان وو بل خوا نورخان. هغه کاشان چې هره شپه او هره ورځ به ورسره هغې په خپلو خیالو کښې خوږې خوږې خبرې کولې. هغه کاشان دَ چا خیالونه چې لکه دَ خپسې دَ هغې په ټول بدن خوارهٔ وو، هغه کاشان چې دَ هغې په وجه هغه بے عزته شو او په بے عزتئ سره دَ کلي نه اوویستلے شو بل خوا هغه نورخان وو چې دَ هغې دَ لوبو ګوډاګے وو. اوس هغه ګوډاګے دَ هغې سرتاج جوړېږي. دَ هغې دَ ټول وجود مالك جوړېږي...او که داسې اوشي نو دا به کاشان سره نه صرف بې وفائي


www.pukhto.net



وی بلکه لوې ظلم وی. دَ هغې په وجه هغه په شرمونو اوشرمېدو. اخر دَ هغهٔ څهٔ قصور او څهٔ ګناه وه. هغې خپل ځان دَ هغهٔ مجرم ګڼو او هر قسم کفارې ته تیاره وه خو څنګه او څه رنګه؟ چې هغه نورخان ته وادهٔ شي نو هغه به دَ هغې دَ مینې دَ خزانو اختیارمند شي او هغه څهٔ به کیږي څهٔ چې هغه غواړي... اُف الله. دا به څهٔ کیږي. دا خیالونه به دَ هغې په ذهن کښې ګرځېدل او هغې له به یې ټکونه ورکول.

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

## دریمه برخه

صبا په خپله کمره کښې پرته وه او په خپلو خیالونو کښې یې کاشان سره خبرې کولې چې دَ هغې مشره بابي جان پري دَ هغې کمرې ته ورغله او ورته یې اووې "صباخورې، ځان تیارکړه ، ګلابې ابۍ دَ کلي زنانه راغونډې کړي دي او جوړه یې راؤړې ده "

صبا(په ډکو سترګو ) بابي داسې ولې نه وائې چې ګلابې ابۍ دَ کلي ښځې راغونډې کړي او زما دَ ارمانونو قتلولو دَ پاره راغلې ده . . .بابی زماخو تانه دا امید نه وو . تاخو زما ټول عمر په میرتون کړو. . . .تۀ زما دَ ارمانونو قاتله یې . . . .تۀ زما دَ ژوند قاتله یې.

جان پري:. صبازۀ واقعي ستادَ ارمانونو قاتله یم خوستا دَ ژوند قاتله نه یم . یوخوا ستا ارمانونه دي ، بل خوا ستا ژوند دے . ماسره ستا دَ ارمانونو نه زیات ستا دَ ژوند فکر دې . مامعاف کړه صبا. زۀ تاته ډېره ملامته یم چې ماستا ارمان پوره نۀ کړې شو خو زۀ څۀ اوکړم ؟. . .زۀ ډېره کمزورې یم صبا. زۀ ستادَ رونړو مخې له نشم ورتلې .

صبا:.د دې نه خو ښۀ دا وه چې تاسو ټولو زۀ په شریکه وژلې وې زما لاش مو ټکړې ټکړې کړې وې خو چې نورخان له مونه وې ورکړې.

جان پري:. زمانه ګیله مۀ کوه خورې . زۀ ډېره کمزورې یم . زۀ نه ستا صفائي پیش کولې شم او نه دَ هغوي لاسونه نیولې شم . که لږ څۀ ویم نو دَ لاسه مِ نیسي او دَ کوره مِ اوباسي . څه پاسه خورې ځان تیار کړه . نن ستا جوړه ده . صباله ستا نکریزې دي او بله ورځ ستا


www.pukhto.net



رخصتي ده . څه پاسه خورې ځان تیار کړه . هغه خپلې اوښکې اوچوې او زوړنده سر دَ هغې دَ کمرې نه اوځې دَ هغې دَتلو نه پس صبا دَ هغې دَ وینا مطابق خپل تیارې شروع کړې . اګرچۀ هغې ته دَ څۀ خاص قسم تیاري ضرورت نه وو خو بیا هم دَ خپلې بابي دَ مخه هغه پاڅیده او خپله خائسته بادامي جوړه یې واغوسته . هغه جوړه چې هغې په الوداعي پارټۍ کښې اغوستې وه . . .هغه جوړه چې هغې باندې دَ کاشان سترګې لګیدلې وې. . .هغه جوړه چې هغۀ سره یې دَ هغې دَ مینې پوره داستان تړلې وو. بیا سنګهار میزته اودریده، څۀ معمولي غوندې میك اپ یې اوکړو او زلفې یې په اوږو دانه وانه کړې . هغه لا ائینې ته ولاړه وه او دَ خپل سنګهار په تماشه وه چې دَ هغې په ذهن کښې دَ کاشان خیال راغی . دې خیال سره دَ هغې سترګې ډکې شوې خو ډیر زربې خپلې اوښکې اوچې کړې. لائټ ډارك چشمې یې واچولې او ځان سره یې غلې غوندې اووې، "سورى کاشان " بیا یې په سنګهار میز پړده واچوله او په درنو قدمونو دَ کمرې نه اووته . بهر میلمنو سره یې سترې مشي اوکړل دَ هغوي نه لرې یو طرف ته په کټ کښې کیناسته او دَ اونو په ځانګو کښې یې دَ نمر زیړو پلوشو ته کتل . نمر په غرغره وو او دَ هغې دَ حسن په تماشه وو دَ نمر پلوشو په مُسکا مُسکا هغې ته دَ مینې ګلدستې پیش کولې او دَ هغې په بدل کښې یې دَ هغې شونډې ښکلولې . نرۍ یخه هوا دَ هغې زلفو سره لوبې کولې او دَ هغې وږمې یې خورولې خو

هغه د د هرڅۀ نه بې نیازه وه . هغه بالکل خاموشه اوسنجیده وه خو دَ هغې خاموشي دَ سمندر دَ خاموشۍ نه کمه نه وه . دَ هغې په زړۀ کښې دَ هغې کچه ارمانونو سلګۍ وهلې خو دَ هغې خولې له نه راتلې . دَ هغې اوښکې دَ هغې دَ سترګو نه یرېدلې او په راتلو راتلو کښې به ستنېدلې. داسې معلومیده چې هغه د دې دنیا نه ډېره لرې تلې ده . دَ مینې او وینې ټولې رشتې هغې ته دَ اومو تارونو نچې ښکارېدې . نازکي ، ناقصي ، نااعتباره او ناپائېداره . هغه لا په دغه خیالونو کښې ډوبه وه چې جان پرې دَ هغې خواله راغله او ورته یې اووې ، "اوه ، تۀ دلته ناسته یې او ما درپسې ټول کور لټ په لټ کړو" معلومه نه ده چې هغې دَ هغې خبره واورېده او که نه خو نه یې جواب ورکړو نه یې هغې ته اوکتل او نه یې دَ خپلو تاثراتو اظهار اوکړو چې هغې څۀ جواب ورنکړو نو هغه تیټه شوه ، هغه یې په دواړه مخه ښکل کړه او ډکې سترګې ترینه روانه شوه .

نمر په سلګو ، رپیدو دَ تور غر په کړوب کښې ورننوتو خو هغه لا هغسې ناسته وه او دَ اسمان په لمنه یې دَ هغۀ سرخۍ ته کتل . مېلمنې لاړې خو هغه دَ هغوي په تلو پو هـ نشوه . چې کله په زمکه دَ تیرې زلفې خورې شوې نو هغې خپلې زلفې راغونډې کړې ، شاته یې اوترلې او په مزه مزه خپلې کمرې ته روانه شوه .

جان پرې اګر څۀ په ظاهره دَ هغې په وادۀ خوشحاله وه خو دَ هغې په بې ځوکه وادۀ او دَ هغې دَ جدائي په خیال به پټه پټه ژړېدله او کړېدله خو دَ



www.pukhto.net



صبا سترګو له اوښکه نه راتلله . البته دَ ډېره سوخته ټوله شپه ډډې په ډډې اوختـه را اوختـه . هغه نه پو هېده چې هغې له څه کول پکار دي . جان پرې په ژړا ژړا کښې اودۀ شوه خو هغې له خوب نه ورتلو.

چې شپه پخه شوه نو هغه دَ کټ نه پاسېده ، خپله غاړه غوټه یې اوتړله ، خپل پړونې یې په سر کړو او دَ خپلو اوریرونو کټونه ورغله. هغوي ټول یې یو په یو ښکل کړل او بیا دَ جان پرې کټ له ورغله . ډېره شیبه دَ هغې کټ ته ولاړه وه ، بیا یې روغوندې دَ هغې دَ خپو سلام اوکړو او غلې غوندې دَ کور په وړوکی وربهر اووته . هغې خپله غوټه په ترخ کښې اونیوه او ډېره په تیزۍ سره په سړك روانه شوه . تیاره لکه دَ تور غلاف په زمکه خوره شوې وه . په دغه تورغلاف کښې ټول خلق اودۀ وو خو هغه نه صرف ویښه وه بلکه دَ نامعلوم منزل په مزل روانه وه . هغې ته دا نه وه معلومه چې هغه چرته روانه ده . دا هم ورته نه وه معلومه چې دَ هغې منزل ته څومره مزل دے . په خاموشه شپه او چپه چپیا چاپیریال کښې په پوخ سړك دَ هغې دَ کیړو ټکار تر لرې پورې اورېدېشو . دَ هغې دَ استقبال دَ پاره دَ اوبو او اوچې ټول حشرات راوتي وو او په خپلو خپلو ژبو او اوازونو کښې یې هغې له ډاډ ورکوو . په دغه منډه منډه کښې دَ سړك دَ یوې غاړې نه کابکا دَ هغې خپو ته ورټوپ کړو . په منډه کښې کابکا دَ هغې خپې سره اولګېدو او دَ هغې مخې ته ورپرېوتو . دَ پرېوتو سره دَ هغۀ دَ متیازو یوه دهاره دَ هغې په خپو پرېوته . هغې چې دې نامانوس

مخلوق ته او دَ هغۀ ناڅاپي حملې ته اوکتل نو دَ يرې نه يې يوه چغه اوويستله خو زر يې په خوله لاس کېښودو او منډه يې نوره هم تېزه کړه . هغه دَ يرې نه رېچېده . ساه يې تله راتله او منډه يې وارتر واره زياتېده . خو اخر ترکومه؟ چې په منډه ستړې شوه نو دَ دمې دَ پاره دَ سړك په غاړه اودرېده چې ساه يې په ځاے شوه نو بيا رو رو روانه شوه. په دغه روانه روانه کښې دَ روستو نه دَ هغې مخې ته رڼا راغله. هغې چې ګاډي ته اوکتل نو دَ خپو نه يې زمکه اوتختېده او په زړۀ يې اوخوړه چې دَ هغې روڼه دَ هغې دَ وتو نه خبر شوي دي او هغې پسې راوتي دي . دې خيال سره هغې بيا منډه کړه چې څومره څومره به دَ هغې منډه تېزېده هومره هومره به دَ ګاډے رڼا نزدېکېده . په دغه منډه منډه کښې ګاډے دَ هغې نه مخکښې شو او اودريدو هغې لا دَ ګاډي دَ خپل پردي اندازه لګوله چې دوه کسان ډېر په تيزۍ سره دَ ګاډي نه کوز شو او دَ هغې په طرف هغې له ور روان شو هغې چې ورته اوکتل نو هغه دَ پوليس موبائېل سکواډ وو . دَ هغوي په ليدو باندې هغې خپله لاره بدله کړه او دَ سړك غاړې ته دَ کيکر په شپول ورغله . هغې لا دَ کيکر دَ ازغو نه خپل پړوني اوخپلې جامې خلاصولې چې يو خوفناك اواز راغے ، "اودرېږه دَ تختيدو کوشش اونکړې ګينې لاړې دوړه شوې". دې هيبت ناك اواز سره په هغې دومره يره راغله چې دَ اواز سره دَ جامو غوټه دَ هغې دَ ترخ نه اوخوېده او لاندې پرېوته هغه چې دَ کيکر دَ ازغو نه دَ خپل پړوني او جامو



www.pukhto.net



خلاصولو کښې ناکامه شوه نو پړوني يې په کيکر کښې بانډه پرېښودو ، خپلې جامې يې په زور راخکلې او منډه يې کړه دَ هغې منډې سره يو بل خوفناك اواز راغے ، "دَ تختيدو کوشش مۀ کوه ګينې په ګولو به سورۍ سورۍ شې" هغې دغه اواز پسې مخه يونه ړه او منډه يې نوره هم تېزه کړه . پوليس چې دَ هغې په نيولو کښې ناکام شو نو هوائی فائر يې پرې اوکړو . څۀ ګولۍ دَ هغې خواؤ شا اولګېدې او څۀ دَ هغې په سر تېرې شوې . دَ هغې منډه لاجاري وه چې په منډه منډه کښې دَ هغې دَ لوړو پوندو يوه کېږۍ په يو غوندي کاڼي راغله . کاڼي هم اوخوېدو او هغه هم اوخوېده او په يو درز زمکې له راغله . هغه خوږه شوه خو دَ ځان په خوږونه وه کېږي يې دَ خپو نه اوېستلې او خپې يبله خپې يې منډه کړه خو دَ هغې په منډه کښې کمې راغلې وو ځکه چې هغه دړديدلې هم وه او ستړې شوې هم وه که پوليس لږ کوشش نور کړې وې نو هغه يې ډېره په اسانه نيوې شوه خو هغوي چې دَ هغې غوټه اولېده نو ټول دَ هغې نه راتاؤ شو . چې دَ هغې يې ښه پوره اندازه واخسته نو اوچته يې کړه . پړونې يې راخکو ، په ګاډي کښې کېناستل او روان شو .

هغه په شاړه ويجاړه کښې روانه وه چې دَ خپو دَ خوانه يې يوه مرغۍ والوته . دَ مرغۍ دَ الوت دې ناڅاپی پړق سره هغې داسې محسوسه کړه لکه چې دَ هغې دَ سينې نه دَ هغې زړۀ بوټ اوتے وي . بهرحال هغې خپل ځان قابو کړو او مخکښې روانه شوه . سپوږمۍ سر

وهلې وو او دَ هغې پیکه زیړه رڼا رو رو خورېده . په تلو تلو کښې دَ هغې لاره دَ ګنو په فصل کښې راغله .دَ ګنو ستغې اوږدې اوږدې پاڼې دَ دواړه اړخه لارې ته زانګیدې ، دَ هغې په مخ ، سر او سترګو لګېدې خو دَ هغې دَ لارې رکاوټ نشوې جوړېدې . چې فصل ختم شو نو مخې له یوه وله ورغله . وله دومره ارته نه وه او هغې ترینه ډیر په اسانه ټوپ وهلې شو او هم دغسې اوشوه هغې ټوپ اووهو خو هغه دومره ستړې شوې وه چې خپې یې ټینګې نه کړې شوې اودَ ولې مینځ له ورغله . هغه تر نیمې پورې لونده شوه خو چې لږ کوشش یې اوکړو نو اوچې ته اوخته . دَ ولې نه مخکښې سپین سادین وو او دَ هغې دَ یرې ترهې خدشه تر ډېر حده کمه شوه .

هغه دَ سادین په پوله روانه وه چې ناصافی دَ زمیدارو په یوه ډله باندې وراوخته هغوي په پټې اوبۀ پریښې وې او هغې ته ناست وو . هغې چې هغوي ته اوکتل نو خپه نېولې شوه . هغه نه مخکښې تلې شو او نه روستو ځکه چې روستې لاره ډېره اوږده وه او مخې ته خطره وه په تلو تلو کښې دَ هغې لوندې پائنڅې خپلو کښې لګېدې یو خوا یې دَ هغې په مزل کښې رکاوټ جوړېدې بل ترینه شړپار وتو او ترلرې پورې تلو . زمیدار دوه کسان وو. یو دَ اوبو په ورخ کښې لګیا وو او بل ورته په اوچه ولاړ وو. هغوي چې دَ سپوږمې په رڼا کښې هغه په مشکوک حالت کښې اولیده نو دواړه دَ هغې په لاره کښې اودرېدل. په دغه دوو کښې یو مشر سړے وو او دویم ځوان زلمے وو هغه چې دَ هغوي خواله اورسېده


www.pukhto.net



نو مشر سړي پرې اواز اوکړو "اودرېږه جینۍ ته څوك یې او چرته ځې".

صبا:. بابا زۀ مېلمانه یم او غازي کلي ته ځم .

مشر:. مېلمنه؟ ، ته مېلمنه یې ؟ مېلمنه داسې وي ، سرتور سر ، خپې یېله خپې او لونده خوشته ؟ سمه خبره اوکړه چې دَ چا دَ کور رحمت یې او دَ چا دَ کور عزت یې ؟

صبا:. بابا زۀ په دغه دواړو کښې نه یم . البته دَ دنیا دَ پاره لعنت یم او دَ ځان دَ پاره مصیبت یم .

مشر:. تۀ هر څوك چې یې خو داسې معلومیږي چې یا لېونۍ یې یا ډېره مجبوره یې .

صبا:. بابا، چې مجوری زیاته شي نو دَ لیونتوب حد شروع شي اوس ستا خوښخه ده چې لیونۍ م بولے او که یوه مجبوره جینۍ... بابا ماله لار راکړه چې ځم درنه .

مشر:. نه ، نه ، چرې هم نه . تۀ په دې شپه هیچ چرته نشي تلې . په داسې حال کښې او په داسې نازك وخت کښې زۀ تا چرې هم تلو ته نۀ پرېږدم . ځه چې کورته ځو ، شپه به ماسره اوکړې . صبا چې هرخوا ځې لاړه به شې ؟

صبا( په ساه ختلی انداز) شپه ....شپه ، شپه به تاسره اوکړم ؟

مشر:. یریږه مه بچې . ولې لوڼه پلار کره شپه نه کوي ؟

صبا:. نه بابا ، ستا ډېره مهرباني. زۀ ډېره مجبوره یم او په یو حالت کښې هم ایسارېدې نشم . ماله اجازت راکړه چې ځم درنه .

مشر:. چې ځې او خامخا ځې نو داسې خو دي نه پرېږدم . دا زما څادر

دَ ځان نـه تـاؤ کـړه ، بـابـا دَ خپـلـې اوږې نه څادر کوز کړو ، هغې له یې ورکـړو او هـغـې دَځـان نه تاؤ کړو . صبا چې څادر دَ ځان نه تاؤ کړې نو بابا ورته وائې "راځه بچې چې تاخپل منزل ته اورسوم ".

صبا( په تلو تلو کښې ) بابا غازي کلې دَ دې ځاے نه څومره لرې دے .

مشر:. دومره لرې نه دے بچې ، څۀ دَ لس شل منټه مزل دے ورته خو یـوشپـه ده ، بـل دا لاره خـطـرناکه ده . درېمه دا چې تۀ ښځه ذات یې. دَ ورځې هیـڅ مسله نه وي ځـکـه چې په دې ټولو پټو کښې خلق کار کوي او ټـولـې زنـانــه پــه لاره ځي راځي خـو دَ شپې دَ اسمان نـه ټول شیطانان راکوز شي او په زمکه خوارۀ شي ، دَ هغې دَ ډاډګیرنې د پاره هـغـې سـره پـه ټـوله لاره خبرې کولے . دَ سحر رڼا چې لګېده نو صبا خپـل ړومبي مـنزل ته اورسېده . دَ یو کور ورته اودریده او په زوره زوره یـې اوډبـوو . بابا تر هغې ، هغې ته ولاړ وو چې هغې ته ورلرے شو او هغه په کور دننه شوه .

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★

★



www.pukhto.net



## دویم باب

دَ لـړۍ کـلي خـلـقـو کاشان په شرمونو او شرموو. لویو وړو په هـغـۀ دَ لـوبو لوبې اوکړے. هغه چاچې چرې یې په پیشو هم لاس نه وو اوچـت کـړے ، پـه هـغـۀ ګـزارونـه اوکړل او په هغه ګیره شو. څنګه چې هـغه دَ کلي خلقو سپك کړے وو دغه شان هغه ته هم خپل ځان سپك ، کچه او ملامته ښکارېدو . هغه حېران په دې وو چې هغۀ ته دَ کوم جُرم سزا ورکړې شوه .

چې کـلـه دَ هـغـۀ پلار ژوندے وو نو دَ ماښام نه پس به هغه دَ کـوټـې نـه بهر نه پرېښودو او دَ غـېب عالم په یره به یې یروو خو اوس دَ غـېب عالم یره ختمه شوې وه او دَ خپل مرګ یره ورسره ملګرې شوې وه . هـغـه دَ غېب عالم نه ، نه بلکه دَ لیدلي کتلي سترګو نه یرېدو . دَ هغه چانه یرېدو چې هغۀ سره یې ناسته ولاړه کړے وه . هغه په شاړو ، مـېـرو او پـه صـحـرا وبـېـدیا کښې داسې په منډه روان وو لکه چې دَ کـلي آفـه لا تراوسه ورپسې وي . دَ هغۀ په غوږونو کښې دا چغې وې چې "وے نیسۍ لاړ نشي درنه "کله کله به ورته دَ بارودین کاکا هغه خبـره رایـاده شـوه چې "زیـاتـې ورسـره مـۀ کـوۍ ، چـرته شاړې تۀ یې بـوځـۍ او یوه ګولۍ پکښې سره کړۍ چې سپي پرې ماړه شي" دے خیـال سره بـه دَ هـغۀ په خپل سیوري هم دَ دشمن ګُمان راتلو . دَ هغۀ یـره بـه زیاتېده او دَ هغۀ په منډه کښې به اضافه کېده . دَ هغه دا خیال

وو چې د دغـه ټولې سیمې نه زر تر زره اوځي او چرته محفوظ ځاے تـه ځـان اورسـوي خـو دَ هغۀ دَ پاره یو ځائـے هم محفوظ نه وو. دَ هغۀ حـالـت مشتبهـ وو او دَ ځو ورځو دَ سفر په وجه دَ هغۀ ګونه زیږه شوې وه خـلـقـو بـه پـه هـغـۀ دَ پوډري او لیوني شك كوو. په دې وجه هغه دَ جماتونو نه اوویستلے شو ، دَ حجرو نه اوویستلے شو او دَ لارو کوڅو نه پاره کړے شو .

ټـکـنه غرمه وه ، هرخوا چپه چپیاوه خوشے مېدان وو او په دغه مېدان کښې هغه تن تنها روان وو . دَ نمر دَ پلوشو سرې عمودي سومبې دَ هغۀ په سر لګېدې او دَ هغۀ دَ خپو تلو ته رسېدې. دَ هغۀ ټول بدن دَ خولو نه ژب ژوب او دَ سـرو ګـرمکونه سره لمبه ووخو دومره مایوسه او سرګردانه وو چې نـه یې په ګرمۍ څۀ پروا وه او نه په تنهائۍ .په تلو تلو کښې نمر لـه زوال راغـي خـو دَ هـغـۀ پـه ټـپال کښـې هیڅ کمے رانه غے . دَ نمر پـلـوشې دَ هغۀ په تندي، سترګو او سینه لګېدې او دَ هغۀ دَ بدن نه وتې . پـه تـلـو تـلـو کښې هغه ستړے شو، تشې یې اوو هلې شو او خپو یې کـار پـرېښـودو خـو دَ هـغــه اراده پـخـه وه او د دې پـه زور پـه ټـکـه چـال مـخـکـښې روان وو. کـېـده کـېـده چې لرې یې یو شین بڼ اولیدو . دَ بڼ لیدو سره هغۀ خپوله نورهم زور ورکړو چې زر تر زره دغه بڼ ته اورسي او دَ اونـو پـه سـیوري دمـه اوکړي چې ځومره ځومره به هغه مخکښې اودغـه شیـن بـڼ ته نزدېکېدو او دغه شنې نظارې ته به یې کتل هومره بـه دَ هـغـۀ پـه سـتـرګو کښې خیالی یخاؤ پیدا کېدو . هغه بڼ ته لانه وو





رسیـدلـے چې دَ "ګـوګـوشـتـو" پـه اواز دَ یـوې اونې نه هغۀ ته هرکلے اوویلې شو . دې اواز سره د چاپېریال خاموشي ماته شوه او دَ هغۀ په زړۀ کښـې دَ ژونـد احسـاس پیدا شو . دَ ګوګوشتو خواږۀ اوازونه لا جاري وو چې دَ پاس نه یوه تورانۍ راغله ، دَ هغۀ په سر یې ناګهانه ټونګه اوو هله او مـخـکـښې تېره شوه . هغۀ لا دَ هغې بدتمیزۍ ته په غصه کتل چې دَ شانـه پـرې یـوه بـلـه تـورانۍ راغله او هغې هم ورسره دغه کار اوکړو . هـغـوي دواړو پـه شـور ، ژوږ نورې تورانۍ هم خبر کړې او په لږ ساعت کښـې دَ خـواؤ شا اونو ټولې تورانۍ ، کارغان او نورمارغان په انفرادي او اجتـمـاعي شـکـل کښې په هغۀ ورمات شو . دَ هغۀ په سر او مخکښې روستـو پرېدل ، هغۀ یې په مخوکو او پنجو سکونډو او دَ خپلې غصې اظهار یـې په هغه چغو لړو اوشور ژوړ کوو لکه چې دَ هغوي دَ عمرونو مشتـرکـه دشـمـن دَ هغوي علاقې ته راغلې دے. یوخوا دَ نمر تېزې او تـېرې پلوشې وې ، بل خوا دَ مارغانو چکونه او ټونګې وې . دَ هغۀ مخ ، لاسـونه او نور بربنډ ځایونه ټول نوکارې نوکارې شول . هغۀ سره دا یره مـلـګرې شوه چې مارغان ترینه په پنجو او مخوکو سترګې اونه باسي . هـغۀ دواړه لاسه په مخ کېښودل ، دَ ګوتو په چاؤدو کښې یې مخکښې کتـل او بـڼ ته روان وو . داسې معلومېده چې فطرت دَ هغۀ دَ مخ نېوې دَ پـاره دَ خپـل طاقـت مظاهره دَ غصې په شکل په تېز نمر او دَ ځنګلي مارغانو په لښکر کړې ده . بهرحال هغۀ خپل پرمخ تګ جاري اوساتلو او بـڼ تـه اورسـېـدو . هـغـه دَ اونـو لانـدې اودرېدو خو هلته هم دَ هغوي



www.pukhto.net

یلغار لا هغسې جاري وو. بڼ ته په رسېدو سره هغۀ یوه چینه اولیده . دَ هغې نه اوبۀ وتې او دَ لختې په شکل کښې یو ډنډ ته تلې. ډنډ ډک شوے وو. نورې اوبه پکښې نه ځائېدې، په مختلفو لارو دَ ډنډ نه وتې او دَ غرونو په مینځ کښې یو کړنګ ته پرېوتې . چې تر کومې اوبۀ یا دَ اوبو نم رسیدلې وو نو هلته واخۀ او څۀ نور ځنګلي بوټي زرغن شوي وو چې په هغې کښې ځنګلې مېوې هم وې .

هغۀ چې دَ مارغانو دَ ټونګونه ډېر تنګ شو نو سره دَ جامو او څپلو یې ډنډ ته ورټوپ کړو . هغه ډېره شېبه په اوبو کښې ډوب وو . مارغانو چې هغه په اوبو کښې ډوب اولیدو نو څۀ خپلو خپلو جالو ته لاړل او څۀ دَ ډنډ دَ پاسه پرېدل . کله چې هغۀ دَ اوبو نه سر بهر کړو نو پرېدونکي مارغانو پرې بیا حمله اوکړه . هغه یوه لویه ساه واخسته او بیا په اوبو کښې ډوب شو . دې سره څۀ مارغان لاړل په خپلو جالو کښې خپلو بچو سره کېناستل او څۀ لا هغسې په هوا کښې پرېدل . درې څلور ځله چې هغۀ مارغانو سره دغه پټ پټاونې اوکړو نو هغه پاتې مارغان هم لاړل او خپلو جالو کښې کېناستل.

هغه ډنډ سره جخت په واخو کښې په داسې انداز پروت وو چې خپې یې په ډنډ کښې وې او تنه یې په واخو پرته وه . هغۀ دَ مارغانو دَ سرکشۍ او بد تمیزۍ په باره کښې سوچ کوو . دَ هغۀ په ذهن کښې راغله چې مارغانو هغه بڼ ته ځکه نه پرېښودو چې دا چاپېریال دَ هغوي علاقه ده . په دے بڼ او خواشا اونو کښې دَ هغوي جالې او



www.pukhto.net



کورونه دي او هغوي په خپله علاقه کښې دَ یو داسے جنس موجودګي نشي برداشت کولې چې هغوي ته ، دَ هغوي جالو او کورونو ته ترینه خطره وي . اګر چۀ هغه نه دَ مارغانو ښکاري وو او نه ورسره دَ هغوي دَ ښکار وسله وه بلکه هغه تش لاس وو او هغوي ته یې دَ ضرر رسولو نیت نه لرو خو دَ هغۀ په معصیومیت دَ هغوي یقین نه راتلو . هغوي هغه خپل مشترکه دشمن ګڼو او دَ هغه راتګ یې دَ خپل آزاد ژوند دَ پاره لویه خطره ګڼله . بیا هغه دَ هغوي اتفاق او اتحاد ته ګوته په خوله شو . هغه ته پته وه چې تورانۍ او کارغۀ دَ یو بل ازلي دشمنان دي . دغه شان کارغه او تپوس هم دَ یو بل دشمنان دي او نور مارغان هم خپلو کښې دَ یو بل دشمنان دي خو چې خبره دَ مشترکه دشمن راغله نو ټولو مارغانو خپله زړۀ دشمني ، کینه او عناد عارضی طور ختم کړو او هغه ته یو مُوټے شو . په یوه چغه دَ هغه خلاف راپورته شو، په هغه یې دَ مشترکه فورسز یلغار اوکړو او هغه یې دې ته جوړ کړو چې دَ اوبو په تل کښې یې پناه واخسته . دَ مارغانو په نزد دا دَ هغوي لویه کامیابي وه چې انسان له یې ماتې ورکړه . اوس هم دَ هرې ډلې خپل خپل جاسوسان څۀ په اونو کښې پټ ناست وو ، څۀ ښکاره ناست وو او دَ هغۀ دَ ارادې او حرکاتو اندازه یې اخسته . شاید هغوي خپلو کښې صلاح کړې وي چې که هغه دَ یو ښۀ انسان په توګه په ښۀ طریقه دَ هغوي په علاقه کښې اوسیږي او هغوي ته ، دَ هغوي اګو ، جالو او دَ هغوي بچو ته څۀ نقصان نه

رسوي نو دَ هغۀ په موجودګۍ یا دَ هغۀ په اوسیدو دَ هغوي هیڅ اعتراض نیشته خو که هغوي ته دَ هغۀ نه دَ خطرې امکان پیدا شو نو بیا هغوي دَ خپلې حملې حق محفوظ ساتي.

دغه سوچ کښې دَ هغۀ خیال خپل ځان ته ، خپل حیثیت ، خپلې پیشې او دَ لړۍ خلقو ته لاړو. دَ لړۍ کلي خلق هم خپلو کښې دَ یو بل مخالف وو . ځینې خلق خو پکښې دَ یو بل دشمنان څۀ چې دَ یو بل دَ وینو تږي وو خو چې خبره دَ مشترکه دشمن راغله نو هغوي خپل ټول اختلافات وقتی طور ختم کړل او دَ هغۀ دَ بې عزتۍ دَ پاره ټول په یوه چغه رااوتل ، دَ هغۀ خلاف ټول یو موټې شول او هغه له یې هاغه انسانیت سوزه سزا ورکړه چې په هر لحاظ قابلِ مذمت وه دَ هغه هاغه ملګري او هم جماعت چې څوڅو کاله یې هغه سره په یو ټاټ او یو بینچ ناسته کړې وه ، دَ هغۀ په بې عزتۍ کښې هاغه کارګردګي اوښودله چې که چرې هغۀ په خپلو سترګو نه وې لیدلې نو دَ چا په قسمونو به یې هم یقین نه وې شوې . دې خیال سره دَ هغۀ سترګې ډکې شوې په دغه ډکو سترګو کښې هغۀ ته دَ صبا موسپدلې تصویر ښکاره شو . دې سره هغۀ ته دَ هغې هاغه تپوس هم رایاد شو چې "اُف الله ستا سترګې خو داسې سرې دي لکه چې ډېر دې ژړلي وي "؟ دې سره سره ورته خپل جواب هم رایاد شو چې "نه بی بی دَ ژړا ورځې خولا پاتې دي " دَ هغۀ د دې جواب نه داسې معلومېده لکه چې هغه دَ خپل حال په آئینه کښې خپل مستقبل



www.pukhto.net



ډېر مخکښې لیدلي وي او دغه ژړېدل او کړېدل دَ هغۀ دَ پاره څۀ نوې خبره نه وي .

هغه لا په دغه سوچونو کښې ډوب وو چې په دیکښې دَ اوښانو یوه لړۍ راښکاره شوه دَ هغوي مشري یو تور بدشکله ، بربړو اوښ کوله چې په جسامت کښې دَ نورو اوښانو نه غټ ،قد کښې اوچت او په شکل کښې زیات خوفناك وو . په دغه لړۍ کښې دَ اوښانو نه علاوه لنګې ، بلاربې اوښې هم وې . یوه تانده اوښه چې دَ نورو اوښونه په جسامت کښې کمه وه او په عمر کښې زیاته ښکارېده ، خپل جونګي سره هغوي پسې رو رو روانه وه . چې کله هغوي ډنډ ته اورسېدل نو ټول دَ ډنډ په غاړه اودرېدل . بیا بربړو اوښ اوبړېدو او په اوبو یې خوله کېښوده . معلومه نه ده چې هغوي دَ څو ورځو تږي وو. په اوبو یې خولې ایښې وې او تر هغې یې څکلې چې دَ خېټو نه یې شنازونه جوړ شو . دَ اوبو څکلو نه پس هغوي ډېره شیبه دَ ګورو اونو په یخ سیوري پراتۀ وو او هغۀ دَ هغوي تماشه کوله . چې دَ هغوي دَ ارام وخت پوره شو نو بربړو اوښ اوبړېدو ، پاسیدو او ستوماني یې اوویستله . هغۀ پسې په واره ټول اوښان او اوښې هم پاسیدې البته هغه تانده معمره اوښه لا هغسې پرته وه ځکه چې دَ هغې جونګے هغې سره جخت ملاست وو او په ملاسته ملاسته یې هغه روله. دَ هغې ملاسته بربړو اوښ حکم عدولي اوګڼله . هغۀ یو ځل بیا بربړ اوکړل او هغې پسې په غصه ورغی. هغه چې دَ هغۀ په نیت پوهـ شوه نو په داسې حالت

کښې پاسېده چې دَ جُونګي خوله لا دَ هغې تي پورې انختې وه . هغه چې هغې له اورسېدو نو په ښځې يې ورله خوله کېښوده او داسې چك يې پرې اولګؤو چې هغه دَ درد نه اوبرړېده . هغۀ دَ هغې دَ ښځې نه خوله اووېستله ، دَ هغې دَ غړانګې نه يې خپله غړانګه تاؤ کړه او چې جق يې ورکړو نو په زمکه يې اوغورځوله . نورو اوښو او اوښانو چې دَ برېړو اوښ دا قهر اوليدو نو دَ يرې نه يې منډې کړې او په هغه لاره روان شو په کومه چې راغلي وو. برېړو اوښ دَ هغې په ښځې خوله ايښے وه او هغه دَ درد نه برړېده . کاشان چې دَ برېړو اوښ دا ظلم اوليدو نو توبې يې وېستلې او غوږونو له يې ګوتې اوړلے . دَ هغۀ زړۀ غوښتل چې دَ هغۀ دَ ظلم مخ نيوې اوشي خو څنګه او څۀ رنګه ؟ هغۀ دغسې نشو کولے ځکه چې دَ هغۀ شکل دومره خوفناك وو چې هغۀ ته په کتو سره په هغۀ دَ يرې زلزل راغئ . بله دا چې هغه سره داسې هيڅ څيز نه وو چې دَ هغې په ذريعه هغه اويره وي او دَ ظلم نه يې منعې کړي . دې نه علاوه هغه دَ يوبل نه دَ اوښ دَ پتنې په باره کښې ډېرې قيصې اورېدلے وې. هغۀ چې هغه رايادې کړے نو دَ خپل ځاې نه يو قدم دوه روستو شو. برېړو اوښ تر هغې دَ هغې په ښځې خوله ايښے وه چې هغې ښځې اوغزه وو او سترګې يې پټې کړې . هغۀ چې دَ هغې غزيدلے ښځې او پټو سترګو ته اوکتل نو خوله يې ترينه اووېستله او نورو اوښانو پسې په منډه روان شو .

جونګے په پيو موړ شوے وو . دَ هغې دَ تيونو نه يې خوله



www.pukhto.net



ويستې وه ، دَ هغې لاش نما بدن او دَ هغې پټو سترګو ته يې په غټو غټو کتل . کاشان خپل ځان او جونګے دَ هغې خاموشه مجرمان ګڼل ځکه چې هغوي په دواړه کسه هغه دَ برېړو اوښ دَ ظلم نه بچ نکړې شوه . هغه ډېر شېبه خفه ولاړوو .بيا رو رو جونګي له ورغئ او دَ هغۀ په ملا ، ښځې او سر ، سترګو يې دَ شفقت لاس راخکو. هغۀ چې دَ اوښې ښځې ته اوکتل نو په هغې کښې لوے ډوغل شوے وو او وينه ترينه څڅېدله . هغه له دَ هغې په مظلوميت رحم ورغئ او په سترګو کښې يې غټې غټې اوښکې راغلې . هغه هغې سره جخت کېناستو او دَ هغې په ښځې ، سر او سترګويې په مزه مزه لاس وهلو لکه چې هغې له تسلي ورکوي . يوه شېبه پس هغې سترګي اوغړولې ، يو نظريې خپل بچي ته اوکتل او بيا يې پټې کړې. دَ هغۀ سترګي لا په هغې لګېدلې وې چې هغې بيا سترګې اوغړولې او سر يې هم دَ زمکې نه اوچت کړو خو سر يې ټينګ نه کړې شو او په زمکه پرېوتو . هغه پوهـ شو چې هغې ته سخت درد رسيدلې دے او دَ درد شدت لا هغسي جاري دے . په دوېم ځل چې هغې سراوچت کړو نو دَ پاسيدو کوشش يې کوو، هغۀ دَ هغې خيټې ته دواړه لاسه دَ لاندې نه ارم کړل او په پاسېدو کښې يې هغې سره مدد اوکړو . دَ هغۀ په مرسته او دَ هغۀ په ډاډ هغه په زمزمبولي پاسېده او اودرېده . دَ پاسېدو سره جونګے هغې ته نزدے شو . اوښې چې هغه خپلې خوا کښې اوليدو نو خپل دردونه ترېنه هېرشو او دَ هغۀ په سر، سترګو او

خوله یې ژبه اووهله .

زیړ مازیګر وو. دَ اونو سیوري اوږدهٔ شوي وو دَ نمر کیرڼې پلوشې دَ اونو په تنو او دَ ډنډ په سپینو اوبو پرېوتې ، په اوبو کښې لامبېدې او بیا په مختلف اړخونو منعکس کېدې او خورېدې . دَ نمر تپش کم شوے وو او دَ هغهٔ پلوشې په بدن بدې نه لګیدې . هغهٔ خپل سفر جاري ساتل غوښتل خو زخمي او ښه اودَ هغې معصوم جونګے یې دَ ځنګلي ځناورو په رحم وکرم باندې نشو پرېښودے. هغهٔ لا په خپل زړهٔ کښې کرل ریبل چې دیکښې یې لرې دوړه اولیده . هغهٔ په زړهٔ اوخوره چې شاېد دَ اوښانو لړی بیا راروانه ده . په دے خیال هغه ډېر خوشحاله شو چې کیدیشي دغه اوښانو سره هغه هم جوړه شي او هغوي سره په ډله کښې دَ تلو جوګه شي .هغهٔ لا دوړې ته کتل چې دیکښې په اس سور یو سړے راښکاره شو . چې ځومره ځومره به هغه رانزدېکېدو هومره هومره به دَ هغهٔ شکل وصورت واضحه کېدو. چې بڼ ته اورسېدو نو دَ اس نه کوز شو . اس یې پرېښودو او اوښې له ور روان شو . دَ هغهٔ شکل لکه دَ بربرو اوښ دومره خوفناك او هیبت ناك وو چې دَ هغهٔ ترینه یره اوشوه . بلند قامت ، غټ درونـد وجود ، غټې اوچې سترګې ، لویه شنه بخنه ږیره، په سر غټ پټکے ، دَ پټکي لاندې تر اوږو پورې لوې لوې ویښتهٔ ، خړې جامې او خورې رېږي ځپلی ، کاشان ځان قابو کړو او دَ هغهٔ مخي له ورغی ، دَ یرې نه یې یولاس په زړهٔ کېښودو او بل یې هغهٔ ته اونیوو .



www.pukhto.net



چې هغهٔ لاس ورکړو نو هغهٔ ته داسې معلومه شوه لکه چې دَ عمرونو اوچ لرګے یې لاس کښې نیولے وي . دَ هغهٔ لاس لا دَ هغهٔ په لاس کښې وو چې ورته یې اووے ''زما نوم خاؤرے میرام جان دے او زهٔ ساربان یم . دا اوښه دَ نورو اوښانو نه پاتې شوې وه ، زهٔ دې پسې راغلم ''دا خبره اګر چه هغه په مُسکا مُسکا اوکړه خو هغه دَ هغهٔ په مُسکا پوهـ نشو ځکه چې دَ هغهٔ خوله په لویه ږیره او لویو بریتو کښې پټه وه، بالکل داسې لکه دَ اوبو چینه چې په شنو واخو کښې پټه وي البته دَ هغهٔ دَ سترګو دَ ځلانه معلومیده چې هغه په خوشګواره موډ کښې دے . کاشان په معصومانه انداز جواب ورکړو، ''ډېر ښهٔ اوشو چې تاسو راغلی. ماسره د دې اوښې او د دے جونګې ډېر فکر وو'' . میرام جان چې دَ اوښې خواله ورغی او دَ هغې ژړیدلې سترګو دَ هغې ویښې او دَ هغې دَ ځټ ډوغل ته یې اوکتل نو وے وئیل ، ''اوه ، دا ځکه ..... دا ځکه تهٔ پاتې شوې اې''

کاشان هغهٔ ته دَ بربرو اوښ دَ ظلم قیصه په داسے انداز اوکړه چې خپلې سترګې یې هم دَ اوښکو نه ډکې شوې اودَ هغهٔ نه یې هم دَ دغسې تاثراتو امید وو . خو ساربان نهٔ دَ هغهٔ په خبره حیران شو او نه دَ هغهٔ دَ مخ په تاثراتو کښې څهٔ فرق راغی. البته ځان سره یې روغوندې اووے ، ''د دے سرکوزي مشري مِ خوښخه نشوه ''. بیا یې دَ اوښې په اوربوز لاس اووهو او دَ هغې دَ سترګو بهیدلې اوښکې یې په ګوتو اوچې کړے . په خپله ساربانی ژبه کښې یې دلاسه ورکړه او په شا یې

اوتپوله . دَ هغې دَ باړې لینګوج نه معلومېده چې هغه دَ ساربان په دلاسه خوشحاله شوه ځکه چې ستوماني يې اوويستله ، بونډۍ لکۍ يې اووهله ، غړانګي له يې ټالۍ ورکړۀ او خپل مالك يې بوئين کړو ،میرام جان کاشان نه تپوس اوکړو ، "زلمیه ستا نوم څۀ دے"؟
کاشان مُسکے شو او هغۀ ته يې اووے ، "زمانوم کاشان دے".
میرام جان :. تۀ چیرته مخ يې ؟ کاشان دَ هغۀ په خبره پو هـ نشونو په جواب ورکولو کښې يې لږ توقف اوکړو . هغه په سترګو کښې يو ځل بيا مُسکے شو او وے وئیل ، "ماته ښکارېږي چې ته مسافر هستې".
کاشان :. هاؤ بابا ، زۀ مسافر یم .
میرام جان:. کشه مهم کارلرے نو ایما په اس سور لاړ شه . چې خپل مراد تر سره کړے نو بیابه يې په ستنه راکړے"
کاشان دَ هغۀ په خبره څۀ لږ ډېر پو هـ شو. هغه جواب ورکړو،"نه بابا زما هیڅ ضروری کار نیشته . ډېره مهرباني".
میرام جان :.چې مهم کار نه لرے نو زۀ به په اس سور لاړشم چې دې اوښې له څۀ دارو درمل جوړ کړم او تۀ په دې اوښه سورشه ماپسې راځه "کاشان دَ هغۀ په خبره مُسکے شو او په زړۀ کښې يې اووے"، "چې اوښه غریبه خپل ځان نشي اوړې نو مابه څۀ یوسي" هغه ترینه تپوس اوکړو ، "ستاسو کور دے ځاے نه څومره لرے دے"؟
میرام جان:. دومره لرے نه دے ، څۀ دوه ، درې منزله به وي .دې سره هغۀ په اس خپه واړوله او روان شو . چې دَ ساربان اس د نظره پناه شو نو


www.pukhto.net



هغې هم ورپسې قدم تېز کړو او جونګې هم هغې سره دولکی شروع کړه . بیا خبره دې له راغله چې دَ هغې قدم په منډه کښې بدل شو . کاشان او جونګے دواړه هغې پسې زغلېدل او هغه زغلېده زغلېده او مخکښې غزېده . هغه هم ورپسې په منډه روان وو خو اخر تر کومه ؟ هغۀ په لاره کښې څو څو دمې اوکړے او اوښه او جونګے لاړل دَ هغۀ دَ نظره پناه شول بهرحال هغه په دغه منډه تړه ، روال او ترپال دَ اوښې په پل روان وو . دا ټوله سیمه یولوې دشت وو . په دېکښې لوړه جوړه هم وه ، کندې کوندې هم وې . هواره زمکه هم وه او ګړنګونه هم وو. په هواره زمکه ځاے په ځاے دَ شګو او خاؤرې غونډۍ وې او چاپیره ترینه لوے لوے تور غرونه وو. په هوار میدانونو کښې دَ جهاړو او ازغنو بوټي وو او تر لرے لرے خوارۀ شوي وو. دَ غرونو په لمنو کښې دَ نورو ځنګلي بوټونو نه علاوه دَ میوې بوټي هم وو. چاپیره مکمل سکوت او خاموشي وه . ځاے په ځاے په شګو او خاروه کښې دَ ځنګلي ځناورو دَ پنجو نښخې هم ښکارېدې.
هغۀ ته داسې محسوسه شوه چې هغه دَخپلې دنیا نه ډېرلرے چرته دَ خوب دنیا ته تلے دے او دا څه چې هغه وینی ګوري دا ټول دَ خوب مناظر دي چې هغه پرې دَ خپلې دنیا ګمان کوي. بهرحال دَ میرام جان او دَ هغې دَ پړاؤ په تلاش کښې هغه دَ اوښې په پل روان وو.
زیږ مازیګر وو چې هغه دَمیرام جان کورته اورسیدو.

Pukhto.Net

## درېم باب

صباډېره په تېزۍ سره په وردننه شوه په رېګدېدلي لاسونه يې ور په توندۍ سره پورې کړو. ورته يې ډېره اووهله او لکه دَ سترې مسافرې يوه لويه ساه واخسته . دا کور دَ هغې دَ پاره پردے نه وو بلکه هغې خپل ګڼلو . هغه دے کور ته مخکښې هم څو څو ځله راغلې وه . په ړومبي ځل هغه دلته دَ اختر مبارکۍ دَ پاره راغلي وه . په دويم ځل دَ هغې دَ بيمار پلار پوښتنې له راغلې وه . په درېم ځل دَ خپلې ذاتي مسلې دَ مشورې دَ پاره راغلې وه او دې نه پس به څو په څويمه راتله ، شپبه نيمه به کښناسته او بيا به تله . دلته به هغې ته دَ هغې دَ بهتر مستقبل دَ پاره ښۀ ښۀ مشورې ملاوېدې . هغې ته به ذهني سکون او قلبي تسکين ملاوېدو. خو اوس هغه دَ خپل تحفّظ دَ پاره راغلې وه او دَ هغې پوره يقين وو چې دا کور به دَ هغې پوره پوره تحفّظ کوي ځکه چې دا دَ هغې دَ خوږې مېډم . مېډم رېحانه کور وو.

هغې په سلګو سلګو کښې هغې ته اووې ، "مابچ کړه مېډم ...ماله پناه راکړه مېډم ". ميډم رېحانه هغه خپلې سينې پورې اونيوه ، دواړه لاسونه يې ترېنه تاؤ کړل ، کلک زور يې ورکړو او ورته يې اووې ، "يرېږه مه صبا. دا غېږ او دا لېچې به تل ستا تحفظ کوي" صبا دَهغې په اوږه سر کېښودو او په چغو چغو په ژړا شوه . مېډم رېحانه دَ هغې سر دَ خپلې اوږې نه اوچت کړو . دَ هغې اوښکې يې



www.pukhto.net



اوچې کړې او وې وئيل ، " اوه صبا، تۀ ژاړې ؟ تۀ خو ډېره بهادره وې، دومره بُزدله ولې شوې ؟" دَ هغې په دې خبره هغه بيا په ژړا شوه . مېډم رېحانه يو ځل بيا دَ هغې اوښکې اوچې کړې او ورته يې اووې، اوه ، نو ، نو ، " اچھے بچے روتے نہیں" دې سره يې دَ هغې مخ او شونډې ښکل کړې او ځان سره يې خپلې کمرې ته روانه کړه .

مېډم رېحانه چې هغه خپلې کمرې ته بوتله او دَ هغې دَ خاؤرو ختو خپې ، دَ هغې شليدلي جامې او دَ هغې ببرسرته يې اوکتل نو زړۀ يې اوخويدو او سترګې يې ډکې شوې. بهرحال هغې خپل ځان قابو کړو او دَ هغې نه دَ تپوس ضرورت محسوس نه کړو . هغه يې په کټ کښې کېنوله ، خپلې جامې او کيږې يې ورته په واش روم کښې کېښودې او ورته يې اووې ، "صبا، واش روم ته ورشه او جامې بدلې کړه ".

چې صبا واش روم ته ورغله نو هغې دَ هغې دَ پاره بستره تياره کړه او چې هغه دَ واش روم نه رااووته نو دَ هغې دَ خپو نه لا هغسې وينې بهيدې .

مېډم رېحانه ، هغه زوړنده خپې په بستره کښې کېنوله او دَ هغې دَ ژوبلو خپو پټۍ يې اوکړې ، بيا يې ورته اووې ، "اوس سمله ، ښه بې غمه اودۀ شه ، نورې خبرې به بياله کوو". دَ مېډم رېحانه کورنۍ ډېره مختصر وه . دَ هغې په کورکښې يو دَ هغې پلار وو، يوه هغه په خپله وه او بل دَ هغې زلمے رور ياسر وو چې په پېښور يونيورسټۍ کښې دَ ايم ايس سی طالب علم وو. دَ هغې مور ډېره مخکښې مړه

شوې وه او پلار يې په لاعلاجه مرض پروت وو . دَ هغې غوښتو پسې ځو ځو رشتې راغلې خو دَ پلار دَ بيمارۍ په وجه هغې دَ ټولو رشتونه انکار اوکړو او خپله خوږه ځواني يې دَ پلار دَ بيمارۍ نه قربان کړه . صبا ستړې هم وه او شوګيره هم وه . هغه چې څنګه په بستره کښې سملاسته نو دَ مخې سره اوده شوه . غوټ ماسپخين وو چې هغه دَ خوب نه پاسېده . مېډم رېحانه چې هغې ته اوکتل نو مسکۍ شوه او ورته يې اووې ، "خوب دې پوره شو صبا څه ډيره ښه ده ، ته واش روم ته ورشه او زۀ درله ناشته تياروم" . صبا لاڅۀ جواب ورکولو ته خوله جوړوله خو هغې دَ هغې دَ جواب انتظار اونکړو ، او دَ کمرې نه بهر اووته . چې هغه دَ واش روم نه راوته نو هغې ناشته تياره کړې او هغې ته يې په ميز ايښې وه . دَ ناشتې نه پس صبا هغې ته دَ هغې په تپوس خپله ټوله قيصه ټکې په ټکې اوکړه . مېډم رېحانه اګر چۀ دَ هغې په پېښه اوکړاؤ ډېره خفه شوه خو هغې له يې تسلی ورکړه او ورته يې اووې ، "صبا دا کور خپل کور اوګڼه او ماخپله مور اوګڼه، دا کور او دا مور به تل ستا دَ عزت تحفظ کوی . چې څۀ اوشو نوښۀ اونشو خو دا به اووايو چې دا ستا قسمت وو او تاته در اورسېدو او يو ائې ستانه بلکه معلومه نه ده ستا غوندې نورو جينکو سره به څۀ څۀ کيږي ؟ دا کار چې هر چا کړے دے هغه دَ ټول انسانيت مشترکه دشمن دے . صبا، دَ ښځې مثال دَ ملغلرې دے چې بې داغه وی نو بې بهاوي ، چې داغداره شي نو کهوټ بنګار شي. دَ وخت ، حالاتو ، زمانې او حادثاتو



www.pukhto.net



ښکار شي . چې څۀ شوي دی هغه اوشو اوس به د دې کمرې نه تر هغې پورې بهر نه اوځې ترڅو چې ما اجازت نه وي درکړې . ته غم مۀ کوه هرڅۀ به ټيک ټاك شي خو لږ وخت به اخلی ، تر هغې به ستا دَ خپو زخمونه او ټناکي هم ښۀ شوي وي او حالات به هم سازګار شوي وي ، صبا لس ورځې دَ مېډم رېحانه په کور کښې پرته وه . په دې دوران کښې ميډم رېحانه دَ هغې دَ پاره درې څلور جوړه جامې ، کېږۍ ، لوپټه ، پړونې او دَ هغې دَ ضرورت ټول لوازمات پوره کړل . ياسر اګر چه دَ يونيورسټۍ په هاسټل کښې اوسېدو خو چې دَ صبا دَ واقعې نه خبر شو نو دَ هغې دَ راتلو په سبا راغی . هغې سره ملاؤ شو او هغې له يې تسلي ورکړه . چې تر څو صبا هغوي کره ډېره وه نو هغه به هره ورځ کور ته راتلو او دَ نوې واقعاتو په باره کښې به يې هغې سره خبرې کوے . اګر چۀ مېډم رېحانه نه غوښتل چې هغه دَ صبا کمرې ته ورشي او ځو ځله يې پټ په پټه زورنه هم ورکړه خو هغۀ به دَ هغې سترګې سارلې او چې هغه به لږه اخوا ديخوا شوه نو هغه به دَ هغې کمرې ته ورتلو او هغي سره به يې دَ همدردۍ اظهار کوو. په دې دوران کښې مېډم ريحانه پسې په ايبټ آباد کښې دَ يو اين او دَ يو اين جی او له خوا په چائلډ نيوټرېشن کورس کښې شرکت دَ پاره کال ليټر راغی . دې کورس کښې شرکت هم ضروري وو او دَ صبا نګهداشت هم ضروری وو. هغې کورس کښې شرکت هم نشو پرېښودې او صبا يې هم يو ائې نشوه پرېښودي دَ ډېر سوچ او فکر نه پس هغې صبا له غاړه

غوټه تیاره کړه او پـه یـؤلسمه ورځ یې دَ یاسر په نګرانۍ کښې اسلام آباد ته اولېږله.

پـه اسـلام آبـاد کښـې دَ مـېـډم رېـحانه کلاس فیلو او ملګرې رعـنـا بېګم دَ خپل خاوند سره اوسېده . هغه په یو کالج کښې لکچرره وه او دَ هغـې خاونـد نسیم صیب په یو لوې هوټل "انټرنیشنل هوټل اسـلام آبـاد " کښې مینیجنګ ډائرکټر وو. دَ رعنا او نسیم صیب وادهٔ ډېـر پـه مینـه شـوې وو . دواړو پـه یـو بـل سـر ورکـوو خـو دَ هغوي بدقسمتي دا وه چې دَتېرولسو کالونه دَ اولاد دَ نعمت نه محروم وو. هغـوي ته ډېر په شدّت سره د دے نعمت دَ کمي احساس وو. کله کله بـه دَ هغوي دا احساس مایوسۍ او دَ یو بل نه دَ نفرت حد ته اورسېدو. کـلـه کـلـه بـه دَ هغـوي سپـورې ، سـتـغې اوخوږې ترخې دَ غصې او کـرکې په لـېـونتـوب کښـې بـدلې شوې . چې کله به رعنا بېګم ډېره تـنـګـه شـوه نـو هغـه به ترېنه مروره شوه او مېډم رېحانه کره به لاړه ،او ترهغې به هلته وه چې هغه به ورپسې ورغی ، هغه به یې پخلا کړه او ځان سره بـه یې بوتله . دَ تېرو دووکالو نه هغوي راضي به رضاې الٰهی وو. حالاتـو سره یـې سمجهوته کړې وه او ښهٔ خوشحاله وخت یې تیره وو. ښـځې خاونـد بـه پـه ګهنټـو ګهنټو مېډم رېحانـه سره پـه فون او مـوبـائـېل خبري کولې ، یو بل له به یې ډالۍ لېږلې او څو په څوېمه به یوبل کرته تلل راتلل .

مېـډم رېـحانـه صبا هـلـتـه ځـکـه اولـېږله چې هلته به هغه



www.pukhto.net



محفوظه هم وه او خوشحاله هم. یاسر خوش شکله هم وو او همدرد او خوږ ژبانه هم وو. هم دغه وجه وه چې هغهٔ خپل ضروري مصروفیات پرېښـودل او دَ خـور پـه یوه اشاره صبا سره اسلام آباد تلو ته تیار شو. دَ نـمر دَ پرېوتو اخري سلګۍ وې چې هغوي دَ پېښور نه دَ اسلام آباد په ګاډي کښـې کېناستل . صبا دَ ځان نه پړونې تاؤ کړې وو او مخ سرېې پـکښـې پټ کړې وو. که پړونې به لږ اوخوځېدو او دَ هغې به څهٔ لاس ، خپـه ښکـاره شـوه نـو دَ هغـې په پټولو کښې به ورسره هغهٔ ښهٔ پوره تـعـاون کوو. دې نه علاوه دَ هغې دَ خوراك ، څخاك به یې هم ښهٔ پوره خیـال ساتـو . سټـاپ پـه سټـاپ بـه یـې دَ خوراك څهٔ ناڅهٔ څیزونـه راخستـل ، هغـې تـه بـه یـې ګـوټۍ نیوله او دواړو به دَ یوې ګوټۍ نه خوراك کـوو. کـلـه کـلـه به یې هغې ته سرورتیټ کړو او په ګنګوسه کښـې بـه یې ورته څهٔ اووے . دې سره به هغه کله اوشرمېده سترګې بـه ئې ښکته کړې او کله به مسکۍ شوه . هغهٔ سره دَ هغې دَ پردې او سـتـر دومـره خیـال وو چې پـه تیـارهٔ کښـې بـه یـې هم دَ هغې دَ پړونې پسکې دَ هغې په بدن خوره وو او ولونه به یې ترېنه ویستل . چې کله بـه ورته هغې په ترخ نظر اوکتل نو هغه به مُسکے شو او ځان سره به یې سوري اووے دَ هـغـه پـه عـادتونو کښې یو عادت دا هم وو چې په روان ګاډي کښـې بـه خـوب ورتـلـو . هـم دغه وجه وه چې یوه موقعه داسې راغـلـه چې سر پرې دروند شو نو دَ مخکښې سیټ په تکیه یې سـر کېښـودو چې هلته مطمئن نشو نو بیا یې په خپل سیټ روستو

تکيه ته سر اولګوو. دغه رنګې دَ هغۀ سرخوېدو خوېدو ان چې دَ هغې اوږې ته اورسېدو . او بيا دَ هغې په اوږه ښۀ په پخه پروت وو. کله کله به دَ هغې دَ اوږې نه اوخوېدو او دَ هغې غېږ ته به اورسېدو هغې به په دواړه لاسه دَ هغۀ سر دَ خپلې غېږ نه اوچت کړو او دَ هغۀ دَ سيټ په تکيه به يې کېښودو . خو هلته به ايسار نشو او په خوېدو خوېدو به دَ هغې اوږې له ورغے . چې څومره څومره به ترېنه هغه خوېده هومره به ورپسې هغه هم خوېدو . هغه دومره تنګه شوې وه چې څو څو ځله دَ هغې په زړۀ کښې راغله چې دَ خپل سيټ نه پاڅی او مخامخ په خالی سيټ کينی . خو دَ هغۀ دَ خفګان په وجه هغې داسې اونکړې شو .کېده کېده چې دَ هغې سوال قبول شو او اسلام آباد ته اورسېدل . چې ګاډے په سټاپ باندې اودرېدو نو دَ نورو مسافرو سره سره هغوي هم دَ ګاډي نه کوز شو . ياسر يو ټيکسي ته اشاره اوکړه، هغوي دواړه پکښې کيناستل او ګاډے روان شو . ياسر څو څو ځله دَ نسيم صيب کورته راغلے وو او څو څو شپې يې ورسره کړے وے خو معلومه نه ده چې په څۀ وجه دَ هغۀ نه دَ هغۀ دَ کور نښخه پته هېره شوې وه . هغوي دَ ټيکسي نه کوز شو او روکې پسې ګرځېدل خو متعلقه ځاے يې معلوم نه کړے شو چې اونشوه نو بيا يې صبا ته اووے "ښه بي بي کورخو پېدا نشو اوس به څۀ کوو"؟ داخو لويه شپه ده دا به کوم ځاے تېره وو؟

صبا:. ياسر صيب ، تاسره خو به دَ هغوي موبائېل نمبر وي. يو کال



www.pukhto.net



ورکړه چې خبر شي نو هغوي به دے ګائيډ کړي .

ياسر:. سوري صبا ماسره دَ هغوي نمبر نيشته .

صبا:. اوه مائی ګاډ ، بيا داسے اوکړه چې مېډم ته کال اوکړه او دَ هغې نه معلومات اوکړه .

ياسر:. مسله خو دا ده چې هغه هم نه ملاوېږي .دَ هغې موبائيل بند دے .

صبا:. اوه مائی ګُډنس.

ياسر:. نيورمائنډ . . .اوس په دې شپه هيڅ نشي کېدې . شپه به هوټل کښې اوکړو . بيا به ورسره ګورو .

صبا:. (په يره ) هو . . . .هوټل کښې ؟

ياسر:. هاؤ ، هوټل کښې . اوکه تاته دَ شپې تېرولو بل ځائے معلوم وي نو هلته به لاړشو .

صبا:. ماته هيڅ نه دي معلوم . زه اسلام آباد ته په رومبي ځل راغلم.

ياسر:. زما مطلب دے چې څوك رشته دار وغېره ؟

صبا:. سوري ياسر صيب ، زما هيڅوك نيشته .

ياسر:. بيا وخت مۀ ضائع کوه . څه چې ځو ، شپه به په هوټل کښې اوکړو ، هغوي سره به سحر ګورو . دې سره هغه يوټيکسي ته اشاره کوي . هغوي دواړه پکښې کيني او يو ښکلي هوټل ته لاړشي . هلته ډوډۍ اوخوري او دَ شپې تېرولو دَ پاره يوه کمره کرايه کړي. صبا چې هغه سره کمرې ته ورغله نو هغه دَ يو بېډ سنګل کمره وه. هغې چې کمرې ته اوکتل نو دَ يرې نه پرې زلزل راغے . هغه دَ ياسر په

حرکاتو دَ مخکښې نه شك منه وه او اوس خو دَ هغې شك په یقین کښې بدل شو ، هغې دَ مظلومیت په نظر هغۀ ته اوکتل او وې وئیل دا خو سنګل بېډ دې ، دیکښې به ته سملې او که زۀ ؟

یاسر( په لاپروائی اوبے ساختګۍ ) دواړه .

صبا: (په غصه)دواړه ؟ څه مطلب ؟

یاسر: مطلب دا چې دَ ډبل بېډ کمره ورسره نه وه . تولې بندې دي. مجبوري ده . که تۀ ماسره یو ځاے ملاسته نه غواړې نو تۀ به په بېډ کښې سملې او زۀ به لاندې په قالین سملم .

صبا: نه یاسر صیب تۀ په بېډ کښې سمله زۀ به لاندې سملم ، یاسر دَ هغې دَ خبرې جواب اونکړې ، دَ بېډ نه یو بالخت راواخلې او په قالین سملی .

صبا:.نه یاسر صیب ، ته په بېډ کښې سمله زۀ به لاندې سملم.

یاسر: . اوه ، نونو، داسې نشي کېدې . تۀ په بېډ کښې ښۀ بے غمه سمله ، زما فکر مۀ کوه .

صبا:.(مسکی شي ) خفه شوے ؟

یاسر: . نه ، نه ، چرې هم نه .

څۀ دَ اسلام آباد موسم یخ وو او څۀ دَ ګلې باران په وجه یخ شوے وو. لږه شیبه پس صبا خپله کمبله په هغه واچوله او په خپله یې ځان پړونې کښې راغونډ کړو. چې څومره به شپه پخېده هومره دَ یخنۍ زور زیاتېدو . ترناوخته پورې دواړه لنډېدل ، اوړیدل خو دواړو سترګه پټه نه کړه چې دَ سبا سترګه راخته نو دَ صبا سترګې ورغلې . هغه دَ



www.pukhto.net



یخنۍ نه کوکله شوې وه او سر او کونډې یې یو ځائے شوي وو. دَ هغې سترګې ایله ترخې شوې وې چې یاسر غلې غوندې پاسېدو، خپله کمبل یې اوچته کړه ، په هغې یې خوره کړه او هغې سره په کمبل کښې ورننوتو. صبا چې دَ هغۀ په حرکت پوهـ شوه نو غلې غوندې دَ بېډ نه پاسېده او لاندې په قالین سملاسته . یاسر بیا کمبل اوچته کړه او هغې سره په قالین سملاستو . صبا دَ هغۀ په اراده پوهـ وه خو په خوله یې هیڅ نه وې . البته په چپه خوله پاسېده او بیا بېډ له راغله . لږه شیبه پس هغه بیا کمبل اوچته کړه . په هغې یې خوره کړه او هغې سره سملاستو . چې دَ هغۀ حرکات او جذبات خطرناك ، حد ته اورسېدل نو هغه په بېډ کښې کېناسته . جوړه لاسونه یې په تندې کېښودل او ورته یې اووې ، "یاسر صیب ، خداے دَ پاره په ما رحم اوکړه پلیز ". چې هغۀ باندې دَ هغې دَ منت زارۍ اثر اونشو او دَ خپل مقصد حاصلولو دَ پاره یې دَ زبردستۍ نه کار اخستو نو هغې هم دَ هغۀ تولـه همدردي یوخوا تـه کړه او چې پـه سینه کښې یې غبرګې لتې ورکړې نو دَ بېډ نه یې سر دَ لاندې اوغورځوو. هغۀ چې دَ پاسېدو او هغې پسې یې دَ ورتلو کوشش کوو نو هغه هم دَ بېډ نه کوزه شوه او په دفاعي پوزیشن کښې دَ هغۀ مخې ته اودرېده . هغه چې دَ هغې په اراده پوهـ شو نو مُسکے شو او ورته یې اووے ، O,k. O,k That is all. اوشوه ، اوشوه .ما اومنله چې تۀ یوه نره او بهادره جینۍ یې . زۀ نه صرف ستا دَ مړانې ستاینه کوم بلکه ستا په

عـصـمـت فـخـر کوم . دې سره هغه يو ځل بیا مُسکے شو او ورته يې اووے "خفـه خـو نـه يـې"؟ دَ هـغـۀ دَ مُسکا په جواب کښې هغه هم مسکي شوه او ورته يې اووې ، "زما په لتو خوخوږ نشوے"؟

هغه شرمنده شو او زر يې جواب ورکړو. oh, not at all.... it was a good joke .

صبا: No, it was a serious joke." دې سره دواړه په خندا شي او پـه خپـلـو خپلو ځايونو سملي. هغوي ترناوخته پورې اودۀ وو. يؤلس بـجـې چې هغوي پاسېدل نو ناشته يې اوکړه او دَ نسيم صيب کورته روان شـو . دَ هـغـې غبرګو لتو سره دَ هغۀ دَ دماغ نه فتور هم اووتو او دَ هغۀ جذبات هم داسې ساړۀ شو چې دَ هغۀ يادداشت هم واپس شو او دَ رعـنـا بـېـګـم مـوبـائـيـل نـمـبـر هم پيدا شو . په توله لاره هغۀ دَ هغې دلـجـوئي کـولـه او په پس پسو کښې يې دَ هغې نه معافي غوښتله . چې دَ نسيم صيب کور ته اورسېدل نو هغوي دواړه کور نه وو. البته دَ هـغـوي خـدمـت ګاره حنا کور وه . په خبرو خبرو کښې حنا هغوي ته اووې چې ، "بيـګـاه تـولـه شپـه نسيم صيب او رعنا بېګم دَ ستاسو دَ راتـلـو په طمعه وو. هلته مېرمن ريحانه پرېشانه وه او دلته دوي پرېشان وو.يـاسـر سـره دَ لېټ راتلو هيڅ جواب نه وو . دَ هغۀ مرې داسې اوچه شـوې وه لـکـه چې په موټو موټو شنې بيرې يې خوړلې وي . بهرحال صبـا ورتـه دَ ګـاډي دَ خرابېدو خبره اوکړه او ځان يې ترېنه خلاص کړو . هغوي لا خپـلـو کښـې خبرې کـولې چې رعنا بېګم راغله . هغې په



www.pukhto.net



خـنـدا خـنـدا دواړو سره روغ جـوړ اوکـړل او بیا يې ترېنه دَ لېټ کېدو دَ وجـهـې تپـوس اوکړو . صبا هغې له هغه جواب ورکړو کوم چې هغې لږ ساعـت مـخـکـښې حناله ورکړې وو. چې چاې شربت اوڅکلې شو نو بيا ترينه ياسر دَ خپل مصروفياتو په بهانه رخصت واخستو،کلي ته روان شـو او صبـا هـلـتـه پاتې شوه . ماسخوتن دَ هغې ملاقات نسيم صيـب سـره اوشـو . نسـيـم صيـب دَ ځلوېښتو کالو خواۀ شا يو خوش مـزاجـه ، خـوش رنـګـه او خـوش وضـعـه سړے وو. هغه چې دَ هغې قيصه وورېده نو ډېر خفه شو او هغې له يې تسلي ورکړه .

★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★

Pukhto.Net پښتو

## دوېمه برخه

دَ میرام جان ټبر پـه دولـس کسـه نفرۍ مشتمل وو.پـه دې دولسـو کښـې درې دَ هغـهٔ ښځې وې ، یویې زوے ،څلور لوڼه ، دوه دَ هغـهٔ مورپلار ، یـوه دَ هغـهٔ اینـګور او یو هغه په خپله وو. دَ هغهٔ دَ مشـرې ښـځې نـه یو زوے او یوه لور وه . دَ دوېمې نه دوه لوڼه وې او دَ درېـمې نه یوه لور وه .هغوي دَ غرنه په لږه فاصله باندې په یوه هواره غـونډۍ اووه خـېـمـې لګولې وې . په دغه خیمو کښې درې دَ هغهٔ دَ ښځـو او دَ هغـوي دَ بال بچ وې، یوه دَ هغهٔ دَ مور پلار وه ، بله دَ هغهٔ دَ زوي او اینـګـور وه او یـوه دَ مـېلمه دَ پاره وه . دې نه علاوه یوه خېمه دَ کـور دَ خـېـمـو نــه لـرې دَ لامبـلـو دَ پاره دَ غر خوا کښې پـه یوه چینـه لـګـېدلې وه . دَ اوښانو او ګډو بزو رمې ، دَ بیلې بېلې کهاړې په شکل کښـې دَ کـور نـه بهـر پـه ډاګـه پـرتـې وې . دغه ټول ځاروي به سحر په خپـلـه دَ یـو کـس پـه نـګـرانـۍ کښې ځرند له تلل او مازیګر ماښام به خپلو خپلو ځایونو ته راتلل.

دَ میـرام جان په وېنا دَ هغهٔ زوے ګل جان دَ پړاؤ نه بهر دَ هغهٔ دَ راتـلـو پـه انتظار کښې ولاړ وو. ګل جان دَ کاشان نه په عمر کښې شپږ اووه کـالـه مشـر او پـه قد کښې دَ هغهٔ نه لږ چیت وو. هغهٔ چې کاشان اولیـدو نـو مُسکـے شو او دَ هغهٔ دَ ستړي مشي دَ پاره دَ خپـل ځاے نه دوه څـلـور قـدمـه ورمـخـکښـې شـو. د روغ جـوړ نه پس ګل جان هغه نـزدې خـېـمـې ته بوتلو . هغهٔ یې په خېمه کښې کېنوواو په خپله بهر



www.pukhto.net



اووتـو . دَ هـغـهٔ دَ تـلـو نـه پـس کاشان خېمې ته لاندې باندې کتل او دَ هـغـې جـائـزه یـې اخستـه . پـه خېمه کښې سور قالین غوړېدلے وو، چاپېره غاړو ته دَ سور بخمل ګدۍ پرتې وې او سرهٔ متکې پرې دَ پاسه پراتهٔ وو. یو ګُټ ته دَ نسوارو تهوکلو دَ پاره یوه مسینه تهوکداني پرته وه او هغې سره جخت یو مسین لاس وینځونکے پروت وو . هغه چې پـه بیـدیـا کښـې او دَ دې شاړې په خلقو کښې دَ ژوند دا سلیقه اولیدله نـو یـوه خـوږه مُسـکـا یـې پـه خـولـه خـوره شوه . په قالین اوغزېدو او متکې ته یې ډډه اووهله .

دَ نـمـر طـلائـې پلوشې دَ خېمې په رو کښې دننه راتلې ، څهٔ دَ هـغـهٔ پـه مخ لګېدې او څهٔ لاندې په قالین پرېوتې . هغه پلوشې چې غرمه لکه دَ سومبو دَ هغهٔ په بدن ښخېدې اوس دَ هغهٔ په بدن بدې نه لـګـېدې، هغهٔ د دې پلوشو دَ نیولو کوشش کووخو په لاس نه ورتلې. دَ هـغـهٔ او دَ نـمـر دَ پـلوشو دغه لوبه لاجاري وه چې ګل جان پتنوس په لاس خـېـمـې تـه راغـۍ او پتـنـوس یـې دَ هـغـهٔ مخې ته کېښودو. په پتـنـوس کښـې یـو غـټ چینك ، دوه پیالۍ ، په یوه وړه کاسه کښې دَ ګُړې ډکرې ، په بله کښې اوچ توتان او په درېمه کښې اوچ انځران پراته وو. کـاشان چې دَ هغهٔ تکلیف ته اوکتل نو وے وئیل ، تاسو زما دَ پاره دومـره لوې تکلیف ولې اوکړو ؟ زهٔ څهٔ مېلمه خونهٔ یم بلکه لاروے او مسـافـریـم . دَ هغهٔ په خبره ګل جان مُسکے شو . دَ چینك نه یې شنه چـاې پــه پیـالـو کښـې واچـولــه ، ټـول لـوازمات یې دَ هـغـهٔ مخې تـه

کېښودل او ورته يې اووې، "تهٔ خدائي مېلمه يې، او دَ پيژندګلو مېلمه نه زيات دَ قدر وړ يې. بله دا چې مونږ ستا دَ پاره څهٔ تيارې نه دي کړې بلکه دا څيزونه دَ شين چاې سره تړلي لوازمات دي .... داسي معلومېږي چې تا ډوډۍ هم نه ده خوړلې . ترماښامه پورې په دے توتانو او انځرانو ګزاره اوکړه خو ډېر ځان مهٔ مړه وه چې دَ ډوډۍ نه اونه ځے ...شروع کوه". ګل جان لکه چې دَ هغهٔ دَ زړهٔ خبره اوکړه، هغه واقعي توتاتو او انځرانو ته اړم شو . په يو لاس به يې هغه خولې ته ويشتل او په بل لاس به يې ورپسې دَ پيالۍ نه ګوټ کوو. په خبرو خبرو کښې هغهٔ ته معلومه شوه چې هغه دَ پېښور دے ځکه چې دَ هغهٔ ژبه او لهجه لکه دَ پېښورو پسته او خوږه وه . هغوي لا قهوه څکله چې ميرام جان هم تشه پيالۍ په لاس خېمې ته ورغی. .دَ ورتلو سره يې هغه ته اووې "کشانه زويه ،خفه خونه هستی"؟

کاشان:. نه بابا نه ، تاسو خو ماله لوې عزت راکړو ، خُدائے دے تاسو ډېر ډېر خوشحاله ساتي. که تاسو نه وۍ نو زهٔ به چرته ګرځېدم .

ميرام جان :. کشانه زويه ، ته چيرته روان هستې ، دا خو بېديا ده او صحرا دے . دا دَ ځناورو ، لېوانو او چوپايانو سيمه ده . تهٔ څهٔ رنګه دے پلومخه شوے".

کاشان :. هاؤ بابا ، ماته پته ده چې دا علاقه خطرناکه ده خو زهٔ دَ خپل وجود په بار دومره ستومانه يم چې دَ خپل ژوند نه بېزاره يم . بابا زهٔ هغه ورك مسافريم چې دَ انسانانو په ځنګل کښې دَ خپل کور ،کلي



www.pukhto.net



تلاش کوم ... دَ ورك منزل لټون کوم . په دغه لټون لټون دې بيديا ته رااورسېدم چې کيدېشي دلته راته دَ خپل منزل ورکه لاره ملاؤ شي او په هغه لاره زهٔ خپل منزل ته اورسم .

ميرام جان چې پيالۍ تشه کړه نو په پټنوس کښې يې نسکوره کېښوده . هغهٔ ته يې په ځېر ځېر اوکتل او ورته يې اووے، "کشانه، مونږ د دې شاړې ، شاړ خلقه يو ، د دے غرونو غرڅني يو او د دے صحرا، صحرانشين يو. زمونږ ژوند خپلو څاروو او د دے غرونو ځناورو سره تېرېږي ، نه دَ خبرې کولو په چل پوهېږو او نه په ول . نه دَ خبرې په شروع کولو پوهېږو او نه په ختمولو. دَ خپل ژوند او خپلې ځوانۍ يوه لويه برخه ما خپل پلار او ترونو سره دَ پېښور ، چارسدې او دَ مردان په مېرو کښې تېره کړې ده . اوس هم زمونږ ځينے خپلوان او عزيزان په دغه مېرو کښې پراتهٔ دي . زما رومبے واده دَ پېښور په مېره کښې شوے وو. زما رومبے اولاد يعني دا ګل جان دَ مردان په مېره کښې پيدا شوے دے . په دې وجه دغه خلقه په ما ډېر ګران دي او زما په سترګو ډېر ښهٔ لګي . مونږ د دغه خلقو ډېر خواږهٔ ليدلي دي او ډېر څه مو ترينه ازده کړي دي . زويه لکه ستا زمونږ هم خپل کور کلے نيشته . هغه دَ چا خبره چې "څوك باران پسې پټې ګرځوي او مونږ واخو پسې څاروي ګرځوو. چې دلته دَ څاروو چاره ختمه شي نو کډه کوو به اونغاړو او چرته بلې داسي علاقې ته به ځو چرته چې دَ څاروو ګياه ملاويږي . مونږ هم لکه ستا ورك منزلو پسې مزلونه کوو

. مونږ دَ خپلو ښارو منزلونو پسې مزلونه کوو.

مونږ دَ اصل نه کوچیان یو، او کوچې همیشه په کوچ کښې وي . نن دلے سبا دَ خدائے په ولے . زمونږ دَ خلقو غم ښادی ، وادهٔ کوږدن ، اختنه یوختنه په روانه روانه کښې کیږي . په دې روانه روانه کښې زمونږ وادونه هم کیږي ، ماشومان هم پیدا کیږي او مرګونه هم کیږي . که تهٔ مونږ سره پاتېکېږے نو زمونږ کور خپل منزل اوګڼه... ماته داسے لیدے شي لکه دا ګل جان .

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## شلورم باب

دَ صبا دَ تلو نه پس په مرجانئ کلي کښې دَ هغې دَ تختېدو غږ داسې خور شو چې په سترګه رپ کښې دَ کلي دَ یو سرنه بل سرته اورسېدو . په هره لاره ، کوڅه، پوله پټي او کورو حجره کښې به دا خبره کېده او ټنګېده چې دَ میراعظم خان لور متیزه لاړه. دا هیڅا ته نه وه معلومه چې چاپسې لاړه خو دَ اکثرو خلقو دا خیال وو چې په چا توره شوي وه نو هغهٔ پسې لاړه هلته پولیس هم یوڅو ورځې په کلي کښې ګرمې چکرې اووهلې خو چې څوك رپورټ ته تیار نشو نو هغوي هم ساړهٔ شو یاکېدېشي چې ماړهٔ شوې او ساړهٔ شوې وي.

هغه دَ چا خبره چې "فلانکے دَ باران نه تختېدو، دَ ناوې لاندې یې شپه شوه" دغه کار نور عالم او ګل عالم سره هم اوشو. دَ هغوي لږ شرم په لوې او عمري شرم کښې بدل شو. اګر چهٔ هغوي دَ شرم په وجه دَ خپل کور او حجرې نه بهر نشو وتے اوکه وتل به نو تیټې سترګې به ګرځېدل خو دَ هغوي نو مونه تر لرې لرې خوارهٔ شو. ځینے اجرتي قاتلان چې د دې واقعي نه خبر شو نو هغوي ورته دَ خپلې یاندې دَ خپلو خدماتو پېشکش اوکړو . هغوي دَ هغوي پیشکشونه په دے شرط قبول کړل چې پیسې به هله ورکوي چې دَ دواړو سرونه راؤړي او هغوي ته یې په مېز کېږدي.

هلته نورخان چا ټینګولے شو. دَنورعالم او ګل عالم نه زیات

هغه غصه وو. په غصه کښې به يې دَ خولې نه لاړې الوتې . څۀ به دَ دهارې په شکل کښې نېغې تلې او دَ هغۀ په جامو او په زمکه به پريوتې، او څۀ به دَ هغۀ په وخکو راتلې . په کلي کښې دَ هغۀ متعلق دا خبره مشهوره شوه چې "يوه هاوه ، هغه هم سخاوه " . هغۀ چې دا خبره واورېده نو لا غصه شو . يولنډے پيټے ټوپك يې چرته نه پيدا کړو . چې کله به دَ خپله کاره اوزګار شو نو بډې به يې اووهلې ، يو څادر به يې دَ سر نه تاؤ کړو او دَ هغې پسکي به په اوربوزرا خور کړو. بل څادر به به يې دَ ملا نه تاؤ کړو دَ کارتوسو ګټه به يې غاړې ته واچوله ، ټوپك به يې په لاس کښې اونيوو او هسې به يې په فصل او شاړو ويجاړه کښې منډې وهلے او چغې به يې ويستلے ، "نره تختے به نۀ ، ميدان ته شه چې معلومه کړو". څۀ ورځې پس يې يوه طماچه هم پيدا کړه او يوه چاړۀ هم . دا درې واړه وسلې به هغۀ دَ خپل دشمن کاشان دَ قتل دَ پاره ګرځولے . دَ پانړې کش سره به هغۀ غوږونه بوس کړل او هغه ځاے ته به يې په ځير ځير کتل چرته به چې کش شوې وو . که په خنډ ، مونډ يا بوټې به يې لړ شك راغے نو په هغه ځاے به يې ډزے کولے او چغې به يې ويستلے ، "تختے به نه ، اوس اېله خُداے په ګوتو راکړے". چې ښۀ تسلی به اوشوه نو بيابه واپس شو. دَ کلي خلقو به چې ډزے وورېدے نو دَ کورونو او حجرو نه به بهر اووتل او په لارو کښې به اودرېدل . هغوي به لا دَ ډزو په حقله دَ يو بل نه تپوسونه کول چې هغه به لوند خوشت ، ټوپك په



www.pukhto.net



اوږۀ دَ يو طرف نه په ګونېدو ګونېدو را اووتو ، "لاړو اوتختېدو. . . نران داسې نه کوه . . .نران لکه زما په اوچ ميدان ولاړ وي او جنګيږي. "چې چابه ترينه تپوس اوکړو، "خيرشه نورخانه ، دا ډزے تا اوکړے؟ نو هغۀ به په غصه جواب ورکړو ، "خبر به هله شي چې په کهوپړۍ کښې يې اوبه اوڅکم ". دې سره به هغه برند ، سرند ، دَ ډلې په مينځ اووتو . چې چابه په خندا کښې دَ روستو نه اواز ورکړو ، "ګزاره کوه نورخانه ، ډېره غريبي ده " نو هغه به په تلو تلو کښې راستون شو . يو قدم به ورمخکښے شو او ورته به يې اووے ، "څۀ دے اووے چې غريبي ده . غريب داسے کار کوي لکه هغۀ چې ماسره اوکړو. دا غريبي نه بلکه مستي ده . او که څوك پرې خفه کيږي نو هغه دے هم ورسره ملګرے شي . هغه نه دے ، دے نه بل ، بل نه بل . ماخو هسي هم ځان په مرګ شميرلے دے خو زۀ چې مرم نو داسے ډير به دَ ځان نه مخکښې کړم ". دې سره به هغه واپس شو او ډېر په تيزۍ سره به په دانګو دانګو روان شو . په هره هفته کښې به هغه دوه ، درې ځله خپل خيالي دشمن کاشان سره په خيال کښې جنګېدو او هرځل به هغه تختدو اوميدان به يې نورخان ته پرېښودو . نورعالم او ګل عالم دَ هغۀ دَ منعے کولو ډېر کوشش اوکړو خو چې هغه منعے نشو نو بيا يې خپلې مخې ته پرېښودو ، دَ کلي خلق چې دَ هغۀ دَ ډزو نه ډېر تنګ شو نو هغوي هم دَ هغۀ تنګول شروع کړل . چې کله به يې مابنام ، ماسخوتن په پټې کښې ډزے اوکړے او حجرې ته به واپس

شو نو چابه ورپسې څوك ماشوم رااولېږو چې "كاشان سره دَ سړو راغلے دے او ستا تپوس كوي" د دې خبرې په اورېدو سره به هغه خپله وسله دوباره راواخسته او پټې ته به يې منډه كړه . بيا به يې ټوله شپه په پټي كښې ځائے په ځائے منډې وهلې ، ډزے به يې كولے او چغے به يې ويستلے . دغه رنګې چې څۀ موده سحر ، ماښام، غرمه او ماسخوتن څو څو ځله يې پرله پسې منډے اووهلے نو دومره كمزورے شو چې دَ رپ وهلو جوګه نه وو. دې سره سره دَ هغۀ لاشه هم پسه شوه او بڼه يې هم مړاوې شوه . دَ هغۀ سرله عقل هم راغے او په زړۀ كښې يې دا خيال هم راغے چې "دَ كلي خلق په هغه پوهـ شوي دي او لكه څنګه چې هغه اوچ په اوچه ډزے كوي دغه شان هغوي هم اوچ په اوچه هغه له منډې وركوي . دغه ټولو دَ هغۀ تنګولو پسي راخستے ده ". هغه لا په دغه سوچ كښې پروت وو چې دَ كلي يو سړے غندل ساه نيولې حجرے ته راغے او هغه ته يې اووے "راپاسه نورخانه ، كاشان راغلے دے . په لويه هديره كښې ولاړ دے او ستا تپوس كوى ". دَ هغۀ په دې خبره هغه مُسكے شو او ورته يې اووے ،"دروغ ، تك سپين او سوچه دروغ . نه كاشان راتلے شي او نه . . .بل څوك ".

غندل :. ما په دې خپلو سترګو اوليدو چې هغه راغلے دے دَ لېدو نه علاوه هغۀ دا هم اووے چې "هغه له خبر وركړه چې كاشان ستا تپوس كوي " دَ هغۀ په دې خبره دَ هغۀ مُسكا په خندا كښې



www.pukhto.net



بدله شوه . او په خندا خندا كښې يې ورته اووے ، "غندليه ، ته دَ څۀ نه خبر يې ؟ تۀ لا دَ هاتهى په غوږ كښې اودۀ يې . . .هغوي دواړه ما داسے ځاے ته ليږلي دي چې هلته نه څوك واپس نشي راتلے. هغوي دواړه ما په خپل لاس ټكړې ټكړې كړي دي او دَ زمكې تل ته مې رسولے دي "ماخپله وسله او غورځوله ځكه چې د دې حاجت پاتې نشو .غندل چې دَ هغۀ نه پاڅېدو نو ځائے په ځائے يې مختلف ډلو ته دغه خبره اوكړه . دَ خلقو اګر چۀ دَ هغۀ نه د دې دومره لوې كار توقع نه كېده خو كله چې هغه وسله اوغورځوله او دَ ټوپك په ځاے يې په اوږه لور كېښودو نو هغوي په هغۀ شك من شو چې كېديشي دغسې شوي وي . دَ هغۀ په لاس نه صحي دَ بل په لاس صحي. دې سره په كلي كښې مكمله خاموشي شوه . كېده كېده چې دَ خلقو شك په يقين كښې بدل شو. دې سره دَ هغۀ او دَ هغۀ دَ نيكانو عزت بحال شو او څۀ موده پس دا خبره خلقو داسې هېره كړه لكه چې هډو څۀ شوې نه دي .

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★★

★

## دویمه برخه

صبا دَ رعنا بېګم په کور کښې ښځۀ په پخه پرته وه . سحر به چې هغوي ښځه او خاوند خپلې خپلې ډيوټئ له لاړل نو حنا او هغه په کور کښې پاتې شوې . بيا بـه هغوي ټولـه ورځ پـه ټي وي لاؤنج کښې ناستې وې ، کله به يې ټي وي کتـو او کـلـه بـه يې خپلو کښې خبرې کولې. حنا ډېره خوږه او خدمتي جينۍ وه. هغه چې دَ صبا دَ واقعې نه خبر شوه نو هغې سره يې همدردي او مينه نوره هم زياته شوه.

مېډم ريحانه به هرماسخوتن هغې ته فون کوو او دَ هغې حال احـوال به يې معلوموو. څۀ موده پس هغه دَ هغې ملاقات له راغله. دَ هغـې په راتلو باندې هغه دومره خوشحاله شوه لکه چې دَ هغې مړه مور ژوندۍ شوې وي او دَ مـېـډم ريـحانه په روپ کښې راغلې وي. دَ روغ جوړ نه پس صبا دَ هغې په غېږ کښې سرکېښودواو په چغو چغو په ژړا شوه . په ژړا ژړا کښې هغې اووې ، ''دا ماسره څۀ کيږي مېډم''؟ مـاخـو دَ خپل ژوند متعلق چرې هم دا تصور نه وو کړې. مېډم ريحانه دَ هغـې اوښـکي اوچولي او خپلې يې بهولې. دې سره سره يې هغې لـه تسـلي ورکـولـه او ورتـه يې اووې، ''خفه کېږه مه صبا. هرې تيارۀ شپـې پسـې سپين سحر وي . هر خزان پسې بهار وي او هرې ناکامۍ پسې کاميابي وي . دا دَ کارخانه فطرت اصول دي او دا سلسله دغسې چلـېـږي . . .وخت تېرېږي او انسان خپل منزل ته رسيږي . چاته خپل مـنـزل ډېر په اسانه ملاؤ شي او څوك په مزلونو ستړې شي خو خپل



www.pukhto.net



مـنـزل ته اونه رسيږي . په دنيا کښې دَ چا هم ټول ارمانونه پوره کېدې نشي خـو دَ هغـې دَ پـوره کـېدو امېدونه تل دَ هغۀ دَ لارې مل وي. زۀ اميـدکوم چې ستا ارمان به يو ځل خامخا پوره کېږي او د بد قسمتۍ دا تـورغـلاف بـه يو ځل ستا دَ سر نه پورته کېږي. مايوسه کېږه مه، په مزه مـزه به ټول حالات سازګار شي . دَ مېډم ريحانه په تسلي او ډاډ دَ هغـې پـه زړۀ کښې دَ خپل ارمانونو دَ تکميل اميد پيدا شي او هغې تـه دا احسـاس اوشي چې هغه خپل منزل ته ډېره نزدې ده . چې ترڅو مـېـډم ريحانه هلته وه نو دَ هغې په ډاډ دَ هغې غمونه تر ډېره حده کم شوي وو. مـېـډم ريـحـانـه هلته دوه ورځې تېرې کړې او په درېمه ورځ تـرېـنـه په دې وعده رخصت شوه چې هغه به دَ هغې ليدو له ډېر زربيا راشي . دَ رخـصـتېدو نه مخکښې هغې رعنا بېګم ته اووې چې، ''دې لـه څۀ مصروفيات پيدا کړئ چې خيال يې بدل وي ، ګينې په ژړا ژړا به نيمه پاتې نشي ''. هم دغسې اوشوه يوڅو ورځې پس دَ رعنا بېګم پـه ويـنـا بـاندې نسيم صيب هغه ځان سره ګاډي کښې کينوله او ځان سـره يې خپـل هوټل ته بوتله . هلته يې څۀ ضروري هدايات ورکړل او دَ Receptionist پـه کـرسـۍ يې کينوله. اوس هغه ډېره خوشحاله وه ځکه چې ټوله ورځ به مصروفه وه . دَ هغې دَخوشحالۍ په وجه نسيم صيب او رعنا بېګم هم ډېر خوشحاله ووو وخت تېرېدو سره دَ هغې په خبرو ، وضع قطع ، رنګ ډهنګ او لائف سټائل کښې هم فرق راغئ . پـه خبرو خبرو کښې مُسکا ، په حرکات وسکنات کښې ادا، په ناسته

Pukhto.Net

پاسته کښې اداب او په ګفتګو کښې خوارۀ القاب . دَ هغې لهجه دومره نرمه او پسته شوه لکه چې مرئ کښې بیخي هډوکي نه لري. دَ نسیم صیب دَ هدایت مطابق به هغې دَ ساده کپړو په ځائے پښتې شرټې اچوؤ، دَ لوپټې په ځای به یې زلفې په اوږو خورلولې او په خپل حسن کښې دَ ځلا پیدا کولو دَ پاره یې لائټ ډارك چشمې استعمالولې . هرسحر به دَ کوره دوه ګاډي وتل . یو کښې به رعنا بېګم کالج ته تله او بل کښې به نسیم صاحب او صبا خپلې ډیوټۍ له تلل. ماسخوتن به ټول یو مېز ته ډوډۍ ته کیناستل او په خندا خوشحالي به یې ډوډۍ خوړه . دَ ډوډۍ نه پس به ټول ټي وي لاونج ته لاړل ، ساعت نیم به هلته مصروف وو او بیا به خپلو خپلو کمرو ته لاړل.

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★



www.pukhto.net



## درېمه برخه

دَ کاشان مېلمستیا ختمه شوې وه خو هغه میرام جان کره ښه په پخه پروت وو. میرام جان دَ هغۀ بابا ، دَ هغۀ پلار دَ هغۀ پلار میرآغا دَ هغۀ نیکۀ ، د میرام جان مور دَ هغۀ نیا، دَ هغۀ درې وانړه ښځې دَ هغۀ میاندې ، دَ هغۀ څلور وانړه لونړه دَ هغۀ خویاندې ، دَ هغۀ زوے ګل جان دَ هغۀ رور او دَ ګل جان ښځه (سپینه) دَ هغۀ بابي وه . دَ هغۀ په راتلو باندې دَ میرام جان ډېر لاس ارت شو . هغه دَ هغۀ دَ زوي نه زوے او دَ نوکر نه نوکر وو. میرام جان به لکه دَ مخکښې غوندې دَ څارو خصمانه ، دارو دُرمل ، اخستل خرڅول ، دَ هغوي چاره برابرول، دَ کورماته ګوډه او تېل مالړه راوړل وو. دَ ګل جان کار دَ څارو دَ پاره نوې نوې علاقې کتل دَ خپلو خپلوانو خبر خبریت معلومول او دَ هغوي مړي ژوندي له ځان رسول وو. دې سره سره به هغۀ دَ ورې اخستل خرڅول هم کول . دَ هغوي خپه دَ افغانستان او علاقه غېر نه واخله تر پېښور ، چارسدې ، مردان او دَ پښتونخوا نورو سیمو ته رسیدلې وه چې کله به هغه بهر اووتو نو بیا به په میاشتو میاشتو غېب وو. دَ کورنګراني او دَ مېلمه راشه درشه او هغه سره به ناسته پاسته میرام جان او دَ هغۀ بوډا پلار میرآغا کوله . دَ ګډو بزو او دَ اوښانو د رمو نګراني به واره په واره دَ میرام جان ښځو او دَ هغۀ لونړو کوله . دَ اخلي پخلي دَ پاره خشاك راوړل هم دَ هغوي کار وو . دَ میرام مور او دَ هغۀ اینګور سپېنې به هنړۍ کونړې او کټوۍ څمڅۍ

کوله او نورو جینکو او ښځو به ورسره مرسته کوله . دا علاقه دَ ځنګلي ځناورو په وجه ډېره خطرناکه وه . دَ جینکو دَ نګرانۍ نه علاوۀ دَ ورځې به رموسره دواړه سپي هم تلل او دَ رمو په یوسر او بل سره به ناست وو . چي لړ به دَ ځنګلي ځناورو په کش کړپ پوهـ شو نو دواړه به لکه دَ غبرګو غشو وررسیدلي وو او چې هغه به په ځان پوهېدو نو هغوي به پرېِ دَ مخکښې روستو نه حملې کړے وې. چې کوم ځناور به ترېنه په منډه ځان خلاصولې شو نو هغه به بچ لاړو او چې کوم به پاتے شو نو په سترګه رپ کښې به یې هغه ټکو سترې کړو او ځان ته به یې مخکښې ډیرے کړو . بیا به یې دَ هغۀ غوښې خوړے او دَ هغۀ هډوکي به یې کرپول . دا سپي به دَ سحر نه ترماښامه پورې دې رمو سره دَ ګډو بزو دَ حفاظت دَ پاره ګرځېدل او چې کورته به راغلل نو بیا به ښۀ ماړۀ کړي شو او په زنځیرونو به اوتړلي شو. بیا به ټوله شپه اودۀ پراتۀ وو دَ اوښانو رمو ته دَ ښځو، جینکو یا دَ سپو دَ نګرانۍ ضرورت نه وو. هغوي به په دغه خواؤ شا علاقه کښې بې جلبه ګرځېدل او مازیګر، ماښام به دَ معمول مطابق خپل پړاؤ ته راتلل. دَ کاشان ډیوټي دا وه چې کله به هغه سحر په خپله طبعه دَ خوبه پاسېدو او ښۀ په مړه خېټه به یې ناشته اوکړه نو کلاشن کوف به یې غاړې ته واچوو او دغه رمو او دَ جینکو دَ حفاظت جنرل ډیوټي به یې کوله . دَ میرام جان لونړه په مړانه کښې دَ شاه زلمو نه کمې نه وې دَماښام دَ ډوډۍ نه پس به دوه خویاندو لکه دَ عسکرو



www.pukhto.net



خپله ورده واچوله ، لوپټې به یې پټکي کړل ، خپل خپل ټوپک به یې غاړې ته واچوو او تر سحره پورې به یې دَ ګډوبزو ، دَ اوښانو او دَ خپل پړاؤ حفاظت کوو . هغوي ته یا دَ هغوئ ځاروو ته دَ انسان نه څۀ خطره نه وه ځکه چې په هغوي دَ چا لار نه وه بلکه دَ ځنګلي ځناورو نه وه . دَ هغو ي څو څو ګڼې بزې دَ دغه خواؤ شا علاقو ځنګلی ځناورو ماتې کړې وې . خو کله چې هغوي خپله څوکۍ شروع کړه او څو څو ځنګلي ځناور یې اوویشتل نو بیا دغه خطره تر ډېره حده کمه شوه خو دَ خطرې امکان ختم نه وو.

دَ هغوي دَ ډیوټۍ تقسیم داسې وو چې کومو جینکو به دَ شپې ډیوټي اوکړه نو هغوي به دَ ورځې کار نه کوو بلکه ټوله ورځ به اودۀ پرتې وې او دَ خپل خوب کمې به یې پوره کوو. کله چې دَ میرام جان دوه لونړه ښارو او شین ګله پرله پسې وادۀ شوې نو دَ هغوي برخه ډیوټي په خندانې او وړمې راغله ، کاشان ته چې دَ هغوي دَ پرله پسې دَ څوکۍ پته اولګېده نو بیا به یوه شپه څوکۍ هغۀ په یوائے تن کوله او بله شپه به دواړو خویاندو په شریکه کوله . چې کله به ګل جان په کور کښې وو نو بیا به هغۀ کاشان سره واره په واره څوکۍ کوله خو داسې به اکثر ډېر کم کېدل . چې کله به خندانې او وړمې دَ شپې څوکۍ اوکړه نو دَ ګډو بزو رمو سره به دَ هغوي میاندې تلې خو چې کاشان به دَ خوبه پاسېدو او ناشته به یې اوکړه نو هغه به ورپسې لاړو هغوي به یې خپل خپل کار پسې اولیږلې او هغه به ټوله ورځ

رمو سره وو. ګډو ، بزو به ځرند کوو او هغه به کمرته ډډه وهلے وه او په خپلو خیالانو او فکرونو کښې به ډوب وو . کله به چې هغه دَ خپل مستقبل نه ډېر مایوسه شو نو په "یکه زار" او "یَه قربان" به یې خپل غمژن زړهٔ خوشحالوو او سوې سوې ټپې به یې کولے . دَ هوا مارغان ، دَ هغهٔ خوا کښې دَ هغهٔ ځاروی او ځنګلي ځناور دَ هغهٔ په ژبه او احساساتو نو پو هېدل البته دَ هغه خپل جذبات او احساسات به لړځېدل او دَ صحرا په ارته سینه به خوریدل . دَ هغهٔ دَ زړهٔ اوچې چینې به تاندې شوې او دَ دغه چینو نه به دَ اوښکو لړۍ روانې شوې.

یوه ورځ د دغه سوؤ لوؤ ټپو په تپش هغهٔ خپل زړهٔ ټکوره وو . دَ هغهٔ دَ ټپو دغه سلسله لاروانه وه چې شاته یې دَ چا دَ سلګو اواز واورېدو . دَ اواز سره دَ هغهٔ دَ تخیّل مزے او شلېدو او چې اواز پسې یې روستو اوکتل نو خندا نه دَ هغهٔ شاته ناسته وه ، سلګۍ یې وهلې او په سپین مخ یې غټې غټې اوښکې تللې . دَ هغې په لیدو هغه شرمنده هم شو او خفه هم شو . شرمنده په دې شو چې کوم احساسات او جذبات هغهٔ دَ هرچانه پټ ساتل غوښتل ، هغه دَ ټپو په شکل کښې هغې ته معلوم شو او خفه دَ هغې په ژړا شو .ژړا دَ کمزورۍ نښخه وي . دَ عاجزۍ اظهار او دَ خپلې ماتې اقرار وي . ژړا دَ درد وغم داستان او دَ خزانونو طوفان وي . ژړا دَ حالاتو شاکی او دَ توجه متقاضي وي . هم دغه وجه وه چې هغه ډېر په توندۍ سره، په یره یره هغې ته ورنزدے شو او تپوس یې ترینه اوکړو ، "اوه خندانې تهٔ ؟ ستا



www.pukhto.net



په مخ دا اوښکې امیلونه او ستا په خوله دا سلګۍ ؟ ولې څهٔ شوي دي ؟ . . .زر وایه خندانې . ستا خوله خو به تل دَ خندا ډکه وه . ستا په مخ خو به تل دَ سپرلو مېلې وې . ستا په اننګو به دَ رنګونو ډهېرې او ستا په شونډو به دَ شفق مقابلې وې . . . .خو دا اوس زهٔ څهٔ وینم؟ څهٔ ګورم ؟ دې سره هغه دَ هغې په لوپټه دَ هغې اوښکې اوچوي او دَ هغې په سر دَ شفقت لاس اړدي . دَ هغې اوښکې ختمې شوې خو دَ هغې سلګۍ ختمې نه شوې . البته دَ هغې غټې سلګې به ورو ورو سلګو کښې بدلې شوې . دَ هغهٔ لاس دَ هغې په سر پروت وو خو دَ هغې هرې سلګۍ سره به لکه دَ خوټکېدونکې کټوۍ دَ برغولي خکته پورته کېدو . هغې دَ هغهٔ لاس په خپل لاس دَ سر نه اوچت کړو په مزه مزه یې خولې ته نزدې کړو او لاندې باندې یې بې واره بې واره ښکل کړو . دَ هغې دَ ښکلولو په جواب کښې هغهٔ دَ هغې شونډې ښکلول غوښتل . په دې غرض چې دَ دواړو شونډې دَ یو بل شونډو ته نزدې شوې نو دَ دواړو په وجودونو دَ جذباتو زلزلې شوې . دَ جذباتو دغه سلسلې او بهیرونه په چپو وو او معلومه نه وه چې څهٔ به پېښیدل چې دیکښې دَ هغوي په خوا کښې ناصافي یو اوچ ډز اوشو . دا دومره غیر متوقع او ناګهانې وو چې دَ هغوي دَ ښکلولو اراده ختمه شوه او هغوي دَ یرې نه ټوپ کړو. دَ کاشان دا خیال وو چې ډز به په هغوي اوشو . دَ خپلې دفاع په غرض هغه هم دَ کلاشن کوف بولټ راخکو ، ډېر په تیزې سره پاسېدو او اخوا دیخوا یې اوکتل خو

هیـځ یې اونه لیدل . هغه لس دولس قدمه مخکښې شو او چې دَ لوړ کمر نـه یې خکته اوکتل نو لاندې ورِمه تهوپك په لاس ولاړه وه او یو زخمي لیوۀ په زمکه لوغړیدو. ورِمي چې هغۀ ته اوکتل نو په خندا کښې ورته اووې ، "ولې کشانه اویریدې ؟"

کاشان:. زۀ اونه یریدم خو ځاروي دې راله اویرول.خندانې چې هغوي پـه خبرو اولیـدل نـو دَ خشـاك ګېډي یې په سر کړو او ډېره په تـونـدۍ سـره روانـه شـوه . ورِمـې چې هـغـه په روانه کښې اولیده نو خپـل تهوپك یې ځـنګ تـه واچـوو ، دَ خشـاك ګېډې یې په سر کړو او هـغـې پسـې پـه مـنـډه مـنـډه روانه شوه دَ ډزو سره دواړه سپی لیوۀ وله رارسـیـدلي وو او دَ هـغـه په غوښو اوهډوکو لګیاوو. دَ هغوی دَ تلو نه پـس هـغـه ډېره شـېبـه پـه کمر ولاړ وو ، په ظاهره یې دَ سپو دَ خوراك نـنـداره کـولـه خـو په زړۀ کښې یې دَ خندانې دَ ژړا متعلق سوچ کوو. هغه دَ هغې په ژړا او سلګو حیران وو ځکه چې دې نه مخکښې هغۀ دَ هـغـي په مخ چر ي هـم دَ غـم تـاثرات نه وو لیدلي . دَ ورِمې دَ ډز او دَ هغوي دَ نـاصـافي جُـدائي پـه وجه دَ هغوي احساسات نیمګړې نیمه خـوا پـاتـې شـو او دَ هـغۀ تپوس هم اونشو . ګډې ، بزې په ځرند ځرند مخکښې تلې وې. په دغه سوچ او فکر کښې هغه هم ورپسې په مزه مـزه ور روان شو. هغه پاتې تهوله ورځ هغۀ دَ خندانې په خیالونو کښې تـېـره کـړه خـو پـه هیـځ نتیـجـه اونه رسیدو . دې نه پس تر ډېرو ورځو پـورې هـغـوي ته په تنهائي کښې د ناستې ولاړې موقعه ملاؤ نشوه .



www.pukhto.net



البتـه چې کـلـه به ورلـه په تلو راتلو کښې هغه په مخه ورغلـه نو هغه بـه مسـکـۍ شـوه ، اوبه شرمیده او تیټې سترګې به تېره شوه .

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★

Pukhto.Net پښتو

## پنځم باب

وخت تېرېدو او دَ صبا دَ حسن ځلا ورځ په ورځ زیاتېده. نسیم صېب او هغه یو بل ته دومره نزدې شوي وو چې په یوه ساه به دواړو ساه اخسته. نسیم صېب دَ هغې په طلسماتي حسن دومره مسحور وو چې دَ هغې دَ اثر لاندې هغه ته خپله ښځه نه ښکارېده. په خبره خبره کښې به صبا ته مخاطب کېدو، "صبا دا کار داسې دے، صبا هغه کار هغسې دے" اکثر به یې دَ هوټل دَ نوے مېلمنو، دَ کلب دَ ډانسرو او دَ دوېمې receptionist ذکر کوو. کله کله به یې دَ بېره ګانو او خانسماګانو خبرې کولې او کله کله به یې دَ هوټل دَ مالك دَ مائېکل کهور دَ شخصیت او دَ هغهٔ دَ هدایاتو متعلق خبرې کولې. رعنا بېګم به ناسته وه، دَ هغوي خندا سره به هغې هم خاندل خو دَ هغوي په خبرو هغه نه پوهېده ځکه چې دَ هغوي ټولې خبرې دَ هوټل او دَ هوټل دَ عملې متعلق وې او هغوي سره دَ هغې هېڅ تعلق نه وو. کله کله به هغې ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغوي په محفل کښې دَ هغې حېثیت دَ تهرډپرسن غوندې وي او دَ هغوي دَ ډلي نه بهر وي. که چرې دَ هغوي په خبرو کښې به وقفه راغله او هغې به دَ کالج دَ عملې دَ طالبانو یا د خپلو لکچررانو، پروفېسرانو خبره راواخسته او خبره به لږه اوږده شوه. نو صبا به ورته په بناوټي مسکا، هو، نا،کول او نسیم صېب به په وازه خوله یو څو اینګي



www.pukhto.net



اوکړل او هغې ته به یې اووے، "سوري رعنا، ماله خوب راځي". دې سره به هغه پاسېدو او خپلې کمرې ته به زانګېدلے زانګېدلے روان شو. دَ هغهٔ دَ تلو نه پس به صبا هم اینګي شروع کړل او دَ خوب په بهانه به خپلې کمرې ته روانه شوه. نسیم صېب ته به دَ شپې په تیارهٔ کښې هم صبا ښکارېده خو په رڼا ورځ ورته خپله ښځه نه ښکارېده. کله کله به یې دَ هغې په موجودګۍ کښې صبا دَ لاس نه اونیوه او لاس به یې ورله په خپلو لاسونو کښې تاؤ کړو. هغې به په خندا خندا چغه کړه "وېّی کنه لاس مې مات شو، راشه بي بي جي خلاصه مې کړه ترینه". دَ هغوي ترمینځه ټول تکلفّات ختم شوي وو او صبا به کله کله هغه ته دَ تاسو په ځائې دَ تهٔ ټکې استعمالوو. کله کله به چې هغه سحر سنګهار میز ته اودرېده او هوټل ته دَ تلو تیارې به یې کوو نو هغه به ورپسې غلے غلے ورغې، هغه به یې دَ زوړنده وېښتونه اونیوه او شاته به یې ټیټه کړه هغې به په خندا کښې چغه کړه، "راشه بي بي جي وېښتهٔ یې رانه اوویستل". چې هغهٔ به دَ هغې وېښتهٔ پرېښودل نو هغې به ورته په خندا کښې اووې، "ورك شه، چې ورك شې" دَ هغوي دغه چېړچاړ او ټوقې ټقالې په رعنا بېګم ښهٔ نه لګېدې خو هغې په دې وجه برداشت کولې چې نه یې صبا خفه کولې شوه او نه یې خاوند خفه کولې شو ځکه چې دَ لوندو ختو لږې اویهٔ بهانه وي. که هغې لږ څهٔ وېلې وي نو هغه لږه خبره دَ ښځې خاوند په ژوند کښې دَ یو طوفاني انقلاب باعث جوړېدې شوه.

یوه ورځ چې دَ ناشتې نه پس صبانوې پینټ شرټ واغوستو، لائټ ډارك چشمې یې واچولې، خوشبودار سنبلي زلفي یې په اوږو دانه وانه کړې او دَ لوړو پوندو سېنډل کښې دَ کمرې نه بهر اووته نو نسیم صېب دَ ښځې په مخکښې اووے، "ماشاء الله نن خو سمه جاپاني ګوډۍ ښکارې". صبا په خندا شوه او ورته یې اووې "چشم بددور" دې سره نسیم صېب مُسکے شو، هغه یې دَ لاس اونیوه او په تالۍ لاسونو ګاډي کښې کېناستل. رعنا بېګم چې هغوي ته اوکتل نو سترګې یې دَ اوښکو نه ډکې شوې او ډکې سترګې خپلې کمرې ته لاړه. دَ رعنا بېګم په حقله دَ نسیم صېب رویه رو رو دَ بد نه بدتر کېده. چې ماسخوتن به ټول په یو میز ډوډۍ ته کېناستل نو په نۀ ځۀ خبره به دَ ډوډۍ نه پاسېدو او ځان سره به ګونېدو، "دا ډوډۍ ده ؟ ډوډۍ داسې وي ؟ زهر دي زهر، رعنا بېګم چې دَ هغۀ دَ سپورو ستغو نه ډېره تنګه شوه نو یوه ورځ یې ورته اووې، "چې زما دَ لاس پخ کړې دې خوښ نۀ وې نو ځان سره دَ هوټل نه راوړه او ټول به یې په غونډه خورو. زۀ به هډو دَ پخولو نه خلاصه یم". نسیم صېب لکه چې دَ مخکښې نه په خوله کښې تیارجواب ایښے وو. هغه ورته اووے، "چې دلته یې راوړم نو هلته یې ولې نه خورم "؟ دې نه پس به نسیم صېب او صبا دَ ماسخوتن ډوډۍ هوټل کښې خوړه او ناشتې له به هم هلته تلل. ماسخوتن تېر به په داسے وخت کورته راتلل چې رعنا بېګم به اوده وه او سحر به داسے وخت هوټل ته تلل



www.pukhto.net



چې هغه به کالج ته تلې وه. په یو کور کښې به په هفتو هفتو دَ هغوي سترګي یو بل سره نه لګېدې. دَ نسیم صېب او رعنا بېګم ترمینځه تعلقات انتهائی خراب شوي وو. یوه ورځ دَ هغوي سترګي ناګهانه یو بل سره اولګېدې اودَ هغوي ترمینځه خوږې ترخې شروع شوې. رعنا بېګم ورته اووې، "په ماسر خپې مۀ کوه. که تۀ یې نو ځۀ پرې او که نه یې نو ځۀ پرې ؟ دغه یوې شېبې له په نیمه شپه کورته راځے، دغه هم بهر کوه".

نسیم صېب:. ماهم ستا دَ خولې نه دا ټکې اورېدل غوښتل، دې نه پس به نسیم صېب او صبا، دواړه په هوټل کښې پاتېکیدل. ځان له یې په بالائي منزل کښې دوه کمرې خوښخې کړي او په هغي کښې یې خپل سامان کېښودو. دَ رعنا بېګم خوږ کور دَ صبا دَ راتلو په وجه وران شو. رعنا بېګم ته دَ نسیم صېب په رویه او طرزِ عمل سخته ذهني او قلبي صدمه اورسېده او هغه ورته ځکه اورسېده چې دَ هغې کور او دَ هغې مینه دَ جُدائۍ او تباهۍ په طرف روانه وه او هغې دغه منظر ته په مظلومو سترګو کتل. هغې له په صبا هم غصه ورتله چې دَ هغې دَ راتلو په وجه دَ هغې په مینه اور اولګېدو او دَ دغه اور ټوله ذمه واري یې په هغې واچوله. ځۀ موده هغې په دے امید په زړه غنې راخکلې چې د کور مسله به اخر په کور کښې حل شي خو چې کله هغۀ کور پرېښودو او صباسره په هوټل کښې ډېره شونودَ هغې په زړۀ کښې ځۀ نورې نورې خبرې راغلې. هغه خبرې

چې په دغسې وخت او په دغسې موقعه دَ هرې ښځې په زړه کښې راځي. دَ هغوي مشکوك تعلقات دَ ښځې او خاوند په روپ کښې دَ هغې دَ پاره دَ لوې تباهۍ باعث ګرځېدېشو . هغې ځوځو ځله نسيم صېب ته فون اوکړو دَ هغهٔ دَ پخلا کولو او کورته دَ راتلو خواستونه يې ورته اوکړل خو دَ هغهٔ زړهٔ دَ هغې نه دومره موړ وو چې دَ هغې دَ نصيحت خبرې پرې لکه دَ ټوپك دَ ګولو لګېدې . چې اونشوه نو بيا يې صبا سره رابطه اوکړه ، هغه يې دَ خپل خدشات نه خبرکړه او ورته يې اووې چې ، "صبا ، تهٔ نسيم پوهـ کړه چې خپل کورته راځي . زهٔ ټوله شپه دَ هغهٔ تش بيځ ته په دے اميد ګورم چې اوس به راشي ، درنګ ساعت له به راشي خو چې شپه تېره شي او هغه رانشي نو په زړهٔ کښې مې ځـهٔ نورې نورې خبرې راشي . تهٔ هغه پوهـ کړه پليز چې خپل کور ته راشي او چې څهٔ غلط قدم پورته نه کړي".

صبا:. بي بي جي ستا او دَ صېب جي ، دَ ښځې او خاوند تعلقات دي او زما دَ هغهٔ دَ يو ماتحت او بوس (Boss )تعلقات دي . زهٔ هغهٔ سره ستاسو کورنۍ خبرې نشم کولې . زهٔ ستاسو په ذاتي او کورني تعلقاتو او معاملاتو کښې نه مداخلت کولې شم او نه ثالثي کولې شم . ته مې بي بي جي يې او هغه مې صيب جي دے .

رعنا بېګم :. زمونږ کورني تعلقات تانه پټ نه دي او نه پټېدېشي. هغه زمانه زيات ستا په شخصيت کښې دلچسپي اخلي .

صبا:. بي بي جي ، دابه خپله خوش قسمتي اوګڼم چې زما بوس زما



www.pukhto.net



په شخصيت کښې دلچسپي اخلي.

رعنابېګم :. ستاخوش قسمتي زما او زمونږ دَ کور دَ تباهي باعث ګرځېدېشي دَ هغهٔ زړهٔ او سترګې په تا لګېدلي دي . د دې خوندونه تهٔ اخلې او تاؤ يې ماته رسېږي .

صبا:. بي بي جي ، زهٔ نه دَ هغهٔ زړهٔ له سپېره ورکولې شم اونه دَ هغه سترګي ترلې شم .مادَ مينځ نه اوباسۍ پليز او خپلو کښې جنګيږۍ. زهٔ دَ چا دَ ډغرو نه يم .

رعنا بېګم :. ماسره چې څهٔ کېږي . داستا په اشاره کېږي . که تهٔ هغهٔ سره وادهٔ اوکړې نو زما ژوند به تباه شي خو ياد ساته چې ته به هم بچ پاتې نشې .

صبا:. وادهٔ ؟ (خاندي ) . . . .وادهٔ خو ماکړې دې .

دَ دې ټکي په اورېدو سره دَ رعنا بېګم دَ لاس نه موبائېل اوغورځېدو او هغه په چغو چغو په ژړا شوه ، چې کله يې زړهٔ ښهٔ تش شو نو موبائېل يې اوچت کړو او مېډم رېحانه ته يې رنګ اوکړو . هغه مېډم رېحانه ته دَ صبا او نسيم صيب دَ ناجائز تعلقاتو او دَ هغوي دَ وادهٔ ټوله خبره اوکړه .مېډم رېحانه دَ صبا په کړو سخته خفه شي . هغه هغې له تسلي ورکړي او ورته اووائي چې هغه به صباسره خبره اوکړي او دَ ټول صورتِ حال نه به ځان خبر کړي . هغې صباته فون کول غوښتل خو بيا يې په دې غرض خپله اراده اوزانګوله چې هغه په خپله اووينې او بالمشافه خبرې ورسره اوشي نو هرڅهٔ به واضحه شي.

هلته نسیم صېب او صبا په انټرنیشنل هوټل کښې به بالائي منزل کښې ډېره شوي وو. نسیم صېب غوتښل چې هغوي دواړه په يوه کمره کښې وي او دواړه دَ يوبل دَ سترګو وړاندې وي خو صبا دَ هغۀ تجويز سره متفق نشوه او دَ جُدا جُدا کمرو غوښتنه يې اوکړه او هم دغه شان اوشوه . هغوي دواړو ځان له دوه تېچ کمرې سټ کړې او خپل خپل سامان يې پکښې کېښودو . اوس هغه مطمئن وو. دَ هغې حسن وادا په هغۀ هغه جادو کړے وو چې دَ هغې يوه لمحه جُدائي هم ورته ګرانه وه . دَ هغې دَ حسن په رڼا کښې ترېنه دَ خپلې ښځې دَ کالونو خلوص ، مينه او وفا هېره شوې وه او دَ هغې مينې دَ ليونتوب حد ته رسولے وو . هغۀ به دَ ورځې زياته برخه دَ خپل دفتر په ځاے هغې سره په استقباليه کښې تېروله او دَ شپې به هغې سره دَ هغې په کمره کښې پروت وو صرف اودۀ کېدو دَ پاره به خپلې کمرې ته تلو . هغوي يوبل سره دومره بے تکلفه شوي وو چې دَ شپې به اکثر هغې دَ لاس نه اونيوو او دَ خپلې کمرې نه به يې اوويستلو. دَ ډيوټۍ نه پس به نسيم صيب هره شپه هغه دَ شاپنګ دَ پاره سپر مارکيټ ته بوتله . په لږو ورځو کښې دَ هغې کمره په جوړو جامو، دَ ميك اپ په سيټونو او دَ هغې دَ ضرورت دَنورسامان نه ډکه شوه . هغه دمناسب وخت او مناسبې موقعې په تلاش کښې وو چې هغې ته دَ وادۀ آفر اوکړي . او دواړه په شريکه او صلاح مصلحت يوه نېټه مقرر کړي . دَ وادۀ نه پس دَ هنى مون دَ پاره دَ هغۀ يورپ ته هم دَتلو


www.pukhto.net



اراده وه . دې مقصد دَ پاره هغۀ صباله پاسپورټ هم جوړ کړې وو او خپل معاون منيجر تنوير سره يې هم صلاح کړے وه او دَ هغۀ په ذريعه يې دَ انګلينډ ، جرمنى ، اټلى او دَ يورپ مختلف دوستانو سره خبرې شوې وې.

يو ماښام هغه دَ صبا نه پټ په پټه سپرمارکيټ ته لاړو دَ هغې دَ پاره يې دَ خپلې خوښخې ښۀ ډېر شاپنګ اوکړو او په خپله کمره کښې يې کېښودو . دې نه پس دَ صبا کمرې ته اودرېدو او هغې ته يې ناکنګ اوکړو خو هغه اودۀ وه . چې اونشوه نو دَ سبا دَ ملاقات په امېد خپلې کمرې ته واپس شو او ښه په تسلي سره اودۀ شو . بلې شپې له يې دَ سرپرائز ورکولو دَ پاره هغه خپلې کمرې ته راوسته او ورته يې په مُسکامُسکا اووے ، "دا اوګوره صبا، بيګاه ما دا څيزونه ستا دَ پاره راوړے دي . دې ډېلو کښې څۀ دي "؟ صبا سنجيده شي او وائى ، "دا هرڅۀ چې دي خو زمانۀ دي ، ستا دي ".

نسيم صيب:. اوه نو ، دا ما بيګاه ستا دَ پاره راوړي دي . تاته مِ ناکنګ اوکړو خو تۀ شايد اودۀ وې .

صبا:. مادرته اووې کنه . دا زما نه دي . که زما وې نو زما په کمره کښې به پراتۀ وو.

نسيم صېب:. اوه ، دا خبره ده . سوري صبا . تۀ په دې خفه شوې؟ صبا هغه له څۀ جواب ورنکړي او ډېره په غصه خپلې کمرې ته روانه شي. نسيم صېب هغه ټول سامان په غېږ کښې اوچت کړي او هغې پسې

دَ هغې کمرې ته ورځي . هغه ټول سامان دَ هغې مخې ته اېږدي او وائی ، "اوه مائي ډیر ، تهٔ په دې خفه شوې ؟ سوري مائي ډیر سوري"

صبا(مسکې شي) اوه نونو، زهٔ خفه نه یم ، نیورمائنډ.That's ok .

نسیم صیب:. تېنك ګاډ ، چې تهٔ خوشحاله یې نو ټوله دنیا راته خوشحاله ښکاري . چې تهٔ مسکې شي نو زما زړه مُسکے شي چې تهٔ خاندې نو تاسره ټول ګلونه خاندي .

صبا(په مُسکا) اوه مائی ګاډ ، ماخو چرې هم دا تصور نه دې کړې . تا خو ماله ډېر لوې اعزاز راکړو.

نسیم صیب:. مانه دې درکړے صبا، بلکه خپل حسن درکړے دے او ته لائقه هم د دے یې . هغه یو وړوکې ډبلې اوچتوي ، هغه کهولاؤ کړي او هغې ته وائي ، "دا اوګوره دا څهٔ دي "؟

صبا(خاندي) واؤ ، لاکټ؟ اوه مائی ګاډ، دا خومره Lovely دے.

نسیم صیب:. تانه زیات Lovely نه دے ، هغه لاکټ دَ هغې غاړه کښې اچوي بیا بل ډبلې کهولاؤ کړي او ورته وائی ، "دا اوګوره دا څهٔ دي ؟"

صبا(په مُسکا) واؤ، دَ سرو امیل How beautiful it is .

نسیم صیب :. تانه زیات خائسته نه دے ، هغه دَ سرو امیل دَ هغې په غاړه کښې اچوي . بیا یو بل ډبلې کهولاؤ کړي . دَ هغې نه یو څیز را اوباسي او هغې ته وائي ، "دا اوګوره صبا، دا ستا دَ مستو او شوخو زلفو دَ ټړلو دپاره ګولډ رېن دے ، نسیم صیب په یو لاس دَ هغې زلفې روستو واړه وي او بیا په دواړه لاسه ورته رېن اچوي . صبا دَ رېن



www.pukhto.net



خائست ته حیرانه پاتې شي او بار بار دَ هغهٔ شکریه ادا کوي . نسیم صیب بیا یو بل ډبلې کهولاؤ کړي او دَ هغې نه دَ سرو تاج راوباسي . صبا چې دَ هغې خائست ته اوګوري نو دَ حیرانتیا نه یې خوله او سترګې وازې لاړې شي . بیا خاندی او هغهٔ ته وائی ، "it is for me?"

نسیم صیب:. Yes,my dear,all these things are for you

صبا:. دا خو به ډېر قیمتي وي ؟

نسیم صیب:. هاؤ ، قیمتي دي ....خو د دې ټولو څیزونو قیمت ستا دَ یوې مُسکا نه زیات نه دے .

صبا(په مُسکا) تېنك یو، نسیم صیب دَ سرو تاج دَ هغې په سر سټ کړي . صبا چې په لویه ائینه کښې ځان ته اوخپلو کالو ته اوګوري نو خاندي او په خندا خندا کښې وائي، "واؤ ، تاخو زمانه سمه ملکه، عالیه جوړه کړه ".

نسیم صیب . نو ډیر. تهٔ لا ملکه نه یې بلکه شهزادګۍ یې ....ملکه به هله شې چې په سرو کښې دې پټه کړم او خپل بیبۍ له دې راولم.

صباء:. (په لاپروائي ) خپل بیبۍ له مې راولے ؟ څهٔ مطلب ؟

نسیم صیب (په مُسکا ) تهٔ زما په خبره پوهه نشوې ، که زمانه خبرې اوباسې ؟

صبا :. ستا په خبره پوهه شوم خو ماوې که خوله دې غلطه شوه او تېروتے .

نسیم صیب:. نه صبا ، نه مې خوله غلطه شوې ده او نه تېروتے یم بلکه

تاته مِ دَ زړهٔ خبره اوکړه . هغه خبره چې ستا دَ راتلو اوتاسره دَ ملاقات په ړومبۍ ورځ زما په زړهٔ کښې پرته وه خو دَ هغې دَ کولو جرأت مِ نشو کولے . صبا ، دَ "صبا" او "نسیم" ټکي په معنیٰ او خاصیت کښې دواړه یو دي . زه غواړم چې مونږ طبعي طور سره هم یو شو . زهٔ غواړم چې دَ معنې او خاصیت نه علاوه زمونږ ژوند هم یو شي . تهٔ زما شریکهٔ حیات شې او زهٔ ستا شریك حیات شم . . . چې مونږ دواړهٔ دَ یو بل شریك حیات شو نو زمونږ مینه به آب حیات شي ، خوندوره ، سدابهاره ، لاثاني او لافاني به شي . صبا، دَ وادهٔ سامان تر ډېره حده پورے شوے دے ، که تهٔ کمے پکښې وي نو اوویه چې هغه هم راؤړم او د دې نیك کار خوشګواره آغاز اوکړو ، "دَ هغهٔ په خبره صبا په خندا شي اوپه طنزیه خندا کښې وائی ". ښه نو دا خبره ده ؟ ته ماسره دَ وادهٔ خوبونه وینے ؟

نسیم صېب:. خوبونه مِ ډېره موده اولیدل . اوس د دغه خوبونو تعبیر غواړم . داسې دې خوښخه ده کنه ؟

صبا:. نه نسیم صېب ، داسې نشي کېدې . ماچرې هم تاته په دے نظر نه دي کتلي . (هغه کالی اوباسي او یوخوا تښې یې اړدي )

نسیم صېب (سنجیده شي ) تاماته په کوم نظر کتلی دي؟وایه ،وایه؟

صبا:. دَ یو مخلص مشر په نظر ، دَ یو شفیق او همدرد بوس په نظر. دَ یو ښهٔ نیك او بااخلاقه انسان په نظر .

نسیم صیب:. دا کومې خوبۍ چې تا زما په باره کښې بیان کړې نو



www.pukhto.net



که دا واقعي په ماکښې وي نو بیا دَ شریکهٔ حیات په جوړېدو کښې څهٔ رکاوټ دے ؟

صبا:. نسیم صیب، تهٔ دَ یوې حسینې ، وفادارې ، حیادارې اوباشعوره میرمن خاوند یې . زهٔ دَ هغې په مینه ډاکه نشم اچولې . سورې، داسې نشي کیدې.

نسیم صیب:. ستا خدشه په ځائے ده خو دغه هېڅ مسله نه ده . تا سره دَ وادهٔ کولو نه مخکښې به زهٔ هغې له طلاق ورکړم او تهٔ به زما دَ کور میرمن شې .

صبا:. سوري نسیم صېب چاچې ماله پناه راکړه او زهٔ یې دَ خپل کور واکداره کړم زهٔ هغې سره دا غداري نشم کولې ، هغه زما محسنه ده او زما سر به تول عمر دَ هغې احسان ته ټیټ وي.

نسیم صیب:. تاله هغې پناه درکړې ده او مادرله نوکري درکړې ده. دا نوکري او دا مرتبه هرچاته نشي ملاوېدې . . . .تهٔ دَ بانډې یوه عامه او شاړه جینۍ وې . مادرنه شهزادګۍ جوړه کړه . مادرته دَ سرو تاج په سر کړو او ملکهٔ عالیه درنه جوړوم . زهٔ غواړم چې ته همېشه همېشه دَ پاره زما دَ زړهٔ ملکه یې . زما دَ سترګو وړاندې یې ، چې زهٔ تاته ګورم او ستا په مینه خوشحالېږم.

صبا(طنزیه خندا ) نسیم صیب، زړهٔ یو معصوم او ساده بوده څیز دے . دَ سترګو په فریب ډېر زر دهوکه کېږی معلومه نه ده چې تاسره دَوادهٔ نه پس به ماسره هغه څهٔ کله کیږي کوم چې تهٔ اوس بې بې سره کول غواړے ؟

نسيم صيب:. صبا ما سره نه دَ دولت کمے شته او نه دَ مينې . زهٔ په هر قيمت تا حاصلول غواړم . زهٔ ....غواړم چې زمونږ خائسته خائسته بچې وي . مونږ دواړو هغه په خائسته خائسته پارکونو، چمنونو او باغونو کښې ځان سره ګرځولې . . .زهٔ غواړم چې دَ يورپ او امريکې په سيلونو کښې هغوي مونږ سره وي . مونږ دواړو هغوي ته دَ هغوي وراني او دَ هغوي خندا خوشحالي ته کتلې او خنديدلې . . .زهٔ غواړم چې زما په دولت باندې تهٔ او زما اولاد مزې اوکړي.

صبا( طنزيه خندا) نسيم صيب ، که مينه په دولت اخستې شوه نو دَ غريبو برخه به تل خواره وه . . .او که بالفرض زهٔ تاسره وادهٔ اوکړم او لکه دَ بي بي دَ اولاد دَ نعمت نه محرومه شم نو زما انجام به څهٔ وي؟ بيا به مالم هم لکه دَ بي بي طلاق راکوے ؟ سوري نسيم صيب . داسې نشي کيدې .

نسيم صيب (په غصه) صبا، ستا ګستاخي زما دَ برداشت نه اوځي. زهٔ دا توهين نشم برداشت کولے .

صبا:. نسيم صيب دَ خپل انجام دَ خدشې اظهار ته ګستاخي نشي ويلې کيدې . ماته دَ خپل ژوند تېرولو پوره پوره حق حاصل دے او دَ دنيا يو طاقت هم دا طاقت زمانه نشي اخستے .

نسيم صيب:. زهٔ تا نه ستا دَ ژوند حق نه اخلم بلکه تا له ډير څهٔ درکول غواړم . تاله دَ ژوند ټولې خوشحالي او سوکالي درکول غواړم . . . . ستا دَ پاره درې ورځې مهلت دے . ښه سوچ اوکړه او ماله مثبت



www.pukhto.net



جواب راکړه خو که تا خپله رويه بدله نهٔ کړه نو دَ نوکري نه طمعه قطعي کړه . . .بيا به ليوني ، سپلني ګرځې ، په لارو کوڅو کښې به هر لاروي ته لاس نيسې چې "ماله دَ الله په نامه يو پېسه ".

صبا:. هغه ژوند مِ قبول دې خو دا مِ قبول نه دې.

نسيم صيب:. زهٔ درنه ځم او تاله درې ورځې مهلت درکوم. که تياره نشوې نو بيا دې کله ، کوټه انغاړه اوځه ، دې سره هغه ډير په تيزي سره دَ هغې دَ کمرې نه اوځي . مېډم ريحانه او رعنا بېګم ورته ورسره بهر ولاړې وي . نسيم صيب چې هغوي اووينې نو رنګ يې تک زيړ شي او هغوي ته په غصه وائي،"تاسو دلته څهٔ کوئ؟ دلته ولې راغلئ ؟"

رعنابېګم دَ هغهٔ په سترګو کښې سترګې اچوي او ورته وائي ، "دا هوټل دے او دلته هر څوک راتلے شي ". دې سره هغوي دَ صبا کمرې ته ورشي او نسيم صيب بهر اوځي .صبا په خپل بيډ کښې ناسته وي او په چغو چغو ژاړي . مېډم ريحانه هغې سره په بيډ کښې کېني او دَ هغې سر په خپله غيږ کښې اږدي . هغه دَ هغې اوښکې اوچوي او خپلې بهوي . رعنا بېګم دَ هغې په غيږ کښې هغه ښکل کړه او ورته يې اووې، "آفرين شه او په تا شه صبا. مونږ ستاسو ټولې خبرې اووريدې . زهٔ ستا جرأت ته سلام کوم ". دې سره هغه دَ هغې خپو ته ټيټه شي او دَ سلام په توګه دَ هغې خپو له ګوتې اوړي. صبا دَ مېډم ريحانه دَ غيږ نه ډير په تونډي سره سر پورته کړي. هغه په دواړه لاسه اونيسي ، دَ خپلو خپونه يې روستو کړي او دَ هغې دَ سلام په

جواب کښې دَ هغې خپو ته تیتمه شي . بیا دواړه په ژړا ژړا غېږ په غېږ شي . صبا په ژړا ژړا کښې هغې ته اووې،"مامعاف کړه بي بي جي ، زما په وجه تاته ذهني صدمه اورسېده ". دَ هغې په جواب کښې هغه مسکې شوه ، هغه یې ښکل کړه او ورته یې اووې ، "صبا، تهٔ انسان نه بلکه دَ انسان په شکل کښې فرشته یې ، زه ستا په دوستۍ ، وفا او مړانه فخر کوم ".

میډم رېحانه :. په (مُسکا) ته جینۍ ، زهٔ خو تاپسې جنګ له راغلې یم. تا رعنا ته څهٔ ویلې دي ؟ دا خو په ژړا ژړا نیمه پاتې نشوه ؟

صبا:. مېډم . ما اګر څهٔ بي بي جي ته سپیني خبرې کړي وي او هغه هم دَ جوب الجواب په طور. دې نه علاوه مِ هیڅ داسې سخته خبره نه ده کړې . او که مِ په ناپوهۍ کښې کړي وي نو دَ هغې ترېنه معافي غواړم.

مېډم رېحانه :. تادې ته نه دي ویلې چې تا وادهٔ کړې دې ؟

صبا(خاندي) ښه دا خبره ده . واقعي ما دا بي بي جي ته ویلي دي او اوس هم دا وائیم چې ما وادهٔ کړې دې خو نسیم صیب سره نه بلکه دَ هغه چا یادونو او خیالونو سره دَ چا په تلاش کښې چې زهٔ دَ خپله کوره راوتې یم .

رعنا بېګم :. اوه مائی ګاډ .

مېډم رېحانه :. تینك ګاډ، . . .دَ دواړو سترګي ډکي شوې او په ډکو سترګو یې دَ هغې ډکو سترګو ته کتل . بیا دواړو سترګې اوچې کړې او په بېړه کښې پراتهٔ کالي یې په نظر شو. مېډم رېحانه کالو ته ګورې



www.pukhto.net



او وائي ، "کالی دَ هرې ښځې کمزوري وي خو دې نه معلومېږي چې ته دَ ډېر مضبوط اعصاب او دَ ډېرې مضبوطې ارادې مالکه یې چې دا کالي دې قبول نکړل . که چرې ستا په ځائے زهٔ وې نو دا به مِ قبول کړي وو او هغه سره به مِ وادهٔ کړې وو".

رعنابېګم :. څهٔ څهٔ څهٔ دې اووې . که تا داسې کړې وې نومابه درنه غوږونه بوټ ویستلي وو. دې سره هغوي ټولې په خندا شي. هغوي ترناوخته پورې ناستې وې او هغې له یې دَ لاسه ورکوله . په خبرو خبرو کښې ورته رعنا بېګم اووې،"صبا که دلته خوشحاله نه یې نو ماسره کورته لاړه شه. زهٔ یواځې یم ، شپه به ماسره کوې او ډیوټۍ له به دلته راځې".

صبا:. بي بي جي ، ما دپاره د نسیم صیب له خوا درې ورځې مهلت دے . دغه درې ورځې به دلته تېرې کړم او په څلورمه ورځ به زهٔ فارغه شم ، بیا که هلته درغلم او که بل خوا لاړم .

مېډم رېحانه:. نه صبا نه . بل چرته مهٔ ځه . دغه دے کوردے ، دغه دے اور دے که بل خوا لاړې مخ دے تور دے ؟ دې سره هغه هم خاندي او هغې سره صبا او رعنا بېګم هم خاندي. په خندا خندا کښې صبا هغې ته وائي، "دَ قسمت څهٔ پته لګي مېډم ؟ دا معلومه نه ده چې مخکښې به څهٔ پېښېږي . دا هم معلومه نه ده چې زما منزل څه دے او هغهٔ ته څومره مزلونه دي ".

رعنا بېګم :. صبا زما کورخپل کور اوګڼه .قسم درته اچوم چې بل خوا به نهٔ ځې.

Pukhto.Net

صبا:. قسم راته مهٔ اچوه بي بي جي . زما دَ رزق هیڅ پته نه لګي چې چرته لیکلے شوے دے . زهٔ چې هر چرته ځم . خو تاسو کره چرې هم نه درځم . چې څهٔ شوي دي دَ هغې درنه بخنه غواړم خو دَ خپل سهولت دَ پاره په تاسو کور ورانول نه غواړم .

مېړم رېحانه :. چې هلته نه ځې نو چرته به ځې؟

صبا:. دَ خدائے لویه دُنیا ده مېړم . اللّٰه سوب سازدے . چې هغه پېدا کړے یم نو چرته خو به پنائي راکړي ، دې سره هغه په ژړا شي او هغې سره هغوي دواړه هم په چغو چغو په ژړا شي . په دغه ژړا ژړا کښې رعنا بېګم او مېړم رېحانه دَ هغې دَ کمرې نه بهر اوځی .

★★★★★★★★★★★★★★★★★
★★★★★★★★★★★★★
★★★★★★★★★★
★★★★★★★★
★★★★★★
★★★★
★★★
★★
★



www.pukhto.net



## دویمه برخه

دَ میانې میاشت دَ پنځلسو نه اوختې وه . دَ لوے اختر دَ میاشت ختو نه مخکښې مخکښې کوچیانو خپل ښاروي دَ خرڅولو دَ پاره دَ افغانستان او علاقه غېر دَ مېرو نه پاکستان ته دَ تلو تیارۍ کولے . هغوي به په خپلو رمو کښې ښاربهٔ ښاربهٔ ښاروي کتل او هغه به یې دَ نورو ښاروو نه بیلول . بیا به ډلې ډلې کوچیان خپلو ګډانو، چېلو ،او اوښانو سره دَ قافلو په شکل کښې پاکستان ته تلل. په دغه قافله کښې میرام جان ، ګل جان ، دَ ګل جان مور او دَ هغهٔ خور خندا نه هم شامله وه . په پړاؤ کښې میر آغا بابا، نبات ګله ابۍ ، دَ میرام جان دوه ښځې یوه لور ورېمه او دَ ګل جان ښځه سپینه پاتې شوه ښاروي اګر چه دَ مخکښې په نسبت کم شوي وو خو دې سره سره دَ هغوي پالنې واراهم کم شوي وو. دَ شپې دَ څوکۍ تقسیم لکه دَ مخکښې غوندي وو. یوه شپه څوکۍ به کاشان کوله او بله شپه به ورېمې کوله . دغه شان دَ ښاروو په څرولو کښې به هم هغوي یو بل سره مرسته کوله . یو ځل ، شپه دَ نیمۍ نه اوختې وه نرۍ یخه هوا چلېده او دَ بدن نه پورې راپورې وته . ګډې، بزې او اوښان په زمکه غزیدلي وو او دَ لنګو ښاروو بچي دَ میاندو خوا کښې راغونډ شوې اودهٔ پراتهٔ وو. کاشان کمربند تړلے وو او کلاشن کوف په لاس دَ رمو او پړاؤ څوکۍ ته ولاړ وو. اسمان بالکل صفا وو او ټول ستوري لکه دَ سپینو ملغلرو ځلېدل . ټولو هغه ته کتل او په کتو کتو کښې به یې

هغۀ ته خاندل خو هغه د دې هرڅۀ نه بے نیازه وو. هغۀ څوکۍ هم کوله او دَ خپل ژوند په باره کښې یې سوچ هم کوو . په دغه خیال کښې هغه له دَ صبا خیال ورغۍ . هغه صبا دَ چاپه وجه چې هغه په شرمونو اوشرمېدو، دَ چا په وجه چې هغه دَ کلي نه اوشړلے شو، دَ چا په وجه چې هغه دې دشتې اودے صحرا ته را اورسېدو . او دَ یو بې پېسې نوکر په توګه دَ نامعلوم مقصد دَ پاره دَ ژوند شپې ورځې تېروي . اګر چۀ هغۀ صبا سره مینه کوله خو هغۀ ته دانه وه معلومه چې صبا هغۀ سره مینه کوي. دَ هغۀ په خیال به هغه یو داسے سړي سره څنګه مینه اوکړي چې یو خوا دَ کلي خلقو دَ هغه کسب ته په بده سترګه کتل ، بل خوا دَ خُدا ے په دې دومره لویه دنیا کښې دَ هغۀ خپل کور ،کلے نه وو، دَ هغۀ مور ،پلار، خپل خپلوان نه وو، دَ هغۀ یاردوست نه وو او کوم چې وو نو دَ هغوي دَ لاسه دے ځاے ته را اورسېدو . اګر چۀ دَ هغې هغۀ سره خوږې خبرې شوې وې خو دغه خبرې هغۀ ته دَ خوب هغه واقعه ښکارېده چې دَ هغې تعبیر سخت دردناك او خوفناك وي . دَ هغې مینه هغه ته دَ انګور هغه غونچکه ښکارېده چې سترګې یې ورته پسخېدې ، په خوله کښې ورته اوبه راتلې او واپس خولې ته تلې. هغه دومره اوچته وه چې نه یې شوکولے شوه او نه یې پرېښودے شوه . دَ صبا نه پس دَ هغۀ په خیال کښې خندانه راغله ، دَ هغې ژړا او دَ هغې سلګۍ راغلې . هغۀ ته په دې ډېرافسوس وو چې هغه ته دَ خندانې دَ ژړا وجه معلومه نشوه یو



www.pukhto.net

**منزل ته مزلونه**(پښتو ناول) **پرویز شیخ**

ځل ، دوه دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې دَ هغې دَ ژړا وجه شاید څۀ کورنۍ معامله وي دَ هغۀ په زړۀ کښې دا هم راغله چې کېدیشي دَ هغۀ سوې سوې تپو به هغې اثر کړي وي او لکه څنګه چې هرې تپې سره دَ هغۀ زړۀ ډبۍ وهلے ، شاید دغسې هغې سره هم شوې وي ځکه چې هره ځواني مینه غواړي او هره مینه دَ مینې خواږۀ غواړي . دَ خندانې دَ مینې په خیال دَ هوا یوه یخه چپه راغله اودَ هغۀ په مخ دانه وانه شوه . هغۀ دَ پټکي زانګېدلې پلو دَ مخ نه تاؤ کړو، په یوه غټه ګټه کیناستو او په خپل تصوّر کښې یې هغې سره خبرې کولې . دَ هغۀ پوخ یقین راغۍ چې خندانه هغۀ سره مینه کوي. هغې اګر چۀ دَ خپلې مینې اظهار په خوله اونکړو خو دَ هغې سلګو او دَ هغې رڼو اوښکو دَ هغې دَ زړۀ دَ جهان ټول واردات په ډاګه کړل. هغې دَ هغه پښتنو پېغلو ترجماني اوکړه چې په زړونو کښې یې دَ مینې لاوې خُټکېږي خو دَ هغې اظهار نشي کولې . دَ هغۀ شك په یقین کښې بدل شو ځکه چې دې نه پس به هغه دَ هغۀ مخې له نه ورتله او که ناصافي به چرته ملاقات اوشو او دَ دواړو سترګې به اولګېدې نو هغه به اوشرمېده او ټیټې سترګې به تېره شوه . دې سره دَ هغۀ په خیال کښې رڼا راغله او دغه رڼا دَ مُسکا په شکل کښې دَ هغۀ په مخ خوره شوه . هغې ته دَ هغې هغه تپه هم رایاده شوه چې یو ځل یې دَ هغې دَ خولې نه اوریدلې وه . دغه تپه دَ هغۀ په خوله هم راغله او ځان سره یې غلې اووې.

ـ مـخـې لـه مـهٔ راځـه شـرمـيږم
داسې خبرېږم چې مِ تاله درکوينه

دا تپـه دَ هـغـهٔ پـه زړهٔ کښـې داسې پـريـوته او شونډو پورې يې داسې اونـخـتـه چې تـر ډېـر ساعـتـه پورې دَ هغهٔ په خولې تله راتله . دَ هغهٔ دَ خيـال پـه دريـچو کښې لا خندانه ګرځېده چې دَ هغهٔ دَ غېږ نه کلاشن کـوف راخـکـلـې شـو . هـغـه چې په ځان پوهـ شو نو ډېر په تيزئ سره پاسيدو او چې کلاشن کوف پسې ورتلو نو يو هيبت ناك اواز راغئ، "پـه خپـل ځـاے اودرېږه چې رپ اونه وهې" دا اواز دومره خوفناك وو چې پـه هـغـهٔ کښې يې يره پېدا کړه او په خپل ځاے اودريدو . دې نه پـس يـو بل اواز راغـئ ، "لاسونه اوچت کړه ګيني دوړه شوے". هغهٔ د حـکـم تعميل اوکړو او لاسونه يې اوچت کړل خو سترګې يې په هغه لـور لـګـيـدلـې وې . دې نـه پـس يو بل اواز راغـئ ، دغه تپه بيا اوکړه ، کـومـه چـې دې اوس کـوله ، هغهٔ دا اواز اوپيژندو، مُسکـے شو او وے وئـيـل ، "اوه ، وړمه ؟ ته دلتـه څنګه راغلې"؟ زما دَ يرولو دَ پاره ؟ وړمه په خندا شوه او په خندا خندا کښې اووې "اوبريدې کشانه"؟

کاشان:. زړهٔ دې رانه بوټ اوويستلو، هغه دَ خپلې يرى ختمولو دَ پاره دَ خبرې رُخ بدلوي او هغې ته وائی ، "په دې توره شپه دلته په څهٔ غرض راغلې"؟

وړمه:. ستاليدو له او ستا دَ تپې اورېدو له . کشانه ستاخو ډېر خوږ اواز دے ؟

کاشان:. زما اواز درباندې ځکه خوږ اولګېدو چې تپه خوږه ده .

وړمه :. هاؤ. دواړه خواږهٔ دي . ښه دغه تپه بيا اوکړه .


www.pukhto.net



کاشان :. تپه به درته هله کوم چې کلاشن کوف راکړې .

وړمه :. کلاشن کوف به هله درکوم چې تپه اوکړے .

کاشان :. لوظ دے ؟

وړمـه:. بالکل لوظ دے . "کاشان چې دَ خپل لوظ مطابق تپه اوکړې نو وړمه ورته وائی ، " دا تپه تا چا پورې جوړه کړې ده؟

کاشان:. دا ما جوړه کړے نه ده بلکه دا يوه زړه تپه ده او ما اوريدلې ده،

وړمـه هـغـه له کلاشن کوف ورکوي او ورته وائی ، "داسې معلوميږي چې دا تپه ماپورې جوړه شوې ده ".

کاشان :. تا پورې جوړه شوې ده ؟ څهٔ مطلب ؟

وړمه:. کشانه ، تهٔ څه خبر يې ؟

کاشان :. نه ؟ دَ څهٔ نه ؟

وړمه :. چې يوه پټه خبره درته اوکړم نو چاته خو به يې نه وائے؟

کاشان :. که پټه خبره وى نو ځان سره يې سمباله کړه . ماته دَوېلو ضرورت نيشته . زماخوله سورى ده هسې نه چې په تېر کښې ترېنه اوځي .

وړمـه:. خبره پټه ده خو تاته دَ ويلو او ستا دَ خبرولو ضرورت دے ځکه چې د دې تعلق تاسره دې .

کاشان:. د دې تعلق ماسره دې ؟ ښه وايه څهٔ ويل غواړې؟

وړمه:. کشانه تهٔ ډېر ښهٔ انسان يې . زمونږ ټول کورتانه ډېر خوشحاله دے او ټـول غـواړي چې تهٔ دَ هميشه هميشه دَ پاره زمونږ دَ کور بنده شـے (هغه چپ شي ) .

Pukhto.Net

کاشان:. چې ولې شوې دَ خبرې وضاحت اوکړه ، زهٔ پوهـ نشوم .

ورمه:. کشانه ، زما نیا ، نیکهٔ او پلار دا غواړي چې په مونږ دوو خویاندو کښې یوه ستا شي . چې پلار مِ دَ خکتنه نه په ستنه راشي نو تانه به تپوس کوي چې تهٔ په مونږ دوو کښې کومې یوې سره وادهٔ کول غواړے ؟

کاشان :. اوه ، دا خبره ده . تهٔ د دے زیري راکولو دَ پاره راغلې وې؟

ورمه :. نه کشانه ، زیري دَ پاره نه بلکه خپل غرض پسې راغلې یم.

کاشان :. خپل غرض پسې ؟ تهٔ څهٔ وېل غواړې ؟

ورمه :. زهٔ دا وېل غواړم چې کـه پلار مِ تانه ستا دَ خوښخي تپوس اوکړي نو تهٔ ورته زما په نوم ښهٔ اوکړه .

کاشان :. ډېره بې شرمه یې؟ دَ خپل ځان خبره په خپله کوي ؟ دا خبره ستا په خوله ښنگه راغله ؟

ورمه :. بې شرمه نه یم کشانه خو تا ځکه خبروم چې دَ روستو ژړا نه مخکښې وینا ښهٔ ده .

کاشان:. ورمې چې رشتیا خبره درته اوکړم نو تراوسه ما، تاته او ستا تولو خویاندو ته په دے نظر نه دي کتلے .

ورمه :. هم دغـه وجـه ده چې زمونږ تول مشران دَ خولو نه نوری غورځوي خو ستا نوم نه غورځوي او په مونږ دواړو کښې یوه تاله درکوي . کشانه رشتیا رشتیا وایه چې تانه ستا دَ خوښخي تپوس اوشي نو تهٔ به دَ چا په نوم ښه کوے ؟

کاشان:. دا فېصله ډېره گرانه ده ورمې کېدیشي زهٔ دواړو نه انکار



www.pukhto.net



اوکړم (خاندي ) ستا څه خیال دے ؟

ورمه:. چې زما نشے نو په هغې مِ هم پېرزو نشے ، دې سره هغه غلې غوندې روانه شوه دَ هغې دَ تلو نه پس هغهٔ ډېره شیبه دَ هغې په خبره سوچ کوو . دَ هغې انکشاف سره دَ خنداني دَ ژړا مسله هم حل شوه . کومه خبره چې ورمې په کلکو سترگو اوکړه هغه خنداني په ژړا او سلگو کښې کړې وه . دې نه پس دَ هغهٔ او ورمې لیدنه ، کتنه څو څو ځله په تنهائی کښې هم اوشوه خو دواړو دَ خپلو یادونو یاد په سترگو سترگو کښې تازه کړو . هغه به مسکی شوه ، دَ لوپټې شوړه به یې خوله کښې اونیوه او په یو شغ به تېره شوه .

دَ خنداني دَ احساساتو پته نه لگېده ځکه چې هغه موجود نه وه خو ورمې تـه دَ لوے اختر دَ راتلو لوے انتظار وو ، په هغې یوه یوه لمحه دَ کال کال هومره لویه تېرېده . هغه په دې ډېره خوشحاله وه چې هغې دَ خنداني په غیر موجودگی کښې کاشان ته دَ خپل زړه خبره اوکړ ه . دَ هغې پوخ یقین وو چې کـه چرې دَ کاشان نه دَ هغه دَ خوښخي تپوس اوکړے شي نو هغه به د هغې په نوم ښه کوي خو بیا هم کله کله به یې په زړهٔ کښې شکوك وشبهات پیدا شو او په زړهٔ کښې به یې راغله چې کیدیشي خندانه خوښخي کړي . دې فرضي شکوك وشبهاتو سره به دَ هغې په ذهن کښې څهٔ نورې نورې خبرې راغلې . خبره دې تـه اورسیده چې هغې په هر قیمت او هره طریقه هغـه حاصلول غوښتل . کله کله به دَ هغې جذبات مشتعل شو او دَ

لیونتوب حد ته به اورسېدل . هغې غوښتل چې دَ خندانې دَ راتلو نه مخکښې مخکښې هغه کاشان سره په تنهائي کښې یو ځل بیا لیدل اوکړي او دَ هغهٔ نه پخه وعده واخلي . په دے خیال هغې یوه ورځ یوه وړه اینه ، ګمنز او دَ رانجو رجړومه په یو رومال کښې غوټه کړل او دَ هغهٔ خواله په داسے حال کښې ورغله چې دَ ګډو، بزو رمې څرند کوو او هغه په غوړیدلي ځادر په زمکه پروت وو . دَ ورتلو سره هغه ، هغهٔ سره په غوړیدلي ځادر په داسے انداز کیناسته چې هغه په هر حالت کښې معیوب ګڼلے شو. کاشان چې دَ هغې لیونتوب ته اوکتل نو دَ ملاستې نه کیناستواو هغې ته یې اووے "ولې لیونۍ شوې یې څهٔ؟ "هغې په مُسکا جواب ورکړو ، "زما دَ لیونتوب نه ته اوس خبر شوې ؟ زهٔ خو تاپسې ډېره مخکښې لیونۍ شوې یم .

کاشان (پاسی )سمې خبرې کوه ، دَ حد نه مهٔ تېروځه .

وړمه: زما خبرې په تا ولې بدې لګي کشانه . ماخو څهٔ غلطه خبره نه ده کړي .

کاشان :. ستا خبرې هم غلطې دي او ستا حرکات وسکنات هم غلط دي.

وړمه:. کشانه ، تهٔ زما په راتلو خفه شوي؟

کاشان:. ستا په راتلو نه بلکه ستا په حماقت خفه شوم . زما او ستا تر مینځه ډېر حدونه دي . څه پاڅه څه او چې بیا دي په دے طرف اونه وینم.

وړمه:. لاړه به شم درنه خو په یو شرط.

کاشان :. شرط ؟ څهٔ شرط؟

وړمه :. ماسره لوظ اوکړه چې تهٔ به زماپه نوم ښه کوے .



www.pukhto.net



کاشان :. چې وخت راشي بیا به ګورو. مالا فېصله نه ده کړے .

وړمه :. دا فېصله به کله کوے . اوس وخت دے . اوس فېصله اوکړه چې ځم درنه .

کاشان:. دَ خپلې مینې قاتله مهٔ جوړېږه وړمې .ماته ستا دَ مینې احساس دے خو تاسره زما دَ عزت احساس نیشته . که چا اولیدو نو زما هم خېر نېشه او ستا هم . څه ته اوس لاړه شه او ما خپلې فېصلې ته پرېږده .

وړمه (پاسي) زهٔ درنه ځم خو که فېصله دے زما په حق کښې اونکړه نو ښه به نه وي . او هن رشتیا دا زما ننښخه ځان سره کېږده . دې سره هغه په رومال کښې تړلې ائینه ، ګمنز او دَ رانجو رجړومه هغهٔ ته په لاس کښې کېږدي او ډېره په توندۍ سره روانه شي .

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

## «شپږم باب»

دوه ورځې پرله پسې نسيم صېب او صبا يو بل سره سترګې اونـه لګولې. دَ هغوي خوراك څښاك هم بيل شوي وو، ناسته پاسته يې هـم بيـله شوې وه او علېك سلېك يې هم ختم شوي وو. که چرې کـمـرو ته په تلو راتلو کښې به يو بل له په مخه ورغلل نو يا به يې لاره بـدله کړه او يا به يې دَ يو بل نه په اوختو را اوختو مخ بل خوا اړوو. په دريـمه ورځ سم دَ مازيګره صبا خپل تيارې شروع کړو. هغې يو دلاوېز سـوټ واغـوستـو . پـه کـمـره کښـې قدِ آدم ائېنې تـه اودرېده ، خپل سنـګـهـار يـې اوکړو او دَ زلفو سټائل يې دَ معمول نه بدل کړو . بيا يې خپل ضروري سامان په يو ټېچي کېس کښې بند کړو او يو ملازم يې رااوغـوښتو هغهٔ له يې دَ خپلې استعفىٰ درخواست ورکړو او ورته يې اووې "دا کـاغـذ دَ نسيـم صـېب نه دستخط کړه او ماله يې واپس راؤړه ". مـلازم هـغـې ته او دَ هغې پېك شوي سامان ته په مُسکا اوکتل او تپوس يې ترېنه اوکړو، "دا څهٔ دي بي بي"؟

صبا:. دا تپوس مهٔ کوه . دا يوسه دَ نسيم صېب نه يې دستخط کړه او ماله يې واپس راؤړه .

مـلازم:. بي بي ، تـاخـو سامان پېك کړې دې ، داسې معلومېږي چې چرته روانه يې ؟

صبـاء:. هـاؤ، زهٔ تـاسـو نـه هميشـه هـميشـه دَ پاره جُدا کېږم. دا زما دَ



www.pukhto.net



استعفىٰ درخواست دے . ملازم چې دَ هغې خبره ووريده نو روځې يې خړې شوې . په خوله يې هيڅ اونه وے خو زوړنده سر سره دَ درخواست دَ هغې دَ کمرې نه بهر اووتو . دَ هغهٔ دَتلو نه لږه شېبه پس نسيم صېب دَ هـغـې درخـواست پـه لاس ، ساه نيـولـے دَ هغې کمرې تـه ورغى . دَ ورتلو سره هغهٔ هغې ته اووے ، "دا درخواست ستادې صبا"؟

صبا (په لاپروئي ) هاؤ صېب جي دا زما دې .

نسيم صېب:. ته واقعي تلل غواړې ؟

صبا:. زهٔ ستا دَ سامان واپسى ته او د دے درخواست منظورى ته بنده يم . ستـا ټـول سـامـان او کـالي پتـري دا دي پراتهٔ دي . دا چيك کړه او خپله قبضه کښې يې واخله .

نسيـم صېب:. اوه نو، دا هر څهٔ ستا دي صبا. دېکښې زما هېڅ نيشته . دا ټولې ستا ډالى دي او تُحفې دي . دا قبولې کړه .

صبا:. نـوسر، ستاسو دَ پېرزونې ډېره مهرباني. تاسو زما په موجودګى کښې خپل سامان چېك کړى او ماله کليرنس چيټ راکړى.

نسيم صېب:. ته واقعي تلل غواړې؟

صبا:. بي شکه ، بي شبهې.

نسيم صېب:. اوه نو ، داسې نشي کېدي . تهٔ په ټوقو هم نه پوهېږې؟ ماخو تاسره ټوقې کولے .سمائل پليز.

صبا:. سـوري سـر، زهٔ دَ ټوقې په موډ کښې نه يم . دا خپل سامان دې چېك کړه . زمـا کـهـاتـه چـېك کړه . که څه کمې بېشې وي نو هغه

کلیر کړه ، چي ځم درنه .

نسیم صېب: . ته به چرته ځې؟ څه ځائے ، ځائیږے دے معلوم دے؟

صبا: . دغه زما مسله ده . تۀ خپل کار اوکړه . او ما خپل ته پرېږده.

نسیم صېب لاڅۀ خبرې ته خوله جوړوله چي دَ کمرې په ورناکنګ اوشو . دَ نسیم صېب دَ Yes, come in سره معاون منیجر تنویر ډېر په تیزۍ سره ، کمرې ته وارخطا راځي او هغه ته وائي، "سر، څۀ خبرې یې ؟ مائیکل کهور او مس فلورا دَ کیلیفورنیا نه کراچۍ ته رارسیدلي دي او درنګ ساعت له به په نورخان ائر پورټ کوزیږي. دَ هغوي دَ ریسیو کولو دَ پاره په ائرپورټ دَ هغوي استقبال پکاردے.

نسیم صېب: . اوه مائي ګاډ.دا خو هغه کار اوشو چي زمونږ په وهم وګمان کښې هم نه وو دا به څۀ کیږي؟

تنویر: . هرڅۀ به اوشي سر، دَ پریشانۍ هیڅ خبره نیشته . سر، تاسو اومس صبا به دَ هغوي استقبال دَ پاره ائرپورټ ته لاړشۍ او دلته به یې زۀ او مس صدف استقبال اوکړو .

نسیم صېب: . وېري ګډ آئډیا. that,s o.k ، ته ورځه زۀ درځم. اوهن ډرائیور ته اووایه چي ګاډے تیار کړي.

تنویر: . او.کے سر، دي سره هغه بهراوځي. دَ هغۀ دَ تلو نه پس نسیم صېب صبا ته ګوري او وائي ، "صبا، دَ صیب دَ استقبال دَ پاره ، تۀ ماسره تلې شې پلیز".

صبا: . ز،ز،زۀ ؟ نوسر ، زما تاسو سره څۀ واسطه پاتې نشوه . نو تاسو



www.pukhto.net



سره دَ تلو سوال نه پېدا کېږي.

نسیم صېب: . صبا، پلیز. زما دَ عزت دَ پاره پلیز .

صبا: . نوسر، زۀ دلته نوره نشم ایساریدې. تاسو زماکهاته کلیر کړي چي ځم درنه .

نسیم صېب: . صبا، هغه بله شپه تاویلي وو چي تاماته دَ یو مشر، دَ یو همدرد او شفیق بوس او دَ یو ښۀ انسان په نظر کتلي دي . تۀ دَ دغه القابو خاطر اوکړه او دَ هغوي دَ راتلواو تلو پورې ایساره شه . دَ هغوي دَ تلو نه پس که تۀ تلل غواړې نو زۀ تاسره لوظ کوم چي په خندا خوشحالۍ او په خوشګواره موډ به دې رخصت کړم خو اوس زما دَ عزت مسله ده پلیز . زما دَ رزق او نوکرۍ مسله ده پلیز.

صبا: . ټیك ده ، زۀ به تاسره لاړه شم خو په یو شرط .

نسیم صېب: . شرط؟ څۀ شرط ؟

صبا: . شرط دا دے چي دَ هغوي دَ ریسیو کولو نه پس به ماله رخصت راکوے . زۀ دلته نوره نشم ایساریدې.

نسیم صېب: . صبا، ډیر صبا، زما په وجه تاته ذهني تکلیف دررسیدلې دې .زۀ درنه دَ هغې معافي غواړم . ما معاف کړه پلیز خو چي ترڅو هغوي دلته وي ، تر هغې به دَ تلو نوم نه اخلې پلیز. که صېب زمانه ستا په باره کښې تپوس اوکړي او که تۀ نه یې نو هغۀ له به زۀ څۀ جواب ورکوم .

صبا: . o.k ، ټیك ده . دَ هغوي دَ تلو پورې به زۀ دلته ایساره شم .

نسیم صېب(مسکے شي) تینك یو صبا. زۀ ستا ډېرمشکوریم. څه

چې اوس دَ هغوي استقبال دَ پاره ورشو. نسيم صېب او صبا چې دَ کمرې نه اوځي نو په لاره کښې ورته معاون منيجر تنوير ولاړ وي. تنوير هغهٔ ته وائي، سر، ستاسو ګلدستې په ګاډي کښې پرتې دي.

نسيم صېب:. شکريه . اوهنّ دَ صيب او مس فلورا دَ پاره دَ هغوي کمرې سټ کړې او مطرپاشي او ګل پاشي پکښې اوکړې .

تنوير:. سر، سرې مِ ورلېږلي دي او پوره هدايات مِ ورکړي دي . سر، تاسو هېڅ فکر مهٔ کوې دا زما ډيوټي ده او زهٔ به يې کوم . دې سره هغوي دواړه ګاډي ته اوخيژي او ګاډے روان شي . چې ائرپورټ ته اورسيدل نو هغوې ته دَ انکوائري آفس نه معلومه شوه چې دَ جهاز په راتلو کښې شل منټه شته . نسيم صېب دَ اطمينان يوه لويه ساه واخسته او لاؤنج ته روان شو . هغوي دَ نورو خلقو نه ځان له يو خوا ته کېناستل ، خپلو کښې يې خبرې هم کولے او بوتلې يې هم څکلے؟ دَهغوي خبرې دَ يوبل نه ګېلي مانې وې. نسيم صېب په يوه خبره تېنګ ولاړ وو او بيا بيا به يې هغې ته خواستونه کول چې دَ تلو اراده پرېږدي خو هغې دَ هغهٔ يوه خبره هم اونه منله . نسيم صېب هغې سره خبره اوږده نکړه ځکه چې هغهٔ نه غوښتل چې هغه بياخفه شي . هغوي لا خپلو کښې خبرې کولے چې جهاز په ائرپورټ يو لوے چکر اووهلو او بيا په مزه مزه کوز شو اودرېدو . دَ اودرېدو سره ورته پوړۍ اولګېده او مسافر ترېنه راوتل شروع شو. صبا، مائيکل کهور او مس فلورا نه پېژندل البته نسيم صېب دغه دواړه پېژندل. چې



www.pukhto.net



هغوي دَ جهاز نه رااووتل نو نسيم صېب او صبا دَ هغوي دَ استقبال دَ پاره ور روان شو . مائيکل کهور دَ اويا کالو خواؤ شايو پوخ عمره سړے وو . دَ اوس نه پنځه کاله مخکښې هغه په افغانستان کښې دَ CIA چيف پاتے شوے وو. دَ ريټائرمنټ نه پس هغهٔ يو هوټل په کابل کښې جوړ کړے وو، بل يې په کراچۍ کښې او دريم يې په اسلام آباد کښې . په دغه ټولو هوټلو کښې به اکثر امريکنيان او دَ يورپ ټورسټس پاتے کېدل . هغه اګر چهٔ دَ پنځه شپيته کاله په عمر کښې ريټائر شوے وو. خو دَ هغهٔ صحت ته اوس هم دَ پنځوست، پنځه پنځوست کالو خلق پسخېدل . مس فلورا دَ لاثاني حسن مالکه وه څهٔ موده مخکښې دَ تعليم نه فارغه شوې وه . لوړ دنګ څيره وجود، هسکه غړې ، طلائي زلفې ، خړې شهلا سترګي ، دَ خوږونه ډك سپين مخ ، نره پوزه ، په اوږو خورې طلائي زلفې ، دا وه مس فلورا. هغه په پينټ شرټ کښې ملبوسه وه او په مخ يې سپرلو ګډا کوله.

نسيم صېب مائيکل کهور ته سلام اوکړه او ګلدسته يې ورته پېش کړه . بيا يې مس فلورا ته سلام اوکړو او يو طرف ته اودرېده . صبا مائيکل کهور ته سلام اوکړو او مس فلورا ته يې ګلدسته پېش کړه. مس فلورا دَ هغې نه ګلدسته واخسته ، هغه يې بوئيں کړه او هغې ته مسکې شوه . بيا يې هغه دَ لاس نه اونيوه او په مُسکا مُسکا دَ ائر پورټ نه اووتل .مائيکل کهور په فرنټ سيټ کښې کيناستو. ورپسې نسيم صېب کېناستو او مس فلورا او صبا دواړه په روستي

سيټ كښې كيناستل . پـه لاره كښې مس فلورا دَ هغې نـه دَ نوم اوپيشي تپوس اوكړو . هغـوي پـه لږ ساعت كښې يو بل سره داسې بلـدې شـوې لكه چې دَ عمرونو ملګرې وي . پـه دغه خبرو اترو كښې هغوي هـوټل تـه اورسـېدل . هلته تنوير او صدف دَ هغوي استقبال اوكړو او ګلدستې يې ورته پېش كړې . دې نه پس هغوي خپلو خپلو كمرو ته بوتلي شو او دَ هغوي سامان هغوي سره كېښودے شو . صبا چې دَ هغـې دَ كمرې نـه وتـه نـو هغـې دَ لاس نـه اونيوه او ورته يې په انګريزۍ كښې اووې ، where do you go saba (صبا تۀ چرته ځې)

صبـــا:. Miss flora, I want to change my dress.(زۀ جــامې بدلول غواړم ).

فلورا:. O.k,do it quickly and come back .(ښـه ده جامې بدلې كړه او زر راشه ) .

صبا:. o.k dear I come back in a moment .(ډېره ښه ده ، يَې بـس دا دې راغـلـم ''دې سره صبا دَ هغـې دَ كمرې نـه اووتـه او خپلې كمرې ته لاړه . هلته يې خپل پيك شـوے سامان بيا كهولاؤ كړو او يو ډرس يـې تـرېنه راواخستو . هغې چې جامې بدلې كړې نو لاسنګهار ميز ته ولاړه وه چې دَ هغې دَ كمرې په ورناكنګ اوشو. دَ هغې دَ Yes, come in سره نسيم صيب دَ هغې كمرې ته ورغى او دَ ورتلو سره يې اووے، ''سوري صبا، زما په راتلو خو ډسټرب نشوي''.

صبا:. چې تاسوري اووے نو زما ډسټربېنس ختم شو. ښۀ وايه څنګه


www.pukhto.net



دے دَ راتلو تكليف اوكړو.

نسيـم صيـب:. صبـا، زه تـاتــه يـو ځل بيـا خواست كوم چې خپل درخواست دې واپس واخله او دَ تلو نوم مۀ اخله .

صبـا:. نـۀ صيـب جي، زۀ دَ وعـدې مـطـابـق دَ ميـلـمنو تلو او خپل كليرنس ته بنده يم.زۀ په يو حالت كښې هم دلته ايسارېدې نشم.

نسيم صيب:. صبا، ماتاته دَ وادۀ ريكوسټ كړے دے ، څۀ زبردستي خو مِ درسره نه ده كړے ، تۀ په دې خبره دومره خفه شوې چې نوكري هم ورپسې پرېږدې اوځې.

صبا:. زما په انكار تاماله دَ سوچ دَ پاره درې ورځې مهلت راكړے وو او دا دے وېـلـے وو چې ''كه تاخپله رويه بدله نكړه نو بيا دې كړه كوږه انـغـاړه او ځـه '' . چـونـكه زما اراده بدله شوې نه ده نو په دې وجه درنه ځم . او هن دا كالي پټري او دا جوړې جامې او نورڅيزونه واخله خپلې كمرې ته يې يوسه ''.

نسيـم صيب:. كالي پټري به زۀ زرګر ته واپس كړم او دغه نور سامان دَ تُحفې په طور قبول كړه .

صبـا:. نه صيب جي نه . داسې نشي كېدې . دا تحفې زما په ځاے بي بي جي له وركړه ځكه چې زمانه زياته هغه ستا دَ تحفو مستحقه ده.

نسيـم صيـب:. نـه صبـا، دا هـر څۀ هغې ليدلي دي او هغې ته پته ده چې دا ما ستا دَ پاره راوړے دي . هغـه بـه چرې هم دا قبولې نكړي. بلكه ماسره دا يره ده چې كه ماورته آفر اوكړو نو دا هرڅۀ به زما په مخ

راؤلي . هغه چې څومره خوږه ده ، هومره ترخه هم ده .
صبا: . ښه نو بیا یوه مشوره درکوم ، کیدیشي ستا دَ پاره ښهٔ ثابته شي او هغه دا چې بي بي جي راؤغواړه او دا تحفې دَ هغې په لاس مس فلورا له ورکړه . دغسې به زهٔ هم خوشحاله شم ، بي بي جي به هم خوشحاله شي ، تهٔ به هم خوشحاله شے او مس فلورا به هم خوشحاله شي . او کېدیشي دَ هغې په شفارس ستا په تنخواه او مراعاتو کښې اضافه اوشي .
نسیم صېب: . وېري ګډ آئیډیا، خو دَ هغې په ځائے که دا تحفې مس فلورا تهٔ ورکړې نو ډېر به ښهٔ وي.
صبا: . نه صېب جي نه . دا دَ هغې حق دے او هغه به یې ادا کوي. زهٔ به هغې له دَ خپل طرفه یوه وړه شان تحفه ورکوم .
نسیم صېب: . مسله دا ده چې کېدیشي رعنا زما په خوله دلته رانشي.البته که تا ورته فون اوکړو نو بیا کېدیشي چې راشي،دَ هغهٔ دَ خولې نه دغه خبره ایله اووته چې دَ هغې په موبائیل رنګ راغی. هغې چې موبائیل نمبر ته اوکتل نو مسکے شوه او وې وئیل ،"دَ بي بي جي عمر ډېردے . مونږ ایله یاده کړه او دَ هغې کال راغی."بیا یې موبائیل o.k کړو او وې وئېل ، "بي بي جي سلام علیکم "
اواز :. وعلیکم سلام . صبا ستا مسله څنګه شوه .
صبا: . زما مسله لا هغسې ده . کېدیشي درنګ ساعت له فېصله اوشي. بي بي جي دَ تلو نه مخکښې زه تاسره لیدل غواړم.


www.pukhto.net



رعنا بېګم :. دا زهٔ هم غواړم خو زهٔ درشم که تهٔ راځې.
صبا: .که تهٔ راغلې نو ډېره مهرباني به وي.
رعنا بېګم :. دیکښې دَ مهربانۍ څهٔ خبره ده . دا دې زهٔ درغلم"صبا مسکے شي او موبائیل بند کړي . نسیم صېب هغې ته په غټو غټو ګوري اووائي"څهٔ اوشو ؟
صبا: . بي بي جي دلته راځي.
نسیم صېب: . دَ هغې دَ راتلو نه مخکښې زهٔ دا کالي خپلې کمرې ته اوړم او تهٔ هغې سره زما دَ طرفه خبره اوکړه . هغه دَ هغې دَ جواب انتظار اونکړي ، دَ کالو ډبلي په غېږ کښې اوچت کړي او خپلې کمرې ته یې اوړي او په الماری کښې یې بندوي . لږه شیبه پس رعنا بېګم دَ هغې کمرې ته په ساه ختلې انداز راځي او هغې ته وائي، "څهٔ اوشو صبا؟ ستا مسله څنګه شوه ".
صبا: . بي بي جي، صېب جي رانه معافي اوغوښته. ما هغه معاف کړو. کالي مِ ورته واپس کړل او دا جوړې جامې یې ستا دَ پاره بطور تحفه پرېښې دي . دا قبولې کړه .
رعنا بېګم :. مادَ پاره ؟ . . .بطورِ تحفه ؟ (طنزیه مُسکا) هغه ماته ښځه نه وائي نو دَ هغهٔ تحفې به څهٔ قبولې کړم ؟ نه صبا نه داسې نشي کېدي . دا هم تهٔ قبولې کړه ځکه چې هغه ډېر په مینه تاله راؤړې دي ".
صبا(خاندي) هغهٔ چې په کوم نیت راؤړې وې مادَ هغې منلو نه انکار

Pukhto.Net

اوکړو نو اوس خو زما نشوې . صېب جي ته ستا دَ طبعيت پته ده. هغه هم دا خدشه ظاهره کړې وه چې کېدېشي دا تحفي تهٔ قبولې نکړې. بي بي جي تــه مِ دَ صيب جي پــه خواهش دې دَ پاره را اوغوښتې چې دا سامان دَ مائيکل کهور لور فلورا له دَ تحفي په طور ورکړې او .....''

دَ صبا خبره دَ هغې په خوله کښې پاتې شوه . نسيم صېب راغے او دَ راتلو سره يې رعنا بېگم ته اووے ، ''رعنا تهٔ راغلې ''؟

رعنا بېگم (په ستغه لهجه) زهٔ تاله نه يم راغلې . صبا له راغلې يم.

نسيم صېب:. خبره يوه ده او هغه دا چې مونږ دا فيصله کړې ده چې دا سامان به تهٔ زما دَ طرفه او دَ خپل ځان دَ طرفه مس فلورا ته دَ تحفي په طور ورکړې ''.

رعنا بېگم :. او که زهٔ انکار اوکړم نو بيا ؟

نسيم صېب :. تـه انکار نشې کولې ځکه چې ستانوم صبا تجويز کړې دې.

رعنا بېگم ( صبا ته ګوري ) دے رشتيا وائي؟

صبا:. هاؤ بي بي جي دا ستا حق دے ، دا کار به تهٔ کوې.

رعنا بېگم :. څه ټيک ده ، په دې بهانه به هغې سره ملاقات هم اوشي

نسيم صيب يـو ملازم راغواړي . هغـه ټول سامان اوچت کړي او هغوي سره يې دَ فلورا کمرې ته يوسي. مس فلورا جامې بدلې کړي وي . هغه پـه پاکستاني پرتوګ قميص کښې ملبوسه وي او يوه



www.pukhto.net



سپکه لوپټه يې په اوږه پرته وه . په دغه ساده لباس کښې هغه دومره خائسته ، نازکه او معصومه ښکارې چې دَ هغوي دَ مينې ټولې چينې پرې راماتې شي. دَ هغې برش شوې طلائي ، خورې زلفې، دَ هغې خړې شهلا سترګې ، دَ اومو پېو پېروي غونډے سپين نازک اننګي ، ګل پاڼې شونډې ، نرۍ لوړه پوزه ، هسکه غړۍ او په مخ معصومانه مُسکا ، دا وه مس فلورا .رعنا بېگم چې هغې ته اوکتل نو په رومبي نظريې ترېنه زړهٔ يوړو. مس فلورا چې هغوي اوليدل نو مسکې شوه او دَ هغوي په احترام کښې پاسېده . رعنا بېگم دَ خپل کلتور مطابق هغې ته بې اختياره ورغاړه وته . ډېره شېبه يې خپلې سينې پورې نيولې وه ، بيا يې په دواړه مخه ښُکل کړه . هغه يې په بېډ کښې کېنوله او هغوي دواړه ورته مخامخ په صوفو کښې کېناستې . دَ کېناستو سره صبا ، رعنا بېگم ته په مُسکا اوکتل او هغې ته يې په پښتو کښې اووې ، ''بي بي جي ، ته ورته لږ اوګوره ، سمه پښتنه پېغله ښکاري ''. دې سره رعنا بېگم مسکې شي او هغې ته يو ځل بيا په مينه اوګوري . دَ هغې دَ مُسکا په جواب کښې فلورا هم مسکې شي او وائي، ''زهٔ پښتنه يم صبا''.

صبا( په حيرانتيا ) ''تهٔ پښتنه ؟ اوه مائی ګاډ''.

فلورا (مسکې شي ) تـه ګورې نـه چې په پښتنو کښې خبرې کوم ،صبا پاسي ، هغې ته ورترغاړوځي او وائي ، ''دا خو معجزه اوشوه. زما دَ خولې نه خبر اووته اورشتيا شوه . فلورا خاندي او په خندا خندا

کښې وائی ، ”صبا که یوه بله خبره مِ درته اوکړه نو نوره به هم حېرانه شې او هغه دا چې زما خپل نوم معجزه دے خو ډېډي راته فلورا وائی . دَ هغوي نه چې ما دَ دے ټکي تپوس اوکړو نو هغوي اووے چې ، فلورا دَ ګلونو دِيوي ته وېلي کېږي . دا نوم دَ هغوي خوښ دے نو هم دا راباندې شتۀ شو؟ دَ فلورا په دې خبره دَ صبا په زړۀ کښې دَ هغې او دَ هغې دَ پلار مائیکل کهور متعلق څۀ نورې نورې خبرې راغلې او هغې دَ وضاحت دَ پاره هغې نه پوښتنې ته خوله جوړوله چې هغه پرې ړومبی شوه او تپوس یې ترېنه اوکړو، ”صبا د دې مېلمني مېډم پېژندګلو دې اونکړه “.

صبا:. اوه یس، دا محترمه مېډم زما بي بي جي او دَ نسیم صېب بي بي ده . فلورا مسکی شي او وائي. wow!so nice and graceful

رعنا بېګم (په مُسکا ) ستا دَ ستاینې ډېره مننه.

صبا:. مس فلورا ، مېډم رعنا بېګم ستا دَ پاره څۀ تحفي راؤړې دي. دا قبولې کړی.

مس فلورا :. اوه یس ، ضرور ضرور ، هغوي دواړه یو یو پېکټ کهولاوه وي یو یو څیز ترېنه رااوباسي ، هغې له یې په مُسکا مُسکا ورکوي او هغه یې په مُسکا مُسکا اخلي او یو خوا ته یې اږدي . فلورا ، رعنا بېګم ته په خندا خندا کښې وائي، ”تاخوزه په تحفو کښې ډوبه کړم “.

رعنا بېګم :. تۀ دَ ډېر څۀ لائقه یې خو في الحال دا قبولې کړه .فلورا دَ



www.pukhto.net



هغې شکریه ادا کړي . بیا صبا او رعنا بېګم هغه ټولې تحفي دوباره پېك کړي او یو خوا ته یې کېږدي ، چې دا کار ختم شي نو بیا صبا، مس فلورا ته وائي ، ”مس فلورا ، دا ټولې تحفې دَ بي بي جي دَ طرفه وې اوس زما دَ طرفه یوه ذاتي او ډېره قیمتي تحفه قبوله کړه “دې سره هغه پاسي ، دَ هغې په شونډ خوله اږدي او هغه نه صرف ښکلوي بلکه په ژبه یې څټي . دَ هغې په جواب کښې فلورا هم هغسې کوي څۀ چې هغه کوي. بیا دواړه مسکی شي ، په خپلو خپلو شونډو ژبې اووهي او په خپلو خپلو ځایونو کیني. هغوي تر ناوخته پورې هغې سره ناستې وې او دَ هغې په خوږو نه مړېدې. بیا ترېنه رعنا بېګم رخصت واخستو او دَ هغې دَ کمرې نه چې وته نو صبا هم هغې سره اووته . دَ رعنا بېګم دَ تلو نه پس صبا هم خپلې کمرې ته لاړه او په خپل بېډ کښې سملاسته . هغه دَ فلورا دَ شخصیت او دَ هغې دَ مینې محبت نه ډېره متاثره شوې وه . هغه په زړۀ کښې ډېره خوشحاله وه چې دَ هغې ملاقات دَ یوې داسې پښتنې پېغلې سره اوشو چې هغه ټوله مینه مینه ده په تېره تېره په دې ډېره خوشحاله وه چې هغه هغې سره مینه کوي. په دغه سوچونو او خیالونو کښې دَ هغې خپل ځان او خپل مستقبل ته فکر شو . دَ خپل مستقبل نه چې نااُمېده شوه نو دَ هغې خیال ماضي ته لاړو. دې سره هغې ته خپل دَ بې غمی ژوند رایاد شو . بیا ورته دَ سکول وختونه رایاد شو . دې سره سره ورته دَ کالج او دَ الوداعي پارټی هغه

مستۍ او کاشان سره دَ ټوقو مسخرو ، دَ ګډا او لوبو هغه منظرونه رایاد شو. دَ انټرنېټ واقعه دَ کاشان سزا هم ورته رایاده شوه . بیا دَ هغې دَ وادهٔ هغه منظر او دَ کور نه دَ هغې وتل هم ورته رایاد شو . دَ یاسر دَ شهواني لذت خواهش هم پکښې راغی . دَ نسیم صېب دَ وادهٔ دَ خواهش منظر ته چې خبره اورسېده نو هغې ډېره شېبه دَ هغهٔ او رعنا بېګم متعلق سوچ کوو . هغه په دې ډېره خوشحاله وه چې هغې دَ نسیم صېب دَ وادهٔ آفر قبول نکړو او دغه شان دغه کور دَ تباهي نه بچ شو . دغه خیال رورو غزېدو آن چې دَ هغې په مستقبل اودرېدو. هغې دَ نوکرۍ پرېښودو پخه فېصله کړې وه خو دا ورته نه وه معلومه چې دَ نوکرۍ پرېښودو نه پس به هغه څهٔ کوي او چرته به ځي؟ دَ کاشان او دَ هغې ملاقات دَ دوارو دَ ژوند دَ پاره دَ تباهۍ او شرمندګۍ باعث اوګرځېدو . دواړه په شرمونو او شرمېدل او دوارو نه کلي کور پاتې شو . نه هغه دَ هلکانو په ډله کښې کیناستے شو او نه صبا دَ جینکو په ډله کښې ځائېدېشوه . هغه په دغه مشکله کښې ګیره وه او دَ ډېره سوخته ډډې په ډډې اوختـه رااوختـه خو هیڅ پـه پتـه نـه پوهېده چې هغې له څهٔ کول پکار دي .

هغه لا په دغه سوچونو کښې پرته وه چې دَ هغې دَ کمرې په ور ناکنګ اوشو . هغې په زړهٔ اوخوره چې نسیم صېب بیا راغی . هغه دَ هغهٔ دَ بیا بیا راتلو او خواستونو نه پوزې له راغلې وه . هغې نه غوښتل چې هغهٔ سره په دې حقله بیا خبرې اوکړي . هم دغه وجه وه


www.pukhto.net



چې هغې جواب ورنکړو او چپ پاتې شوه . هغې په زړهٔ کښې وې چې نااميده شي نو په خپله به ځي . په درېم ځل چې نانکنګ اوشو نو دَ هغې په زړهٔ کښې راغله چې کېدیشي نسیم صېب څهٔ خاص کار او هدایات راکولو دَ پاره راغلي وي . نو هغې ورله دَ خپل بېډ نه په اوچت اواز اووي " Yes,come in " دې اواز سره دَ هغې دَ کمرې ورلرې شو او دَ نسیم صېب په ځاے مس فلورا کمرې ته راغله . صبا چې هغه اولیده نو مسکۍ شوه ، پاسېده او ځان سره یې اووې ، "اوه مائي ګاډ ، دا تهٔ وې . آئي ایم سوري مس فلورا ".

مس فلورا (په مُسکا) اوه نو ، نو، نیور مائینډ . that,s o.k. o.k .

صبا :. راځي کینۍ پلیز.

مس فلورا :. نه صبا ، کېنم نه خو یو تپوس درنه کوم او هغه دا چې که تهٔ مائنډ کوي نه نو ننۍ شپه به مونږ دواړه په یوه کمره کښې اوکړو.

صبا:. دا زما دَ پاره لوے اعزاز دے خو دا به څنګه اوشي ؟

مس فلورا:. دا به څنګه اوشي ؟ زه پوهـ نشوم ؟

صبا:. مس فلورا، دا کمره ستا قابله نه ده او زهٔ ستا دَ کمرې قابله نه یم.

مس فلورا (مسکۍ شي ) اوه نونو . ځه چې زما کمرې ته ځو پلیز، مس فلورا هغه ځان سره په خپل بېډ کښې کېنوي . دَ یو ګوتۍ نه دوه ټافیانې را اوباسي . یوه صبا له ورکړي او بله خپلې خوله کښې اچوي . بیا ورته وائی ، "ماسره بېډ کښې ډډه واچوه " . صبا دَ هغې دَ وینا مطابق هغې سره په بیډ کښې ډډه اچوي . بیا ورته مس فلورا وائی،

"صبا، سبا مازيګر د دې ځاې نه زمونږ روانګي ده ".

صبا(په توندى سره ) سبا مازيګر؟ اوه ، دومره زر؟

مس فلورا :. هاؤ ، سبا مازيګر پنځه بجې .

صبا:. دومره تونديولې کوى ، دوه درې ورځې ايسار شى . دَ اسلام آباد ، مرى چکرې بـه اووهـو. کاغان ، ناران ته به لاړ شو ، مس فلورا دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلې او وائى ، "صبا ، زمونږ تګ ضرورى دے . بله ورځ لـس بـجې پـه کابل کښې ډېرې دَ يـو هسپـتـال پـرانسـتـه کوې او هلته زمونږ تګ انتهائى ضرورى دے . د دغه ځايونو کتوله به بيا راشم.

صبا . . بيا ؟ . . . . .بيا چې تۀ راځې نو زۀ به نه يم .

مس فلورا :. ته به نۀ يې ؟ څۀ مطلب ؟

صبا:. مطلب دا چې ما دَ نوکرى نه استعفىٰ ورکړې ده . زه صرف ستاسو انټرټېنمنټ او ستاسو دَ موجودګى پورې ايساره يم . کېدېشي مونږ دواړه په يو وخت بيل بيل منزل ته روان شو.

مس فلورا :. زمونږ منزل خو کابل دے او ستا ؟

صبا:. زما دَ منزل هېڅ پته نه لګي. هرچرته چې لاړم .

مس فلورا :. صبا، ته نوکرى ولې پرېږدې؟ څۀ ذاتى مسله ده درته؟

صبا:. هاؤ بې بې ، زما مسله دَ ورک منزل تلاش دے .

مس فلورا:. صبا، زما ډېډې ماته دَ انټرنيشنل هوټل کابل او د دغه هسپتال دَ ايم ډي ډيوټې راکوې . هغه غواړې چې زۀ دَ خپل عملى ژوند آغاز د دغه ځاے نه اوکړم .زۀ پښتنه يم خو په کابل کښې زما





چاسره پېژندګلو نيشته . بله دا چې زما دومره تجربه نيشته چې دغه دواړه ډيوټى په ښۀ طريقې سره اوچلوم . که تۀ بد نۀ ګڼې نو ماسره به دغه ډيوټى کښې تعاون اوکړې . . . چې تۀ ماسره يې نو زما زړۀ په تا ډاډه وي ځکه چې تا دلته ښه کافي وخت تېر کړو او دَ هوټل په لانجو ګونجو زما نه ښۀ پوهېږې . ډير صبا، نه به راته سورې وائې او نه به راته انکار کوې پليز . ما ډېډې سره خبره کړې ده او هغه م اعتماد کښې اخستې دې . که تۀ انکار اوکړې نو دَ هغۀ په نظر کښې به زۀ سپکه شم ، پليز.

صبا(مسکى شي) دَ سوچ ګنجائش شته ؟

مس فلورا:. دَ سوچ ګنجائش شته خو دَ انکار ګنجائش نيشته خورې.

صبا:. چې خور دې راته اووې نو انکار به څنګه اوکړم .

مس فلورا:. اوه ، مائى ډير سسټر . ټېنك يو . تاسره پاسپورټ شته؟

صبا:. هاؤ، پاسپورټ شته خو ويزه پرې نيشته .

مس فلورا:. دَ ويزې غم مۀ کوه . دغه کار دَ ډېډې دے او هغه به يې کوي . ته ورشه پاسپورټ راؤړه چې ډېډې له يې ورکړم .

صبا:. ډېره ښه ده . صبا پاسې ، خپلې کمرې ته ورشي، خپل پاسپورټ راواخلي او هغې له يې ورکړي . هغه چې پاسپورټ اوګورې نو فورى طور بهر اوځي او مائيکل کهور له يې ورکوي. لږه شيبه پس چې هغه خپلې کمرې ته راشي نو په بيډ کښې ډډه واچوي او هغې ته وائي،"تۀ خپل تيارى کوه صبا" سبا له به ځو انشاء الله .



www.pukhto.net

صبا: زۀ تیاره یم مس فلورا . زما له خوا هیڅ مسله نیشته .

هغوي تر ناوخته پورې خبرې کولې . په خبرو خبرو کښې صبا دَ مس فلورا نه دَ څۀ تپوس په حقله به خوله جوړه کړه خو دَ هغې دَ خفګان په خاطر چپ شوه او کومه خوله به چې هغې دَ تپوس دَ پاره وازه کړې وه په هغې به یې غاړه تازه کړه . چې هغې څو څوځله داسې اوکړل نو مس فلورا په هغې پوهه شوه چې هغه څۀ تپوس کول غواړي خو دَ تپوس جرأت نشي کولې . هغه مُسکۍ شوه او ورته یې اووې ، "صبا ، داسې معلومیږي چې تۀ څۀ تپوس کول غواړې خو کولې نشې ".

صبا: هاؤ بي بي ، ستا شك بالکل صحي دے ، مس فلورا که مائنډ کوې نه نو یو ذاتي تپوس درنه کولې شم .

مس فلورا: هاؤ ، بالکل کولې شي . وایه په زړۀ دے څۀ دي ؟

صبا: هسې ، مس فلورا ، ترڅو چې زما خیال دے نو ستا پلار ، محترم مائیکل کهورشاید عیسائي مذهب سره تعلق ساتي ځکه چې دَ سلیب نشان یې په غاړه کښې زانګیږي او ستا متعلق یقین سره وېلې شم چې ته مسلمانه ښتنه یې. دې نه علاوه ستاسو په مینځ کښې دَ قومیت ، ملك ،ژبې ، کلتور ، رنګ ونسل او خوي بوي فرق دے . زۀ حیرانه یم چې دَ توت او توری دا غیر منطقي رشته دَ وینې په رشته کښې څنګه بدله شوه "؟ دَ توت او توری رشتې پورې مس فلورا خاندي او هغې سره صبا هم خاندي . بیا وائی



www.pukhto.net



، "صبا ، ستا حیرانتیا په ځائے ده . مائیکل کهور زما خپل پلار نه دے خو دَ ډېرې مینې نه هغه ماته لور وائي او زۀ ورته ډیډي وایم. صبا ، زمونږ رشته دَ وینې نه بلکه مینې ده خو دې رشتې له هغوي قانوني شکل ورکړے دے او دَ امریکې دَ قانون مطابق یې زه خپله لور ګرځولے یم او ماله یې هغه ټول حقوق راکړي دي کوم چې یو پلار خپل حقیقي اولاد له ورکوي . دَ ډیډي خپل اولاد نیشته نو زۀ یې دَ خپل جائیداد او کاروبار وارثه کړې او مالکه کړې یم . اګر چۀ زما دَ ډیډي جائیداد او کاروبار ته هیڅ حاجت نیشته ځکه چې زما پلار ډاکټر فیاض او زما مور ډاکټر مریم زمونږ دَ پاره دومره څۀ پرېښې دي چې زۀ هغه هم نشم سمبالولې . دَ بیا بیا تپوسونو نه ښۀ دا ده چې خپله ټوله قیصه درته اوکړم او په ټول صورت حال دې پوهه کړم ، صبا دَ هغې سر په خپله څنګل کېږدي او بل لاس دَ هغې په سینه اړدي. بیا هغې ته په مشتاقانه نظر ګوري او وائی ، "ښه وایه پلیز".

مس فلورا: صبا ، زما پلار په کیلفورنیا کښې دَ میډیکل سټوډنټ وو. هغوي سره په ګروپ کښې دَ نورو ملګرو نه علاوه دوه خویاندي جولیه ( Jaulia ) او ایډنیه ( Ednia ) هم وې . دَ هغوي دواړو زما پلار سره ډېر ښۀ تعلقات وو. په دغه خویاندو کښې جولیه مشره او ایډنیه کشره وه . دَ کلاس نه پس به هغوي درې وانړه اکثر یو ځاې ګرځېدل خو کله کله به ایډنیه په څۀ بهانه دَ هغوي دَ ډلې نه اووته او چرته به لاړه . کېده کېده چې بیا به کله کله دَ کلاس نه هم غیرحاضري شوه .

خبره دې لـه راغـلـه چې يـو ځـل ژونـدې جاړه غېبه شوه او پوره لس ورځې غېبه وه . په يؤلسمه ورځ هغې مشرې خور جوليه ته كال اوكړو چې هغې خپل آئډيل كپتن مائيكل كهور سره وادۀ اوكړو او دَ هني مون دَ پاره دَ يورپ په تور تلي دي . دَ هغې مور پلار اګر چۀ وقتي طور دَ هغې په دې حركت خفه وو خو دَ امريكي او يورپ په معاشره كښې دا شې معيوب نشي ګڼلي . او بيا چې كله هغوي ته دَ مائيكل كهور دَ شخصيّت او عهدې پته اولګېده نو هغه يې دَ زوم په حېث تسليم كړو . دَ اېډنيه نه پس زما دَ پلار او دَ جوليه دَ رشتۀ ازدواج خبره روانه وه . زما پلار دَ هغې رشتې ته په دے شرط غاړه كېښوده چې هغې سره به نكاح هله كوي چې هغه مسلمانه شي . اګر چه دَ مسلمان سړي او اهل كتاب ښځې خپلو كښې نكاح شرعًا كېدېشي خو زما پلار هسې دغه ضد ټينګ كړے وو. هم هغسې اوشوه، څۀ چې زما پلار غوښتل . هغې اسلام قبول كړو .او دَ جوليه په ځائے دَ هغې اسلامي نوم مريم كېښودے شو. په مغربي ملكونو كښې نه دَ چا په طرز معاشرت پابندي شته او نه دَ چا په مذهب . هر سړي ته دَ خپل ژوند تېرولو پوره پوره حق حاصل دے . دَ وادۀ نه پس زما مور پلار چې دَ ډاكټرۍ ډګرۍ واخستې نو دواړو په يو هسپتال كښې ډاكټران شو. څۀ مودۀ پس يې ځان له هسپتال جوړ كړو او دواړو په هغې كښې كار كوو . وخت تېرېدو او دَ هغوي په شهرت كښې اضافه كېده . څۀ موده پس دَ هغوي شمار دَ ملك په لويو ډاكټرانو كښې



www.pukhto.net



اوشو . زما مور پلار لـه خدائے دوه اولاده يعني زۀ او زما كشر رور رياض وركړے وو خو دَ مائيكل كهور ښځه اېډنيه شنډې شوه . زۀ لا په درېم جماعت كښې ووم چې زه ترېنه خپلې ترور واخستم او دَ لور په حېث يې خپل كور ته بوتلم . هغوي دواړو زما ډېر خيال ساتو . زۀ په شپږم جماعت كښې ووم او زما كشر رور لا ايله دَ شپږو كالووو چې په نيو يارك كښې دَ نائن اېلېون واقعه اوشوه . دې واقعې سره دَ مسلمانانو عزتِ نفس ډېر مجروح شو . يو خوا هغوي دَ بې ګناه انسانانو په قتل عام باندے خفه وو ، بل خوا هغوي ته خپل ځان هم شرمنده ښكارېدو . دې نه علاوه دَ امريكنيانو او دَ غير مسلمو په نظر كښې هم معتوب شو. كوم عزت ، شهرت او نېك نامي چې مسلمانانو دَ كالونو كالونو په محنت ، مشقت موندلې وه هغه هر څۀ لاړل دَ هغوي په بدنامۍ او بې وفائي كښې بدل شو . په ځينے مسلمانانو او بالخصوص په پاكستانيانو ځائے په ځائے حملې اوشوي او بې عزته شو . په دې وجه ځينے باضميره خلق دَ امريكي عوام نه بدظن او متنفره شو. په دغه خلقو كښې زما پلار ډاكټر فياض هم شامل وو. دَ هغوي په زړۀ كښې راغله چې پردے كټ دَ نيمې شپې دي . دا نه وه معلومه چې امريكه كله دَ هغوي دَ تطهير په بهانه هغوي دَ خپل ملك نه اوباسي . بله دا چې كوم ملك كښې هغۀ ستركې غړولے دي ، په كومه خاؤره كښې چې هغه خړپوسي كړې دي او كومه خاؤره چې دَ هغۀ جزوې بدن جوړه شوې ده نو هغۀ

هغه ملك له او دَ هغې عوامو له څۀ اوکړل ؟ بهتره دا ده چې اوس دَ خپلو روڼو خویاندو خدمت اوکړي. په دے غرض چې هغوي زما مور سره صلاح اوکړه نو هغه ورسره تلو ته تیاره شوه . زۀ او ریاض ډیډي (مائیکل کهور) سره پاتي شو او هغوي دواړه پاکستان او خپلې پښتونخوا ته راغلل . دَ پېښور په ائر پورټ زما پلار په سجده پریوتو او دَ خپل وطن خاؤره یې ښکل کړه . څۀ موده په کرایه اوسیدل ، بیا یې په حیات آباد کښې دوکناله کښې پرته یوه ښکلې بنګله واخسته او هغې کښې مېشته شو. څۀ ورځې پس یې دَ حیات آباد دَ یو مشهور پرائیویټ هسپتال سره نزدې اته (۸) کناله زمکه دَ هسپتال جوړولو دَ پاره واخسته . چې په هسپتال جوړولو یې شروع اوکړه نو مونږ ټولو له یې مبارکي راکړه او راته یې اووے "چې هسپتال مکمل شي نو دَ دې دَ افتتاح دَ پاره به تا راغواړو ، چې هسپتال جوړ شو او دَ هغې فنشګ اوشو نو د دې دَ افتتاح دَ پاره مونږ ټولو ته یعني ماته ، ریاض ته ایډنیه او مائیکل کهور ته اوویلې شو.مونږ خپل تیارې شروع کړو خو مائیکل کهور نشو تلو ځکه چې په هغه وخت کښې امریکې په افغانستان حمله کړې وه او هغه دَ CIA دَ چیف په طور هلته خپله ډیوټي کوله .

دَ مقرره ورځ نه دوه ورځې مخکښې زۀ ، ریاض او زما ترور ایډنیه حیات آباد ته اورسېدو ، زما مور پلار چې مونږ ټول اولیدو نو ډېر خوشحاله شو. بله ورځ ، دَ افتتاح نه مخکښې مودَ هسپتال یوه



www.pukhto.net



سرسري معائنه اوکړه . دَ افتتاح په ورځ مونږ ټول ډېر خوشحاله وو خو دَ پلار مِ خاطر دروند وو . دَ مور په بیا بیا تپوسونو مِ هغۀ اووے، "مریم ، ماته دَ څو ورځو نه دهمکي ملاوېږي چې "مونږ ته ستا دَ هسپتال ضرورت نیشته . چې چرته نه راغلے یې ، هلته واپس لاړ شه ګېنې خېردے نیشته " مورِ هغه له تسلّي ورکړه او ورته یې اووې چې دَ کوم نیك کار اراده تا کړے ده دَ هغې نه روستو نشے البته دَ احتیاط دَ پاره پولیس خبر کړه ، دَ هغې مشوره زما پلار اومنله ، پولیس یې هم خبر کړو او د دغه علاقې مشر کشر یې هم خبر کړل، دَ افتتاح په ورځ مونږټول په ګاډو کښې کیناستو او هسپتال ته لاړو. مونږ ټول موجود وو ، دَ پولیس لارو ته مو کتل خو دَ اطلاع باوجود هم پولیس رانه غې . دَ پروګرام مطابق ټیك لس بجې چې مونږ دَ فېتي کټ کولو دَ پاره متعلقه ځائے ته ورغلو نو دَ فېتې کټ کولو دَ پاره قېنچي ماته راکړې شوه . کیمرې لګېدلې وې ، ټول انتظامات شوې وو. زۀ چې دَ فېتې کټ کولو دَ پاره ، فېتې ته ورنزدې شوم نو دَ تورو شیشو والا یو تور کروله موټر راغې اودرېدو . دَ اودرېدو سره یې په مونږ دَ ګرېنېدونو بلاسټنګ شروع کړو . قېنچي زما په لاس کښې پاتې شوه او فیته کټ نه شوه . دَ لوګو هغه تیاره شوه چې چاته هیڅ نه ښکارېدل . دې سره سره دَ کلاشن کوفو فائرنګ هم شروع شو . زۀ بیا په ځان نه یم پوهـ شوې چې مخکښې څۀ اوشو . البته چې کله زۀ په هوش کښې راغلم نو زۀ په هسپتال کښې زخمي پرته

ووم . ماسره خوا کښې زما ترور اېډنیه هم په زخمي حالت کښې پرته وه خو نه مې پلار اولیدو ، نه مور اونه ریاض . زما په زړۀ کښې دَ امید یوه پلوشه پېدا شوه او ځان سره مې اووې ، "څه شکر دے چې هغوي محفوظ دي " مالا دَ هغوي انتظار کوو چې په وارډ کښې لګېدلې ټي وي باندې د دې واقعې او دَ مړو او زخمیانو خبر راغۍ ". هغه په چغو چغو ژاړي ، صبا په ژړا ژړا هغې له دلاسه ورکوي او دَ هغې اوښکې اوچوي . هغه په ژړا ژړا کښې وائي، " صبا په مړو کښې زما مور پلار هم شامل وو. . . زۀ دَ مور پلار دَ جنازې نه خبر نه شوم. خو چې کله زۀ او زما ترور دَ هسپتال نه ډسچارج شو نو زمونږ په کور کښې هیڅوك نه وو . البته یو څوکیدار فقیر بابا په ګېټ کښې ژړېدلے ناست وو . چې مونږ کور ته دننه شو او په خپلو بېډونو کښې پرېوتو نو په دیکښې زما ډېډي مائیکل کهور دَ پاکستاني فوج په نګرانۍ کښې رااورسېدو ، دَ رارسېدو سره هغه ماله او زما ترور اېډنیه ته ګلدستې پېش کړے . بیا یې زمونږ نه یو څو تپوسونه اوکړل او چې کله هغۀ ته پوره معلومات اوشو نو بیا ایسار نشو . مونږ دواړه یې ګاډي کښې کینولو او افغانستان ته یې اورسولو . او بیا یې دَ هلته نه امریکې ته بوتلو . مونږ دومره بې سُرهـ وو چې دَ څوکیدار فقیر بابا نه مو دَ ریاض تپوس هم اونکړو ، خیر دَ تپوس ضرورت هم نه وو ځکه چې په لاپته افرادو کښې دَ نورو نه علاوه ریاض هم شامل وو. شاید مېډیا له دَ ریاض نوم فقیر بابا ورکړي وي . خوداسې


www.pukhto.net



معلومېږي چې هغه هم دَ مور پلار سره په جنت کښې دے .

صبا:. بیادې دَ هغه تپوس نه دې کړې ؟

فلورا:. ولې نه ، دې پسې زۀ څو څو ځله دَ کاروبار په سلسله کښې اسلام آباد او حیات آباد ته راغلم . په اخبار او ټي ،وي مې دَ هغۀ دَ ورکېدو تشهیر هم اوکړو او دَ انعام هم .فقیر بابا هم کوشش اوکړو خو لا تراوسه هیڅ نه دي شوي ،" هغه ژاړي او هغې سره صبا هم ژاړي، په دغه ژړا کښې هغوي اودۀ شي ".

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

Pukhto.Net پښتو

## اووم باب

غوټه نيمه شپه وه ،په پړاؤ او چاپېريال کښې مکمله خاموشي او چپه چپيا وه . په دغه خاموشه او پُرسکونه ماحول کښې دَ توري شپې په خوړه غېږ او دَ نرۍ يخې هوا په الله هو دَ ټولې ورځې ستومانه کاشان لکه دَ سترې مسافر په دروند خوب اوده وو . معلومه نه ده چې هغه په خوب کښې چاسره په مشغولا وو ، دَ چا د سُنبل زلفو تارونه يې تړل . دَ چا په ځنګ کښې يې خاندل ، دَ چا دَ اننګو رنګونه يې شمارل ، دَ چا دَ مينې خواږۀ يې ښکلول ، دَ چا دَ مينې په وړمو مدهوشه وو او دَ پرستان کومې ښاپېرۍ سره هم آغوش وو چې دَ خپل خېمې په خوا کښې يې دَ چا دَ خپو کړپ وورېدو. دے ناصافي اوازسره دَ هغۀ دَ خوب په دنيا کښې زلزل راغئ. دَ هغۀ دَ رازونياز په پُرکېفه دُنيا کښې ارتعاشي کېفيات او احساسات پيداشو. دَ هغۀ دَ خوب دنيا ګډه وډه شوه او هغه دَ خيالي دنيا نه حقيقي او حسّي دنيا ته راغئ . دَ هغۀ دَ خوب دَ حسين نظارو سلسله ختمه شوه او دَ هغۀ سترګې اوغړېدې. خو ډېر زر يې پټې کړے چې دغه خوږو نظارو سره دَ ارتباط دغه سلسله بحال اوساتي . هغۀ په پټو سترګو ډډه بدله کړه او په کمبل کښې يې ځان راغونډ کړو . لږه شېبه پس دَ خېمې دَ خولې پرډه اوچته شوه او ځوك دننه شو. هغۀ ته په پټو سترګو داسې محسوسه شوه چې ځوك دَ هغۀ خوا کښې ولاړ


www.pukhto.net



دې ، هغۀ چې سترګې اوغړولے او ورته يې اوکتل نو اوېرېدو او په يره يره يې اووے، ”تۀ ځوك يې او دلته څۀ کوے “؟

دَ جواب ورکولو په ځاے دَ هغۀ دَ کمبل پلو اوچت کړے شو او داسې معلومېده چې هغۀ سره ځوك دَ ملاستې کوشش کوي . ږومبې خو دَ هغۀ دا خيال وو . چې شايد دا هغه نازنينه ده چې لږه شېبه مخکښې هغه له په خوب کښې راغلې وه او هغه سره مشغولېده. بيا يې په زړۀ کښې راغله چې دا څنګه کيدېشي ، خوب، خوب وي او وېښه وېښه وي . هغۀ دَ کمبل پلو ټينګ اونيوو او هغې ته يې اووے ”تۀ هرڅوك چې يې څه واپس شه “. دَ هغۀ دَ بيا بيا وېنا باوجود هم هغې تلل نه غوښتل ، چې اونشوه نو بيا يې هغې ته په غصه اووے ، ”خُداے دَ پاره خورې په ما رحم اوکړه . ماولې په ازمېښت کښې اچوې . . .“ هغۀ چې دَ هغې په خطرناکه ، اراده پوهـ شو نو ډېر په تيزۍ سره پاسېدو ، اودرېدو او هغې ته يې اووے،”پاسه زما دَ خېمې نه اوځه او چې بيا دې په دے طرف اونه وينم. دَ کوم کور زنانه ۇ ته چې ما، تل دَ مور ، خور په سترګه کتلې دي ، زۀ هغوي ته په بده سترګه څنګه اوګورم . څه خورې څه اوځه “. هغه ډېر کوشش اوکړي چې په څۀ طريقه هغه دَ خپلې خېمې نه اوباځي خو هغه نه پاځي اونه تلل غواړي . چې اونشوه ، نو هغه ورته بيا وائی ، ”که تۀ نه اوځې نو زۀ به درنه لاړ شم “. هغه دَ هغې دَ جواب انتظار اونکړي او ډېر په تيزۍ سره دَ خيمې دَ خولې په پرده اوځي خو دَ وتو سره څۀ

Pukhto.Net

ځیز سره داسې ډغره اوخوري چې په زمکه راپریوځي . هغه لا په زمکه پروت وي چې دَ هغهٔ دواړه لاسونه په دوو مضبوطو لاسونو کښې اونیول شي او ورته اوویلے شي ، "پاسه ورور ه". کاشان چې دغه اواز ووري نو په ډېر اواز کښې وائي ، "ګل جانه تهٔ ؟...تهٔ...تهٔ ...تهٔ زما ویشتو له راغلے یې ...تهٔ ...تهٔ ...ما...ما...وژنے ګل ...ګل جانه".

ګل جان :. نه وروره نه . دَ هغه ورور به څوك وېښته هم ازار نکړي چې دَ هغهٔ په غیر موجودګۍ کښې دَ هغهٔ عزت خپل عزت ګڼي . راتر غاړه وځه وروره ". ګل جان هغه ته ورترغاړوځي ....کاشان دَ مایوسي په انداز هغهٔ ته وائي، "ستا زما په وفادارۍ یقین نه وو ګل جانه ؟"

ګل جان:. یقین دَ پاره ازمینبت شرط دے وروره . تهٔ زما په ازمینبت کښې کامیاب شوے ، اوس تهٔ زما ورور او سپینه ستا خور ده (سپیني ته) بهر رااوځه سپېني او دَ خپل ورور نه بخنه اوغواړه". سپینه راځي ، دَ هغهٔ په خپو پریوځي او هغهٔ ته وائي، "بخنه غواړم وروره . زهٔ تاته ډېره شرمنده یم خو دا هر څه ما دَ ګل جان په وېنا کړي دي.

کاشان ته دَ ګل جان او سپینې په سازش او دَ هغوي په مشترکه قبیح حرکت سخته ذهني او قلبي صدمه رسېدلي وه . دَ هغهٔ ټول محنت، مشقت ، دَ هغهٔ بي پېسې نوکري چاکري او دَ هغهٔ وفاداري دَ شکوك وشبهات اوبو یوړه . دَ هغهٔ دَ ایماندارۍ او وفادارۍ اعمالنامه هغه له په ګس لاس ورکړې شوه او هغه دَ ازمینبت په هغه پلِ صراط روان وو



www.pukhto.net



چې په هغې دَ دنیا لوے لوے متقیان او صوفیان هم نشي تلے . که دَ هغهٔ خپه لړه خویدلې وه نو دَ ذلت او ګمنامي مرګ دَ هغهٔ تقدیر وو. هغه دومره خفه وو چې هغه ټوله ورځ یې په خپله خېمه کښې تېره کړه خو بهر اونه وتو . هغه ته خپل ځان ، سپك اوکچه ښکارېدو. دَ میرام جان دَ کور په خلقو کښې او دَ هغهٔ په کاروبار کښې دَ هغهٔ دلچسپي ختمه شوې وه . ګل جان دوه ورځې په کور کښې وو او په دغه دوه ورځو کښې به هغه هر سحر او ماښام هغه سره ملاوېدو او دَ هغه نه به یې معافي غوښته . اګر چهٔ کاشان دَ هغهٔ او دَ هغهٔ دَ ښځې معافي قبوله کړے وه خو ګل جان ته پته وه چې هغهٔ هغوي دَ زړهٔ نه نه دي معاف کړے . هغهٔ دَ خپل سازش وضاحت داسې اوکړو چې، "کشانه ، ته مخکښې هم زما ورور وے او اوس م هم ورور یې خو دا څهٔ چې تاسره اوشو نو دا دَ هغهٔ شېطاني خوبونو نتیجه ده چې څو څوشپې پرله پسې ما ستا او دَ سپینې دَ ناجائز تعلق په باره کښې لیدل . دې خوبونو زهٔ دَ لیونتوب حد ته اورسولم . زهٔ دَ خکته نه ستا او دَ سپینې دَ مرګ دَ پاره راغلے ووم . زهٔ دَ شپې په تیارهٔ کښې ځکه راغلم چې تاسو دواړه په مشکوك حالت کښې اووینم او دَ دواړو کار ختم کړو. دَ راتلو سره چې زهٔ خپلې خېمې ته ورغلم نو هغه اودهٔ وه. ما هغه وینبه کړه . دَ وینبېدو سره هغې ماته په مُسکا اووې ، "تهٔ اوس راغلے ؟" ما ورته اووے ، هاؤ زهٔ اوس راغلم خو تهٔ کله راغلې؟ زما په تپوس هغه مسکۍ شوه او ماته یې اووې ، "زهٔ پو هه نشوم"؟ ماورته اووے ، "تهٔ دَ کشان دَ خېمې نه څهٔ وخت راغلې "؟ دے تپوس سره دَ هغې رنګ زیړ

شو او لکه دَ خزان دَ زېړې پاڼې رېږده . هغې په خوله هېڅ اونه وې خو دَ هغې سلګو ډېرڅۀ اووې . ما هغې له تسلي ورکړه چې ، "تاته څۀ نه وېم خو چې څۀ درته زۀ وېم هغسې به کوې. او که داسې دې اونکړل نو بیا به دې وژنم . بیا مِ ورله دغه لوبه جوړه کړه او دَ خبرو طریقه مِ ورته اوښودله . مخکښې خو هغې انکار اوکړو خو چې دَ خپل مرګ یره پرې راغله نو بیا راضي شوه . . . .کشانه ، زۀ درته ټوپك په لاس بهر ولاړ ووم او ستا ټولې خبرې مِ اورېدے. که تۀ لږ خوېدلے وے نو تۀ خو تلے تلے وے خو سپینه به دے هم ځان سره اوړلے وه . . .په دے دَ خدائے ډېر شکر ګزاریم چې ته هم تور نشوے او سپینه هم سپینه پاتې شوه ".

په دریمه ورځ سحر وختي ګل جان په دې وعده دَ کاشان نه رخصت شو چې هغه به دَ اختر نه یوه ورځ دوه مخکښې راشي. هغه دَ خپلې واپسې پورې خپل کور کاشان ته اوسپارلو او لاړو. کاشان ته اګرچۀ ګل جان دَ کور دَ تحفظ ذمه واري سپارلې وه خو هغۀ په زړۀ کښې وے چې دَ انسان دَ نیت په بدلېدو کښې وخت نه لګي او بیا په ګل جان خو دَ هغۀ هډو اعتبار پاتے نشو . هغه سره دا یره ملګرې وه چې که په شېطاني خوبونو کښې ورسره دَ سپینې په ځاے وړمه اووېني نو بیا به څۀ کېږي؟ "هغۀ دَ پاره دَ میرام جان کور دَ کوړکۍ نه کم نه وو او تر کومې پورې به هغه دَ دغه کوړکۍ نه ځان ساتي؟ دَ سپینې نه پس اوس دَ هغۀ دَ وړمې نه یره کېده ځکه چې هغې هم دهمکي ورکې وه چې ، "که فېصله دے زما په حق کښې اونکړه نو



www.pukhto.net



ښۀ به نه وي ".

دغه خبرې اوخپل بې ګناه مرګ به چې هغۀ ته ورمخکښې شونو دَ هغۀ بدن به دَ یرې نه اوبو ګنېدو خو هیڅ په پته نه پوهېدو چې هغۀ له څۀ کول پکار دي . دَ هغۀ خوراك ، څخاك هم کم شوې وو او دَ کور زنانۀ سره یې ناسته ولاړه هم کمه شوې وه البته کله کله به میرآغابابا راغوښتو او دَ څاروو په حقله به یې دَ هغۀ نه تپوسونه کول. دَ ډېر سوچ اوفکر نه پس هغۀ د دے ځائے نه دَ تلو فېصله اوکړه خو دا ورته معلومه نه وه چې هغه به چرته لاړ شي . دَ ګل جان دَ تلو په دریمه ورځ چې هغه سحر وختي پاسېدو او دَ معمول مطابق یې ناشته اوکړه نو دَ ګډو ، بزو دَ رمې په ځائے خپلې خېمې ته روان شو. په روانه روانه کښې یې نبات ګله ابۍ هم ځان سره خېمې ته بوتله. هغه یې ځان سره کېنوله او دَ ګل جان او سپینې دَ سازش ټوله خبره یې ټکې په ټکې هغې ته اوکړه . هغې دَ هغۀ خبره وورېده خو دَ هغۀ په خبره یې دَ حیرانتیا هډو اظهار اونکړو . دَ هغې په بې حسۍ کاشان خفه هم شو او حیران هم شو چې دَ هغې دَ خولې نه دَ افسوس او همدردۍ او دَ هغۀ په بې کسۍ هډو یو ټکې هم اونه وتو. په اخره کښې ورته هغۀ دَ خپلو تلو دَ ارادې خبره اوکړه . په دې باندې هم هغې دَ خپل ردِ عمل اظهار اونکړو . هغۀ ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ ګل جان او سپینې دَ سازش دغې واقعې نه هغوي ټول خبر دي. هغه ډېره شیبه چپ وه ، بیا یې اووې ، "زویه ، چې تۀ لاړ شے نو دے

څاروو او دے کور سره به څۀ کوو. زماخاوند بوډا دے او چرته دَ تلو راتلو نه دے .

کاشان :. ابیۍ تاسره دَ خپلو څاروو اوکور غم شته خو زمادَ عزت او ژوند غم درسره نیشته .

نبات ګله ابیۍ :. یَه زویه ، ښه راته پته ده چې تۀ بي ګناه يې خو مونږ دَ سرو مخې لـه نشو ورتلي . ستا دَ واقعې نه دا ټولې ښځې خبردي خو هېڅوك هېڅ نشي ویلې. او که چا څۀ لږ ډېر اووې نو بیا يې هغه صلاح کار او رېباره شي . . .زویه دَ اختر نه مخکښې روستو به میرام جان راځي ، کـه تـۀ دَ هغۀ دَ راتلو پورې ایسارېدے شے نو ډېره به ښۀ وي . کېدېشي تاسره دَ خنداني یا ورمې دَ وادۀ خبره اوکړي ".

کاشان :. زۀ نور نشم ایسارېدے ابیۍ ، هسې نه چې په بل چاتورشم".

نبات ګله ابیۍ :. هاؤ زویه ، تۀ ښه وائے ، زمونږ په سرو هېڅ اعتبار مۀ کوه . دا څۀ چې درسره اوشو ، دا هم زیاتې وو خو هسې نه چې دَ زیاتي دَ پاڅه زیاتې درسره اوشي . چې ځے نو لاړشه ". کاشان پاڅي دَ هغې مخې ته په دې غرض اودرېږي چې شاید په تلو تلو کښې يې هغه ښکل کړي خو چې هغې دَ هغۀ دَ ښکلولو هڅه اونکړه نو هغۀ په مظلومو سترګو هغې ته اوکتل او ورته يې اووے ، "ابیۍ خوړلي ، څکلي راته اوبخه ، دَ خدائے په امان " دې سره هغه په ډکو سترګو دَ خېمې نه اووتو . نبات ګلې ابیۍ يوه شیبه هغۀ ته په لوندو سترګو کتل بیا يې رو غوندې ځان سره اووې "ځه الله دے مل شه "



www.pukhto.net



هغـه زوړنـده سـر دَ میـرام جان دَ پړاؤ نه اووتو . ورمه دَ پړاؤ نه بهر په اوچته غونډۍ ولاړه وه او هغۀ ته يې په مړو سترګو کتل. په تلو تلو کښې هغۀ دَ لرې نه هغې ته اوکتل . دَ هغۀ دَکتو په جواب کښې هغې دَ سلام لاس اوچت کړو. دَ هغې دَسلام په جواب کښې هغۀ هم ورته دَ سلام لاس اوچت کړو خو معلومه نه ده چې په څۀ وجه يې خپل کاتۀ برداشت نه کړے شو نو زر يې ترېنه مخ واړوو او قدمونه يې تیز او اوږده کړل . په دېکښې يو خوږه اوکړنګېدلې ټپه دَ هغۀ غوږونو راغله چې : ـ "پرون دنیا وه نن قیامت دے، چې زۀ ولاړه لالې اخلې رخصتونه ". کاشان دا ټپه ووریده خو هغې پسې يې روستو اونه کتل او په مخه روان وو.

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

## دویمه برخه

کاشان ډېر په مایوسۍ دَ میرام جان دَ کور نه دَ نامعلوم منزل په لور په دروند وجود او درنو قدمونو روان وو . دَ دے کور خلقو سره دَ هغهٔ دَ مینې تړون ډېر ژور او ډېر مضبوط وو او دغه ټول هغهٔ ته دَ خپل مور پلار ، نیا نیکهٔ او رور غوندې ښکارېدل . هغه به هغوي سره په یونغری ناست پاست وو او هغوي سره به یې په یو تالي خوړله ځکله . هغه ډېرخوشحاله وو چې یو بے ځوکه مسافر له خُدائے په بیدیا کښې دَرزق او ژوند بندوبست اوکړو او دَ هغهٔ دَخدمت دَ پاره یې هغه له دَ میاندو ، خویاندو په شکل کښې تابعدارې خدمتګارې ورکړې . هغهٔ هم ځان ته ځان نه وے او دَ هغوي او دَ هغوي دَ څاروو خدمت او د دغه کور عزت ته یې خپل ځان وقف کړے وو . هغه دغه کور خپل کور او دغه څاروي یې خپل څاروي ګڼل . هفته په هفته به یې دَ ګډو ، بزو اوښانو نُوکے ، دَ خپو ګروتونه کتل او هغه به یې ورله صفا کول . دَ څاروو خولې ، ژبې ، غوږونه او سترګې به یې کتلے او صفا کولے . وړې او وېښتهٔ به یې ورله ګمنزول او خاشي به یې ترینه غورځول . په باد ، باران او سیلۍ ، جړې کښې به یې هغوي له دَ اوچې ګیاه بندوبست کوو. که چري دَ یو څاروي ښه به مړه او غوږونه به یې مړاوي شو نو تر هغې به ترېنه تاوېدو او دَ هغهٔ هر اندام به یې کتو چې دَ هغهٔ بیماري به یې معلومه کړه . بیا به یې هغهٔ له دَ هغهٔ دَ بیماري دارو ورکړل او تر هغې به ورته ولاړ وو چې هغه به شخوند مات کړو. دې سره



www.pukhto.net



سره به یې دَ کور او څاروو څوکۍ هم کوله او چې لږ شك به یې راغۍ نو دَ بجلۍ دَ پړق غوندې به هلته رسیدلے وو. دا ټول کارونه هغهٔ دَ دنیاوي یا نفساني خواهش او لالچ دَ پاره نه کول بلکه د یوې داسې جذبې په وجه یې کول چې دَ هغې په توضیح هغه په خپله هم نه پو هېدو. هغه د دغه کور بې پیسې نوکر وو. که میرام جان یا ګل جان به چرته زړه نوې جامه یا زوړ نوې پېزار ورکړو یا به یې لس شل ورځې پس لس شل روپۍ ورکړے نو هغه به ترېنه اخستے خو هغوي ته یې لاس نه نیوو . دَ هغهٔ دَ پاره دا ډېره وه چې هغوي هغه له دَ کار په بدل کښې خوراك څښاك هم ورکوي او دَ ملاستې ځائے هم . حلالي دومره وو چې یوه جینۍ به هم هغه له یوائې نشوه ورتلي او که چرې داسې به اوشو نو هغه به یې دومره اورټله چې بیابه یې هغه سره په هفتو هفتو سترګې نشوې لګولې. د دغه جینکو میاندو ، خویاندو او سړو به هم پټ په پټه دَ هغهٔ دَ کړو اوړو او حرکات وسکنات اندازه اخسته او بیا به یې دَ هغهٔ دَ ایمانداری او وفاداری ستاینه کوله . هم دغه وجه وه چې د دغه کور ټول خلق دَ هغه نه دومره خوشحاله وو چې دَ هغهٔ دَ تلو او جُدائي تصور یې هم نشو کولے او هغه له یې دَ زوم حېثیت ورکول غوښتل او که دَ اختره پورې هغه ایسار شوے وے نو هغه به د دے کور یو غړے ګرځېدلے وو. که دا موجوده پېښه نه وې شوې نو هغه به یقینًا دغه منزل ته رسېدلے وو . خو اوس . . . .اوس دَ هغهٔ او د دغه ټولو خلقو ارمانونه او حسین خوبونه دَ ګل جان شېطاني

خوبونو یوړل او هیڅ سره هیڅ پاتے نشو. دَ هغهٔ کردار، شخصیت، وفاداري اوایمانداري دومره مشکوکه شوه چې هغهٔ دغلته چاسره دَ سترګو لګېدو قابل نشو. دَګل جان او سپېښي سازش دومره مهلك او خطرناك وو چې که دَ هغهٔ خپه لاس لږ غلط شوے وے نو اوس به دَ هغهٔ په غوښو دَ میرام جان دوه غټ سپي سرې خولې اړم وو، دَ هغهٔ غوښې به یې خوړلے او دَ هغهٔ هډوکي به یې کرپول. هغه دَ خُدائے په دے ډېر شکر ګزار وو چې هغه خپله اولړه او جل وهلې تنده په صبر واستقامت برداشت کړه خو دَ شهواني جذبې په لذت یې ماته نکړه. هغه نه فرشته وو او نه دَ نفساني خواهشاتو نه عاري غیر جذباتي روبوټ وو بلکه دَ ګوشت وپوست نه جوړ یو عام انسان وو او دَ یو عام انسان غوندې خوبۍ یې هم لرے او کمزورۍ هم. دَ هغهٔ په زړهٔ کښې ارمانونه، امیدونه، خواهشات او ارزوګانې وې. دَ هغهٔ په رګو کښې دَ ځوانۍ ګرمه وینه ګرځېده او په دغه وینه کښې دَ مینې نوبتونه او غورځنګونه وو. دَ هغهٔ په زړهٔ کښې دَ ځوانۍ جذبې او دَ هغهٔ په خوله دَ مینې ترانې وې خو دغه ټول جذبات دَ هغهٔ په قابو کښې وو. هغه هم دَ صنف نازك دَ پستو خبرو، دَ هغې په سپینو مروندونو دَ خپل سر اینبودو او دَ هغې دَ تورو معطرو زلفو په یخ سیوري دَ خوبونو ارماني وو ځکه چې هغهٔ ځوان، زلمې انسان وو خو هغه خپل نفساني خواهشات تړلي وو ځکه چې هغه لا ورکوتے وو چې پلار ورته ویلے وو چې، "همیشه به دَ خپل نظر حفاظت کوے نه به چاته ګورے او نه


www.pukhto.net



به چاته خاندے. بس خپل کار سره به کار لرے، نور هیڅ نه. البته چې کله به دَ صحرا په فراخه سینه سملاستو نو په هغې به زغرېدو او دَ سوې لوې تپو کښې به یې دَ خپلو جذباتو اظهار کوو. هغه لکه دَ موسیګار په خپلو لمبو سوزېدو خو دَ هغه دَ سول تاؤ تر هغهٔ پورې محدود وو. چې څومره څومره به هغه مخکښې تلو، هومره هومره به دَ هغهٔ په مایوسۍ کښې اضافه کېده. په تلو تلو کښې هغه په څو څو غونډو ووختو خو روستو یې نه کتل. په دغه تلو تلو کښې دَ هغهٔ لاره په یو لوړ غر راغله. چې په غر اوختو نو دَ غر په سوکه اودرېدو، په مایوسه نظر یې بره اسمان ته اوکتل او چغه یې کړه.

ـ اسمانه، لار راکړه درخېژم
نور مِ دَ زمکې مخلوق ځان ته نه پرېږدینه.

دغه تپه لا په غرونو کښې کړنګېده چې یوه بله تپه یې په خولې راغله، چې:.

ـ اسمانه، لار راکړه چې درشم
ځائے دَ ارام په سر دَ زمکې نه لرمه

دې سره هغهٔ یو ځل بیا اسمان ته اوکتل خو چې نااميده شو نو مخکښې روستو یې اوکتل، دې سره هغه له دَ وړمې خیال هم راغے. هغه چې دَ هغې دَولاړې ځائے ته په ځیر ځیر اوکتل نو هغه لا هغسې ولاړه وه او هغه ته یې کتل. په دغه کتو کتو دَ هغې دَ خولې نه یوه دلسوزه تپه اووته، په غرونو کښې اوکړنګېده او په

کړنګېدو کړنګېدو کښې دَ هغۀ غوږو له را اورسېده . چي :.

ے مسافر تلے ، غېږ م درنکړه
اوس چې رایاد شے غټ په غټه اوژاړمه

د دې ټپې په اورېدو سره هغۀ ته دَ هغې لیونۍ مینه رایاده شوه . دَ هغۀ سترګي ډکي شوې او په ډکو سترګو په مخه روان شو.

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## دريمه برخه

مس فلورا او صبا ، دواړه په يو بېړۍ کښې اوده وې. په اودو کښې هغوي داسې ښکارېدې لکه دَ خپلو مئينو نه مايوسه دوه ښاپيرۍ چې غاړه په غاړه اوخوله په خوله پرتې وي . دَ ټولې شپې وېښې نازنينې ، ترناوخته پورې دَ يو بل په وږمو مدهوشه پرتې وې او معلومه نه ده چې ترکومې به پرتې وي چې دَ هغوي دَ کمرې په ور ناکنګ اوشو دَ ناکنګ په اواز دواړه ويښې شوې خو ورله صبا ورغله. هغې چې ورلرې کړو نو صدف ولاړه وه او دَ صبا پاسپورټ يې په لاس کښې نيولې وو. مس فلورا چې دَ هغې په لاس کښې پاسپورټ اوليدو نو هغه زر دَ بېډ نه پاسيده . دَ صبا دَ لاس نه يې پاسپورټ واخستو، هغه يې دننه ، بهر اوکتو ، مسکۍ شوه او ځان سره اووې، ”ټېنك ګاډ “ بيا يې صبا ته اووې ، ”صبا، ستا وېزه او ټکټ دواړه اوشو . اوس دَ تلو تياري کوه “، دې سره هغوي دواړو يوبل ته اوکتل او مسکۍ شوې .مس فلورا هغې ته اووې ، ”صبا ته جامې بدلې کړه او ناشتې دَ پاره دلته راشه “.صبا هم دغسې اوکړل . هغه خپلي کمرې ته لاړه ، واش روم يې اټند کړو ، جامې يې بدلې کړې او خپل سامان يې پېك کړو. چې دا هر څۀ يې اوکړل نو بيا دَ مس فلورا کمرې ته ورغله . هغې جامې بدلې کړې وې او دَ ناشتې په ميز يې دَ هغې انتظار کوو. دَناشتې په دوران کښې مس فلورا صبا ته اووې، ”تاخپل تياري مکمل کړو“ ؟

صبا: زۀ بالکل تیاره یم خو دَ تلو نه مخکښې رعنا بېګم سره ملاوېدل او دَ هغې نه رخصت اخستل غواړم .

مس فلورا : دا خودې زما دَ زړۀ خبره اوکړه ، زۀ هم هغې سره ملاویدل غواړم ، دَ ناشتې نه پس هغوي دواړه دَ هوټل په ګاډې کښې کیناستې او دَ رعنا بېګم لیدو دَ پاره دَ هغې کور ته لاړې. دَ هغوي په لیدو باندې هغه ډېره خوشحاله شوه دواړو ته واره په واره ورترغاړه وته او دواړه یې په ګسټ روم کښې په عزت کېنولې . صبا هغې ته دَ خپلې نوکرۍ پرېښودو او مس فلورا سره کابل دَ تلو ټوله خبره اوکړه، دَ هغې په انکشاف هغه خوشحاله هم شوه او خفه هم . خوشحاله په دې شوه چې مس فلورا سره روانه وه او خفه په دې شوه چې دَ هغې نه جُدا کېده او بل وطن ته تله . په خبرو خبرو کښې رعنا بېګم هغوي دَ لنچ پورې ایسارې کړې او دَ دې معلومات هغوي ته هغه وخت اوشو چې حنا دَ هغې خوا له راغله او هغې ته یې اووې ، "بي بي ډوډې تیاره ده ". مس فلورا ډېره کم خوراکه وه . دَ هغې دَ خوراك په معمولاتو کښې لنچ نه وو، صرف ناشته وه او ډنر وو، بهرحال دَ رعنا بېګم دَ خاطره هغه هغوي سره پاسېده او ډائننګ روم ته ورغله . دَ لنچ کولو نه پس رعنا بېګم هغوي دواړه ښکل کړې او په ډکو سترګو یې رخصت کړې.

★★★★★

★



www.pukhto.net



## څلورمه برخه

نمر په غرغره وو چې کاشان دَ یوې غونډۍ نه کوز شو او بلې غونډۍ ته ووختو . هغه ستړے شوے هم وو او اوږے شوے هم وو . هغۀ دَ یوې اونې په سیورې دمه کول غوښتل خو اولړې دې ته پرې نښودو او دَ ابادۍ په لور په دے غرض روان شو چې که چرته ډوډۍ اومومي او دَ خېټې ویر قلار کړي . ویلے کیږي چې دَ خېټې بغاوت دَ دنیا دَ خطرناك ترین بغاوتونو نه زیات خطرناك دے . دَ خېټې باغي نه په خپل عزت اړه لري او نه دَ بل په عزت ، نه دَ خپل سر پرواه کوي او نه دَ بل دَ سر . که دَ دنیا لویو وړو جنګ ، جهګړو ته اوکتلي شي نو د دې بنیادي او لویه وجه دَ خېټې بغاوت دے او نورې وجهې بیا د دې نه پیدا کیږي . دَ ښځې خاوند، پلار او ځوي او دَ مور او لور غوندې مقدسې رشتې هم دَ خېټې بغاوت ته نشي ټینګېدې.چې کله د دے بغاوت اثر شروع شي نو دَ هغوي مینه محبت په بُغض او نفرت کښې بدل شي . دغه احساسات بیا جذباتي او عملي شکل اختیار کړي او غابښ ماتي ، سرماتي او وهل ټکول شروع شي . د دے بغاوت نه اکثر غریبه او پریوتې طبقه متاثره کېږي . په غټانو او بډایانو کښې دغه احساسات ډېر کم وي ځکه چې هغوي په خېټه ماړۀ او په جامه پټ وي . کاشان هم دَ خیټې بغاوت ته ټینګ نشو او په دے غرض دَ غونډۍ نه کوز شو او دَ آبادۍ په لور روان شو چې چرته دَ چا دَ کور چنې ته کینې او ځان موړ کړي . دَ هغۀ په غوږونو کښې لا دَ ډوډۍ

ټپار او دَ بګار چسار وو چې دَ مخامخ بوټو نه يو دوه مسلح کسان را اووتل او هغۀ ته يې په چغه اووے ، "اودرېږه هلکه مخکښې مۀ ځه" دا اواز دومره ناګهاني او دومره خوفناك وو چې دَ يرې دَ لاسه دَ هغۀ ټول اعصاب ، رګونه او دَ هغه دَ بدن ټول نظام په خپل خپل ځاے ټپ اودرېدو . هغۀ دَ هغوي دَ خوفناك شکلونو نه دومره اويرېدو چې دَ اودرېدو په ځائے يې غونډۍ ته واپس منډه کړه . هغه ستړې وو خو دَ يرې په وجه دَ هغۀ ستوماني ختمه شوه او په منډه منډه غونډي ته ختو . هغه لا په بره روان چې يوه بله چغه راغله ، "اودرېږه هلکه، واپس شه ؟ هغۀ چغه وورېده خو دَ هغوي حکم يې اونه منلو او مخکښې روان وو . هغه چې دوه څلور قدمه مخکښې لاړو نو دَ شا نه پرې دومره غبرګې ډزے اوشوے ، يوه ګولۍ دَ هغۀ خپو سره اولګېده او دوړه يې پورته کړه . بله ګولۍ دَ "شُو" اواز سره دَ هغه غوږ سره تېره شوه او دَ هغه په سر مخکښې لاړه . دے ډزو سره هغه دومره لل ګل شو چې زړۀ يې اوخوېدو ، خپې يې مړې شوے او خوله يې ترخه شوه . هغه نه مخکښې تلے شو او نه روستو تلے شو. هغه په خپل ځائے ټپ اودريدو ، هغوي ته يې مخ کړو او دَ هغوي دَ راتلو انتظار يې کوو خو هغوي ورپسې دَ ورتلو هڅه اونکړه بلکه يو کس ورته په چغه اووے "راشه ګينې لاړے مردار شوے". دَ مرګ خيال سره دَ هغۀ رنګ تك زيړ شو خپو نه يې دم اوختو او رېګدېدل پرې راغلل. بهرحال هغه دَ هغوي حکم اومنلو او په زمزمبولي او



www.pukhto.net



تيندکونو دَ هغوي په لور روان شو . دَ رسېدو سره پرې هغوي دَ کونداغونو ګزارونه اوکړل . په ړومبي ګذار سره دَ هغۀ په سترګو کښې برېښنا راغله بالکل لکه دوه بکرې چې خپلو کښې اوجنګيږي او دَ رڼا پړق اوشي . دَ ګزار سره په هغۀ لکه دَ ګوزني چرګ سرګرداني راغله . خپې يې ادلې بدلې شوې خو په غورځېدو غورځېدو کښې يې خپې کلکې کړے او ځان يې ټينګ کړو. په دوېم ګزار دَ هغۀ په سترګو تياره راغله او رڼا ورځ پرې توره شپه شوه . په دغه توره تيارۀ کښې دَ نمر رڼا ختمه شوه او نمر هغۀ ته لکه دَ تور تبهی ښکارېدو . هغه په ځان پوهـ نشو او پټې سترګې لکه دَ مړي په زمکه بُوړي بوړي پرېوتو . بے حسه ، بے حرکته .

په دريمه ورځ سحر دَ هغۀ سترګې اوغړېدې . هغۀ چې اخوا ديخوا او خپل ځان ته اوکتل نو هغه په يوه زړه کوټه کښې په زوړ ټکوري په تيارۀ کښې په زمکه پروت وو. په کوټه کښې نه روشندان وو او نه کهړکۍ وه . البته دَ کوټې په چهت کښې يو وړوکے شان مګ وو، چې په هغې کښې به دَ نمر رڼا کوټې ته راتله . هغۀ چې دَ پاسيدو دَ پاره خپې راغونډولے نو هغۀ ته معلومه شوه چې دَ هغۀ خپو ته بېړۍ پرتې دي او دَ بېړو زنځير دَ کوټې دَ مينځ ستنې نه تاؤ شوے او جرنده شوے دے . دَ هغۀ ټول بدن لکه دَ ډکو ننکو خوږېدو خو د دغه خوږ نه دَ هغۀ تنده زياته وه . دَ هغۀ دَ خولې نه بي اختياره اووتل ، "اوبه" دَ اوبو ټکي سره دَ کوټې ورلرے شو، يو مسلح زلمے دننه ورغۍ او هغه

ته یې اووے ، "ویښ شوے هلکه" . هغۀ هغۀ له دَ جواب ورکولو په ځاے اووے ، "اوبۀ" دې سره زلمے واپس شو. دَ کوټې نه بهر اووتو او په تلو تلو کښې یې ورِ دَ بهر نه بند کړو. لږه شیبه پس یې یو ډك کنډول اوبۀ راوړے او هغه ته یې اووے، "واخله اوبۀ " هغۀ دَ هغۀ دَ لاس نه کنډول واخستو او ټولې اوبۀ یې په غړپ غړپ په یوه ساه اوڅکلے . دَ اوبو څکلو نه پس کاشان هغه له تش کنډول ورکړو او په ټکورې یې بیا سر کېښودو . زلمے کنډول په لاس بهر اووتو او ورِیې دَ بهر نه بند کړو مازیګر دَ هغې دَ کوټې ور بیالرے شو . دَ هغۀ دَ خپو نه بیړی اوویستلې شوې او هغۀ دَ کوټې نه بهر کړے شو . یو مسلح زلمي هغه ته کلاشن اونیوو او بل ورله سترګې اوتړلے . دې نه پس هغه په ګاډي کښې کېنولے شو او ګاډے روان شو.

★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## اتم باب

دَ مس فلورا پلار ډاکټر فیاض او دَ هغې مور ډاکټر مریم دَ هغې په لاس په حیات آباد کښې دَ "مرسي انټرنیشنل هسپتال" افتتاح کول غوښتل . دې دَ پاره هغه دَ خپل ورکوټي رور ریاض اودَ خپلې ترور ایډنیه سره حیات آباد ته په لوے عزم ، لوے امېد او لوے ارمان راغلے . دَ فیتې پرېکولو دَ پاره هغې له قېنچې ورکړې شوه خو فیته کټ نشوه البته دَ ګڼو بې ګناه مسلمانانو سرونه کټ شو او ګڼ تپیان شو . دې نه علاوه دَ هغې ایکے یو رور لاپته شو او لا تر اوسه لاپته دے . دَ مس فلورا په زړۀ دَ فیتې پرېکولو ارمان پاتې شو . دَ هغې د دے ارمان پوره کولو دَ پاره مائیکل کهور دَ کروړونو ډالرو په خرچ دَ خپل هوټل سره نزدې "مرسي انټرنیشنل هسپتال، صرف دې دَ پاره جوړ کړو چې هغه یې افتتاح اوکړي . او هم دغسې اوشوه . مائیکل کهور دَ هغې په لاس دَ هسپتال افتتاح اوکړه او هغې دَ لاسونو په پړقار کښې فیته پرې کړه . دې نه پس یې هغه په هسپتال کښې دَ ایم . ډي په کرسۍ کېنوله ، او دَ مبارکي سره سره یې ورته دَ هسپتال ټوله ذمه واري حواله کړه . دې نه پس یې انټرنیشنل هوټل ته بوتله او هلته یې ورته هم دَ ایم ډي کرسي حواله کړه . نن هغه ډېره خوشحاله وه چې دَ هغې دَ زړۀ یو لوے ارمان پوره شو . دَ هسپتال دَ افتتاح نه پس مائیکل کهور درې ورځې په کابل کښې وو

او دَ هغې دَ کارکردګۍ جائزه یې اخستله . هغه به وخت په وخت دَ هسپتال او هوټل په باره کښې هغې له هدایات ورکول . چې کله هغه دَ هغې دَ کارکردګۍ نه مطمئن شو نو دَ هسپتال او هوټل ټوله ذمه واري یې هغې او صبا ته پرېښوده او هغه په څلورمه ورځ امریکې ته واپس روان شو . دا هسپتال او هوټل اګر څهٔ یو بل سره دیوال په دیوال نه وو خو دَ یو بل نه ډېر لرے هم نه وو. دَ هغوي ترمینځه دَ افغانستان وزارت صحت سکټریټ وو او دَ سیکټرېټ او هسپتال ترمینځه دَ مس فلورا بنګله وه . دَ هغې دَ بنګلې شاته دَ هسپتال دَ ډاکټرانو او نرسیانو فلیټونه او کواټرے وے . فلورا دَ صبا په تعاون څهٔ موده دواړه ډیوټۍ کولې خو بیا یې دَ هوټل ذمه واري هغې ته پرېښوده او دَ هسپتال ذمه واري یې په خپله سمباله کړه . دغه شان هغوي په خپله خپله ډیوټۍ کښې داسې مصروف شوي چې دَ هغوي ملاقات به دَ ورځې کله کله او دَ شپې اکثر کېدو . ماسخوتن تېر به دواړه بنګلې ته راتلې . په بنګله کښې به یې دَ ماسخوتن ډوډۍ خوړه او دَ فلورا په خواهش باندې دواړه په یوه کمره کښې پاتېکېدې . فلورا اګر څهٔ دَ هغې بوس ( Boss ) وه خو هغې چرې هم به هغې دَ خپلې افسرۍ تونس نه کوو. هغوي دواړو لکه دَ دوو خویندو ډېر خوږ وخت تېره وو. په ړومبو ورځو کښې به صبا دَ هغې دَ عزت دَ پاره هغې ته کله بي بي او کله بي بي جي وې خو بیا دَ فلورا په دې خبره چې دَ خویندو ترمینځه دَ بي بي ، بي بي جي، جي


www.pukhto.net



او تاسو ، ټکي خوند نه کوي نو بیا دغه القاب ختم شو دَ شپې به کله په ټي ، وي لاؤنج کښې او کله په خپل بېډروم کښې ترناوخته لګیا وې او خپلو کښې به یې خبرې کولې . دَ هغوي خبرې به اکثر دَ خپلې خپلې ډیوټۍ په باره کښې وې او ذاتي خبرې به پکښې ډېرې کمې وې . اوکه ذاتي خبرې به راغلې نو دَ فلورا په کوشش به ډېر زر په نورو خبرو کښې بدلې شوې . فلورا فطری کم ګو وه . دَ وېلو نه زیات هغې دَ اورېدو شوق لرو خو دَ صبا طبعیت دَ هغې اُلټه وو . هغې دَ اورېدونه زیات دَ ویلو او تپوسونو شوق لرو.

هغوي دواړه به اکثر په یو وخت بنګلي ته راتلې او په یو وخت به دَ بنګلې نه وتې . په تلو کښې به یې هم دَ بوسو تبادله کوله او په راتلو کښې هم . یوه ورځ معلومه نهٔ ده چې په څهٔ وجه فلورا دَ خپل دفتر نه لږه وختي راغله . دَ راتلو سره هغه خپلې کمرې ته روانه شوه او په روانه روانه کښې یې خپلې ملازمې شربت ګلې ته دَ چاي آرډر ورکړو . هغه چې دَ واش روم او ډرسنګ روم نه راوته نو دَ چایو پیالې دَ هغې بېډ سره په مېز پرته وه . دَ خولې دَ خوند بدلولو دَ پاره هغې دَ پیالې نه پرله پسې دوه ګوټه اوکړل . بیا په خپل بېډ کښې اوغزېده او بالخت ته یې ډډه اووهله . هغه دومره ستړې وه او ټول بدن یې داسې دروند وو لکه چې یو دروند پېټې دَ هغې په سر پروت وي . هغه ډېره شېبه په څهٔ سوچ کښې ډوبه وه . بیا یې دَ خپل پرس نه یو وړوکے تصویر رااوویستلو او هغهٔ ته یې په ځیر ځیر کتل. په دغه

کتـو کتـو کښې دَ هـغې سترګې ډکې شوي . دَ دغه ډکو سترګو نه غټې غټې اوښکې روانې شوي او دَ هغې په مخ دَ جُدا جُدا لارو په شکـل کښې دَ هغې چاهِ ذقن ته رسېدې او لاندې بهېدې. په دغه ژړا ژړا کښې دَ هـغـې سترګې پټې شـوې او تصویر دَ هغې دَ لاس نه دَ هـغـې پـه سینه پرېوتو . هغه لا پټې سترګې پرته وه چې صبا راغله . هغې چې فلورا ته اوکتل نو مسکې شوه او دَ هغې نه یې دَ وختې راتلوتپوس ته خوله جوړوله خو چې دَ هغې پټو سترګو او دَ هغې په مخ یې دَ اوښکو لارو تـه اوکتـل نو زړۀ یې اوخوږېدو او رنګ یې زیړ شو. دَ هغې په زړۀ کښې ډېرې خبرې راغلې او هغه ټولې دَ شکوك وشبهات وې هغه پـه یره یره هغې ته ورنږدې شوه او چې دَ هغې په سینه پروت تصویر ته یې اوکتل نو په زړۀ یې اوخوړه چې هرڅۀ چې دي خو ټول کار دے تصویر کښې دے. هغې سر ټیټ کړو او تصویر ته یې یو نظر اوکتل خو دَ هغې دَ اوچتولو جرأت یې اونکړې شو. هغه یوه شیبه غلې ولاړه وه او دَ هغې پوره اندازه یې اخستـه . بیا په مزه مزه واش روم تـه ورغلـه . هغه چې دَ واش روم نه راوته نو فلورا ویښه شوې وه او خپلې اوښکې یې اوچې کړې وې . صبا دَ هغې خوا لـه ورغله او په مُسکا یې ورته اووې ، "هېلو مائي ډیر سسټر . نن خو خلافِ معمول وختې راغلې ؟ . ولې څۀ خاص وجه وه ؟ "

فلورا :. نه صبا، څۀ خاص وجه نه وه خو نن سم دَ سحره زما طبیعت ختـه او وجـود مِ درونـد وو . خپـلـه ډیـوټـې مِ اوکـړه خو هلتـه مِ زړۀ اونه



www.pukhto.net



لګېدو نو ځکه راغلم .

صبا: اوه مائي ګاډ . تۀ دومره په تکلیف کښې وې او ماته دې فون نه کوو . زۀ بـه درپسې درغلې وې او مابه راوستې وې . په دې ینګ ایج کښې چې دومره کار کوې نو ستومانې او ټنشن به خامخا راځي.

فلورا: نه صبا ، زۀ دومره سیریس نه ووم . دَ پرېشانۍ هیڅ خبره نیشته.

صبا: تۀ سیریس نه وې ؟ دَ پرېشانۍ هیڅ خبره نیشته ؟ تۀ لږ اینه کښې اوګوره ، دا څۀ درنه جوړ شوي دي . ستا په مخ دَ اوښکو دَ لارو نـه معلومېږي چې تا ژړلي دي . آیا تۀ دې نه انکار کولې شې ؟ دے بېړه کښې سمه سمله چې وجود درله اومنډم اوس به دې ستومانې ختمه شي او بدن به دے سپك شي .

فلورا :. Don't worry saba ، زۀ بالکل ښۀ یم .

صبا: واه بهئي واه. دا صیبه وائي "زۀ بالکل ښۀ یم ". فلورا تۀ خپل ځان لـه هم دهوکه ورکوې او ماله هم . سمله ، سمله ، شابه زرکوه".

صبا هغه په بېړه کښې په زبردستۍ سملوې او دَ هغې په سر، اوږو او خپو لاسونو زور کوې . هغه چغې وهي . زۀ ښۀ یم صبا. that's enough خو هغه یې نه پرېږدي . صبا هغه په بېړه کښې ډډې په ډډې اړه وې راړه وې او دَ هغې بدن منډي . په لږ ساعت کښې دَ هغې په بدن کښې دومره توانائي او حرارت پیدا شي چې دَ هغې ټوله ستومانې ختمه شي . هغه تر هغې پورې لګیاوې چې فلورا مسکې شي، په تندي ورته جوړه لاسونه کېږدي او دَ هغې نه معافي

اوغـواړي . صبا، هغې ته په مُسکا ګوري او وائي ، 'ښۀ اوس راته پوره حال اووایه چې ځۀ درباندې شوي وو''.

فلورا :. هیڅ نیشته صبا ، داسې هیڅ خبره نیشته .

صبا:. نـه فلـورا ، ځۀ خو شته . . .داسې معلومیږي چې تۀ زمانه ځۀ خبره پټه ساتل غـواړې او مـاتـه حال نـه وایې . او. کـے . مۀ وایه . دَ تپوس معافي غواړم ، سوري '' صبا دَ هغې نه مخ اړه وي او په خپل موبائیل کښې ګوتې وهي . فلورا چې دَ هغې په مخ دَ خفګان خړه اووینې نو مسکےِ شي او هغې ته وائي، ''خفه شوې صبا''؟

صبا (په لاپروائي ) نـه چرې هم نه . زۀ په خپل تپوس باندې شرمنده یم ، سوري .

فلـورا:. اوه نـو . نـو صبا نو. آئي ایم سوري. سمائل پلیز، ''دَ هغې په سوري باندې صبا مُسکےِ شي او هغې ته په مُسکا ګوري . فلورا یوه لـویه ساه اخلي او وائي ، صبا، کله کله زما په ذهن دومره بوجهـ راشي او سرمِ دومره دروند شي چې تېنګولې يې نشم ''.

صبا:. هاؤ فلـورا ، مـاتـه ستـا دَ پریشانۍ احساس دې . ستا دَ پریشانےِ اصل وجه ، ستا دَ حد نـه زیات مصروفیات دي . په دومره کم عمرےِ کښې دَ ذمـه وارےِ دومره لوې پېټې اوړل ، ستادَ پاره واقعي دَ پریشانےِ خبره ده . خو سره دَ ډاکټرےِ هم تۀ دَ خپل صحت نه غافله یې؟

فلـورا:. صبا، زۀ واقـعي ډاکټره یم خو دَ ډاکټرےِ سره سره زۀ یو انسان هـم یـم . زۀ هـم دَ یـوعام انسان غوندې دَ غوښې، هډوکي نه جوړه یم، زۀ هـم دَ یـو عـام انسـان غـونـدې پـه خپـلـه سینـه کښې دَ احساساتو امیدونو او ارمانونو نه ډك زړۀ لرم. زۀ بیمارېدې هم شم او ازارېدې هم شم . زۀ خـوشـحـالېـدې هـم شـم او خفـه کېدې هم شم . . .زۀ دَ خپلو مـصروفیـاتـو پـه وجه پرېشانه نه یم. زۀ په خپل مرض پو هـ یم. ماسره کـلـه کـله داسې کېږي او کله کله ځۀ چې دَ تیرو څو میاشتو نه ماسره اکثرداسې کـېـږي خـو چې کېتارسز (catharsis) مِ اوشي نـو سرمِ سپك شي ، روح مِ تـازه شي او زړۀ مِ خـوشـحـاله شي . . .صبا، نن چې زۀ هسپـتـال تـه لاړم او دَ معـمـول مـطابق مِ دَ ډاکټرانو په ډله کښې دَ ایـمرجنسي وارډ رونډ کوو نو یو خائسته ماشوم مِ په داسې حال کښې اولیـدو چې پـه یـوه چودنه کښې ترېنه یوه لیچه او یوه خپه الوتې وه هغـه پټې سـترګې پـروت وو او مور ورته په سرو سترګو ژړل. ماچې هـغـۀ تـه اوکتـل نـو خپـل وړوکـے رور ریاض راته مخکښې شو. هغه چـودنې او هـغــه ډزے راتــه مـخـکښې شوے کومې چې پـه مونږ شوے وے . په کومې کښې چې زما مورپلار لاړل او زما وړوکـے رور لاپتـه شـو. دے مـاشـوم تـه خپـله مور ناسته وه او ژړېده خو هغۀ ته دَ ژړېدو هیڅوك پاتې نشو. . . ما هغه ماشوم ښکل کړو او دَ هغۀ مور له مِ غـاړه ورکـړه خـو زۀ دومـره جذباتي شوم چې په ژړا ژړا مِ ټول وارډ په سـر واخستـو . زما جذباتو دَ هېسټېریاشکل اختیار کړو. ډاکټرانو زۀ دَ هغـې نـه بیـلـولم خو زۀ هغې پورې داسې انختي ووم، چې بیلېدې تـرې نــه شـوم . . .بیـا دَ ځـان نــه خبر شـوې نـه یم . . .چې سترګې مِ


www.pukhto.net

اوغړېدي نو زۀ په icu کښې پرته ووم . . . چې زما سترګې اوغړېدې نو ډاکټرانو يو بل ته اوکتل او مُسکي شو . هغوي ماله دَ ارام مشوره راکړه خوما دَ هغوي دَ مشوري پروا اونکړه . خپل دفتر ته لاړم او دَ معمول مطابق مِ خپله ډيوټي شروع کړه . چې خپل کارمِ ختم کړو نو بيا مِ هلته زړۀ نه لګېدو او خپل کور ته راغلم .

صبا: . دا دومره لويه پيښه اوشوه او تازۀ خبرنکړم .

فلورا: . صبا، مائي ډير صبا، دا زما دَ پاره څۀ نوې خبره نه ده . داسې ما سره اکثر کېږي . زۀ چې کوم ماشوم دَ بيمارۍ په حالت کښې يا په زخمي حالت کښې اووينم نو ماته خپل رور رامخکښې شي او دا خيال راشي چې هغه به په څۀ حالت کښې وي . او دَ چا په دربه لوغړېږي . . . اُف الله . . . ته يې مل شے . هغه ډېر بے اسرے دے ".

هغه دَ خپل پرس نه دَ هغۀ تصوير را اوباسي . هغه ته ګوري او په ژړا ژړا کښې وائی ، "زما روره ، زۀ تاته ډېره ملامته يم چې زۀ ژوندۍ يم او تۀ رانه لاړے . . . زما روره که تۀ دَ جنت مرغو سره په جنت کښې سيلونه کوے نو دغه سيلونو له ما هم اوغواړه . . . او . . . اوکه تۀ ژوندے يې نو يو ځل خو راشه چې دے اووينم " صبا په ژړا ژړا کښې دَ هغې اوښکې اوچوي او هغې له تسلي ورکوي ، "فلورا پليز . . . ريلېکس فلورا پليز" فلورا هغې ته په ډکو سترګو ګوري او وائی، "صبا که زما رور ژوندے وے نو اوس به ستا په عمر وو، بيادَ هغۀ تصوير ښکلوي او په خپل پرس کښې يې اړدي .


www.pukhto.net



په سبا دَ افغانستان دَ يو مشهور انګريزي اخبار the kabul times ، کښې په رومبي مخ دَ لوې سرخط لاندې راغلل" A hysterical state of Dr. Flora in mercy internal hospital "

دَ سرخط لاندې پوره واقعه ذکر شوې وه . دغه شان دَ پښتو په مشهور اخبار" افغان " کښې هم دغه خبر په رومبي مخ راغی۔ چې "د مرسي بين المللي روغتون " کښې ډوکټره ، ميرمن فلورا دَ يو زخمي ماشوم په ليدو بې هوشه شوه ". بيا لاندې ورته پوره واقعه ذکر شوې وه . دا رپورټونه دَ دنيا ګوټ ګوټ ته دَ اليکټرانک او پرنټ ميډيا په شکل کښې اورسيدل او دې سره سره دَ هغې اړيکې هم خورې شوې . په اړيکو کښې هغې دَ بې ګناه ماشومانو زنانه ؤ ، بوډاګانو او دَ عام اولس دَ مرګ ، ژوبلې او دَ چودنو په سختو ټکو کښې غندنه کړې وه .

Pukhto.Net پښتو

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★

## نهم باب

دَ فلورا طبیعت تر ډېره حده پورې ښهٔ شوے وو او هغې دَ معمول مطابق خپل کار شروع کړې وو . ماسخوتن چې فلورا اوصبا دواړه دَ خپلې خپلې ډیوټۍ نه کورته اورسېدې نو خپلې جامې یې بدلې کړې او ډوډۍ خوړلو دَ پاره ډائننگ روم ته لاړې . دَ ډوډې خوړلو نه پس دواړه خپلې کمرې ته لاړې او په یو بیډ کښې ډډه شوې . صبا دَ فلورا نه تپوس اوکړو ، "نن دریاندې ورځ څنګه تېره شوه ؟ زما مطلب دے چې بیاخو دریاندې چپه نه وه راغلې؟"

فلورا:. نه صبا، نن ښهٔ ووم دغسې ماسره کله کله کېږي ، هروخت نه.

صبا:. فلورا ، ته خو ماشاء الله ښه ماهره ډاکټره یې. هسې یو تپوس درنه کولې شم چې د دې بیمارۍ مکمل علاج شته ؟

فلورا :. هاؤ شته او هغه داسې چې زهٔ خپله ماضي مکمل طور سره هېره کړم ، خپل احساسات مړهٔ کړم او دَ حال په عېش وعشرت او خوشحالو کښې ځان مصروف کړم . خوداسې مادپاره ناممکنه ده . . . صبا زما مور پلار مړه شوي دي او دَ هغوي نه مِ زړهٔ صبر شوے دے . خو دَ ژوندي رور نه څنګه زړهٔ صبر کړم. دَ هغهٔ معصومیت ، دَ هغهٔ خندا دَ هغهٔ مندے تړے زهٔ څنګه هېرې کړم" صبا ، زهٔ چې تاته ګورم نو ستا په مخ کښې راته دَ هغهٔ مخ ښکاري او . . .اوستا په وجود کښې راته دَ هغهٔ وجود ښکاري، صبا . . .صبا . . .؟ (هغه چپ شي)


www.pukhto.net



صبا:. ولې فلورا؟ ولې چپ شوې . وایه په زړهٔ دې څهٔ دي ؟

فلورا :. اوه نو ، سوري .

صبا:. وایه پلیز . ته څهٔ ویل غوارې ؟ چپ ولې شوې .

فلورا:. چپ ځکه شوم چې خپل ضمیر اجازت نهٔ راکوي.

صبا:. څهٔ مطلب ؟ Come on flora please .

فلورا:. مطلب دا چې تاته مِ څهٔ خواست کوو خو په دې یرېږم چې ستا انا مجروح نشي .

صبا:. فلورا ، ستا او زما خورولي ده ، ملګرتیا ده او بے تکلفه دوستانه ده . چې تهٔ ماته دَ زړهٔ خبرې اونکړې او زهٔ تاته اونکړم نو اخر چاته به یې کوو زما او ستا بل څوك دي چې دَ زړهٔ خبرې ورته اوکړو؟

فلورا: صبا چې رشتیا خبره درته اوکړم نو دومره راته ګرانه یې او دومره خوږه راباندې لګې چې زهٔ وېم چې زړهٔ پورې مِ همیشه نیولې وې.

صبا:.دغه حال زما هم دے فلورا. هغه دَ چاخبره چې مینه دَ مینې ولاړېږي .

فلورا:. زهٔ ویم که زهٔ سړے وې نو تاسره به مِ وادهٔ کړې وو.

صبا:. دا خو دې زما دَ زړهٔ خبره اوکړه . دغسې زه هم وېم.

فلورا:. صبا، آیا داسې نشي کېدې چې . . . ؟ سوري .

صبا:. اوه فلورا ، بیا سوري ، تهٔ صفا خبره ولې نه کوي .

فلورا:. صبا، نه زهٔ سړے جوړېدېشم او نهٔ تهٔ . مونږ دواړه به لازمًا دَ یو بل نه جُدا کیږو او زمونږ غېږې به تشې پاتې کیږي ، خوزهٔ دا جُدائي

نشم برداشت کولي .

صبا: هاؤ فلورا. دا جُدائي ناقابل برداشت ده خو ناقابل یقین نه ده .

فلورا :. خو زهٔ دانهٔ غواړم ، بلکه ستا دَ جُدائي تصوّر هم نشم کولې. صبا که ته چاسره منسوب نه یې نو آیا داسې نشي کېدې چې زهٔ تا دَ خپلې غیرې نه اوچته واخلم او دَ یوې نیازبینې ناوې په حیث دې خپل رور ته دَ ناوې په شکل کښې پېش کړم ؟

صبا: اوه فلورا ، تازما نه هغه څهٔ اوغوښتل چې دَ هغې پوره کول زما دَ وس کار نه دے . سوري فلورا.

فلورا: څهٔ مطلب؟ تهٔ چاسره منسوب یې ؟

صبا: هاؤ فلورا ، زهٔ هغه چاسره منسوب یم چې چا دَ پاره ماخپل وطن پرېښې دې .

فلورا: نو بیا خو به زما دَ غیږ نه لاړه شې؟

صبا: نه فلورا نه ، ستا دَ غیږ نه به هله ځم چې تهٔ اجازت راکړې او اجازت څه چې په خپله مِ غېږ کښې اوچته کړې او دَ هغه په ډولۍ کښې مِ کینوي (خاندي)

فلورا: بس هم دغه خبره مِ کوله . زما په خبره خو خفه نشوي ؟

صبا: نه فلورا نه ، تاخو څهٔ غلطه خبره نه ده کړې خو هسې یو تپوس درنه کولې شم ؟

فلورا: هاؤ کولې شې . وایه ؟

صبا: فلورا ، تا دَ خپل ځان په حقله څهٔ سوچ کړې دې ؟


www.pukhto.net



فلورا: چې دَ خپل رور دَ سوچ نه بې غمه شم نو بیا به دَ خپل ځان سوچ کوم صبا زما وادهٔ زما مشن نه دے بلکه دا زما دَ پاره یو سېکنډري څیز دے . زما دَ پاره زما رور هرڅهٔ هرڅهٔ دے . دې سره هغه سترګې پټې کړې او په ډډه ووړې .صبا هم سترګې پټې کړې او په پټو سترګو به یولوې سوچ کښې پرېوځې . دَ هغې په زړهٔ کښې راشي چې فلورا دَ خپل رور دَ پاره خپل مستقبل او خپلې خوشحالۍ په داؤ لګولي دي او هغې دَ خپلې خوشحالۍ دَ پاره خپل رونړه او خپلې بابې ګاني او خپل کور کلې پرېښودو . دې سره هغې ته هغوي ټول هم مخکښې شو او مېډم رېحانه هم . هغه ډېره شېبه په بېډ کښې اوخته رااوخته خوخوب نه ورتلو . بیا یې په زړهٔ کښې راغله چې مېډم رېحانه ته یو خط اولیکي ځکه چې کابل ته دَتلو په وخت هغې ، هغې ته دَ موبائېل په ذریعه دَ خپلې نوکرۍ پرېښودو او کابل ته دَ تلو پېغام دَ موبائېل په ذریعه ورکړې وو خو تفصیلي خبرې یې ورسره نه وې شوې . اوس چونکه هغه دَ خپلې نوکرۍ نه مطمئنه شوې وه نو هغې غوښتل چې هغې ته یو تفصیلي خط اولیکي او هغه دَ هرڅهٔ نه خبر کړي . هغه دَ بیډ نه پاڅېده ،کاغذ قلم یې راواخستو ، میز ته کیناسته او خط لیکل یې شروع کړل هغې اولیکل چې . . .

خوږې مېډم

تل ښاده ، اباده او ودانه اوسې

سلامونه . مېډم کابل ته دَ راتلو په وخت زما اوستاسو

ترمينځه تفصيلي خبرې نه وي شوې ،، دَ هغې درنه معافي غواړم. خوديکښې دوه وجهې وې . يوه وجه دَ وخت دَ کمي وه . دويمه دا چې ماته دَ خپلې نوکرۍ په حقله پوره معلومات نه وو اوس هرڅهٔ واضحه شو نوځکه تاسو ته خط ليکم چې تاسو دَ خپلو مصروفياتو نه خبر کړم . ميډم ، ماته دَ الله تعالیٰ په خاص مهربانۍ ، دَمس فلورا په خلوص او همدردۍ اوستاسو په دعاګانو په انټرنيشل هوټل کابل کښې دَ ايم .ډي په حيث هغه نوکرې راکړې شوه چې دَ هغې ما تصور هم نشو کولې .

ميډم ، دَ مس فلورا نوم ستا دَ پاره نوے دے ځکه چې ستاسو ملاقات ورسره نه دے شوے . که ژوند وي نو يو ځل به يې درسره ملاقات اوکړم.

ميډم ، په يو لحاظ زهٔ ډيره خوش قسمته يم چې خُداے ستاغوندي مهربانه مور اودَ مس فلورا غوندې خوږه پښتنه خور راکړه خوبل خوا دومره بدقسمته يم چې خواږه رونړه او خوږې بابې ګانې رانه پاتې شوي. کله کله چې هغوي راياد شي نو ځان له کېنم او په خپل بې خوکه ژوند ښهٔ اوژړام .

ميډم ، که وخت اوحالاتو اجازت درکړو نوزما دَ زړهٔ دَ پاره مونږ کره ورشې. اوزما دَ پاره دَ هغوي نه معافي اوغواړې. ميډم، دَ کالج ټولې استاذاني ، خپلې هم جماعت جينکۍ اودَ هال هغه ستيج م ډېر ډېر ياديږي چرته چې ماکاشان سره دَ لږ وخت دَ پاره ناسته کړې وه . دَ هغه خوږو لمحو دَ خوږو يادونو خوږې وږمې اوس هم راباندې وريږي او



www.pukhto.net



روح م پرې تازه کيږي.

ميډم :. که کاشان دې چرته اوليدو نو زما دَ سلام نه پس دا پېغام ورکړه چې "صبا دَ رونړ سحر په اميد ستا لارې ته ګوري".

ميډم:. ډيره م يادېږې، په زړهٔ م راوريږي خو نه دې ليدې شم او نه ستا ليدو له درتلې شم . خبرې ډيرې دي خو خپلې اوښکې م ليکلو ته نهٔ پريږدي . که ژوند وي نو نورې خبرې به بيا شي . والسلام .

دَ رونړ سحر په طمعه

ستا صبا

Pukhto.Net پښتو

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★

## دویمه برخه

فلورااو صبا په خپل کور کښې په تې .وي لاؤنج کښې ناستې وې او خبرونه یې اوریدل په خبرونو کښې دَ نوې نوې چودنو او په هغې کښې دَ بے گناه ماشومانو، بوډاگانو، پیغلو ناویانو او دَ نورو ښځو دَ قتل او ژوبلې منظرونه پیش کیدل او په هغې تبصرې کیدې د دغه اندوهناك منظرونو ښودنه او په هغې تبصرې لا روانې وې چې دَ فلورا په موبائیل رنگ راغی . هغې یوه شیبه موبائیل ته کتل، بیا یې اوکے کړو او وې وئیل ، "هیلو" سلام علیکم څوك خبرې کوی.

اواز:. تهٔ مس فلورا یې او که بل څوك یې ؟

فلورا :. جي جي، زهٔ مس فلورا خبرې کوم . تاسو څوك یې پلیز.

اواز :. زهٔ هرڅوك چې یم خوتانه یو تپوس کوم چې کومه استخباري اریکه ستا له خوا خپره شوي ده نو تهٔ دَ هغې تصدیق کوې؟

فلورا:. ماچې دَ مظلوم عوام په حقله څهٔ وېلي دي، دَ هغې نه انکار نه کوم . خو تهٔ څوك یې ؟

اواز:. ډېره ښه ده . د دے انجام ته تیاره شه .

فلورا:. هیلو هیلو ...هیلو (اواز بند شي )

صبا هغې ته په یره یره گوري او وائي . "څهٔ اوشو فلورا؟" فلورا یوه شیبه خاموشه وي . بیا هغې ته گوري او وائي، "زما دَ اریکې په وجه ماته دهمکي راکړې شوه ،

صبا(په یره ) اوه مائی گاډ . دا به څهٔ کیږي فلورا؟


www.pukhto.net



فلورا:. Don,t worry . دَ پریشانۍ ضرورت نیشته ...چاچې پیدا کړے یم ، هم هغه به مِ ساتي ، گینې دَ مورپلارلاره راته خلاصه ده.

صبا:. فلورا پلیز. دا دَبدشگونۍ خبرې مهٔ کوه . مونږ له پکار دي چې دَ خپل حفاظت دَ پاره پولیس له اطلاع ورکړو .

فلورا:. نه صبا نه ، دَ چا په څوکۍ چې فرشتې ولاړې وي ، هغوي ته دَ پولیس ضرورت نیشته .

صبا (په حیرانتیا ) دا تهٔ وائې فلورا ، تهٔ واقعي داسې وائې .

فلورا:. زهٔ پوره دعوې سره دا وایم او په دې پوره یقین لرم .

صبا:. دَ پولیس په خبرولو کښې څهٔ قباحت دې. پولیس دَ عوامو دَ تحفظ دَ پاره وي . پولیس له اطلاع ورکول پکار دي او دَ ټول صورتِ حال نه خبرول پکار دي .

فلورا :. Not at all . چرې هم نه . دا دَ بزدلۍ خبرې مهٔ کوه پلیز. دَ چا چې پوره شي نو پولیس څهٔ چې دَ دنیا یو طاقت یې هم نشي بچ کولے او دَ چاچې پوره نه وي نو سر یې دَ کاڼې لاندے کړه نه مري .

البته ماته دَ خپلې دفاع حق حاصل دے او زهٔ به خپله دفاع ترخپله وسه په خپله کوم .

صبا:. مونږ ښځې ذات څهٔ کولې شو ؟

فلورا:. تفصیل کښې به نهٔ ځو خو ښځه چې څهٔ کولې شي هغه سړي نشي کولے . صبا، دَ هغوي کار ماسره دے ، تاسره نه دے. زهٔ دا نه غواړم چې زما په وجه تاته تکلیف در اورسي یازما په وجه خُدا ے

مهٔ که .....سوري . تهٔ آئنده دَ پاره دلته مهٔ راځه بلکه په هوټل کښې پاتې کېږه .

صبا:. نه فلورا نه . داسې نشي کيدے که مرونو دواړه به مرو اوکه پاتې کېږو نو دواړه به پاتې کېږو . زهٔ په دې مشکله کښې تا يواځې نشم پرېښودې . هرڅهٔ چې کېږي او هرڅهٔ چې پېښېږي ،زهٔ به تاسره ځنګ په ځنګ ولاړه يم او ستا برخه ګولو ته به خپله سينه نيسم.

فلورا:. نه صبا نه . زهٔ تاسره دا ظلم نشم کولې . ماته پته ده چې زهٔ مرم نهٔ پاتې کيږم نو په خپلو تېلو کښې تاولي اوسېزم او خپله برخه ګولۍ په تا ولې سړې کړم . زهٔ په يو حالت کښې هم دَ سپرلي دا نازولي غوټې رژېدو ته نهٔ پرېږدم . تل به غوټۍ يې . تل به موسېږې او تل به خنديږې . ما دَ پاره دا ډېره ده چې تهٔ ژوندۍ پاتې شې.

صبا:. فلورا ، تهٔ زما هغه وفا په ازمېښت کښې ولې اچوې ،دَ چا ژوند چې ستا په ژوند او دَ چا ساه چې ستا په ساه ده .

فلورا:. نه صبا نه . زهٔ دانه غواړم چې مونږ دواړه مړې شو او خُدائے مهٔ که که دغسې اوشي نو زمونږ لاشونه به څوك اوچتوي ؟ څوك به يې اوړي او چرته به يې اوړي ؟ چې تهٔ ژوندۍ پاتې شې نو دومره خو به اوشي چې زما لاش به اوچت کړې او دَ خپل مور پلار په خوا کښې به م ښخه کړې (صبا ژاړي ) ”ژاړه مهٔ صبا. په ژړا خلاصېدنه ګرانه ده خوتهٔ ماسره وعده اوکړه چې تهٔ به زما دَ زړهٔ دَ پاره په هوټل کښې پاتې کېږې . البته ماسره په فون يا موبائېل رابطه ساتلې شې.“


www.pukhto.net



صبا:. دَ کومې جُدائۍ چې مونږ تصور هم نشو کولې دَ هغې ابتدا تهٔ په خپله کول غواړې ؟

فلورا:. زهٔ نه نوره ستا ژړا برداشت کولې شم او نهٔ ستا بهانې . زهٔ چې درته څهٔ وايم هغسې به کوې او خامخا به يې کوې . that's all . ما سره وعده اوکړه چې زما دَ زړهٔ دَ پاره به هلته پاتې کېږې.

صبا:. ( په ډکو سترګو ) وعده ده . دَ فلورا او صبا خوږ ، خوشحاله او دَ بې غمۍ ژوند ، معلومه نه ده چې چادَ نظر کړو . هغه خوږې دوستانې چې ټوله شپه به يو بل سره غېږ په غېږ اوخوله په خوله پرتې وې نه صرف تشې غېږې پاتې شوې بلکه يو بل سره يې ليدنه، کتنه هم ګرانه شوه . په موبائېل به خبرې کېدې او نوې تازه خبرې به وېلې کېدې خو دواړه يو بل سره نه ملاويدې اودَ جُدائۍ په اور کښې دواړه سوزېدې .

Pukhto.Net پښتو

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★

## دریمه برخه

فلورا دَ خپلې دفاع دَ پاره یوه خود کاره طماچه پیدا کړې وه هغه به یې په پرس کښې ځان سره هسپتال ته اوړه او چې کورته به راغله نو دَ بالخت لاندې به یې کېښوده . دې نه علاوه نۀ دَ هغې عام معمولاتو کښې څۀ فرق راغلے وو او نه دَ هغې په احساساتو او تاثراتو کښې .البته هغه دَ مخکښې په نسبت الرټ شوې وه . هلته دَ صبا زړۀ په نرو ډکو بانډه وو او دَ یرې ، ترهې چپوسره به لاندې باندې تلو راتلو . هغې به هره شپه او هرسحر هغې سره په فون رابطه ساتله او دَ زړې ، نوې نه به خبریدله . یوه ورځ چې هغې خپل کارختم کړو او خپلې کمرې ته ورتله نو یو ملازم ورله یوه لفافه ورکړه . هغې چې لفافې ته لاندې باندې اوکتل نو هغه دَ میډم ریحانه له خوا یوخط وو . هغه زر زر خپلې کمرې ته لاړه ، په خپل بیډ کښې کېناسته ، په رېګدېدلو لاسونو یې لفافه اوسپړده او خط یې ترېنه را اوویستلو خط داسې وو.

خورې صبا

دَسبا ستورے شې ، ځلنده شې ، بلنده شې

سلامونه :. صبا، عمر دے ډیر دے . ځکه چې ستا خط په داسے وخت کښې را اورسېدو چې مونږ ټولې ملګرې دکالج په سټاف روم کښې موجود وو او ستا او دَ کاشان په حقله مو خبرې کولې . ستا په روغ صحت او ستا په خوشحالۍ مونږ ټول خوشحاله شو او مونږ ټولو ستادَ تحفظ او کامیابۍ دَ پاره اجتماعي دعا اوکړه . دَ خط لوستلو نه پس ، ستا په



www.pukhto.net



فرمائش زۀ هال ته لاړم او ستا په سترګو مِ هغه ځاے ته په ځیر ځیر اوکتل چرته چې تا کاشان سره ناسته کړې وه . خو تانه څۀ پړده ، خپله کتنه مِ برداشت نه کړې شوه او په لوندو سترګو دَ هال نه اووتم .

بله ورځ ستا دَ زړۀ دَ پاره مرجانۍ کلي ته لاړم او په تپوس تپوس ستاسو کور ته ورغلم . ستا دواړه بابي ګانې کوروې ، ماورسره خپله پیژندګلو اوکړه او دَ یاسر دَ پاره دَ رشتې په بهانه مِ ترېنه ستارشته اوغوښتله . ستا دَ نوم په اورېدو سره دواړه په ژړا شوې . ستا مشرې بابي راته په سلګو سلګو کښې اووې چې ، "تانه زاروقربان خو تۀ په داسے وخت کښې راغلې چې نه هغه کورشته اونه زمونږ سرې". زما په دې خبره چې "تاسو خپله صلاح اوکړئ ، زۀ به بیا راشم" ، هغې پوره قیصه شروع کړه او هرڅۀ یې راته اووې. تردې چې ستا دَ ممکنه سرتاج ، نورخان ذکر یې هم اوکړو . زمونږ ترمینځه ډیرې خبرې اوشوې خو خلاصه یې دا ده چې تاته دَ هغوي دَ معافۍ دومره ضرورت نیشته لکه څومره چې هغوي ته ستا دَ معافۍ ضرورت دے . صبا، ستادَ وتو نه پس نورخان ډیرغصه وو. هغۀ چرته ټوپک پیدا کړے وو او په فصل او شاړو ، ویجاړو کښې به یې منډې وهلے ، چغې به یې ویستلے او اوچ په اوچه به یې ډزے کولے . اخر دا چې دا یې مشهوره کړه چې تۀ او کاشان دواړه هغۀ وژلي دي او دَ زمکي تل ته یې ستاسو ټکړې ټکړې لاشونه رسولي دي . دا خبره څۀ موده چلېده او بیا ختمه شوه خو دَ یو خفیه درخواست په وجه دا خبره یعنی

ستاسو دواړو دَ قتل خبره بیا را اووته او په هغې کښې نورخان اونیولي شو. نورخان دَ پولیس په رومبي ډب تسلیم کړه چې تاسو دواړه هغه اور نورعالم وګل عالم په شریکه وژلي یې خو دَ زمکې تل ته دَ رسولو په ځائے یې اووے چې هغه ستاسو لاشونه په سیند کښې لاهو کړي دي . ستا روڼو دَ جرم نه انکار اوکړو خو نورخان دَ هغوي په ناکرده جرم ګواه دے په دې وجه هغوي درے واړه په جېل کښې پراتۀ دي اوستا او دَ کاشان دَ معافۍ او ګواهۍ خواستګار دي.

صبا، چاچې دَ هغوي خلاف دَ ستاسو دَ قتل درخواست ورکړے وو هغه ستا دَ کلاس فېلو انجمن رور تنویر وو. تنویر داکار ځکه اوکړو چې دَ هغه دَ بدکردارۍ په وجه تااوستا روڼو دَ هغۀ رشته نه وه قبوله کړے . د دې واقعې نه څۀ ورځې پس هغۀ دا انکشاف هم اوکړو چې دَ هغۀ خور انجمن دَ الوداعي پارټۍ ریکارډنګ کړې وو او هغۀ دَ انټرنېټ په ذریعه خورکړے دے . دَ کاشان دَ سزا ریکارډنګ هم دَ هغۀ په ذریعه خور شوے دے . هغۀ پسې دَ ټولو تورسرو او سپین سرو خبرې وې خو هغۀ دَ چا دَ خبرو څۀ پروانه کوله . اخر دا چې دَ انټرنېټ په مارکیټ کښې یوه زبردسته چودنه اوشوه او دغه بدکرداره سره شل کسان نور هم لاړل . . .صبا، خط رانه اوږد شو خو داخبرې هم ضروري وې او ستا خبرول هم ضروري وو. مس فلورا او ستانورو سهېلو ته سلامونه او نېکي پیرزونې.

والسلام

ستادعاګو رېحانه .



www.pukhto.net



صبا ته دَ خپلو روڼو په کړاؤ سخته ذهني او قلبي صدمه اورسېده. هغې خپل ځان دَ هغوي دَ تکلیف او دَ خپلو بابي ګانو دَ خفګان مجرم ګڼو. هغې ته دا خدشه وه چې که چرې هغه دَ هغوي په کېس خاموشه پاتې شي نو هغوي ته عمري قید هم ملاوېدېشي او سزاي موت هم . دَ سزاې موت په خیال دَ هغې سترګي ترخي شوي او په زړۀ کښې یې راغله چې هغه کلي ته لاړه شي او پولیس او عدالت کښې بیان ورکړي چې هغه مړه نه بلکه ژوندۍ ده . او کومه مقدمه چې دَ هغې دَ روڼو خلاف جوړه شوې ده هغه دروغ ده خو بیا یې په زړۀ اوخوړه چې په هغوي دَ هغې او دَ کاشان دَ قتل دعویٰ ده او ترڅو چې هغې او کاشان عدالت کښې بیان نه وي ورکړې نو دَ هغوي کېس ختمېدې نشي . اوس خبره دَ هغې نه لاړه کاشان له او هغې دَ کاشان متعلق سوچ کوو چې هغه به چرته وي ؟ کله کله به دَ هغې په زړۀ کښې دا هم راغله چې دَ هغوي دَ ګیرولو دَ پاره ، کېدېشي چې کاشان چا وژلي وي . دے خیال سره دَ هغې ټول بدن اولړځېدو او سر یې دروند شو . دَ هغې په زړۀ کښې راغله چې هغه فلورا ته فون اوکړي ، دغه ټولې خبرې ورته اوکړي او دَ هغې نه څۀ مشوره واخلي خو بیا یې دَ خپل خیال په خپله تردید اوکړو او ځان سره یې اووي چې "آیا دَ هغې خپل غم څۀ کم دے چې دَ پاسه پرې زما غم ورشي". هغې فلورا ته فون اوکړو او دَ معمول مطابق یې ورسره عامې خبرې اوکړي خو دَ روڼو خبره یې ورته اونکړه ځکه چې هغې نه غوښتل چې دَ هغې په پریشانۍ کښې اضافه اوشي . بهرحال هغه په زړۀ کښې پټه پټه ژړېده او کړېده خو دَ خپل خفګان اظهار یې هغې ته اونکړو.

## څلورمه برخه

څهٔ موسم دَ یخنۍ وو او څهٔ دَ پرله پسې دَ څوځو ورځو دَ بادو باران او سیلۍ ، ګلۍ په وجه یخ شوے وو ، موسم دَ نکتهٔ انجماد نه څو څو درجې لاندې شوے وو. دَ یخنۍ دا حال وو چې په بندو کمرو کښې او ګرمو بسترو کښې هم څوك ایسارېدې نشو. هم دغه شان یوه زبونه شپه وه . یو خوا په اسمان کښې دَ تندر ګړزار وو، بل خوا دَ برېښنا پړقار او دَ سیلۍ لېونے رفتار وو . دے ټولو عناصرو په باهمي اشتراك سره یو خوفناك منظر جوړ کړے او خور کړے وو. شپه دَ نیمې نه اوختې وه خو دَ باران او سیلۍ په زوروشور کښې هیڅ کمې نه راتلو . بندي دروازې او بندې کهړکۍ درزېدې او دَ هوا چپې دننه تلې . فلورا دَ یخنۍ په وجه مخ سر په کمبل کښې انغښتې وو او په خپل بېډ کښې سروغوړ پرته وه . چې کله به دَ تندر ګړز اوشو نو هغه به په کمبل کښې دننه اوړچېده او په یره یره به یې دَ کمبل نه سر بهر کړو . دَ بجلۍ په رڼا کښې به یې په ملاستې ملاستې ، دننه بهر اوکتل خو چې دَ سیلۍ چپه به پرې ورغله نو زر به یې مخ سر په کمبل کښې پټ کړو .

هم دغه رنګې یو ځل دَ سیلۍ یوه داسې لیونۍ چپه راغله چې په ګړېېدو ګړېېدو دَ کهړکۍ شیشه په فرش پرېوته او چوري چوري شوه .دَ شېشې دَ ماتېدو اواز چې فلورا واورېدو نو طماچه یې په لاس کښې اونیوه او سر یې دَ کمبل نه بهر کړو خو دَ هوا یوې یخې



www.pukhto.net



چپې سره دَ هغې سر بیا په کمبل کښې ننوتو. دَ هغې سترګې ایله ترخې شوې وې چې دَ چا دَ خپو درب او دَ شیشې دَ ټکړو کړچاريې واورېدو ، هغې ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغې ممکنه خیالي خطره یقیني شوه او په عملي شکل کښې دَ بلاې ناګهانې غوندې په هغې نازله شوه . دې خیال سره دَ یرې یوه سرېکه دَ هغې دَ زړهٔ نه پورته شوه او دَ سر نه واخله تر نوکوپورې دَ خپسې په شکل کښې دَ هغې په بدن خوره شوه . هغې ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغې ټول اعضاء شل شوي وي او دَ حرکت او سکت قابل نه وي . دَ هغې په زړهٔ کښې راغله چې دَ هغې دَ ژوند دَ خاتمې او دَ هاغه انجام وخت راغلې. دَ کومې دهمکي چې هغې ته مخکښې ورکړې شوې وه هغې ته دا یقین اوشو چې هغه په یو صورت کښې هم ژوندۍ نشي پاتې کېدې نو بیا دَ مدافعت او دَ بې ځایه زور آزمائي څهٔ ضرورت دے . که په خپله ګرمه ، نرمه بستره کښې او دَ کمبل په پرده کښې مره شي نو دا به دَ مدافعت دَ مرګ نه بهتروي . دَ هغې په ذهن کښې لا دا خیال ګرځېدو چې دَ هغې په پښتنه وینه کښې دَ پښتو او غیرت ګنګوسه خوره شوه او دَ انتشار اوبغاوت شکل یې اختیار کړو . دغه بغاوت هغه دې ته مجبوره کړه چې هغه لکه دَ یوې نرې پښتنې پېغلې دَ خپل ناموس حفاظت اوکړي ، په مړانه مقابله او کړي او دَ شهادت هغه مقام ته اورسیږي چرته چې دَ هغې ډېرې ګمنامه خویاندې دَ هغې نه مخکښې رسیدلي دي . په دے خیال

هغې خپله طماچه په لاس کښې اونیوه او چې دَ کمبل په رو کښې یې دَ کهړکۍ په لوراوکتل نو واقعي یو مسلح نقاب پوش کهړکۍ سره جخت ولاړ وو . دَ بجلي په رڼا کښې یې دَ کمرې جائزه اخستله او عقابي سترګو یې دَ خپل ښکار په نیت دَ امن کونتره ، فلورا لټوله. هغې ډیر په تونـدۍ سره دَ خپل بېډ نه بربنډې خپې او سرتور سر لاندې ټوپ کړواو طماچه په لاس هغهٔ ته مخامخ خورې زلفې اودرېده . مسلح نقاب پوش او فلورا یو بل ته مخامخ په داسې انداز ولاړوو چې دواړو دَ خپلو وسلو په کوترو ګوتې ایښې وے او دواړه دَ یوبل په نښخه وو. هغوي دَ یو بل په سترګو کښې سترګې ورکړې وے او خاموش ولاړ وو. یو ساعت پس دَ نقاب پوش له خوا یو هیبتناك اواز راغـی ''طماچـه او غورځوه او لاسونه اوچت کړه ''. دا اواز دومره خوفناك وو چې دَ فلورا دَ بدن وینه دَ هغې په رګونو کښې ځاے په ځاے اودرېده خو هغې حوصله او نه بائیلله او هم دَ هغهٔ په لهجه کښې او دَ هغهٔ په انداز یې اووې ، '' ته هرڅوك چې یې خوداسې معلومیږي چې تا خپل بدترین مرګ له په خپله بلنه ورکړے ده . که تـهٔ خپلـه سلامتي غواړے نو وسله لاندې اوغورځوه او په هغه قدمونو ، پل په پل ستون شه په کومو چې تا دلته د راتلو ګستاخي کړے ده . په تلو تلو کښې یاد ساتهٔ چې پل دے غلط نشي ګینې دَ خپل انجام ذمه وار به په خپله یې ''.

نقاب پوش:. تهٔ څوك یې ؟ هسې نه چې دَ بل په تس کښې تهٔ لاړه شې؟


www.pukhto.net



فلورا:. زهٔ هم هاغه یم ، دَ چا دَ قتل دَ پاره چې تهٔ رالیږلي شوے یې.

نقاب پوش:. که تهٔ فلورا یې ، نو زما انعام او خپل انجام ته تیاره شه.

فلورا:. زمونږ دواړو انعام او انجام یو دے . ستا دَ هرې ګولۍ په جواب کښې به زما هره ګولۍ ، ستا په سینه بخۍ په بخۍ لګي او هره ګولۍ به تاته دَ سرو ګلونو تحفه پیش کوي .

نقاب پوش:. داسې معلومیږي چې ته فلورا نهٔ یې .

فلورا:. داسې معلومیږي چې تهٔ په خپلو راتلو پښیمانه یې او دَ واپسې بهانه غواړے .

نقاب پوش:. زه دَ فلمي ډائیلاګ په موډ کښې نه یم . زهٔ مجاهد یم او دَ فلورا قتل پسې راغلے یم ، ستا قتل پسې نه .

فلورا:. زهٔ فلورا یم ، ګولۍ چلوه چې ارمان دے پوره شي .

نقاب پوش:. زهٔ دَ یوې معصومې حسینې او پښتنې پېغلې مرګ پسې نه یم راغلې بلکه دَ امریکنۍ پېغلې فلورا قتل پسې رالیږلے شوے یم . زهٔ درته یو ځل بیا وایم چې تاته هیڅ نه وایم ، زما کارفلورا سره دے او هغه راته اوښایه .

فلورا :. دَ کومې فلورا قتل پسې چې ته راغلے یې ، هغه ستا مخکښې ولاړه ده .

نقاب پوش:. دَ چا دَ بدن نه چې ماله دَ خپلې پښتنې وینې خوشبوئي راځي زهٔ په هغې دَ یو ي غیرمسلمي او غیرملکي پېغلې یقین څنګه اوکړم ؟ . داسې معلومیږي چې زما مشن ناکام شو، هغه په

مـزه مـزه روسـتـو روسـتـو ځي او ورلـه ځان رسوي . په يو لاس كلاشن نيسي او پـه بـل لاس دَ وربـولـټ لـرے كوي ، " خفه نشي . كه زما په وجه تاته ذهني تكليف درسيدلې وي نو دَ هغې درنه بخنه غواړم . زۀ درنـه ځـم خـو پـه تلو تلو كښې راته رشتيا اووايه چې ستا خپل نوم څۀ دے "؟

فلورا:. دا ستا حكم دے او كه خواست دے ؟

نقاب پوش:. دا زما خواست دے . خوانكار به راته نۀ كوي .

فلورا :. زما خپل نوم معجزه دے .

د دے نـوم پـه اوريـدو سـره كـلاشـن كـوف دَ هـغـۀ دَ لاس نـه اوخـوېـږي او لاندې په زمكه پرېوځي خو دَ هغۀ سترګې لا هغسې په هغې لـګيـدلـي وي . هغه ډېر شيبه خاموش ولاړ وي او لكه دَ بت په چپـه خـولـه هـغـې ته په غټو غټو ګوري. هغه په يولوي سوچ او فكر كښې تلے وي او دَ ځان او كـلاشـن كـوف ورسره هېڅ څۀ فكر نه وي. هغـه لا پـه خپلو خيالونو كښې ډوب وي چې فلورا په دهمكي آميز لهـجـه كښي اووائي ، "اوس كـه دا غبـرګې ګـولـۍ ستا په سينه كښې سرې كړم نو بيا " ؟

نقاب پوش:. چې دَ خپلې خور په ګولۍ مړشم نو مړ نه يم .

فـلـورا چې دا غير متوقع انكشاف ووري نو حيرانه شي خو دَ هغـې حيـرانتيـا هـغه وخت ختمه شي چې هغه دَ مخ نه نقاب لرے كړي او خوره غيږ هغې له ورروان شي . فلورا چې هغۀ ته په ځير ځير



www.pukhto.net



اوګوري نـو پـه چـغـه وائي ، "زما روره ، زما رياض خانه روره " هغوي دواړه يو بل ته ورترغاړوځي او دواړه په چغو چغو ژاړي . چې دَ هغوي غـاړه ختـمـه شي نـو بيـا يې ځان سره په بېډ كښې كېنوي. دَ هغۀ سر خپـلـي سيـنـي پـورې اونيسي اولكه دَ ليونو دَ هغۀ مخ ، سر او لاسونه ښـكلوي . دَفـلـورا دَ ميـنـې اوښـكـلـولو تنده لاماته نۀ وه چې يو خوا دَ سحر خواږۀ اذانونه په فضا كښې اوكړنګېدل ، بل خوا دَ بادو باران زور ختـم شواو قلاره قلاري شـوه .فـلـورا كاشان ته په مينه اوكتل او وې وئيـل ، " ريـاضـه زمـونږ ناشتـه كښـې لاوخت شتـه خـو داسې معـلـوميـږي چې تۀ اوږے يې . زه ورځم چې تاله ناشته تياره كړم " كـاشـان هـغـې تـه پـه مُسـكـا اوكتل لكه چې هغې دَ هغۀ دَ زړۀ خبره اوكـړه او ورتـه يـې اووے ، "هاؤ آپا، ستـاخبـره بـالـكل صحي ده . زۀ پرونې اوږے يم ".

فلورا:. o.k ، تـۀ زمـا دَراتـلـو پـورې زما په بېډ كښې ډډه شه او كمبل كښې ځان پټ كړه ، زۀ درنه ځم او په پنځه منټه كښې دننه دننه راځم، هـغـه ډېر په توندۍ سره دَ كمرې نه اووته او كچن ته ورغله . دَ هغې دَ تـلـو نه پس ، دَ هغې دَ وينا مطابق هغه دَ هغې په بېډ كښې سملاستو دَ هـغـۀ سترګې ايله لګېدلې وي چې فلورا ناشته راؤړه او هغۀ ته يې پـه مـېـز كـېښـوده . هـغـه چې دَ هـغې دَ راتلو په ښكالو پوهـ شو نو پـاسيـدو ، پـه واش روم كښـې يـې مـخ لاس اووينځل ، ناشتې تـه كېناستو او فلورا ته يې اووے ، "راځه آپا ماسره ناشته اوكړه ".

فلورا:. نه روره زما ناشته کښې لا ډېروخت دے . ته ځان موړ کړه چې بیالږ ارام اوکړے ، هغه دَ هغهٔ دَ جواب انتظار اونکړي او دَ سحر دَ نمانځهٔ تیارې شروع کړې . چې هغه دَ نمانځه تیارې اوکړې نو هغهٔ ناشته هم کړے وې . فلورا هغه ته وائي ، "راځه روره چې تا خپلې کمرې ته اورسوم او لږ ارام اوکړے ، توله شپه دے خوړلے ده ستړے هم یې او بې ارامه هم یې ". فلورا هغه دَ لاس نه نیسي او لاس نیولې یې یوې کمرې ته بوځي او ورته وائی ، "ریاضه، ښه بې غمه سمله ، اودهٔ شه ، نورې خبرې به بیا کوو انشاء الله ". فلورا ترهغې هغهٔ ته ولاړه وي چې هغه په بېډ کښې سملاستو اوکمبل یې په ځان خوره کړه . دې نه پس هغه خپلې کمرې ته لاړه ، مُصلَه یې راواخسته او تر اشراق پورې یې نمونځونه ، ذکرونه او تسبیحات کول .دَ اشراق دَ نمانځه نه پس یې دَ شکرانې نمونځ اوکړو او بیا خپل بېډ له راغله . هغه چې بیډ کښې ډېره شوه نو دَ هغې په موبائېل رنګ راغی . هغې چې دَ موبائیل نمبر ته اوکتل نو مسکۍ شوه او وې وئیل ، "هېلو صبا څنګه یې "؟

صبا:. زهٔ ښهٔ یم فلورا ، خپل حال وایه ، څنګه یې ؟ شپه څنګه تېره شوه ؟ څهٔ زړه ، نوې خو نیشته ؟

فلورا:. نوې تازه داده چې یوخوا ښکانی شپه زبونه وه ، بل خوا زما دَ قتل دَ پاره یو نقاب پوش راغلے وو.

صبا(په یره ) نقا.....نقاب ....پوش ؟ اوه مائي ګاډ . ښهٔ څهٔ اوشو زر



www.pukhto.net



وایه ؟ تهٔ کورېې او که هسپتال کښې ؟ تهٔ ...تهٔ څنګه یې ...فلو... فلورا ؟

فلورا :. Don't worry . زهٔ بالکل ښهٔ یم ، صحي سلامته یم او په خپله کمره او خپله بستره کښې پرته یم . صبا که ستایاد شي نو ماتا ته وېلې وو چې دَ چا په څوکۍ چې فرشتې ولاړې وي ، هغوي ته دَ پولیس ضرورت نیشته .

صبا:. هاؤ تا وېلې وو خو اوس څهٔ اوشو ؟ هغه نقاب پوش واپس لاړو؟

فلورا:. نه صبا نه . کوم نقاب پوش چې زماقتل پسې راغلے وو، هغه زما دَ نوم په اورېدو دومره اوېرېدو چې کلاشن کوف یې دَ لاس نه اوخوېدو او لاندې په زمکه پرېوتو. بیام دَ لاس نه اونیوو او کمره کښې م بند کړو.

صبا:. Come on Flora . دا وخت دَ مذاق نه دے پلیز . زهٔ سیریس یمه .

فلورا :. زهٔ هم دَ مذاق په موډ کښې نه یم صبا. هغه م په کمره کښې بند کړې دې او لاتراوسه بند دے که ستا زما په خوله باور نه کېږي نو راشه په خپله یې اوګوره .

صبا:. فارګاډ سېك فلورا. دا څنګه ممکن ده چې ستاقتل پسې راغلے سړے ستا دَ نوم په اورېدو دومره اوېرېدو چې وسله یې دَ لاس نه لاندې پرېوته او بیا تا دَ لاس نه اونیوو او په کمره کښې دې بند کړو. دا زهٔ څنګه اومنم .

فلورا:. دا واقعي دَ منلو خبره نه ده خو داسې شوي دي ځکه چې دغه نقاب پوش زما خپل رور ریاض وو.

صبا (په چغه) ريېلي ؟ امېزنگ. بنۀ فلورا . نورې خبرې به بياکوو اوس زۀ دَ شكرانې نمونځ كول غواړم او دَ هغه ليدو له او ناشتې له به دغلته درځم .

فلورا: . ناشتې له نه بلكه پوره راشه ځان سره خپل سامان راوړه .

صبا: . سامان سره به بيا گورو اوس دَ هغۀ او ستا ليدو له درځم ، "دې سره موبائېل بند شي ".

فلورا په خپل بيډ كښې پرته وه او دَ بېگانۍ شپې په واقعاتو يې سوچ كوو. هغه ډېره خوشحاله وه چې الله تعالىٰ په هغې خپله خصوصي مهرباني اوكړه . يوخوا دَ هغې جاني خطره ختمه شوه ، بل خوا دَ هغې دَ كالونو ورك رور پيدا شو . هغې بار بار دَ الله تعالىٰ شكر ويستلو او په خپله بستره كښې يې تسبيحات كول. هغه لا په تسبيحات كښې مصروفه وه چې صبا په خندا خندا كمرې ته راغله. فلورا چې دَ هغې په راتلو پوهـ شوه نو ورپاسېده او هغې ته ورترغاړه وته . هغوي لا يوبل سره غاړه وې چې شربت گله راغله او فلورا ته يې اووې ، "بي بي ناشته تياره ده ".

فلورا: . چې ناشته تياره ده نو مونږ هم تيارېو. ته ناشته كېږده مونږ درغلو . دَ هغې دَ تلو نه پس صبا فلورا ته اووې ، "فلورا ستا رور څۀ شو. زۀ هغه ليدل غواړم ".

فلورا (مسكې شي) اوس نه چې ناشته اوكړو نو بيا به دې ورله بوځم . اوس راځه چې ناشته اوكړو " فلورا او صبا دواړه په خندا ناشتې له روانې شوې



www.pukhto.net



چې دَ ناشتې مېز ته كېناستل نو دَ صبا په تپوس هغې، هغې ته دَ بېگانۍ شپې قيصه شروع كړه . او ټوله واقعه يې ورته ټكې په ټكې ووروله . دَ ناشتې نه پس هغوي دَ رياض كمرې ته ورغلې هغه په درونډ خوب اودۀ وو، صبا چې هغه ته په ځير ځير اوكتل نو مسكې شوه او هغې ته يې په گنگوسي كښې اووې "ستا رور خائسته ځوان دے ، ماشاء الله ، دَ هغې په خبره فلورا دَ خپل ردِ عمل اظهار اونكړو . هغه يې دَ لاس نه اونيوه او ځان سره يې دَ كمرې نه بهراوويستله . چې خپلې كمرې ته ورغلې نو فلورا هغې ته اووې، "صبا دا زما هغه رور دے چې ما دۀ په غير موجودگۍ كښې تاته د دۀ شفارس كړې وو. چونكه دے تا په خپله ليدلې نه وو نو ما په خپله خبره زور وانه چوو ، اوس تا په خپله اوليدو. . . اوس دې څۀ خيال دے"؟

صبا(مسكې شي) "ښكلے ، خائسته ځوان دے ، ماشاء الله ".

فلورا: . زۀ تا نه دَ هغۀ دَ ځوانۍ ستاينه نه غواړم بلكه دَ هغه رشته غواړم.

صبا (په سنجيدگي سره ) فلورا ، مائى ډير فلورا . زۀ دَ چا امانت يم . دَ هغۀ نه بغېر زۀ دَ بل چا په باره كښې دا سوچ هم نشم كولې . فلورا پليز ، زما په انكار به خفه كېږې نه ، زۀ دَ چانه مجبوره يم ".

فلورا :. اوه نو، نو ، وادۀ دَ خوښخې څيز دے صبا او هر چاته د خپلې خوښخې ناخوښخې حق حاصل دے . په دېكښې جبرنشي كېدے.

صبا: . زما په انكار خو خفه نشوي فلورا ؟

فلورا: . نه ، صبا نه ، چرې هم نه . زۀ ستا دَ خواهشاتو قاتله جوړېدې نشم تاته دَ خپلې خوښخې ناخوښخې پوره حق حاصل دے . . . بنۀ

ځه تیارې کوه چې خپلې خپلې ډیوټۍ له ځو .

صبا:. دَ فلورا روررياض په ړومبي نظر پېژندلې وو چې هغه دَ هغې دَ خوبونو شهزاده کاشان دے خو هغې خپل جذبات قابو کړل او فلورا یې په ځان پوهـ نـکړه ، هغه ډیوټۍ له لاړه خو دَ ډېرې خوشحالۍ نه یې هلتـه زړهٔ نـه لګـېدو . هغـې غـوښتـل چې هغـه خپلـه ډیوټي لږه مـخـکښـې ختـمـه کـړي او دَ فلورا دَ راتلو نه مخکښې مخکښې هغهٔ سره ځان لـه پـه ځان له لیدل کتل اوکړي او دَ هغهٔ په لیدو دَ مودو مودو تـنـده مـاتـه کـړي . هم دغسې اوشوه . هغه کورته په نوې عزم ، اراده او امیـدونـو پـه دې نیت راغله چې دَ یو بل ته دَ دې دومره لوې جُدائي او دَ زمـانـې دَ سـتـم کارۍ قیصې اوکړي . هـغـې پـه زړهٔ کښې ډېرې خبرې غـوټه کړې وې او دغه ټولې یې هغهٔ ته کول غوښتل . هغه چې خپلې کـمـرې تـه ورغـلـه نو نېغه ډرسنګ روم ته لاړه .هلته یې یوه ښه اعلیٰ جـوړه واغـوسـتـه او خـپـلـه سرځنه یې اوکړه . دې نه پس هغه په مُسکا مُسـکـا دَ هـغـهٔ کـمـرې تـه غـلـې غلې ورغله خو چې دَ هغهٔ بیډ ته یې اوکتل نو هغه تش پروت وو . هغې ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغې دَ بدن نه روح اوتے وي . هغه ډېره په مایوسۍ سره دَ هغهٔ دَ کمرې نـه اووتـه او په یوه یوه یې نورې کمرې هم اوکتلې خو چې هغه یې اونه لیـدو نـو ډېـره پـه مـایـوسـۍ سره خپلې کمرې ته واپس شوه او په خپله کـمـره کښـې خفه کیناسته . دَ هغې په زړهٔ کښې ډېر خیالونه راغلل او ټول دَ شك وشبهې او وسـوسې نه ډك وو . هغې له په خپل ځان غصه



www.pukhto.net



ورتـلـه چې هـغـه نن ډیوټۍ له ولې تله او که هغه ډیوټۍ له نه وې تلې نـو هـغـه بـه هم نه وو تلے . دَ هغې په زړهٔ کښې دا خیال هم راغۍ چې کـېـدېشي هغه دَ فلورا نه هم بې تپوسه تلے وي. هغې سر زوړند کړې وو او پـه دغـه سـوچـونـو کښـې ډوبـه وه چې فـلـورا او کاشان کمرې ته راغـلـل.داسې معلومېده چې فلورا هغه دَ شاپنګ دَ پاره بازار ته بوتلے وو ځـکه چې هغو ي ځان سره ډېره سـودا راوړه چې په هغې کښې دَ هـغـه جـامـه پیـزار هـم شـامـل وو. دَ هـغـهٔ په لیدو باندې دَصبا په مخ دَ سپـرلـي مُسـکـا خوره شوه او دَ هغهٔ سلام دَ پاره پاسیده . فلورا هغې ته په مُسکا اووې ، "صبا، دا زما رور ریاض دے " صبا ورمخکښې شوه په تندي یې دَ سلام لاس کېښودو او وې وئیل "سلام علیکم جي ".

کاشان چې هغـې تـه اوکتـل نـو دَ "وعلیکم سلام " سره یې اووے ،'څوك ...؟ صبا تهٔ ؟ تهٔ دلته څهٔ بلا راؤړې ". هغه مسکۍ شوه او په مُسکا کښې یې ورته اووې ، "کاشانه کومې بلا چې تهٔ راؤړے ، هغې زهٔ هم راؤړم ".

فلورا (په حیرانتیا ) تاسو دواړه یو بل پیژنۍ ؟

صبا:. هاؤ فلورا ، چاته چې تهٔ ریاض وائې ، هغهٔ ته زهٔ کاشان وایم .

فـلـورا :. تیـنـګ ګـاډ . دا خـو زمـا دَ زړه کـار اوشو . زما یوه لویه مسله ختمه شوه .

کاشان:. آپا ، دا هغه جینۍ ده چې د دې دَ لاسه په مادَ لوبو لوبې اوشوې .

صبـا:. فلورا ، دا هغه هلك دے چې دَ دهٔ دَ لاسه زهٔ او زما ټوله کورنۍ په شرمونو او شرمېده او لا تراوسه شرمیږي.

کاشان :. افسوس دا دے چې بېګاه نه وې ګینې ځان به مې درنه خلاص کړے وو.

صبا:. شکر اوباسه چې زۀ نه ووم . فلورا خو لاس نیولے په کمره کښې بند کړے اومابه لاس نیولے په تانه کښې بند کړے وے ؟

دَ هغې په خبره فلورا هم خاندي او کاشان هم . په خندا خندا کښې فلورا هغې ته وائی ، " صبا، ماتانه یوسوال کړې وو"؟

صبا:. او ما جواب درکړې وو چې زۀ دَ چا امانت یم .

فلورا:. دَ هغۀ نوم څۀ دے ؟

صبا:. سوري فلورا (خاندي)

دې نه پس هغوي دواړه یو بل ته دَ خپلو خپلو پېښنو اوکړاؤ ذکر کوي او فلورا په مینه مینه دَ هغوي دَ مهماتو انکشافات اوري. دَ هغوي دغه خوږې ، ترخې او ګېلې مانې دَ ماسخوتن ډوډۍ پورې روانې وي دَ ډوډۍ نه پس صبا فلورا ته اووې ، "فلورا ماله اجازت راکړه، زۀ درنه ځم ".

فلورا :. چرته ځې ، اوس خو یره ختمه شوه هیڅ نیشته .

صبا(خاندي ) نه فلورا نه ، زۀ درنه خپل هوټل ته ځم. زما د دۀ نه یره کیږي . فلورا او کاشان څۀ ویل غواړي خو هغه دَ هغوي دَ جواب انتظار اونکړې او په خندا خندا ترینه روانېږي.

★★★★

★



www.pukhto.net



## لسم باب

فلورا دَ کاشان دَ موندلو خبر مائېکل کهور او اېډنیه له ورکړې وو، هغوي اګر چه دَ فلورا په دے انکشاف خوشحاله شو خو پوره یقین یې هله اوشو چې هغۀ سره یې په خپله خبرې اوکړے او دَ هغۀ نه یې دَ هغۀ دَ ماشوموالي دَ وخت مختلف تپوسونه اوکړل. دې نه پس دَ هغۀ دَ لیدو دَ پاره هغوي افغانستان ته دَ تلو تیارې شروع کړو. دلته فلورا دَ کاشان او صبا دَ وادۀ په تیارۍ کښې اخته وه هغې غوښتل چې دَ هغوي په وادۀ هغۀ دَ خپل زړۀ ارمان اورژوي . هلته صبا درې ورځې پرله پسې په هوټل کښې وه . په دې درې ورځو کښې یې نه فلورا سره ملاقات اوشو او نه کاشان سره ، البته فلورا سره به یې په موبائېل خبرې کولې خو کاشان سره یې خبرې نه وې شوې . په څلورمه ورځ کاشان دَ هغې لیدو دَ پاره انټرنېشنل هوټل او دَ هغې دفتر ته په داسې وخت کښې ورغې، چې هغې خپله ډیوټۍ ختمه کړې وه او په خپله کمره کښې وه . دَ هغۀ په تپوس باندې یو ملازم هغه دَ هغې کمرې ته بوتلو . هغه دَ هغې کمرې ته اودرېدو او په ور یې ناکنګ اوکړو . دَ ناکنګ سره اواز راغې، yes دے اواز سره هغه دننه ورغې . صبا چې هغه اولیدو نو مسکۍ شوه ، دَ هغۀ په احترام کښې پاسېده او هغۀ ته یې سلام اوکړو . هغۀ دَ هغې سلام په مُسکا واخستو او ورته یې اووے ، "صبا، څنګه یې "؟

صبا:. زۀ ښۀ یم کاشانه خپل حال وایه ، چرته وے ؟ څۀ دے کول؟ او لار دے څنګه غلطه کړه .

کاشان (مسکے شي) د دے ټولو سوالونوجوابونه په ولاړه ولاړه درکړم او که په ناسته ؟

صبا:. اوه ، سوري کاشان ، راځه ماسره په بېړۍ کښې کېنه .

کاشان :. نه صبا تاسره نه کېنم ، بلکه تاته مخامخ کېنم چې ستا دَ حسن دَ سپرلي ننداره اوکړم .

صبا:. اوه ، دومره روماني خیالات ؟ شاعر خو نه یې ؟

کاشان :. ډېر کوشش مې اوکړو خو شاعر نه شوم البته مصوّر شوم په خپل تصوّر کښې مې ستا بلها تصویرونه جوړ کړي دي او دَ زړۀ په البم کښې مې ځائے کړي دي .

صبا:. دغسې تصویرونه ما هم ډېر جوړ کړي وو خو چې تۀ راغلے نو هغه ټول لاړل ختم شو . . .اوه ، ماخودرنه دَ فلورا تپوس اونکړو هغه څنګه ده ؟ په فون ورسره خبرې کیږي خو چې کله نه دلته راغلې یم نو بیا مې نه ده لیدلې . ډېره مې یادیږي .

کاشان :. دَ هغې هم ډېره یادېږي. ټوله شپه لګیاوي ستاخبرې کوي دَ هغې دَ لیدو کوشش مه کوه صبا . هغه ډېره مصروفه ده .

صبا:. هاو کاشانه دَ هغې مصروفیات واقعي ډېردي . دَ هسپتال ټوله ذمه واري . دَ هغې په سر ده . ډاکټران ، نرسیان ، اردلیان، څوکیداران، سویپران ، لېبارټریانې ،صفایاني ، بجلي ، دوائي او په سؤنو نورې لوې



www.pukhto.net



ورې مسلې داسې دي چې هغۀ یې انتهائي مصروفه کړې ده. هغې له پکاردي چې خپل مصروفیات چاسره شیر (Share)کړي او دَ سکون ساه واخلي . خیر ستا راتلو سره کېدېشي دَ هغې بوجهـ کم شي .

کاشان :.نه صبا نه . زما راتلو سره دَ هغې په بوجهـ کښې نوره هم اضافه اوشوه دَ خپلې ډیوټۍ نه علاوه هغې ځان له نور مصروفیات هم پیدا کړې دي .

صبا:. نورڅۀ مصروفیات ؟ زۀ پو هـ نشوم.

کاشان :. تۀ به هله پو هـ شي چې هغه تا پسې نېټې له راشي.

صبا(په حیرانتیا ) نېټې له ؟ دَ څۀ نېټې له ؟

کاشان :. زمونږ یعني ستا او زما دَ وادۀ نېټې له .

صبا:. واه بهـئي واه . زما نه دَ خوښئې ناخوښئې تپوس نیشته او تاسو رور خور صلاح کړې ده . داسې چرې هم نشي کېدي. زۀ دې رشتې ته بالکل تیاره نۀ یم او دې نه ساپټ انکار کوم.

کاشان :. وېرې ګډ. ایله دې زما دَ زړۀ خبره اوکړه . زۀ ستا دَ خیال نه صرف تائید کوم بلکه ستا دَ جرأت او فېصلې ستاینه کوم. زۀ تاسره متفق یم . دا کوم ظلم چې مونږ سره کیږي داسې هډو چاسره شوے نه دے . دا زمونږ دَ آزادۍ خلاف سازش دے . خپې تینګي کړه زۀ تاسره ولاړ یم . زۀ هم لکه ستا دې رشتې ته تیار نه یم .

صبا:. څۀ ، څۀ ، څۀ دے اووے ، تۀ دې رشتې ته تیار نه یې، (هغه پاسي او هغه دَ غوږونو نه نیسي )”تۀ دې رشتې ته تیار نه یې؟ زۀ به درنه غوږونه

بوټ اوباسم . بیا به داسې وائے ؟ توبه اوباسه نو هله به دې پرېږدم.
کاشان :.زۀ دې رشتې ته بالکل . . .تیار. . .یم. په دے کارِخېر کښې تاخیر نه دے پکار بلکه چې نن کیدېشي نو چې سبا ته پاتې نشي. دې سره صبا مسکې شي ، دَ هغۀ غوږونه پرېږدي او هغۀ ته وائي، "کاشانه ، تانه ډېره ګیله منه یم ".
کاشان :. ګیله دَ څۀ خبرې صبا ؟
صبا:. هغه دَ چا خبره چې ۔ غم دے دَ تانه وفادار دے

ته کله کله غم دے تل راسره وینه

کاشانه چې تۀ نه وے نو زۀ به هره شپه ستا دَ مخ په تصور اودۀ کیدم او هر سحر به ستا په نوم او یادونو پاسیدم. ستا دَراتلو نن څلورمه ورځ ده . په دې څلور ورځو کښې زمونږ صرف یو ملاقات شوے دے او دا یې دوېم دے . کاشانه زما په زړۀ ډېرې خبرې وې او هغه ټولې ماتاته کول غوښتل خو چې تۀ رانغلې نو هغه ټولې زما په زړه پاتې شوې"
کاشان :. صبا کومه ګیله چې تااوکړه نو دغه زماپه زړۀ کښې هم وه او اوس هم ده . زما دَ راتلو په وجه تا کور پرېښودو او په هوټل کښې ډهېره شوې . ماوې چې مونږ دواړه به ځان له کینو دَ یو بل په سترګو کښې به دَ مودو ورك خپلو تصویرونو ته هم ګورو او یو بل ته به دَ زړه حالونه هم وایو خو تا زما دَ مینې هډو څۀ پروا اونکړه ، خپل پرس دې ځنګ ته واچوو او روانه شوې او په تلو تلو کښې دې دا هم اووې چې ستا زمانه یره کېږي . ستا په تلو باندې زما دَ مینې په جذبو یخې اوبۀ تُوې شوې


www.pukhto.net



او زما جذبې سړې شوې . خو زړۀ داسې لیونې شې دے چې د چا هم نه منې او هغه کوې څۀ چې د دۀ خوښ وي نو مجبورًا راغلم .
صبا:. کاشانه ، دا خبره اګرچه ما په توقه کښې کړې وه خو په توقه توقه کښې رشتیا هم ده . کاشانه مینه یوه لیونۍ جذبه وي او بعضې وخت کښې دا لیونۍ جذبه دومره غالبه شي چې په رڼا ورځ او په غټو سترګو ورته دَ چا دَ موجودګۍ احساس نۀ کیږي. بلکه بعضې وخت کښې خو جذبات دومره مشتعل شي چې دَ بې حیائي حدونه عبور کړي . . .زمونږ مینه هم دَ دوو اوږو ، تږو جل وهلے مسافرو مینه ده . . .دَ ستانه هم زما دغه یره کیده او دَ خپله ځانه م هم یره کیده . که ستا نه یازمانه په ناپوهۍ کښې دَ فلورا په موجودګۍ کښې څۀ داسے حرکت شوے وے نو دَ هغې په زړۀ به څۀ تېرېدل او دَ هغې په زړۀ کښې به زمونږ څۀ حېثیت پاتې شوې وو؟ هغه نه صرف زما مشره خور ده بلکه ما دَ پاره دَ نېکۍ فرشته ده او ماله دَ هغې دَ سترګو نه حیا راځي . دا خبره ده کاشانه . اوس تۀ په خپله انصاف اوکړه چې آیا زما دا اقدام صحي دے که غلط ؟
کاشان :. سورې صبا، زۀ ستا عظمت ته سلام کوم او خپله خبره واپس اخلم . ښه تاخبره کوله چې ستا په زړۀ ډېرې خبرې دي خو دَ ویلو موقع درته ملاؤ نشوه .
صبا یوه لویه ساه اخلي او وائي، "کاشانه ډېرې خبرې دي . دَ مودو مودو پېښې او واردات دي . زۀ به درته کومه کومه خبره کومه او تۀ به

کومه کومه اوړے . کاشانه مونږ دواړه په خپله مينه اوشرمېدو خو ماته دَ خپل ځان نه زيات ستا دَ کړاؤ احساس دے . زما په وجه تاسره زياتې اوشو اوزۀ ستا دَ سزا او شرمندګۍ مجرمه يم.

کاشان :. نه صبا .داسې نه ده . کړېدل ، تکېدل ، شرمېدل او ژړېدل دَ مينې ميوه ده په کومه مينه کښې چې دا څيزونه نه وي نو هغه اکثر شنډې او ناپائېداره وي ، بلکه بعضې وخت کښې ازغينه شي. صبا، زۀ دَ خلقو په نظر کښې ډمکوچے ووم او تا زۀ هم په دغه حېثيت کښې قبول کړم . اګر چۀ دَ دې مينې انجام انتهائي دردناك ووخو دَ دې انعام ډېر تابناك دے . دَ ټولو نه لويه خبره دا ده چې زمونږ مينه دَ ظلمونو په اَتشينه بهټۍ کښې دَ څو څو ازمېښتونو تېره شوه او دومره پخه شوه چې کُندن شوه . هغه کُندن چې هغې ته دَ هرچا سترګي برېښي. بله دا چي که مونږ دغه ترسکې نه وې تېرې کړے نو مونږ به دے موجوده مقام ته نه وو رسيدلے . دا دَ دې پاکې مينې برکت دے چې ماته خپله خور ملاؤ شوه . دا د دي پاکې مينې برکت دے چې ماته تۀ او تاته زۀ ملاؤ شوم. صبا، کله کله زۀ په زړۀ کښې ويم چې آيا زۀ دومره خوش قسمته جوړېديشم او ستا دَ مينې جوګه کېديشم ؟ . . .تۀ زما غېږې ته او زۀ ستا غېږې ته در رسېدېشم ؟ صبا، کله کله چې دَ يو انسان په زړۀ کښې دَ يو ارمان غوښتنه دَ حد نه زياته شي نو په زړۀ کښې شکوك وشبهات او وسوسې پېدا شي. دَ to be اوto be not اندېښنې پېدا شي.دَ هغۀ دَ ارمان پوره کېدو اګر



www.pukhto.net



چه واضحه امکانات موجود وي خو هغۀ ته د دغه ارمان دومره شديد احساس وي چې ښکاره ممکنات ورته ناممکنات ښکاري . صبا دا احساس ماته هم کيږي چې آيا زۀ به ستا دَ مينې دغه ارفع مقام ته اورسم‘‘؟ دې سره هغه پاسي ، هغې سره په ببڼه کښې کيني او وائي، ’’صبا، ستا خوله دَ ابِ حيات سپينه چينه ده او زۀ جل وهلے مسافر د دې چينې خوا کښې ناست يم . ستا شونډې دَ سور ګلاب ، نازکې، سرې پاڼې د ي . ستا مخ دَ اومو پيو پېروے دے ستا سرۀ اننګي دَ شاتو ګبينګي دي . ستا غزالۍ سترګې دَ تصويرونو آئيني دي، ستا سُنبلي زلفې دَ زړونو ټالونه او جالونه دي ، ستا مرمري بدن تاج محل او ستا صراحي غاړه دَ تاج محل مناره ده . . .صبا ستا دَ آب حيات په چينه تنده ماتولے شم ؟ ستا نازکې شونډې خپلو شونډو کښې زبېزلے شم ؟ ستا پېروے مخ څټلے شم ؟ ستا دَ اننګو خواږۀ څکلے شم ؟ ستا دَ توو زلفو جال په ځان خوړولے شم ؟ ستا دَ صراحي غاړې نه لېچې تاووهلے شم ؟ ستا تاج محل بدن خپل زړۀ پورې نيولے شم؟

صبا دَ هغۀ په غېږ کښې مدهوشه پرته وه او هغه له يې لا څۀ جواب نه وو ورکړې چې دَ هغې په موبائېل رنګ راغۍ . موبائېل ګړنګېدو ، کړنګېدو چي اخر په خپله بند شو . هغه لا هغسې په خپلو خيالونو کښې ډوبه وه چې بيارنګ راغۍ . هغې دَ مينې په خمار کښې موبائېل اوچت کړو دَ هغۀ په غېږ کښې يې بياسر کېښودو او وې وئيل ، ’’هيلو ، څوك‘‘؟

اواز:. صبا، زۀ رېحانه خبرې کوم .
صبا:. سلام علېکم ، مېډم . څنګه يې مېډم ؟
مېډم رېحانه :. زۀ ښۀ يم صبا خوتاله مې زحمت په دې درکړو چې په درېمه ورځ په ډسټرکټ سېشن کورټ کښې ستا دَ رونړو اخري پېشي ده . صبا ، ستا رونړه او اورنداري ډېرې پرېشانه دي . ستا مشره بابي جان پرې ، ماپسې راغلې وه ، په سرو سترګو يې ژړل او په ژړا کښې يې راته ټوله قيصه اوکړه . اوس وخت دے ګېنې بيا به لاسونه مرورې خو وخت به تېروي . تۀ دَ هغوي پېشۍ ته راشه او په عدالت کښې خپل بيان ورکړه او که تۀ داسې اونکړې نوجان پرې ته به مې ملامت کړې ځکه چې ما هغې له پوره يقين ورکړې دې چې هغه به خامخا راځي. صبا، که تۀ رانشې نو دَ هغوي سزاې موت يقيني دے . دَ هغوي په ځاے درته زۀ منت کوم چې خامخا راشه ، (دَ صبا سترګې دَ اوښکو نه ډکې شي او هغه په ډېر اواز کښې وائي ، "مېډم ، زۀ به پېشۍ له خامخا درځم او کاشان به هم ځان سره درولم ".
مېډم رېحانه :. کاشان راغلے دے ؟
صبا:. هاؤ مېډم . هغه راغلے دے او ما سره ناست دے . تاسو زما اورندارو له خبر ورکړۍ پليز چې مونږ دواړه به دَ پېشۍ په ورځ عدالت ته ورځو او خپل بيان به ورکوو.
مېډم رېحانه :. صبا، ستا ډېره ډېره مننه چې تا زما خبره اومنله. نورې خبرې به بياکوو، زۀ دا دے اوس هغوي له خبر ورکوم چې خوشحاله





شي . او. کے . سلام عليکم .
صبا:. وعليکم سلام ، صبا چې موبائېل بند کړي نو کاشان ته په ډکو سترګو ګوري . هغه ترېنه په يره يره تپوس کوي ، دا څۀ وو او څۀ اوشو چې تۀ دومره پرېشانه شوې ، صبا دَ هغۀ دَ غېږ نه سراوچت کړي او په چغو چغو په ژړا شي . هغه څۀ وېل غواړي خو دَ سلګو او اوښکو په بادوباران کښې هيڅ نشي وېلې ،کاشان دَ هغې اوښکې هم اوچوي او دَ هغې نه بار بار تپوس هم کوي . په دېکښې دَ کمرې په ورناکنګ اوشي ، کاشان په زړۀ اوخوړه چې شايد دَ هغۀ خور فلورا ده . هغه ډېر په توندۍ سره دَ هغې دَ بېږ نه پاسېدو او ورله ورغی ، هغۀ چې ور لرے کړو او وې کتل نو هغه واقعي فلورا وه . هغه په مُسکا مُسکا دننه راغله خو چې صبا ته او دَ هغې ژړا ته يې اوکتل نو کاشان ته په سواليه نظر ګوري او صبا ته وائي ، "ولې صبا ، څۀ اوشو پليز. رياض درته څۀ وېلے دي "؟ . . .دې سره په کاشان يره راغله او هغه ورته په يره يره اووے "نه آپا ما ورته هيڅ نه دي وېلے. صباته چافون کړې وو. دوي دواړو خپلو کښې څۀ خبرې اوکړې خو ماته دا معلومات نيشته چې څۀ خبرې وې خو چې خبرې ختمې شوې نو د دې دا حال شو . ما ترېنه لا دا تپوسونه کول چې ديکښې تۀ راغلې ".
فلورا:. (صباته ) صبا څۀ اوشو ؟ "هغه په يو لاس هغه خپلې سينې پورې نيسي او په بل لاس هغه په ملا تپوي اودلاسه ورکوي. بيا دَ هغې اوښکې اوچې کړي ، هغه څو څو ځله په دواړه مخه ښکل کړي



www.pukhto.net

او ورته وائي،"ولي ژاړې صبا، ماته حال اووایه پلیز". صبا خپلې تېرې پاتې اوښکې اوچې کړې او هغې ته او کاشان ته خپله خبره شروع کړې. هغوي دواړه دَ هغې خبره ډېره په غورسره اورې. چې هغه خپله خبره ختمه کړې نو فلورا مُسکی شي او ورته وائي، "بس دا خبره ده ؟ ځان تیار کړه، سبا له به تهٔ، زهٔ او ریاض، درې وانړه ځو. په حیات آباد کښې به په خپل کور کښې شپه اوکړو او بیا به پېښئ له ورځو. تاسو دواړه خپل تیارې هم اوکړئ او یو وخت هم مقرر کړئ. تر هغې به زهٔ دَ ریاض دَ سفر کاغذونه هم تیار کړم او دَ بنګلې څوکېدار له به دَ ورتلو اطلاع هم ورکړم. صبا، دَ تلو نه مخکښې خپله ډیوټي معاون ډائرکټر ته حواله کړه. او دَ راتلو پورې هغه له هدایات ورکړه. او، کے ،زهٔ درنه لاړم. ګډ بائي.

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★

★



www.pukhto.net



## دویمه برخه

سبا سحر هغوي خپل ضروري سامان او سفري دستاویزات په ګاډي کښې کېښودل او ګاډي ته اوختل. فلورا ډرائېونګ ته کېناسته او دَ هغې په وینا صبا هم هغې سره په فرنټ سیټ کېناسته او کاشان په روستي سیټ کېناستو کاشان تور سوټ اغوستے وو، ګلابي ټائي یې تړلے وه، لائټ ډاك چشمې یې اچولے وے، تور بوټان یې په خپو کړي وو او وېښتهٔ یې په شا اړولي وو. هغه په افسرانه موډ کښې ډېره اچولے وه او په خپل سُر کښې ناست وو. چې ګاډے دَ کابل ښار نه بهر شو او مین روډ ته ووختو نو فلورا او صبا خپلو کښې خولې ورکړې. دَ فلورا په ټپوس باندې هغې خپله ټوله قیصه هغې ته شروع کړه او تر جلال آباد پورې لګیا وه. کاشان دَ هغوي دَ ډلې نه بهر وو. هغهٔ نه دَ هغوي خبرې اورېدے او نه یې پکښې دلچسپي لرله. بلکه دَ هغهٔ دلچسپي دَ پاوندو او کوچیانو په روانو قافلو کښې وه دَ یخنۍ په وجه دَ کوچیانو قافلې دَ کابل، هلمند او دَ نورو ځایونو نه جلال آباد او پاکستان ته روانې وې. دَ اوښانو جلبونه یو بل پورې تړلي شوي وو او لوې لوې لړۍ ترینه جوړې شوې وې. دَ رومبي اوښ جلب به دَ یو کوچي په لاس کښې وو او نورو به ورپسې غړانګې ړکولې او پل په پل به یو بل پسې روان وو. په دغه قافلو کښې دَ اوښانو نه علاوه خرهٔ، سپي، سرې او زنانه ګډ روان وو. ناروغه سپین سرې او سپین ږیري دَ اوښانو په بارونو سوارهٔ تړل شوي

وو . واړه ماشومان هم دَ اوښانو دَ بارونو دَ پاسه ترلي شوي وو. څۀ عجیبه نظارې وې . چا خاندل ، چا ژړل ، ځینې ښځو او جینکو خپل خپل پېزارونه په سر باندې ایښي وو او لوڅې خپې روانې وې . دَ چا هډو پېزار نه وو او دَ پوندو چاؤدي یې له ورایه معلومېدل . دَ چا چې بارونه درانۀ وو نو خپل ماشومان یې په اوږو باندې کېنولي وو او یا یې په تیکرۍ کښې شاته اچولي وو. ځینو میاندو واړۀ تیونو ته اچولي وو او په روانه روانه کښې بې تې ورکوو . دَ اوښانو په غاړو کښې جرسونه شرنګېدل او هغوي پسې کوچیان په خپله ژبه کښې ګونګېدل . چاوې "هیّ هیّ" ، چا وې هشه ملادے ماته شه . دَ ځینو خرو او اوښانو په بارونو کښې چرګان هم ناست وو او دَ بارګیر هر قدم سره به یې وزرونه خورول او غونډول . ځائے په ځائے به دَ قافلو سپي دَ لارې سپو سره په جنګ شو او لوې واړه به یې سېل ته اودرېدل خو مشران به ترمینځه شو نو سپي به یې خلاص کړل او خپلي خپلي قافلې سره به روان شو.

دَ کاشان دَ پاره دا قافلې او نظارې څۀ نوې نه وې . هغۀ داسې ډېرې قافلې او نظارې لیدلے وے . بلکه دغه ښارو او دغه ښځو سرو سره هغۀ دَ ژوند یوه خوږه برخه تېره کړے وه او دَ هغې یادونه دَ هغۀ په ذهن کښې لا تراوسه پراتۀ وو.

دغه قافلو کښې هغۀ دَ میرام جان دَ کورنۍ قافله کتله خو تر جلال آباد پورې یې هغه اونه لیدله . چې دَ هغوي ګاډے جلال آباد ته



www.pukhto.net



اورسېدو نو فلورا دَ یو لوې هوټل مخې ته ګاډې اودروو او درې وانړه ترېنه کوز شو . هغوي څۀ معمولي غوندې خوراك اوکړو او بیا ګاډي کښې کېناستل . دَ کیناستو سره صبا خپله نیمګړې قیصه بیا شروع کړه او چې طورخم ته اورسېدل نو دَ هغې قیصه ختمه شوه . دَ طورخم په پوله دَ هغوي معمولي غوندې چیکنګ اوشو او څۀ تپوسونو نه پس هغوي ته اجازت ورکړے شو . چې ګاډے روان شو نو کاشان بیا لکه دَ تردد ماشوم دَ سړك یو غاړې او بلې غاړې ته کتل . چې ګاډے دَ جمرود دَ حدودونه ووختو او شاړې ته شو نو صبا مسکۍ شوه ، هغۀ ته یې روستو اوکتل او وې وئیل ، "کاشانه بور شوے خونه یې ؟ " هغۀ ورته ګوته اوخوځوله او په دهمکي آمیز لهجه کښې یې ورته اووے ، "تاسره به زۀ ګورم خو چې موقعه راشي".

صبا:. (مسکۍ شي ) زۀ او زما ملګرې فلورا دَ چانه نه یرېږو.

کاشان :. دَ آپا مخکښې درته هیڅ نه وېم . چرې خوبه راته یوائې ګېره شې .سپې به درپسې کړم او هله به پرېږدم چې چغې درنه اوباسم ".

صبا:. ماته ولې غصه کیږے ، ماتاته څه وېلې دي ؟

کاشان :. تاهیڅ نه دي وېلې خو تا ډېر څۀ کړي دي .

صبا:. څۀ مِ کړي دي ؟ اووایه ؟

کاشان :. تا زمانه دَ مودو ورکه خوږه خور واخسته .

صبا:. دا یوائې ستا خور نه ده . ستا لا پته هم نۀ لګېده چې زماخوروه.

کاشان (فلورا ته ) آپا ګاډے اودروه زۀ درنه کوزیږم.
فلورا (په مُسکا) Come on Riaz ، تۀ په توقه هم نه پوهیږے.
کاشان :. آپا پلیز. ګاډے اودروه پلیز. فلورا چې ګاډے اودروي نو هغه تریـنـه ډیـر په تیزۍ سره کوزیږي ، فلورا او صبا دواړه رنګونه وهي او یو بل ته په مایوسه نظر ګوري . فلورا سنجیده شي او کاشان ته وائی ، "ریـاضه ، ورکوټے لوے شوے ، زلمے شوے خو هیڅ فرق درکښې رانه غیـ . هم هغه دَ ماشومانو خوي لرے . راځه کښېنه پلیز".
کـاشـان پـه یـوه ډاګـه کښـې لګیـدلـے پړاؤ ته اشاره کوي او وائي ، "آپا تاسو لږ ایسار شیـ ، زۀ دغه مخامخ کسانو سره لږ ملاویږم ".
فـلـورا:. اوه مائي ګاډ ، زمانه خو دے زړه بوټ اوویستلو ، کاشان پړاؤ تـه ورشي او هغوي دواړه خپلو کښې خاندي او هغه ته ګوري . دا پړاؤ دَ میـرام جـان دَ کـورنیـ وو. هغوي ټول په پړاؤ کښې موجود وو. میرام جان چې کاشان خپل پړاؤ ته په راتلو اولیدو نو اواز یې ورکړو، "دیخوا مـۀ راځـه هـلکه ، زنانه دي "کاشان دَ هغۀ اواز وورېدو خو دَ هغۀ داواز یـې هډو څۀ پروا اونکړه او مخکښې روان وو. زنانهؤ چې هغه پړاؤ ته پـه ورتـلـو اولیدو نو هغوي ترینه پړده اوکړه . هغۀ چې دَ میرام جان په دوېم اواز هـم مـنـعـے نشو نو هغه ورله تبر په لاس مخې له ورغیـ او چې پـه هـغـۀ یـې تبـر اوچـت کـړو نو هغه په خندا شو . په یولاس یې چشمې لرې کړے او په بل لاس یې هغۀ ته سلام اوکړو او وے وئیل ، "بابا تا خپل ځوي پسې تبر راواخستو ". میرام جان چې دَ هغۀ خبرې


www.pukhto.net



اوپـېژندے نو تبر یې لرې اوغورځوو ، په خندا شو او هغۀ ته ورترغاړه وتـو . هـغـه یې ډېره ښېبه سینې پورې نیولے وو. بیا یې دَ کور زنانهؤ ته اواز کړو ، "راشیـ ، ټولې راشیـ ، ورك مسافر راغلے دے "دې سره ټولې ښځې او جینکیـ راغلې ، دَ هغۀ نه چاپېره اودرېدې او هغه سره یـې واره پـه واره روغ جـوړ اوکـړل . بیـا هـغوي په غونډه میر آغا بابا له بـوتلو . هغه ناجوړه وو خو چې دَ هغۀ نوم یې وورېدو نو په کټ کښې کـېـنـاستو . کاشان دَ هغۀ په ناسته کښې هغۀ ته ورغاړه وتو. بیا هغۀ سره پـه کټ کښې کېناستو او دَ هغۀ دَ روغ صحت دعا یې اوکړه . دې نـه پـس هـغـه دَ زنانهؤ په ډله کښې دَ میر آغا بابا دَ خېمې نه بهر اووتو او هغوي سره یـې خبـرې کـولـے . په دېکښې ګل جان هم راغیـ اودَ هـغـۀ ښـځـه سپینه هم ماشوم په غېږ راغله . هغوي دواړو کاشان سره پـه میـنـه روغ جـوړ اوکـړل . کاشان ،ګل جان له او میرام جان له دَ نوے مـېـلمه دَ راتلو مبارکي ورکړه . بیا یې ورته اووے ، "بابا تاسو مِ دَ لارې نه اولیدیـ نو سلام له راغلم . اوس به درنه لاړشم ، زنانه دي راسره ".
میـرام جـان :. نـه کشـانـه ، تـلـے نشـے ، چـاې تیاره ده چاي به خامخا څکـے نو هله به دے پرېږدم ".
کـاشـان :. بـابـا زنـانه دي راسره ، ته ورته اوګوره ، هغه دي ګاډي کښي ناستې دي او مونږ ته ګوري ".
میرام جان :. دا خو ډېره ښۀ خبره ده . زنانهؤ ته اشاره ورکړه چې راځه . هغوي بـه هـم چـاې اوڅـکي او تـه به هم اوڅکـے ، کاشان ته چې پته

اولګېده چې هغه خفه کېږي نو فلورا او صبا ته یې دَ راتلو اشاره اوکړه . فلورا ګاډے پړاؤ طرف ته روان کړو . چې پړاؤ کښې یې ګاډے اودرو نو تولې زنانه تړینه چاپېره شوي او په ښکلولو ښکلولوې دَ ګاډي نه را اوویستلي . دَ میرام جان دَ کورنۍ ښځو لا هغوي له غاړې ورکولې چې دوه غټ سپي دَ هغوي خوا له راغلل . صبا چې سپي اولیدل نو دَ یرې نه یې چغه کړه او دَ کاشان په شا اودریده . سپو چې کاشان اولیدو نو دواړو لکۍ وهلے ، دَ هغهٔ خپې یې بویولے او دَ هغهٔ په خپو کښې زغږېدل . کاشان دَ دواړو په مخ سر لاس راخکو او دواړه یې واره واره په ملا ټپول . سپو چې دَ هغهٔ دَ خپو سلامي اوکړه نو بیا دواړه روان شو او دَ ګډو ، بزو خوا له ورغلل . دَ سپو دَ تلو نه پس دَ صبا په ساه کښې ساه راغله او په مخ یې مُسکا خوره شوه . دَ ښځو نه علاوه وړمه او خندانه دَ هغهٔ نه ولاړې زارېدې. بیا یې هغوي یوې خاص خېمې ته بوتلل او متکي یې ورته کېښودل . هغوي لا خپلو کښې خبرې کولې چې وړمي او خنداني یو غټ چېنک چاي او چایو سره روایتي میوه یعنی اوچ توتان ، اوچ انځیران او کروت راؤړل ، هغوي ، هغوي ته پیالۍ ډکې کړې او دغه لوازمات یې ورته مخکښې کېښودل . دَ وړمي په تپوس باندې کاشان فلورا ته اشاره اوکړه او وے وئیل ، " دا جینۍ زما مشره خور فلورا ده ". بیا یې صبا ته ګوته اونیوه او وے وئیل ، " دا جینۍ زما هیڅ نه ده خو زما دَ خور ده " دَ کاشان په خبره ښځې او سړي په خندا شو . بیا یې دَ فلورا



www.pukhto.net



په تپوس هغوي سره دَ هغه تولو پېژندګلو اوکړه . فلورا دَ سپیني دَ غېږ نه دَ هغې ماشوم واخستو ، هغه یې ښکل کړو او غېږ کښې یې اونیوو. بیایې دَ سپیني نه تپوس اوکړو، "بي بي د دے ماشوم څهٔ نوم دے " هغه مُسکۍ شوه او ورته یې اووې ، "د ده نوم سورګل دے ".

فلورا:. ډېر خائسته نوم دے . چې څنګه دے دے نو هغسي یې نوم هم دے ". بیا یې دَ خپلې غېږ نه اوچت کړو او صبا ته یې په غېږ کښې کېښودو . دَ کاشان او دَ میرام جان دَ کورنۍ خبرې نه خلاصېدې خو فلورا په اشارو اشارو کښې هغه له دَ تلو یادګیرنه ورکړه کاشان خپله خبره مختصر کړه او دَ هغوي نه یې دَ تلو اجازت واخستو . دَ میرام جان په وېنا باندې ، وړمې او خندانې دَ اوچ توتانو ، اوچ انځرونو او کروتو یوه غوټه جوړه کړه او هغوي له یې دَ تحفې په طور ورکړه . فلورا او صبا دَ سورګل په لاسونو کښې څهٔ روپۍ هم کېښودې څهٔ جوړې جامې یې هم ورکړې او دَ مبارکۍ دَ پاره یې بیا دَ راتلو وعدې هم اوکړې . بیا یې په خندا خوشحالۍ دَ هغوي نه رخصت واخستو ، ګاډي کښې کېناستل او روان شو . هغوي تول ورته تر هغې ولاړ وو چې ګاډے دَ هغوي دَ سترګو نه پناه شو. په تول لاره هغوي دَ میرام جان په دېکې او دَ سپو په واقعې خاندل . په خندا خندا کښې صبا کاشان ته اووې ، "کاشانه ، تاماله دَ سپو دهمکي راکړے وه ، هغه خبره ختمه شوه که شته "؟

کاشان :. نو صبا نو ،ماخپله خبره سرته اورسوله ، اوس ستا او زما

مکمل صلح ده . نمر دَ غر نه پناه شوے وو خو زیړې پلوشې یې لکه دَ کیوپډ دَ غشو دَ اسمان په لمنه کښې ښکارېدې چې فلورا دَ خپل کور مخې ته ګاډے اودروو . دَ کور څوکیدار فقیر بابا ، دَ هغۀ ښځه الماسه ترور او دَ هغۀ بال بچ دَ هغوي انتظار کوو چې هغوي ور اورسېدل . کاشان چې خپل کورته اوکتل نو دَ کالو زړه نقشه او زاړۀ واردات ورته مخکښې شو . دَ هغۀ مور پلار ، دَ بلاستهنګ واقعه ، په هغې کښې دَ هغۀ دَ مور پلار مرګ ، دَ هغۀ یره او په یره کښې اوتر تختېدل ، دا ټول واقعات هغۀ ته مخکښې شو فقیربابا اګر چۀ هغۀ سره ستړي مشي اوکړل خو هغۀ اونه پېژندو ،دَ هغۀ په تپوس باندې فلورا هغۀ ته اووې چې ، "دا هغه ورکوتے ریاض دے چې یرېدلے او تختېدلے وو. دے انکشاف سره دَ فقیر بابا په مخ مُسکا او په سترګو کښې ځلا راغله . هغه ته ورترغاړه وتو او ډېر ساعت پورې یې خپلې سینې پورې نیولے وو.

دَ ټوله ورځ دَ سفر په وجه هغوي ستړي شوي وو نو هغوي خپلو خپلو کمرو ته لاړل . جامې یې بدلې کړې او دَ لږ ساعت دَ پاره په خپلو بسترو کښې اوغزېدل . فقیر بابا دَ هغوي دَ ډوډۍ انتظام کړے وو ، چې کله دَ هغوي دَ ارام وخت پوره شو نو دَ فلورا نه دَ تپوس نه پس فقیر بابا ، دَ هغۀ ښځې او بال بچ په ډائنګ روم کښې ډوډۍ کېښوده او هغوي ټول یې پرې مېلمانۀ کړل . دَ ډوډۍ نه پس کاشان ټي.وي لاؤنج ته لاړو او فلورا او صبا دَ کور او د څوکیدار دَ کوارټر یوه سرسري جائزه واخسته .


www.pukhto.net



فقیر بابا سره یې دَ رسیدونو او څۀ نورې ذاتي او اجتماعي خبرې اوکړې . دې سره سره یې هغه له دَ کور دَ رنګ روغن په باره کښې څۀ هدایات هم ورکړل او خپلې کمرې ته واپس شوې ، صبا، مېډم رېحانه له دَ راتلو خبر هم ورکړو او دَ فلورا له طرفه یې سلام هم ورکړو . هغې چې دَ هغوي دَ راتلو خبر واورېدو نو ډېره خوشحاله شوه . صبا ، هغې ته دَ راتلو ست اوکړو او هغې نه صرف قبول کړو بلکه دَ کور نښنخه پته یې ترېنه معلومه کړه او ښۀ پخه وعدې یې ورسره اوکړه . دې نه پس هغوي خپلو بېډونو کښې سملاستل او چې سترګې یې پټې شوې نو دَ مخې سره اودۀ شو . لږ مازېګر وو چې دَ فلورا دَ کور مخې ته یو ګاډے اودرېدو او دَ څوکیدار نه دَ تپوس کولو نه پس ترېنه درې ښځې او دَ پنځو کالو یو ماشوم کوز شو او کورته ورننوتل . دَ فقیر بابا ښځې الماسې ترور هغوي په ګسټ روم کښې کېنولې او صبا پسې ورغله . لږه شیبه پس صبا ګسټ روم ته ورغله او چې مېلمنو ته یې اوکتل نو دَ ډېرې خوشحالۍ او دَ حیرانتیا نه یې خوله واړه اوتختېده . په مېلمنو کښې دَ مېډم رېحانه نه علاوه بله رعنا بېګم او دوېمه دَ هغې مشره بابې جان پرې او دَ هغې دَ پنځو کالو ځوې کاشف هم وو. دَ هغې په ورتلو ټولې مېلمنې هغې ته پاسېدې. دا ټولې هغه مېلمنې وې چې صباته دَ یوې بلې نه خوږې وې . هغه نه پو هېده چې کومه مخکښې او کومه روستو کړې خو چې په ځان پو هېده نو مېډم رېحانه له یې غاړه ورکړې وه . دَ هغې نه پس رعنا بېګم له ورغله او هغې له یې غاړه

ورکړه . هغې نه پس جان پري ته په ډکو سترګو ورترغاړه وته او ډېره شیبه یې خپلې سینې پورې نیولې وه . بیا یې کاشف په غېږ کښې اونیوو او بې واره یې ښکلوو هغې لا دغه ښکلول کول چې فلورا راغله . هغوي چې هغه اولیده نو دَ هغې په احترام کښې بیا پاسیدې . هغې چې په مینه مینه ټولو سره روغ جوړ اوکړل نو بیا کاشف له ورغله . هغه یې دَ صبا دَ غېږ نه خپلې غېږ ته راواړوو او په مینه مینه یې ښکلوو . هغې لا دغه ښکلول کول چې صبا مېډم ریحانه ته اشاره اوکړه او فلورا ته یې اووې ، "فلورا ، دا بي بي مېډم ریحانه ده ، زما استاذه ، زما محسنه اوزما مور".

فلورا:. سلام علېکم مېډم .

مېډم :. وعلیکم السلام ، ښاده اوسې لورې .

صبا رعنا بېګم ته اشاره کوي ،" فلورا دا زما خوږ ه ملګرې مېډم رعنا بېګم ده . "

فلورا (مسکې شي) اوه یس آل سي ، دوي زهٔ پېژنم . ولې تانه هېر شو چې په اسلام آباد کښې یې ماله تحفې راکړې وې ؟

صبا(جان پري ته اشاره کوي ) فلورا، دا زما خوږه بابي ده . دې له ما ډېر تکلیف ورکړې دې .

فلورا:. سلام علیکم مېډم .

جان پري :. ښاده اوخوشحاله اوسې خورې ، صبا، کاشف دَفلورا دَ غېږ نه خپلې غېږ ته راړه وي او وائي ، "فلورا دا زما خوږ اورارهٔ کاشف



www.pukhto.net



دے " هغې خپلې اوښکې تینګې نه کړې شوې او په ښکلولو ښکلولو کښې یې دَ کاشف په مخ اوبهولې . دَ صبا ژړا سره دَ ټولو سترګې ډکې شوې خو دَ جان پري ډکې سترګې دَ هغې په مخ راماتې شوې. صبا چې خپلې اوښکې اوچې کړې نو بیا یې ټولو ته اووې مېډم ریحانه ، رعنا بېګم او بابي ، " دا زما خوږه ملګرې او دَ کاشان خور ، مس فلورا ده ". دَ هغې په انکشاف دَ ټولو خولې وازې شوې . ټولو هغې ته په مینه مینه کتل چې الماسه ترور راغله ، فلوراته مخاطب شوه او وې وئېل ، "بي بي چاې تیاره ده او په ډنګ ډنګ روم کښې مې لګولې ده ". دَ هغې په خبره فلورا مسکې شوه . او هغې ته ئې اووې ، "څه تهٔ ورځه مونږ درغلو " . دَ هغې دَ تلو نه پس ټولې په خندا شوې . په خبرو خبرو کښې صبا اووې ، "بابي تهٔ به زمانه خفه شوې یې خو زما ډېره مجبوري وه . ماتوله دنیا پرېښودې شوه خو کاشان مې نشو پرېښودې. ما معاف کړه بابي ، زما په وجه تاسو ټولو ته لویه صدمه اورسېده .

جان پري :. صبا، تهٔ مخکښې هم زماخور وې او اوس هم زما خورېې. تهٔ چې په کومه شپه دَ کوره وتې نو زهٔ ویښه ووم . تا چې زما او دَ ګل پري بال بچ ښکلول نومادرته په نیم کخو سترګو کتل. تهٔ چې زما کټ له راغلې او زما دَ خپو سلامي دې کوله نو زهٔ ویښه ووم. ماستا مخه ځکه اونه نیوه چې مانه غوښتل چې خپله فېصله په تا په زور اومنم. البته ستا دَ تلو نه پس مې ترسحره پورې ژړلې دې چې تهٔ ښځه

ذات به په توره شپه کښې یك تنها چرته ځي . . .صبا ما چې څۀ کړي دي نو دَ ډېرې مجبورۍ نه مِ کړي دي . زمانه خفه نشي .

صبا:. ماته پته ده بابي ، زۀ څۀ ماشومه نه یم. تاچې څۀ کړي دي نو زما دَ ژوند دَ پاره دې کړي دي او ماچې څۀ کړي دي نو دَ خپل خوشحاله مستقبل دَ پاره مِ کړي دي .

جان پري:. صبا، ستا اوراۀ کاشف مِ شفارس کښې راوستې دے . تۀ د دۀ او دَ دې ټولو بیانو په خاطر ما او خپل رونړه معاف کړه سبا له دَ هغوي دَ پېښۍ اخري تاریخ دے اوپه هغې کښې ستاسو دواړو ګواهي ډېره ضروري ده . (هغه پاڅي او صبا له غاړه ورکوي ).

صبا:. بابي ماتاسو ټول معاف کړي یې او دَ هغوي دَ پېښۍ دَ پاره زۀ او کاشان هم په دے غرض راغلي یو چې سباله به انشاء الله ، مونږ په عدالت کښې بیان ورکوو او تر هغې به مونږ هلته یو چې زما رونړه دَ جېل نه اوځي .

جان پري:. صبا ، زۀ به ستا دا احسان تر عمره عمره یاد لرم .

صبا:. بابي دا دَ احسان خبره نه ده . هغوي زما رونړه دي او زۀ دَ هغوي خور یم . وینه دَ وینې نه نه جُدا کیږي . البته که تۀ دَ چا احسان منې نو دَ هغۀ چا اومنله چې زۀ یې دَ رونړو دَ کېس نه خبر کړم او هغه محترمه مېډم رېحانه ده .

مېډم رېحانه :. نه صبا، دا خبره نه ده . دېکښې دَ احسان هیڅ خبره نیشته . دَ انسان او انسانیت خدمت کول په مونږ ټولو فرض دے او بیا





دغه خواران دَ څۀ نه خبر نه دي او دَ ډبل 302 په کېس کښې راګېر شو.

رعنا بېګم (صبا ته ) یَه جینۍ هغه هلك دے څۀ شو. زۀ خو دَ هغه لېدو له دَ ریحانه په بلنه دَ اسلام آباد نه راغلې یم .

صبا (مسکۍ شي ) بي بي جي مخ کتنه هسې نه کیږي. سلامي به ورکوي . فلورا مُسکۍ شي او غلې غوندې بهر اوځي . لږه شیبه پس هغه او کاشان دواړه ګیسټ روم ته راغلل . هغۀ دَ راتلو سره مُسکے شو او ټولو ته یې سلام اوکړو ، ټولې مېلمنې هغۀ ته پاسیدلې او دَ هغۀ لاسونه یې ښُکل کړل . دَ سلام نه پس هغه یو ځل بیا مُسکے شو اودَ څۀ مصروفیاتو په بهانه بهراووتو . دَ هغۀ دَ تلو نه پس رعنا بېګم صبا ته اووې ، "صبا ، ستا انتخاب لاجواب دے ماشاء الله "

مېډم رېښانه :. ولې زما لور دَ چانه کمه ده څۀ ؟

رعنا بېګم (خاندي) نه رېحانه دا خبره هم یقیني ده چې ستا لور لاثاني ده "

مېډم ریحانه :. خُدائے دے دَ دواړو مینه په مینه او کور په کور کړي.

ټول :. آمین .

فلورا :. ستاسو دعا دې خُدائے قبوله کړي ، راځئ چې اوس خوله خوږه کړو ، دې سره ټولې پاسي او ډائننګ روم ته ورځي . چاې ډېره مکلفه وه او هغوي ټولو ښه په مینه اوڅکله . چې چاې اوڅکلې شوه نو بیا دَ فلورا په خواهش ټول دَ چکر دَ پاره بهر اووتل . په تلو تلو کښې فلورا فقیر بابا ته په غوږ کښې څۀ اووې او هغوي سره روانه



www.pukhto.net

شوه په ګرځېدو ګرځېدو کښې هغوي هغه عمارت له ورغلل په کوم کښې چې دَ فلورا مور پلار هسپتال جوړول غوښتل خو دَ دهماکه په وجه دواړه لاړل او هسپتال پاتې شو دغه عمارت څۀ موده شاړ پروت وو خو بیا یوې پرائیویټ تعلیمي ادارې له یې دَ جینکو دَ کالج دَ پاره په کرایه ورکړو. هرکال په یکم جنوري دَ ټول کال پیشګي کرایه دَ فلورا په اکاؤنټ کښې جمع کېږي او دَ هغې دَ رسیدونو کاپي فقیر بابا له ورکړے کیږي . دغه کالج کښې دَ انټر نه واخله تر ایم. اے ، ایم ایس سي ،او ایم سي ایس کلاسونه چلیږي . دا تعلیمي اداره دَ ملك په بهترینو ادارو کښې شامله وه . دَ کالج څوکیدار هغوي ته ګېټ لرے کړو او هغوي ټولې دننه ورغللې هغوي په کالج کښې ګرځېدلې او هغه ځاے ته ورغلې چرته چې دهماکه شوې وه . فلورا هغوي ته دَ خپل مور پلار دَ مرګ او دَ کاشان دَ ورکېدو خبره شروع کړه . دَ هغې خبره لا روانه وه چې کاشان هم ورغی او دَ هغوي خوا کښې ډکي سترګي اودرېدو . دَ مېډم رېحانه په خواهش باندې کاشان هغوي ته اووے ، "چې دهماکه اوشوه نو دَ لوګو توره تیاره شوه او رڼا ورځ توره شپه شوه . یو دَ ګرېنېډونو ټکړې ورېدې ، بل بے دریغه کلاشن کوفې چلېدے . هره خوا چغې لړې او ژړا ګاني او فریادونه وو . څو څو ګولی زما دَ غوږونو خوا کښې تېرې شوې خو زۀ ترېنه خُداے اوساتلم . زۀ دومره یریدلے ووم او زما غوږونه دومره اوچ شوي او داسې کاڼۀ شوي وو چې دَ مور پلار ، خور او ترور چغې مِ نه


www.pukhto.net



اورېدے او منډه مِ کړه . په دغه منډه او تیندکونو کښې زۀ څو څو ځایه پریوتم اوپاسېدم . اخر دا چې یو ځل داسې پریوتم چې دَ ځان نه خبر نشوم خو چې سترګې مِ اوغړېدې نو زۀ دَ ضمیر بابا په غېږ کښې په یوه زړه کوټه کښې پروت ووم. ما چې هغه ته اوکتل نو اویرېدم او چغې مِ کړے . هغۀ ماله تسلي راکړه . . .ماله یې ډوډۍ راکړه . . .او دَ لوبو څیزونه یې راکړل . چې زۀ قلارشوم نو بیا یې زمانه دَ ځاے ، ځائېږي تپوس اوکړو . . .زۀ پاکستان ته او حیات آباد ته په ړومبي ځل راغلے ووم . ماته دَ خپل کور ، نمبر او سېکټر هیڅ معلومات نه وو . هغۀ زۀ په یو ځائے ، بل ځائے اوګرځولم خو چې اونشوه نو هم هغه سره پاتے شوم . زۀ یې زوے او هغه مِ پلارشو. ضمیر بابا دَ پېشې په لحاظ ډهولك نواز وو. هغۀ زۀ ځان سره اولوبولم او زۀ هم ډهولك نوازشوم . دَ بابا خپل کور، کلي نه وو. کله به په یو کلي کښې وو او کله په بل کلي کښې .زۀ به هم هغه سره کلِه په سرګرځېدم . زمونږ دَ استوګنې اخري کلے لړی وو. دَ بابا دَ مرګه پورې او دَ هغه دَ مرګ نه پس څۀ موده روستو زۀ په دغه کلي کښې ووم. چې بابا مړ شو نو زۀ بیخي یوائے پاتے شوم او دَ خواخوږۍ او همدردۍ مِ هیڅوك پاتے نشو . ماته دَ کلي خلقو سپك کتل اوما سره چې څۀ اوشو نو هغه تاسو نه پټ نه دي . هغۀ خبرې کولے او دَ ټولو په مخونو لړی لړی اوښکې روانې وي . هغۀ چې خپلې خبرې ختمې کړے نو دَ هغوي دَ ډلې نه اووتو او روان شو. دَ کاشان دَ تلو نه

پس هغوي هم دَ کالج نه اووتلې او په چکر چکر باغِ ناران ته لاړې، هلته تر ناوخته پورې گرځېدې او چې ښهٔ سترې شوې نو بیا په مزه مزه کورته روانې شوې . چې کورته اورسیدې نو دَ یو لوې هوټل له خوا په گاډي کښې ډوډۍ راغلې وه او ښېره او فقیر بابا دَ فلورا په انتظار کښې ولاړ وو . دَ فلورا په وېنا باندې فقیر بابا او ښېره دَ گاډي نه ډوډۍ کوزه کړه او په ډائننگ روم کښې یې اولگوله . فلورا هغه له پېسې ورکړې او دَ سحر دَ ناشتې دَ پاره یې آرډر ورکړو . دَ ښېره دَ تلو نه پس هغوي ټول ډائننگ روم ته ورغلل . په لوې مېز دَ دنیا نعمتونه پراتهٔ وو. رعنا بېگم او مېډم رېحانه یوبل ته مخامخ کېناستل. فلورا او جان پري یو بل ته مخامخ کیناستل .صبا ځان سره کاشف کېنوو او کاشان ته مخامخ کېناسته . هغوي ټولو به دَ هر نعمت نه څکه کوله او په څکه کښې به یې پلېټونه یو بل ته اړول راړول . صبا خپله ډوډۍ هم خوړه او کله کله به یې کاشف له په خوله کښې هم ورکوله دَ ډوډۍ نه پس کاشان خپلې کمرې ته لاړو او زنانه ټي.وي لاؤنج ته لاړې . په ټي . وي دَ یو پرائیوټ چېنل پروگرام لگېدلے وو خو هغوي خپلو کښې داسې خولې ورکړې وې چې ټي .وي ته هډو چا کتل هم نه . جان پري دَ کلي ساده ښځه وه ، نه دَ هغوي په خبرو پوهېده او نه یې خپله دومره زده کړه وه هغه هسې دَ ناکامه هغوي سره ناسته وه او دَ هغوي خبرو سره به یې سر ړکوو. کاشف له خوب ورتلو او بیا بیا به یې مورته کتل . فلورا چې په هغوي دواړو پوهـ


www.pukhto.net



شوه نو هغې ته یې اووې ، "راځه خورې ستا ماشوم له خوب ورځي چې اودهٔ شي ". فلورا لکه چې دَ هغې دَ زړهٔ خبره اوکړه . هغه هغې سره روانه شوه او خپل ځوي سره سملاسته . دَ مېډم رېحانه ، رعنا بېگم او صبا په خبرو کښې هډو هیڅ کمې رانه غی . دَ جان پري دَ تلو نه پس هغوي ته ایله دَ خپلو خبرو او ټوقو ټقالو موقع ملاؤ شوه . دَ هغوي دَ ټولو خبرو فوکس دَ صبا او کاشان وادهٔ وو . په خبرو خبرو کښې مېډم رېحانه اووې ، " بهئی ، زهٔ خو به ناوې تیاروم ". فلورا زر اووې ، "زهٔ به زلمي تیاروم ". رعنا بېگم اووې ، "زهٔ به دَ ناوې کمره ناوې کوم " مېډم رېحانه دَ هغې په خبره کښې راودانگل ، کمره خو به ټوله په شریکه ناوې کوو ".

رعنا بېگم ښهٔ نو زهٔ به گډېږم . فلورا مسکۍ شوه او وئیل ، "گډېږو به مونږ ټول بلکه مقابله به کوو " رعنا بېگم خاندې او خندا کښې وائی ، "ښه نو زهٔ به ورته سپلنې لوگې کوم " صبا مسکۍ شي او وائی ، "چې دا ټول کارونه تاسو کوې نو زهٔ به څهٔ کوم او هغه بل به څهٔ کوي؟
رعنابېگم :. تهٔ به دغه لوگې هغه ته پوکے او هغه به یې تاته پوکي، دې سره ټول خاندې او خپلو کمروته ځي .

★★★★★★★★

★★★★

★

## دریمه برخه

نورعالم او ګل عالم خپل خپلوان او دَ مرجانۍ نورکسان دَ هغوي پېښۍ له راغلي وو او دَ ډسټرکټ سیشن کورټ په احاطه کښې ځاے په ځاے ، ډلې ډلې ولاړ وو . په دغه کسانو کښې ټول دَ هغوي خواخوږي او همدرد نه وو بلکه ځینے پکښې داسے وو چې دَ هغوي دَ سزا تماشې له راغلي وو ځکه نن دَ هغوي اخري پېشي وه او دَ هغوي سزا یقیني وه . نورو ملزمانو ته اوازونه کېدل او دَ هغوي دَ پېشۍ تاریخونه بدلېدل خو په دغه کسانو کښې ځینے کسان په دے انتظار کښې وو چې کله به هغوي ته اواز کېږي او کله به هغوي ته سزا اوروله کیږي ، اخر دَ عدالت دَ اردلي دَ خولې نه چغه اووته، "نورعالم او ګل عالم وغېره". د دے اواز اورېدو سره ټول خلق ببرشو او دَ عدالت ورته یې سترګې اونیوے . لږه شیبه پس دَ کچهرۍ په عارضي بندي خانه کښې بندیوان نورعالم او ګل عالم سره دَ نورخان په شرنګېدلي هتکړو او بېړو کښې عدالت ته راوستے شو. دَ هغوي په راتلو باندې دَ هغوي خپلون او تماشګیر اودرېدل او هغوي ته یې سلامونه اوکړل . هغو ي چې دَ عدالت کمرې ته ننوتل نو جج ته مخامخ اودرېدل . په هغو ي دَ کاشان او صبا دَ قتل دعویٰ وه ، نو دَ هغوي له خوا سرکاري وکيل پېش شو. دَ سرکاري وکیل نه علاوه دَ نورعالم او ګل عالم له خوا وکېل صفائي هم موجود وو. سرکاري وکیل دَ هغوي دَ مشترکه جرم یوه خاکه عدالت ته وورولـه او وې وئیل



www.pukhto.net



: جناب عالي ، نورعالم او ګل عالم خپله پېغله خور صبا او په هغې مئین یو زلمے ، غریب کسب ګر کاشان ډېر په بې دردۍ سره مړۀ کړل ، دَ هغوی لاشونه یې ټکړې ټکړې کړل او په سیند کښې یې لاهو کړل . دَ هغو ي ګناه دا وه چې هغوي یو بل سره مینه کوله او خپلې مینې له یې دَ وادۀ شکل ورکول غوښتل .

جناب عالي: دَ مینې وادۀ زمونږ په شریعت کښې هم جائز دے او زمونږ په آئین او قانون کښې هم جائز دے . دې نه علاوه دَ دنیا دَ ټولو ملکونو په مذهبونو او قانون کښې هم جائز دے . بله دا چې صبا نه صرف بالغه او هوشمنده وه بلکه تعلیم یافته هم وه او هغې ته دَ خپلې خوشحالۍ ، خوشحاله ژوند، بنیادی انسانی حقوق او دَ خپلې فیصلې په حقله حق حاصل وو خو نورعالم او ګل عالم کاشان سره دَ صبا دَ وادۀ مخالفت ځکه اوکړو چې کاشان دَ دوی دَ سټېنډر نه وو. او دَ سزا په طور یې هغه خېل نوکرنورخان ته وادۀ کول غوښتل.

جناب عالي ، داسے نوکر ته چې هغه نه صرف جاهل دے بلکه په عمر کښې دَ هغې نه یو په دوه دے . صبا، نور خان سره وادۀ کول نه غوښتل او دَ وادۀ نه یې ساپټ انکار اوکړو خو دَ هغې اواز چا هم وونه رېدو. جناب عالي ، دَ وادۀ نېټه مقرره شوه خو دَ هغې نه تپوس اونه شو. دَ وادۀ سامان را چلېدو خو دَ هغې نه تپوس اونشو .

جناب عالي، چې هغې دَ حال په ائینه کښې دَ خپل مستقبل تیروته اوکتل نو مجبوراً دَ شپې په تیارۀ کښې دَ کوره اووته . جناب عالي،

Pukhto.Net

نورعالم ، ګل عالم او نورخان ورپسې تر هغې لګېدلي وو چې دَ نورخان دَ بیان مطابق یې هغوي اونیول ، هغوي یې ټکړې ټکړې کړل او په سیند کښې یې لاهو کړل . . . جناب عالي ، چې کله نورخان ته دَ خپل جرم احساس اوشو نو په خپلو کړو پښېمانه شو . خپل جرم یې هم تسلیم کړو او دَ نور عالم او ګل عالم په جرم ګواه هم شو . زهٔ عدالت ته خواست کوم چې دوي له دے سخت ترینه سزا ورکړے شي چې موجوده او ائنده نسل دَ پاره یو مثال پاتې شي او بیا دَ پاره څوك دَ داسے جرم جرأت اونکړي that's all my lord .

جج (وکیلِ صفائي ته ) "ته دَ ملزمانو په حق کښې څهٔ وېل غواړے "؟

وکیل صفائي:. جناب عالي ، زهٔ دَ سرکاري وکیل دَ جذباتو قدر کوم خو دَ دوي دَ دے بې ځایه دعوې تردید کوم چې زما موّکلان مسمي نورعالم او ګل عالم دَ مسمّی کاشان او مسمّات صبا په مرګ کښې ملوث دي . جناب عالي ، هغوي اګر چه عدم پته دي خودَ هغوي مرګ یقیني نه دے .

سرکاري وکیل:. جناب عالي ، دَ کاشان او صبا دَ قتل شریك ملزم نور خان هم موجود دے او ددهٔ تحریري بیان هم موجود دے . نورخان خپل جرم هم تسلیم کړے دے او په دوي ګواه هم دے .

وکیل صفائي:. جناب عالي! زهٔ صرف په دوو نکتو بحث کول غواړم . یوه دا چې دَ نورخان ذهنې توازن صحي نه دے او ددهٔ ذهني معائنه دے اوکړې شي .



www.pukhto.net



سرکاري وکیل:. دَ دے درے واړو ملزمانو مکمل چیك اپ شوے دے او دَ میډیکل رپورټ مطابق دا درے واړه جسماني او ذهني لحاظ سره بالکل روغ رمټ دي . جناب عالي! دَ ملزمانو په ریکارډ کښې میډیکل رپورټونه پراتهٔ دي. زهٔ عدالت ته خواست کوم چې دغه رپورټونه ملاحظه کړي .

وکیل صفائي :. جناب عالي ، زما دَ بحث دوېمه نکته دَ مقتولېنو دَ لاشونو او جاے واردات په باره کښې ده . جناب عالي ، نه لاشونه شته ، نه دَ پوسټ مارټم رپورټ شته ، نه دَ جائے واردات نقشه شته او نه دَ وقوعه دَ وخت تعین شته .

سرکاري وکیل:. جناب عالي ، دَ شریكِ جرم او اقبالي ګواه ، نورخان دَ بیان مطابق وقوعه دَ شپې په تیارهٔ کښې شوې ده او لاشونه په سیند لاهو شوي دي .

جناب عالي: فاضل وکیل تاخیري حربې استعمالوي او دَ عدالت قیمتي وخت ضائع کوي .

وکیل صفائي:. جناب عالي ، زهٔ دَ سرکاري وکیل دَ دعوې تردید کوم. زه تاخیري حربې نه استعمالوم بلکه زما دَ براے نوم مقتولېنو په قتل تحفظّات دي . او هغه دا چې که دَ شریك جرم نورخان په موضوعي بیان زما موکّلانو له سزا ورکړې شي نو دا به دوي سره سراسر زیاتې وي . دا هم ممکن ده چې هغوي ژوندي وي . جناب عالي ، زمازړهٔ دا ګواهي کوي چې هغوي ژوندي دي مړهٔ نه دي.

Pukhto.Net

جناب عالي ، زۀ عدالت ته خواست کوم چې دا مسله، دا کېس دے Delay کړې شي چې زما دَ مؤکلانو خپل خپلوان هغوي پيدا کړي او عدالت ته يې حاضر کړي .

جج (مسکے شي ) اېډوکېټ صېب سائنټېفيك خبرې کوه . خيالي او ممکنات عدالت کښې نشي چلېدې.

سرکاري وکيل:. جناب عالي ! مړي به صرف دَ قيامت په ورځ ژوندي کيږي او دَ قيامت پورې دَ هغوي انتظار ممکن نه دے .

جج په فائل يو نظر اچوي او بيا وائي، ”دَ شريك جرم ، نورخان دَ بيان مطابق مقتولېن کاشان او صبا، نورعالم ، گل عالم او نورخان په شريکه وژلي دي او . . . .“

دَ جج دَ خولې نه ايله دغه نيمگړې خبره اووته چې فلورا، کاشان، صبا، جان پري کاشف ، مېډم رېحانه او رعنا بېگم ډېر په تيزئ سره دَ عدالت کمرې ته ورننوتل . فلورا تور سوټ اچولې وو، انگريزي هېټ يې په سر وو او دَ هېټ لاندې طلائي زلفې يې په اوږو زانگېدې. کاشان بادامي سوټ اچولے وو، بادامي ټائي يې په غاړه کښې زانگېده او دَ معمول مطابق يې لائټ ډارك چشمې اچولے وے .

صبا عامې جامې اغوستې وې او پړونې يې دَ ځان نه تاؤ کړې وو. هغوي درې واړه دَ جج مخې ته اودرېدې . جج چې هغوي ته اوکتل نو فلورا په معصومانه مُسکا هغۀ ته سلام اوکړو . جج دَ هغې نه تپوس اوکړو ”تاسو څوك يئ“ ؟



www.pukhto.net



فلورا:. جناب عالي ، زما نوم فلورا دے او زۀ دَ کاشان خوريم .

جج:. دَمقتولين کاشان او صبا په باره کښې تۀ څۀ وېل غواړې ؟

فلورا:. جناب عالي ، کاشان او صبا مقتولېن نه دي بلکه روغ رمټ دي او دواړه ستاسو په حضور کښې ولاړ دي .

جج چې دَ فلورا دَ خولې نه دا انکشاف ووري نو په کرسئ کښې اولړځيږي ، هغې ته په ځير ځير گوري او وائي ، ”ژوندي دي ؟ کاشان او صبا ژوندي دي ؟“

فلورا:. جناب عالي ، ژوندي هم دي او ستاسو په حضور کښې ولاړ دي . صيب دا کاشان دے او کاشان سره ولاړه جينئ صبا ده .

جج:. زۀ ستا په خوله څنگه اعتبار اوکړم چې دا هلك کاشان دے او دغه جينئ صبا ده ؟

فلورا:. جناب عالي . . .دوي سره خپل شناختي کارډونه هم شته او دَ کلي ټول خلق يې پېژني ؟

کاشان او صبا خپل خپل شناختي کارډونه را اوباسي او دَ وکيلِ صفائي په لاس يې جج له ورکوي . جج دَ کاشان تصوير ته گوري او بيا وائي ، ”کاشان ولد ضمير استاذ“ بيا دَ صبا نوم ته گوري او وائي، ”صبا بنت ميراعظم خان “ بيا نورخان ته گوري او وائي، ”نورخانه، تۀ دَ صباشناخت کولے شے “؟

نورخان: هاؤ صېب . دا زما په لاس کښې وړه لويه شوې ده . دا صبا بي بي ده صيب .

Pukhto.Net

جج :. تهٔ دا هلك پیژنے ؟

نورخان :. هاؤ صېب . دے خو ټول کلے پيژني . دا کاشان دے صيب.

جـج :. تاسو چې دوي قتـل كـړي وو، دَ دوي لاشونه مو ټكړې ټكړې كړي وو او په سيند كښې مو لاهو كړي ؟ دوي بيا څنگه ژوندي شو؟ د دے مطلب دا شو چې تا دروغ ويلي دي .

نـورخـان :. نـه صـېب دروغ مِ نه دي ويـلـے خـو خُـدا ے ته څهٔ گرانه ده ژوندي مړهٔ كولے او مړهٔ ژوندي كولے شي . (دے سره جج هم خاندي او په عدالت كښې ولاړ خلق هم خاندي )

جج (نورعالم او گل عالم ته ) تاسو دا دواړه پيژنئ .

دواړه جي بالكل . جينۍ زمونږ خور صبا ده او دَ هلك نوم كاشان دے.

جج (فلوراته) مس فلورا . دَ پوليس دَ رپورټ مطابق كاشان ډهولك نواز وو او دَ پـلار نوم يې ضمير استاذ وو خو ستاسو دَ موجوده پوزيشن نه داسې نه معلوميږي چې هغه ډهولك نواز دے او ستا رور دے؟

فـلـورا:. ستاسو خبره بالكل صحي ده جناب خو دا خبره هم صحي ده چي دے هـاغـه ډهـولك نـواز دے او زمـا رور دے . جناب عالي ، كه تـاسو سره وخت وي نو زهٔ به د دې خبري تفصيلي وضاحت اوكړم چې دَ كـاشـان متـعـلـق ټول شكوك وشبهات كلير شي او عدالت ته هر څه واضـحـه شي ، فلورادَخپل ماشوموالي ، دَ خپل پلار موردَ پېښي ، دَ نـائـن اېلـيـون ذكر پـه حيـات آباد كښې دَ مرسي مېډيكل هسپتال جـوړولـو، دَ چـودني او دَ كـاشـان دَ وركـېدو ټولـه خبره ښهٔ تفصيل سره



www.pukhto.net



اوكړه . پـه خبـرو خبـرو كښې جـج دَ هـغـې نه دَ هغې دَ نوم په باره هم تپـوس اوكـړو او هـغـې ښـهٔ مـطـمـئـن كړو. دې نه پس جج نورخان نه تپوس اوكړو ، "نورخانه ، دا خبره دروغ شوه چي تاسو درې وانړو كاشان او صباپـه شـريـكـه قتـل كړي وو. خواوس راته دا اووايه چې تا دا دروغ ولې ويلے ؟

نورخان :. صېب چې رشتيا خبره درته اوكړم نو دا هر څهٔ دروغ وو؟

جج :. دغه تپوس درنه زهٔ كوم چې په څان اودوي دي دادروغ ولې جوړول.

نـورخـان:. صـېـب چـې رشتيا خبره درته اوكړم نو چې صبا بي بي مِ دَ گـوتو اووته نو چاراسره غوږ اوجنگوو چې " صبا لاړه نو لاړه ، انجمن خو چرته تلې نه ده . انجمن به درته دَ خپله كوره واده كړم ".

جج :. انجمن څوك ده ؟

نورخان :. انجمن دَ تنوير خورده ، په كالج كښې سبق وائي .

جج :. تنوير څوك دے ؟

وكـيـل صـفـائـي : جناب عالي ، تنوير هغه هلك وو چې دَ دوي خلاف يې درخواست وركړے وو هغهٔ ته دَ خپـل ظلم سزا ملاؤ شوه او په يوه چودنه كښې مړ شو .

جـج(نـورخـان تـه ) تـادَ يـوې ښځـي دَ پـاره دا خواران پـه عذاب كښې اچولي وو؟ بيا فائل ته گوري او يوه شيبه پس وائي ، " دَ وكيل سركار، وكيـلِ صـفـائي ، دَ كـاشان او صبا عدالت ته په حاضرېدو ، دَ هغوي په پـېـژنـدگـلـو او دَ مس فلورا دَ وضاحت نه پس عدالت ته معلومه شوه

چې دَ نورخان ګواهي نه صرف دروغ ده بلکه دا هرڅۀ هغۀ دَیو خاص سازش په نتیجه کښې کړي دي ، عدالت ته دَ نورعالم او ګل عالم بې ګناهي ثابته شوه، دے دَ پاره نورعالم او ګل عالم پسرانِ میراعظم خان باعزته بري کیږي . دې نه علاوه نورخان خپل جرم په خپله تسلیم کړو چې دا هر څۀ هغۀ دَ یو خاص سازش په وجه کړي دي . دے دَ پاره عدالت مسمّی نورخان ولد تورخان سکنه مرجانۍ له دَ بهتان تراشۍ ، دروغ ګوئي او دَ هغۀ دَ سازش په نتیجه کښې لس کاله قېد بامشقت سزا ورکوي . عدالت برخاست.

دَ جج دَ پاسېدو او تلو سره دَ عدالت په کمره کښې هرخوا خوشحالۍ او مبارکۍ شوې . فلورا صبا ته ورترغاړه وته ، هغې له یې په مُسکا مُسکا مبارکي ورکړه او ورته یې اووې ، "دَ مېتهائي ډبلې دریاندې کهره شو".
هغې ورته په خندا خندا کښې اووې ، "په ډبلي مِ مۀ یره وه ، دَ رونو دَ سرونو مِ خوږ دېګ منلے دے" بیا جان پري ته ورترغاړه وته او ورته یې وویل ، "بابې اوس دا مبارکي قبوله کړه ، خو په دے مِ سود نه کیږي ، زۀ او صبا به مبارکۍ له کورته درځو". هغې ورته په مُسکا مُسکا اووې ، "هغه ورځ به کله وي خورې چې تۀ به زمونږ په غولي کښې پل کیږدې . یوخوا مېډم رېحانه او رعنا بېګم خپلو کښې غاړې ورکولې بل خوا صبا او جان پري یوبل ته ورترغاړوتې وې . جان پري صبا ته په مُسکا مُسکا اووې ، "صبا، زۀ به ستا دا احسان تول عمر یاد لرم" بیا یې هغې له په سر لاس کېښودو او په دواړه مخه یې ښکل کړه . دَ صبا نه پس کاشان


www.pukhto.net



جان پري له ورغۍ او هغې له یې مبارکي ورکړه . چې دَ نورعالم او ګل عالم نه هتکړۍ او بېړۍ اووتې نو کاشان په مُسکا مُسکا خوره غېږ نورعالم له ورغۍ خودَ غاړې ورکولو په ځائے هغه په شا داسې دیکه ورکړه چې په فلورا یې وراوغورځوو او که هغې خپې نه وې ټینګې کړې نو کېدېشي چې دواړه په زمکه پرېوتې وې. هغه دَ فلورا په سهاره باندې پاسېدو او اودرېدو . فلورا او کاشان دواړو یو بل ته په سوالیه نظر اوکتل . دواړو اګر څۀ په سترګو کښې یوبل ته ډېر څۀ اووې خو په خوله یې هیڅ اونه وې . هغه لا ولاړ وو چې صبا ورمخکښې شوه او رونو له یې مبارکي ورکوله خو ګل عالم هغې له داسې دیکه ورکړه چې په کاشان ورپرېوته خو هغه غورځېدو ته پرې نښوده او په غېږ کښې یې اوچته کړه . بیا یې دَ لاس نه اونیوه ، دَ عدالت دَ کمرې نه یې بهر کړه او په ګاډي کښې یې کېنوله . فلورا چې دَ نورعالم او ګل عالم تکبّر ته اوکتل نو دَ هغوي مبارکۍ له ورنه غله . دَ مېډم رېحانه او رعنا بېګم نه یې په سترګو سترګو رخصت واخستو او ډېره په تېزۍ سره هغوي پسې اووته ، ګاډي کښې کېناسته او په یو شغ دَ کچهرۍ نه اووته .

دَنورعالم او ګل عالم په رویو باندې مېډم رېحانه او رعنا بېګم ډېرې خفه شوې . داسې معلومېده چې دَ هغوي نه په ولاړه ولاړه ساه اوتې وي .
مېډم رېحانه :.جان پري ته په ډکو سترګو اوکتل لکه چې دَ هغې نه دَ خپل جرم تپوس کوي خو هغې هیڅ جواب ورنکړو او سترګې یې خکته کړې . دَ فلورا دَ تلو نه پس مېډم رېحانه او رعنا بېګم هم خرې

روځې دَ عدالت دَ کمرې نه په درنو قدمونو اووتې . جان پري ته دَ خپل خاوند او لېور په رویو دومره خفګان اورسېدو چي هغه دَ هغوي مبارکۍ له ورنه غله . خپل زوے کاشف یې دَ لاس نه اونیوو او په یو طرف غلې غوندې اووته . دَ کلي ځینے خلق هم دَ کاشان او صبا په بې عزتۍ خفه شو او ټول خوارهٔ وارهٔ شو . دَ کاشان ، فلورا ، صبا، مېلهٔم رېحانه ، رعنا بېګم او جان پري دَ خوشحالۍ جذبې په خفګان کښې بدلې شوې . هغه خفګان چې دَ هغې اظهار هغوي نشو کولې او یو بل ته یې دَ تپوس په نظر په ډکو سترګو کتل چې دا څهٔ وو اوڅهٔ اوشو.

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## یوڅلسم باب

صبا، کاشان او فلورا ته دَ نورعالم او ګل عالم په نامناسبه رویو سخته ذهني او قلبي صدمه رسیدلې وه . هغوي یو شواروز په خپلو خپلو بسترو کښې دَ ځان او دَ دنیا دَ حاله بے خبره ډب ډوب پراتهٔ وو. دَ هغوي موبائیلونه کړنګېدل خو هغوي نه اورېدل او که اورېدل یې خو اوچتول یې نه غوښتل . داسې معلومېده چې دَ دنیا ټول غمونه په هغوي پنډ دي او د دغه پنډونو لاندې هغوي بې ځوکه ، ناامېده او مایوسه پراتهٔ دي . الماسه ترور دَ فقیر بابا په وینا دَ هغوي دَ حال احوال معلومولو او دَ چاې ډوډۍ دَ تپوس کولو په غرض تله راتله خو هغوي سترګې نه اوچتولې. دَفلورا دَ زړهٔ خبرې په زړهٔ او دَ خولې خبرې په خولهٔ پاتې شوې . هغې دکاشان او دَ صبا دَ وادهٔ په حقله ډېر خائسته او خواږه ، خوبونه لیدل ، لوې لوې منصوبې یې لرلې او دا یې په زړهٔ کښې جوړه کړې وه چې هغه به دَ هغوي په وادهٔ دَ خپل زړهٔ ارمان روژي چې کاشان له دَ مور پلار ارمان ورنشي او صبا له هغهٔ پسې په وتو افسوس ورنشي . هغې په زړهٔ کښې جوړه کړې وه چې هغه به په نورعالم او ګل عالم ټول کلے جرګه کوي او هغوي به په هر قیمت او هره طرقه پخلا کو ي او دَ صبا ډولۍ به دَ هغوي دَ کوره اوچتوي . هغه به هغې له په خپو لاس نکریزې لګوي ، دَ کلي دَ روایاتو مطابق به دَ هغوي په وادهٔ کښې لوبې وائي او لوبو لوبو سره

به ګډېږي . په دے غرض هغې دَ صبانه نوې نوې کلي والې لوبې هم زده کړې وې او ورسره ورسره ساينې هم . هغه به کله کله په مُسکا مُسکا څان سره ګونېده او په ګونېدو ګونېدو کښې به ګډېده . صبا به هغې پورې خندېده ، په خندا خندا کښې به کړه وړه کېده ، زمکې له به تله او بيا به نېغېده . دَ هغې دا هم ارمان وو چې دَ هغوي په وادهٔ به هاغه ډوډۍ ورکوي چې دَ ټولې سيمې دَ پاره يو مثال جوړ شي . هغې دَصبا دَ رونړو ، اورندارو ، دَ هغوي دَ بال بچ او دَ هغوي دَ خپلو خپلوانو دَ پاره دَ جامو جوړو اونورو تحفو پروګرام هم جوړ کړې وو. هغې دا هم غوښته چې دَ هغوي دَ وادهٔ نه پس دَ هغوي کډه خپل کور ته راؤړي ، دَ هغې رونړه خپل کاروبار کښې شريك کړي او دَ هغوي بال بچ په ښهٔ ښهٔ سکولونو کښې داخل کړي . صبا نه علاوه هغې مېلېم رېحانه او رعنا بېګم هم دَ خپلې ارادې نه خبر کړې وه .

زيړ مازيګر وو چې کاشان دَ خپلې بسترې نه پاسېدو . دَ پاسېدو سره واش روم ته لاړو ، جامې يې بدلې کړے او دَناشتې دَ پاره ډائننګ روم ته ورغے . دَ هغهٔ نه پس فلورا هم پاسېده او صبا هم پاسېده . دواړو جامې بدلې کړې ، ډائننګ روم ته لاړل او کاشان سره کېناستې . الماسې ترور ناشته تياروله او هغوي په ډائننګ روم کښې دَ هغې په انتظار کښې ناست وو. هغوي بالکل خاموش او په خپلو خيالونو او فکرونو کښې ورك وو. بالکل داسې لکه چې دَ هغوي څوك عزيز مړ شوې و ي او دَ هغهٔ په ماتم کښې ناست وي . چې


www.pukhto.net



ناشته راغله او هغوي شروع اوکړه نو يوه شيبه پس کاشان فلورا ته اووے ، "آپا چې څهٔ شو ي دي ، هغه اوشو ، دَ خفګان نه هيڅ نه جوړېږي ، او دا خفګان به مونږ تر کومې پورې کوو".

فلورا: . ستا خبره بالکل صحي ده رياضه ، مونږ سره اګرچهٔ زمونږ دَ توقع خلاف سلوك اوشو خو ستاخبره چې دا خفګان به مونږ تر کومې پورې کوو ؟ ستا څهٔ خيال دې صبا؟ صبا په ټيټو سترګو ناشته کوله . نه يې هغو ي ته اوکتل او نه يې څهٔ جواب ورکړو . فلورا دَ هغې دَ زړهٔ دَ پاره مسکې شوه او وې وئيل ، "صبا، خفه يې ؟ Forget it all please . داسې کله کله کيږي . دا څهٔ نوې خبره نه ده خو د دے دا مطلب نه دے چې دا خفګان مونږ دَ همېشه همېشه دَ پاره خپلو زړونو ته واچوو او ماتم پرې کوو".

صبا: . فلورا، مونږ سره هغه کار اوشو چې زمونږ په خيال وګمان کښې هم نه وو . زهٔ افسوس کوم چې زماپه وجه ستاسو سپکاوې اوشو ، هغه نورڅهٔ وېل غواړې خو اونه وېلې شي . سترګې يې دَ اوښکو نه ډکې شي او دغه ډکې سترګې يې په مخ راروانې شي. فلورا چې هغې ته اوګوري نو په يره يره وائي ، "اوه صبا، ستا په مخ دَا اوښکې ؟ سمائل پليز ". هغه دَ هغې اوښکې اوچوي.

صبا: . Let it flow ، پرېږده چې بهيږي فلورا . دا اوښکې نه دي فلورا . . .دا هاغه ارمانونه او اميدونه دي چې زما په زړهٔ کښې ډالۍ ډالۍ پراتهٔ وو . هاغه ټول . . .اوبهٔ شو او دَ سترګو په لارو زما دَ زړهٔ نه په

سلګو سلګو اوځي ...فلورا زۀ پـه خپلې بې عزتۍ نه يم خفه ، هغوي زما رونړه دي او هغوي ته دا حق حاصل دے خو زۀ دَ کاشان په بې عزتۍ خفه يم . د دۀ (اوښکې اوچوي) ...د دۀ دَ نېکۍ بدله دا شوه چې دَ مبارکۍ دَ غاړې په ځاے يې ديکه ورکړه او دَ ټولو خلقو مخکښې بې عزته شو . زۀ خپل توهين برداشت کولې شم خو دَکاشان سپکاوې نشم برداشت کولې .

کاشان :. صبا، هغوي ستا رونړه دي ، دَ هغوي نه ستا رغيدن نه کيږي . زما سپکاوې زړۀ ته مۀ اچوه . ستا دَ پاره ما ډېرې سختۍ زغملي دي . دا دَ هغې په نسبت هيڅ نه ده بلکه دَ يوې بنې برابرهم نه ده .

صبا: تاکه هرڅۀ برداشت کړي دي خو ماليدلي نه دي ..او..او...دا خوم په خپله اوليدله .

کاشان :. صبا، خفه کېږه مه خو که رشتيا راباندے وائے نو مونږ هم زياتې اوکړو مونږ له داسې نه وو پکار.

صبا: زياتې څنګه ؟ مبارکي ورکول زياتې دے ؟

کاشان :. هاؤ ، دا موقع هغوي له دَ مبارکۍ نه وه ...صبا ، ته په ما بدنامه شوې يې او زۀ په تا بدنام شوے يم ...دا ټوله خلقو ته معلومه ده چې تـۀ دَ کوره اوتې يې...زۀ نور وضاحت کول نه غواړم خو د اوتې دَ پاره پـه پښتو کښې يو بل ټکي استعماليږي چې هغه زما په خوله نه راځي ...دَ هغوي سزا هم ستا دَ دغه وتويوه کړې ده هغوي سره نـه ستا جوړه شوې ده او نه زما ، يعني هغوي نۀ تۀ معاف کړے


www.pukhto.net



يې او نه زۀ . دا ټيك ده چې زمونږ په وجه هغوي دَ سزا نه بچ شو خو د دے دا مطلب نـه دے چې هغوي مونږ سره جوړه اوکړه او مونږ يې معاف کړو . هغه کينه ، هغه عناد ، هرڅۀ په ځاے پراتۀ دي .

صبا: ستاڅۀ مطلب دے چې د دے بې عزتۍ دَ پاسه مونږ هغوي سره جوړې اوکړو؟ نه ، چرې هم نه . زۀ دَ هغوي جوړې ته تياره نۀ يم او که تۀ ورسره جوړه کوے نو تۀ ازادې ، دَ خپلې مرضۍ خاوند يې، زما دَ مرضۍ خاوند نه يې .

کاشان :. Come on saba ، ستا او زما يوه خبره ده . زمونږ يو کېس دے او يوه خبره ده .

صبا: مادرته اووے چې تۀ دَ خپلې مرضۍ خاوند يې . تۀ ورسره خپله جوړه اوکړه ، زما غم مۀ کوه . خو ياد ساتۀ که تۀ هغوي سره جوړه اوکړے نو زمونږ لارې به بيلې بيلې شي .

کاشان :. زمونږ لارې چرې هم نشي بيلېدې او که بيلې شي نو نۀ به تۀ صبا پاتې شې اونه به زۀ کاشان پاتې شم .

صبا: څۀ مطلب ؟ تۀ ماله دهمکي راکوے ؟ is it so . دا خبره ده .

کاشان :. زۀ تاله دهمکي نه درکوم بلکه زۀ درته حقيقت ويم ... تۀ به دَ صبا چپه شې ، تېره به شي او هېره به شي او زۀ ... او زۀ به دَ موسيګار کاشانه شم ، چې نه چرې وي او کېدېشي.

فلورا ( په غصه ) اوه مائی ګاډ ، ستاسو خبره دے حد ته اورسېده؟ زما په موجودګي کښې تاسو داسې دَ حماقت خبرې کوې . زۀ ستاسو دا فضول

خبرې نشم برداشت کولې. معلومه نه ده چې هغې به مخکښې نورڅهٔ څهٔ وې چې دَ هغې په موبائېل رنګ راغې ، دَ رنګ راتلو سره کاشان هم پاسېدو او صبا هم او دواړه خپلو خپلو کمرو ته روان شو . فلورا چې دَ موبائېل نمبر ته اوکتل نو هغه دَ مېډم رېحانه وو. هغې موبائېل o.k کړو او ویې وئیل ، "هیلو ، میډم سلام علیکم ".

مېډم رېحانه :. وعلېکم سلام ، فلورا تاسو اودهٔ وئ او که بله څهٔ وجه وه . پرونه راسې تاته او صبا ته رنګ کوم ، رنګ درځې او جواب نه راځې؟

فلورا:. خبره هم هغه پرونۍ ده مېډم . مونږ ټول دومره خفه وو چې دَ ډېر خفګان نه موکال نشو اټېنډ کولې . اوس لږ ساعت مخکښې پاسیدو او ناشته موکوله . سوري مېډم خفه نشې .

مېډم رېحانه :. فلورا ، دغه صدمه مونږ ټولو ته رسیدلې ده خو اوس هیڅ نشي کېدې . چې څهٔ بهوس وو هغه ووُسو . چې څهٔ شوي دي هغه اوشو ، نورڅان له زړهٔ مهٔ خورئ . تاسو له دے خدائے د دے نېکۍ بدله درکړي او هغوي ته دے خُدائے دَ نېکۍ هدایت اوکړي. ښه یوه بله خبره مِ کوله او هغه دا چې یو څو ورځو له مونږ کره راشئ . زمونږ ځائے ځائېږي به هم اووینئ get together به هم اوشي او زمونږ دا خفګان به څهٔ حده پورې کم هم شي. داسې دے خوښخه ده کنه .

فلورا:. ستا خبره بالکل صحي ده . زهٔ هم تاسره ملاوېدل غواړم خو په یوه بله سلسلهٔ کښې .

میډم ریحانه :. بله کومه سلسله کښې ؟



www.pukhto.net



فلورا:. مېډم ، زهٔ وېم چې که دَ صبا رونړو سره دَ صبا او ریاض جوړه اوشي نو ډېره به ښهٔ وي او ټوله مسله به په اسانه حل شي . ستا څهٔ خیال دے ؟

مېډم ریحانه :. دا خو ډېرښه سوچ دے که داسې اوشي نو ډېره به ښه وي . خُدائے دے ستا په خوله کښې برکت وا چولې کړي . که داسې اوشي نو هډو مسله به ختمه شي ښهٔ تهٔ کله راځې ؟

فلورا:. زهٔ وېم چې څومره زر کېدېشي هومره به ښه وي . په نیك کار کښې تونډي پکار ده که ستا څهٔ نور ضروری کار نه وي نو سباله به درشم .

مېډم رېحانه :. د دے نه بل ضروري کارڅهٔ کیدېشي او که وي نو هغه به روستو کړو او دا به مخکښې کړو . ډېره ښهٔ ده ، تهٔ سبا له راشه . دواړه به هغوي کره ورشو او خبره به ورسره اوکړو .

فلورا :. ډېره ښه ده . زهٔ به تاسره په موبائېل رابطه اوساتم o.k ، دَ خدائے په امان .

★★★★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

## دوېمه برخه

فلورا ټوله شپه ډډې په ډډې اوخته رااوخته او دَ صبا دَ رونو سره يې دَ روغې په حقله سوچونه او فکرونه کول. هغې په هر قيمت او هره طريقه هغوي سره دَ صبا او کاشان روغه کول غوښتل او دَ مشرانو هغه زړه خبره ورته مخکښې مخکښې کېده چې دشمن خس مهٔ ګڼه په سترګه کښې به دے پريوځي . دَ کاشان او صبا دَ تحفظ د پاره هغه هرڅهٔ ته تياره وه . دَ هر څهٔ نه دَ هغې مُراد وو، پېسې ، بنګله ، جائېداد وغېره . په دغه خيالونو او فکرونو کښې دَ هغې سترګې اولګېدې او چې غرېدې نو دَ سحر لس بجې وې . هغه په تونده سره دَ بېډنه پاسېده ، واش روم ته لاړه ، جامې يې بدلې کړې ، ځان يې سنګهار کړو او ناشتې دَ پاره ډائننګ روم ته لاړه . هلته صبا او کاشان ناشتې ته ناست وو. دَ هغې په ورتلو باندې الماسي ترور هغې له بيله ناشته راؤړه او هغې ته يې په مېز کېښوده . په ناشته باندې هغې کاشان اوصبا دَ خپلې ارادې او دَ ننۍ ورځې دَ پروګرام نه خبره کړ او دَ صبا نه يې دَ مېډم رېحانه دَ کور نښخه پته معلومه کړه . صبا اګر څهٔ دَ روغې په حق کښې نه وه خو دَ فلورا مخې له نشوه ورتلې . البته دَ خپل ردِعمل اظهار يې په دې اوکړو چې دَ هغوي دَ ډلې نه پاسېده او خپلې کمرې ته روانه شوه . دَ هغې په تلو باندې دَ کاشان روځې خړې شوې خو دَ فلورا دَ مخه يې په زړهٔ زغنې راخکلې او هغې ته يې هيڅ اونه وے . هغه تر هغې پورې هغې سره ناست وو



www.pukhto.net



چې هغې ناشته اوکړه . دَ ناشتې نه پس چې هغه ګاډي کښې کېناسته نو هغهٔ په مُسکا مُسکا رخصت کړه . دَ پروني خوږو ترخو نه پس دَصبا او کاشان ترمينځه خبرې بندې وې . هغوي دواړو په يو مېز ناشته اوکړه خو چپه خوله راغلل او چپه خوله لاړل . کاشان دَ هغې په رويه او حماقت حيران هم وو او غصه هم . هغهٔ نه غوښتل چې هغه دومره په سر اوخېژوي چې دَ کوزولو په چل يې نه پو هيږي . دَ هغهٔ په زړهٔ کښې دا هم راغله چې شايد دا دَ هغهٔ او دَ فلورا دَ هغه مينې ، خلوص او عزت اُلټه ردِعمل دې چې هغوي هغې ورکړے دے . هغه کمرې ته دَ تلو په ځاے دَ چمن په ګلونو کښې ګرځېدو او په ګلونو ناستو او پرېدونکو رنګينو لولکو ته يې په غور کتل . کله کله به يې په هوا کښې دَ هغوي دَ نيولو کوشش هم کوو او منډه به يې هم ورپسې وهله .

هلته صبا په خپله کمره کښې پرته وه او په کهړکۍ کښې يې دَ هغه دَ حرکاتو جائزه اخستله . هغه چې په کمره کښې بور شوه نو هغه هم په مزه مزه چمن ته ورغله او لکه دَ هغهٔ يې لولکو پسې منډې وهلې . کاشان يوه لولکه اونيوله . دَ هغې خائست ، نزاکت او نفاست ته يې په غورکتل چې صبا دَ هغهٔ خواله ورغله . هغې چې دَ هغهٔ په لاس کښې لولکه اوليده نو هغهٔ سره خوا کښې اودرېده او هغهٔ ته يې اووې ، "څومره خائسته ، نازکه او حسينه لولکه ده ؟ کاشان خپلې سترګې دَ لولکې په خائست کښې ښخې کړې وے خو

دَ هغې دَ خبرې په جواب کښې یې اووے ، "دیکښې هیڅ شك نیشته چې حسینه هم ده ، نازکه او نفیسه هم ده خو .....'' دې سره هغهٔ هغه په خپل تلې کښې کېښوده او دَ هغې وزرونه یې پرېښودل . دَ وزرونو پرېښودو سره هغه والوته او هغهٔ ورته کتل . صبا هغهٔ نه تپوس اوکړو "تا خپله خبره نیمګړې پرېښوده ...خو څهٔ ؟''

کاشان :. خولکه ستا نا اعتباره ده .

صبا(په غصه ) زهٔ نااعتباره یم ؟

کاشان :. بالکل داسې لکه دغه لولکه چې وه هغې زما مینې ته یې اونه کتل او زما دَ لاسونو نه والوته .

صبا:. دا ته وائے ؟ تهٔ ، تهٔ ، تهٔ ؟ کاشانه تهٔ ؟ که مادرباندې خوله را اوسپړده نو سترګې به دې رڼا شي .

کاشان :. ظاهره ده ، تهٔ دغسې کولې شې .

صبا:. تهٔ هغه سړے یې چا دَ لاسه چې په ما تهمتونه او تورونه اولګېدل . دَ چا دَ لاسه چې ماخپله ، حیا، شرم او عزت اوبائېلو ...تهٔ هغه سړے یې چې دَ ادنیٰ درجې دَ کسب ګر په حېث ماقبول کړې وې . اوس چې تهٔ شتهٔ من شوې نو زه نااعتباره شوم ؟

کاشان :. تهٔ مادَ پاره مخکښې هم ناقابلِ حصول وې او اوس هم یې.

صبا:. تهٔ ...تهٔ ...تهٔ ؟

کاشان :. زهٔ دَ بحث په موډ کښې نه یم پلیز. دَ آپا دَ راتلو پورې صبر اوکړه کېدېشي ستا روږو سره زمونږ روغه اوشي. بیا به ستا دَ وینا



www.pukhto.net



مطابق زمونږ لارې بیلې شي .

صبا:. دا تهٔ وائے کاشانه ؟ تهٔ ...تهٔ ؟

کاشان :. دا زهٔ نه وایم دا تا وېلې دي او دَ آپا مخکښې دې وېلې دي.

صبا:. چې دا خبره ده نو بیا زهٔ دلته نوره نشم ایسارېدې . زهٔ درنه لاړم.

کاشان :. دَ خُدائے په امان ، صبا ډېره په غصه او ډېره توندی سره خپلې کمرې ته ورغې او خپل تیارې کوې کاشان دَ هغې هډو څهٔ پروا اونکړې دَ کوره اوځې او په لوې سړك په مزه مزه روان شي. په دېکښې دَ هغهٔ په زړه کښې څهٔ خیال راشي .دے خیال سره دَ هغه په سترګو کښې ځلا او دَ هغهٔ په مخ مُسکاراشي. هغه یوخالي ټیکسي ته اشاره کوې چې ټیکسي راشي نو هغه پکښې کېني او دَ میرام جان دَ پړاؤ په لور روان شي .دَ میرام جان پړاؤ څهٔ دومره لرې نه وو چې لږه شیبه تېربده نو هغه ، هغه ځاے ته اورسېدو . ځائے هم هغه وو ، زمکه ، هم هغه وه خو دَ میرام جان پړاؤنه وو. بهرحال هغه ډرائیور له پیسې ورکړے او دَ ګاډی نه کوزشو. هغه په درنو قدمونو هغه ځاے ته ورغی۔ چرته چې دَ میران جان پړاؤ وو. دَ خېمو دَ موړو سورې ، دَ وران نغرې ایرې ، څهٔ زړې چیرانګې او ټکړې دَ اوښانو غوشان ، دَ ګډو بزو پچې ، دَ وړی او وېښتو شوړې ، شلېدلي پړې، دَ اوښانو پلونه ، دَ ګډو بزو دَ نوکونښخې، دا هرڅهٔ موجود وو خو دَ میرام جان دَ پړاؤ او کورنی۔ هیڅوك نه وو. هغه ډېره شیبه دم ختلې ولاړ وواو دغه نښخو ته یې په مړو او غمژنو سترګو کتل . بیا په دغه

ځایونو ګرځېدو او یو یو ځائے یې دَ نظره ویستو . په دغه ګرځېدو ګرځېدو کښې هغه هغه ځائے ته ورغے چرته چې هغه خېمه لګېدلې وه په کومه کښې چې هغوي ناسته کړے وه ...په کومه کښې چې هغوي چاې څکلې وه او په کومه کښې چې هغهٔ هغوي سره خپل زاړهٔ یادونه تازه کړي وو . په دغه ناسته ناسته کښې دَ هغهٔ سترګې په یو ځائے ښخې شوې . دې سره دَ هغهٔ په مخ مُسکا خوره شوه . یوه شیبه یې هغه ځائے ته کتل بیا په مزه مزه ورغے او هغه ځیز یې راواخستو . دا ځیز دَ سپین تار ګونټ وو چې پکښې غټې وړې ستنې تومبلې شوې وې . هغهٔ ډېره شیبه په مُسکا مُسکا هغه ته داسې کتل لکه چې یو ډېر قیمتي لعل یې موندلے وي . بیا یې په جیب کښې کېښودو او په شاړه کښې روان شو . په تلو تلو کښې هغه ډېر لرې دَ غرلمنې ته اورسېدو . هلته یې یوې ګټې ته ډډه اووهله او هغه طرف ته یې کتل . هغه ته خپل زوړ اوتلې وخت بیا رایاد شو . خپلې تېپې ، دَ خنداني سلګي او دَ وړمې جذباتي مینه ورته رایاده شوه . دَ سپینې او ګل جان خیال باندې هغه سرسري تېرشو او بیا دَ وړمې خیالونو ته اورسېدو په راتلو کښې دَ هغې تېپه او دَ هغې دَ تېپې په جواب کښې دَ هغهٔ تېپې . دغه ټول مناظر او واقعات اګرچهٔ په هغه وخت کښې ډېر خوارهٔ نه وو خو اوس دَ هغې په خوږونه مړېدو. هغه تر ناوخته پورې په دغه خیالونو کښې ډوب وو چې دَ هغه په موبائېل رنګ راغے . هغهٔ چې موبائېل اوچت کړو نو هغه دَ صبا


www.pukhto.net



موبائېل نمبر وو. هغهٔ کرنګېدلې موبائیل یوخوا ته کېښودو او خپلو خیالونو سره بیا په مشغولا شو. یوه شیبه پس بیارنګ راغے . هغهٔ نمبر ته اوکتل خو اوچت یې نکړو ځلور پنځه ځله چې پرله پسې رنګونه اوشو نو بیا یې اوچت اوکړو او وے وئیل ، "هېلو صبا، چرته یې "؟

صبا:. چرته یم ؟ څهٔ مطلب ؟ خپل کور یم .

کاشان :. خپل کور ته اورسېدې ؟ څه ښه ده چې تهٔ لاړې . رونړو ته دے زما سلامونه وایه .

صبا:. Come on kashan . زهٔ حیات آباد کښې یم .

کاشان :. دَ ګاډي انتظار مه کوه ، شاید آپا رانشي او مېډم رېحانه کره شپه اوکړې . تهٔ ټېکسي اوکړه او ځان اورسوه .

صبا:. کاشانه ، کاشانه . زهٔ به ستا غوښې اوخورم.

کاشان :. زهٔ تانه ډېر لرې یم . ماته ستا خوله نشي رسېدې. که غوښې ته دې زړهٔ کېږي نو په فرج کښې پرته ده .

صبا:. خُدا ے دَ پاره کاشانه ، څهٔ دَ عقل خبره اوکړه پلیز.

کاشان :. ستا دَ پاره عقل دَ کومې راؤړم . زهٔ خو دغه یم چې یمه،که زما خبرې بې عقله وي نو تهٔ دَ عقل اوکړه .

صبا:. تهٔ کوم ځاے یې کاشانه .

کاشان :. زهٔ دَ غرونو په مینځ کښې په یوه ګټه پروت یم او تاسره خبرې کوم .

Pukhto.Net

صبا: تهٔ راشه کاشانه پلیز . زهٔ ډېره پریشانه یم .
کاشان :. نه صبا ، ماپه خپل حال پرېږده . زهٔ په دې حال کښې ډېر مطمئن یم . مامهٔ ډسټرب کوه پلیز .
صبا: کاشانه ، که تهٔ نه راځے نو ماته ځائے اوښایه ، زهٔ به درشم.
کاشان :. ستا دَ لاسه خو زهٔ دلته راغلے یم . چې ته دلته راشې نو بیا به چرته ځم ؟
صبا: تهٔ زمانه خفه یې کاشانه ؟ ”کاشان هغې له څه جواب ورنکړې او موبائېل بند کړې . یوه شیبه پس بیارنګ راشي . هغه موبائېل اوچت کړې او چې هېلو اووائي نو دَ صبا دَ ژړا او سلګو اواز راشي. هغه په سلګو سلګو کښې وائي ، کاشانه ، زهٔ تانه معافي غواړم. ته راشه پلیز.
کاشان:. صبا، زما او ستا دَ میني دَ لارې بیلېدو کښې ډېرلږ وخت دے زهٔ ستا دَ تلو ترخې لمحې برداشت کولے نشم . ښهٔ به دا وي چې زمونږ جُدائي زما په غېر موجودګۍ کښې اوشي .
صبا: دَ خُدائے روي اومنه کاشانه ، ته راشه ګینې زهٔ به ځان شوټ کړم. او زما دَ قتل دعویٰ به په تاوي .
کاشان :. ستا بیان ما ریکارډ کړو اوس کوه خودکشي ، دې سره هغه موبائیل بند کړي ، پاسي او په مزه مزه روان شي . چې دَ پړاؤ ځائے ته اورسي نو هلته یوه شیبه اودرېږي او بیا روان شي . چې سړك ته اورسي نو په روانه روانه کښې په شاګوري او په مخکښې ځي. په



www.pukhto.net



دېکښې دَ روستو نه یوخالي ټېکسي راشي . هغه ټېکسي کښې کېناستو اولږه شیبه پس دَ خپل کورمخې ته کوز شو چې کورته ورغی. او دَ صبا دَ کمرې په مخه تېرېدو او خپلې کمرې ته تلو نو دَ هغې په کمره کښې یې دَلوبې اواز وورېدو چې ،”لړې په چل چل کښې سترګې راواړوه کاشانه “. هغه چې دَ هغې کمرې ته ورغی نو دَ هغې په موبائېل دغه لوبه لګېدلې وه او هغه ورته پټې سترګې پرته وه کاشان ، هغې سره غلے غوندے کېناستو . هغې ته چې دَ چا دَ موجودګۍ احساس اوشو نو سترګې یې اوغړولې او په بېډ کښې کېناسته . هغې چې هغهٔ ته اوکتل نو مسکے شوه خو دَ کاشان له خوا دَ هیڅ ردِ عمل اظهار اونشو . هغې اووې ، ”کاشانه تهٔ زمانه خفه یې؟ کاشان دَ هغې نه مخ واړه وو او په لاپروائي کښې یې اووے “ نه صبا نه ، دَ خفګان وخت تېر شو. مونږ له پکار دي چې خپل زاړهٔ یادونه هېر کړو او په خندا خوشحالۍ په خپله خپله مرضي په خپلو خپلو لارو روان شو. مونږ له دَ یوبل نه ګېلې کول نه دي پکار. . . اودا جُدائي خپل مقدر اوګڼو.
صبا:. داسې خبرې مهٔ کوه پلیز . ستانه بغېر زمابل څوك دي؟ ماخو خپل هرڅهٔ ستا په مینه کښې اوبائېل . زما دَ زړهٔ دَخوږېدو او سترګو یخېدو بل هیڅوك نیشته .
کاشان :. داسې مهٔ وایه ، ستا دَ پاره دَ هیڅ کمې نیشته . تهٔ ماشاء الله حسینه یې ، تعلیم یافته او مهذبه یې . ستا دَ پاره هیڅ مسله نیشته

...زۀ بـه پـه دے خیال خپـل زړۀ لـه دلاسه ورکړم چې صبا دَ صبا یوه خوشگوار او خوشبوداره چپه وه ...راغله ، تېره شوه او هېره شوه . البتـه زماکاشانـه دَ هـمېشه همېشه دَ پاره ختمه شوه . دې سره هغه پاڅي او خپـلې کمرې ته ځي .دَ هغۀ دَتلو نه پس صبا هم هغۀ پسې ورځي ...ژاړي او پـه ژړا ژړا کښـې دَ هـغـۀ پـه خپو پرېوځي. کاشان هغه په دواړه لاسه اوچتوي او په خپل بېډ کښې يې ځان سره کېنوي. هغـه خپـل سر دَ هـغـۀ پـه اوږه کېږدي او هغۀ ته وائي ، مامعاف کړه کاشانه ، آئي ایم سوري ، کاشان په یولاس هغې له سهاره ورکوي او په بـل لاس هغـه پـه مزه مزه پـه شا ټپوي لکه چې هغې له دلاسه او دَ خپـلې میـنـې یـقین دهاني ورکوي . په دغه ټپولو ټپولو کښې ورته وائي ، صبا ،مونږ دواړه دَ ازل په ورځ په یو وخت او دَ یو بل دَ پاره پېدا شوي یـو. مـونږ نه بیلېدې شو او نه یو بل پرېښودې شو، نو بیا داسې تـرخې خبرې ولې کوې چې زمونږ دَ مینې ټول خواږۀ پرې تراخۀ شي او زاړه زخمـونـه مو بیا تازه شي . ستا په یو تکي بېگا ما تکې خوب نه دے کړے خو بیا مِ زړۀ له په دې تسلي ورکړه چې شاید زما مثال دَ هاغـه کاشانې دې چې مرغۍ پکښې شپه تېره کړي خو چې سکون ورتـه مـلاؤ نشي نـو دَ بـلـې کـاشـانې په تکل والوځي. ستا په پرونۍ خبره هم آپا خفه ده او ستا ننۍ بې رُخي هم هغې مائنډ کړې ده".

صبا:. کـاشانه ، چې خواږۀ دَ حده زیات شي نو تراخۀ لگي. شاید زما تـرخـه خبره دَ ډېرو خوږو الُټه اثروي خو دَ فلورانه زۀ مطمئنه یم . هغه


www.pukhto.net



زمانه نه خفه کېږي زما خور ده خو زۀ په تا یریږم .

کاشان :. آپا ستا خورده او زۀ ستا څۀ یم ؟

صبا:. هاؤ ، هغه زما خورده او تۀ زما دَ زړۀ کور یې. که هغه رانه خفه شي نو پخلا به یې کړم خو چې کورم وران شي نو ژوند به مِ گران شي ، صبا دَ هغۀ دَ اوږې نه سراوچتوي او دَ هغۀ په سینه یې اږدي او هغۀ ته وائي ، "کاشانه یوه خبره مِ منـے"؟

کاشان :. دَ خبرې نـوعیت ته به کتلي شي . که دَ منلو وي نو ولې نه ...څۀ خبره ده".

صبا:. نه کاشانه داسې نه ، مخکښې وعده اوکړه نو بیا به درته خبره کوم.

کاشان :. په وعده کښې به تاواني شم ؟

صبا:. دَ تـاوان نـه مـۀ یریږه . تاوان دے ماته رسي . که دَ وعدې نه پس هم تاته مناسبه ښکاره نشوه نوتۀ خپله وعده ماتولے شے .

کاشان :. نـو بیا دَ وعدې خو هډو څۀ ضرورت پاتې نشو . ښه وایه، په زړۀ دې څۀ دي ؟

صبا:. یـو دا چې مـاتـاته په غصه کښې دَ ادنیٰ درجې کسب گر وېلې دي . دَ هغې معافي درنه غواړم .

کاشان:. ښه معاف شوې . نور؟

صبا:. بـله دا چې ماستا په مینه کښې هرڅه بائېللي دي . خپله حیا، خپـل شرم ، خپـل عزت ، خپـل غیـرت ، خپـل رونـه ، خپل خپلوان، کـور، کلـے او اولس . زۀ بالکل یواځې پاتې شوم خو زۀ خپل زړۀ له په

دے امید تسلي ورکوم چې ته مِ اوګټلې نولکه چې ما هیڅ نه دي بائیللې . کاشانه چې تا خپل څنګ کښې اووینم نو زما مینه دومره اوچته شي چې خپل ځان راته دَ ټول جهان ملکه ښکاري. تردې چې تهٔ هم راته تهٔ ښکاره نشے . تهٔ زما دَ لیونۍ مینې دغه لمحې برداشت کولے شے .

کاشان :. صبا، برداشت ، تحمل او درګزر دَ مینې اجزاء دي . دې نه بغیر مینه نشي چلېدې . صبا، دَ مینې مثال دَ هغه اوم تار دے چې دَ هغې یو سر دَ یو کس په لاس کښې وي او بل سرئې دَ بل په لاس کښې وي . دغه تار به نه دومره راکاږې چې اوشلېږي او نه به دومره ډهیل ورکوې چې لاندې زانګېږي . . .صبا دَ هر یو څیز یو حد وي ، یوه دائره وي یو څیز چې دَ حده تېرشي نو ګانډېرشي. که زمونږ مینه زمونږ دَ ذات دَ محورونو نه دَ یوې دائرې په شکل کښې تاوېږي خو دَ حادثې څهٔ امکان نیشته خوکه دغه مینه لېوني شي او دَ سرېتوب دَ دائرې نه بهر شي نو بیا خو دَ برداشت حد ختم شي . . .فلورا زما خور هم ده او زما مور هم ده . که ستا مینه دَ هغې په مخکښې لېونۍ شي نو بیا خو هغې سره دَ لېونو غوندې سلوك پكار دے په پرې ترل او په لرګې ټکول غواړي . (خاندي ) بله خبره شته ؟

صبا:. بله دا چې فلورا زما رونږ سره زما او ستا روغه کول غواړي.

کاشان:. خو تهٔ دانه غواړې ؟ داسې ده کنه ؟ ولې نه غواړې ؟

صبا:. فلورا وائي چې زما ډولۍ زما دَ رونږ دَ کوره اوچته شي او دے



www.pukhto.net



کورله راشي .

کاشان :. او تهٔ څهٔ غواړې ؟

صبا:. زهٔ دا غوارم چې زما ډولۍ زما دَ کمرې نه اوچته شي او ستا کمرې ته راشي .

کاشان:. بیا خو دَ ډولۍ ضرورت پاتے نشو . دلته خو تهٔ په خپله هم راتلې شې لکه اوس چې راغلې یې . صبا، ته په خپل عزت ولې نه پوهیږې ؟ هغه تاله عزت درکول غواړي . چې ستا شرم په شرم او ستا حیا په حیا پاتې شي .

صبا:. نه کاشانه ، تهٔ نه پوهیږے . دَ دغه شرم او حیا درز ترلرې پورې تلے دے او هر چا اوریدلے دے . اوس دا نه بحال کیږي . او ماسره به هاغه څهٔ کیږي څهٔ چې نورو پیغلو سره کیږي . کاشانه . زهٔ منم چې فلورا نره پښتنه ده خو هغه دلته مېلمنه ده . هغه زمونږ دَ کلو په رواجونو ، دود ، دستور او په دشمنۍ تربګنۍ نه پوهیږي .که زهٔ یو ځل هلته لاړم نو بیا به زما دَ ډولۍ بازوله اوږه نه ورکړې کیږي بلکه زما دَ جنازې کټ له به اوږه ورکړې کیږي (ژاړي) . . .کاشانه ، فلورا ته اووایه پلیز ، چې واپس راشي او دَ روغې خبره په ځائے پریږدي . چې هلته مړم نو ښهٔ به داوي چې ستا په غیږ کښې مړه شم ، هغه په چغو چغو ژاړي . کاشان په یو لاس دَ هغې دَ مخ نه دَ هغې خورې زلفې لرې کوي او په بل لاس دَ هغې اوښکې اوچوي .

★★★



Pukhto.Net

## دریمه برخه

فلورا چې دَ مېډم رېحانه دَ کور په ګېټ ګاډے دننه کړو نو هغه لا په ګاډي کښې وه چې ګڼې ښځې دَ هغې استقبال ته پاسېدې او دَ هغې په طرف ور رواني شوې. مېډم رېحانه دَ ټولو نه مخکښې شوه او هغې په ښکلولو ښکلولو په غېږ کښې دَ ګاډي نه راوويستله . ګڼې ښځې دَ هغې نه چاپېره اودرېدې او په واره واره به یې په مُسکا مُسکا غاړې ورکولې .

شپې ورځې اګر چهٔ دَ یخنۍ وې خو اسمان صفا وو او نمر په ځلاوو. مېډم رېحانه بهر په غولي کښې دَ ناستې انتظام کړې وو. په کټونو کښې نرمې، ګرمې او پستې تولیاني اچولې شوې وو، سپین رېښمي څادرونه پرې غوړېدلي وو او خائسته خائسته بالختونه پکښې پراتهٔ وو . کټونو سره خوا کښې صوفې او کرسۍ هم لګېدلې وې او دَ هرې صوفې، کرسۍ او کټ مخې ته یو یو تپائي پروت وو . البته یو کټ سره غټ مېز پروت وو او یو سر او سرته یې یوه یوه ګلدسته په بیل بیل ګلدان کښې پرته وه . په یو کټ دَ ګلونو پاڼې شیندلې شوې وې او دَ بالخت یو سرته او بل سرته دَ کشمالو غنچې پرتې وې . فلورا دَ ښځو په ډله کښې په عزت راوستې شوه او په دغه خصوصي کټ کښې کېنولې شوه .

فلورا مسکۍ شوه او مېډم رېحانه ته یې اووې، "مېډم، تاسو خو زمانه خصوصي مېلمنه جوړه کړه . ستاسو دَ عزت افزائي ډېره ډېره



www.pukhto.net



شکریه".

مېډم رېحانه :. زهٔ افسوس کوم چې دَ وخت دَ کمې په وجه ماهاغه څهٔ اونکړې شو څهٔ چې زما په زړه کښې وو.

فلورا:. مېډم . دې نه علاوه نور څهٔ هم ستا زړهٔ کښې وو؟

مېډم رېحانه :. هاؤ فلورا . مادرته دَ کالج دَ جینکو سلامي پېش کول غوښتل خو دَ طالباتو دَ چهټۍ په وجه کالج بند دے نو په دې وجه اونشوه . فلورا (خاندي) واهٔ مېډم واه . دا ښهٔ ده چې اونشوه . زهٔ دَ دومره عزت مستحقه نه یم .

مېډم رېحانه :. داسې مهٔ وایه فلورا . دلته خو اونشوه خو یوه ورځ به دے کالج ته راغواړم او دَ جینکو سلامي او پي ټي شو به درته پېش کوم.

فلورا:. مېډم، ستا دَ نیکي ارادې اونیکي پېرزونې ډېره ډېره مننه.

دې نه پس مېډم رېحانه نورو ښځو سره دَ هغې پېژندګلو اوکړه او دَ هغوي پېژندګلو یې هغې سره اوکړه . دا ټولې ښځې دَ مېډم رېحانه دَ کالج ملګرې، لکچررې وې او هغې فلورا سره دَ ملاوېدو دَ پاره راغوښتې وې . بیا دَ هغوي خبرې، سوالونه او جوابونه شروع شو. په مینځ مینځ کښې پکښې چاې هم راغله، او دَ صبا او کاشان خبرې هم پکښې راغلې . دغه خبرې دومره اوږدې شوې چې یو خوا دَ چایو لوښي اوچت شو نو بل خوا دَ ډوډۍ دَ پاره پوړ اوغوړېدو فلورا اګر چهٔ دَ غرمې دَ ډوډۍ عادي نه وه خو دَ مېډم رېحانه دَ زړهٔ دَ پاره کېناسته. دَ ډوډۍ نه پس بیا خبرې شروع شوې، فلورا دومره خوږه وه چې دَ

هغوي تـرېـنـه تـلـو تـه زړۀ نـه کـېـدو . دَ هـغـې یو یواندام ته به یې په پسخېدلې سترګو کتل او دَ هغې ستاینې به یې کولې .

دَ هغو ي خبرې نـه ختـمـېـدې بـلـکـه دَ مینې خوږوالې یې وار ترواره زیاتېدو خو هغې چې ورته دَ خپل مشن خبره اوکړه نو ټولو اومنله او دَ هغې دَ کامیابۍ دَ پاره یې دعا اوکړه . زیږ مازیګر وو چې هغوي هم دَ کـوره اووتـې او مـېـډم رېحانه اوفلورا هم په ګاډې کښې کېناستې او مـرجانۍ ته روانې شوې ، چې دَ نورعالم کورته اورسېدې نو ګاډې یې دَ کـور مـخـې تـه اودروو او هـغـوي دواړه کورته ورددننه شوې . جان پرې چې هغـوي اولیـدې نـو ډېـره خـوشـحـالـه شوه هغې او ګل پرې دواړو هـغې سره روغ جوړ اوکړل او په عزت یې کېنولې . دَ کلو دَ دود دستور مـطـابـق دَ چـاې ، شـربت سلسله بیا شروع شوه . په دېکښې کاشف دَ بهـر نـه کـورتـه راغـۍ . هغۀ چې فلورا اولیده نو ورغی. هغې او مېډم رېښانـه سره یې روغ جوړ اوکړل . فلورا هغۀ ښکل کړو او څان سره په غـېـږ کښې کېنوو. نمر په غرغره وو چې دَ مېډم رېحانه په وېنا باندې نـورعالم او ګل عالم دواړه کورته راغلل . هغوي دواړو ته سترې مشې اووې او هغوي ته مخامخ په بل کټ کښې کېناستل . دَ کېناستو سره نـورعـالـم مـېـډم رېحانه ته اووے ، ”تا پیژنم مېډم خو دا بله بي بي نه پېژنم “ ؟

مېډم رېحانه :. نورعالم خانه ، دا دَ کاشان خور ده .

نـورعـالـم سترګې خکته کړې او وائي ، ډېـرښـۀ . . .ښـۀ تـاسـو څنګه



www.pukhto.net



راغلي یې ؟

مېډم رېحانه :. بي بي تاسو سره دَ کاشان اوصبا روغه کول غواړې.

ګـل عـالـم :. صبا زمـونـږ خـورده . مـونـږ پـوهـ شـه او صبا پو هـ شـه دېکښې دَ بل چا کارنیشته .

نورعالم:. البته که دَ کاشان په حقله څۀ وېل غواړې نو وېلې شۍ .

مېډم رېحانه :. مونږ وایو چې کاشان سره هم ستاسو جوړه اوشي.

نـورعـالـم:. روغـه ښـۀ څیـز دے خو دَ روغې څۀ اصول او څۀ طریقه وي . . .کاشان چې مـونـږ پورې ځومره خندا اوکړه نو په دے نزدے کلو کښې تـراوسه داسې نه دي شوي . مونږ هغه دومره اوشرمولو چې چا سره سترګې هم نشو لګولے. دَ شرمېدو نه علاوه دَ لاکهونو روپو تاوان مو اوشو.

مـېـډم رېـحانه :. مونږ هرڅۀ منو ، ستاسو عذر به هم اوکړو اوتاسو به خوشحاله هم کړو .

ګـل عـالـم :. عـذرتـه ضرورت نیشتـه . رومبۍ خبره دا ده چې صبا او کـاشـان بـه مـونـږ تـه حـواله کړۍ او دَ ټول کلي په مخکښې به یې په لـویـه ډاګـه کـښـې اودروو او هـغــه څۀ بـه ورسره کوو څۀ چې دَ تور مجرمانو سره کیږي .

مېډم رېحانه :. څۀ مطلب؟

نورعالم :. مطلب دا چې هغوي دواړه به سنګسار کړو.

مېډم رېحانه :. دا خو روغه نشوه سزا شوه .

ګل عالم :. چې هغوي دَ مینځ نه اوځي نو دې بي بي سره به روغه اوکړو.

مېرمن رېحانه :. اوکه داسې اونشي نو دَ روغې بله څۀ طريقه کېدېشي.

نورعالم:. بله طريقه دا ده چې عذر به هم راته اوکړي يعنی تول کلي له به ډوډۍ هم ورکوي او زمونږ دَ مقدمې پنځوست لاکهه روپۍ تاوان به هم راکوي .

ګل عالم :. دې نه علاوه دَ صبا په بدل کښې به سوره راکوي .

مېرمن رېحانه :. عذر چې هرڅومره غواړې ،تاوان چې هرڅومره غواړې ، درکولي شو خو دَ سورې خبره ترينه اوباسی .

ګل عالم :. تاوان به دَ تاوان په بدل کښې راکوي او سوره به دَ خور په بدل کښې راکوي او عذر به دَ شرم په بدل کښې راکوی .

مېرمن رېحانه :. دَ بې بې خو دَ سورې شوك نيشته ؟

نورعالم :. دا بې بې دَ کاشان خورنه ده ؟

مېرمن رېحانه :. دا دَ کاشان خور ده خو داسې به څنګه اوشي ؟

نورعالم :. دا به دغسې اوشي لکه مونږ سره چې اوشوه .

مېرمن رېحانه :. دَ سورې نه بغير بله څۀ طريقه ؟

نورعالم:. بله هيڅ طريقه نيشته . البته دې له دا اجازت ورکولے شو چې په مونږ دواړه کښې چاسره نکاح کول غواړي نو کولې شي؟

(فلورا مېرمن رېحانه ته په ډکو سترګو ګوري ) .

مېرمن رېحانه :. نورعالم خانه روره چې څومره پېسې غواړے نو درکولي شو خو دَ سورې خبره ترينه اوباسی .

نورعالم :. چې دَ سورې خبره ترينه اوباسو نو څۀ به پاتې شي . زما عزت



www.pukhto.net



څۀ شو . زما شرم څۀ شو . زۀ به دَ کلي خلقو له څۀ جواب ورکوم؟

مېرمن رېحانه :. ښه روره ، مونږ به درنه اوس لاړې شو، په دې باندې به مونږ سوچ اوکړو او تاسو به خبر کړو. پاسه بې بې چې ځو.

ګل عالم :. چرته ځې . دَ ډوډۍ وخت دے ، ډوډۍ اوخورۍ .

مېرمن رېحانه :. نه روره ډوډۍ سره به بيا ګورو . اوس ناوخته دے . دا غريبه به کورته ځي .

نورعالم :. د دې غريبې غم مۀ کوه ، مونږ به يې اورسوو.

فلورا :. نه جي ډېره مهرباني ، زۀ به مېرمن سره لاړه شم . بيا به راشو انشاء الله .

مېرمن رېحانه :. ځه چې ځو فلورا.

نورعالم :. که تۀ ځې نو ځه خو دا بې بې نشې تلې .

مېرمن رېحانه :. څۀ مطلب؟

نورعالم:. په مطلب پوهـ نشوې ؟ دا خو مونږ په اسمان غوښته او خدائے کورته راوسته. په دې به مونږ پچه اوباسو چې دَ چا اوخته نو دَ هغۀ شوه . ځه مېرمن مونږ خپلې فېصلې ته پرېږده ، دې سره هغه فلورا دَ لاس نه نيسي ، په کمره کښې يې بنده وي او مېرمن رېحانه دَ لاس نه نيسي دَ کور نه يې بهر اوباسي . فلورا ډېرې چغې اووهي ، تمبې جړ کوي خو هغې ته ورلرے نشي . جان پري او ګل پري خپلو خپلو خاوندانو ته حيران حيران ګوري خو هيڅ نه نشي وېلې او هيڅ نشي کولې . په پچه کښې فلورا دَ نورعالم اوخته ، ګل عالم اګر چۀ دَ

خپل قسمت نه ګیله من شو خو دَ خپل قسمت فیصله یې اومنله او هغه له یې مبارکي ورکړه . چې شپه تیاره شوه نو نورعالم هغه دَ کمرې نه اوویستله ، موبائیل یې ترېنه واخستو ، پړونې یې ورته په سر کړو او دَ ګل عالم په مرسته یې دَ کلي نه بهر اوویستله او چې دَ کالو شاړې ته ووختل نو هغۀ ترینه واپس شو او هغوی دواړه روان وو. په ټوله لاره نورعالم په یولاس هغه دَ لاس نه نیولے وه او په بل لاس یې هغې ته طماچه نیولے وه . هغه غوښتل چې زر تر زره دَ شیخ نیکۀ په هدیره کښې دَ منجاور کوټې ته ځان اورسوي . دغه شاړه تر لرې پورې خوره شوې وه . په لاره څو څو ځله هغې دَ تختېدو نیت اوکړو خو چې دَ خپل مرګ یره به پرې راغله نو خپله اراده به یې اوزانګوله. هغه نیازبینه او نازکه چې چرې یې ګل هم دَ ډنډرې نه وو شوکولې ، حالات وواقعات دې ته جوت کړه چې په شاړه کښې په ټیندکو او غورځیدو پرېوتو روانه وه . یوخوا یخنې وه ، بل خوا دَ حشراتو او ګیدړانو چغې وې ، دې نه علاوه هغې سره دَ عزت یره هم وه او دَ خپل مرګ هم . په دې دې کښې هغوې دَ شیخ نیکۀ هدیرې ته او دَ منجاور کوټې ته اورسیدل . په کوټه کښې دَ منجاور کټ پروت وو خو هغه نه وو . چې هغه یې کوټې ته دننه کړه نو ور یې بند کړو او ډیوه یې بله کړه . دَ ډیوې په رڼا کښې یې هغې ته اووے ، "دے کټ کښې کېنه . هغې ورته په ډکو سترګو اوکتل او وې وئیل ، "تازۀ دلته څۀ له راوستم "؟



www.pukhto.net



نورعالم :. تاته پته نیشته چې تۀ ماڅۀ له راوستې یې ؟

فلورا:. نورعالمه روره ، خُدا ے ته اوګوره ، په ما رحم اوکړه ، دَ خُدائے دَ عذاب نه اویریږه .

نورعالم :. دا نصیحت تا خپل رور ته ولې نه کوو.

فلورا:. ته زما نه څۀ غواړے ؟

نورعالم :. تۀ زما ښځه یې . ما په پچه ګټلې یې او زۀ تانه هغه څۀ غواړم څه چې یو خاوند دَ ښځې نه غواړي .

فلورا:. دا ته چې څۀ غواړے نو دا خو تا په خپل کور کښې خپلې بې‌بې سره هم کولے شو زۀ دے دلته ولې راوستم ؟

نورعالم:. دلته به دې اوشرموم او هلته به دې ځان ته په نکاح کړم .

فلورا:. که زما مرګ کښې دے مطلب وي نو اوله ، ګولۍ چلوه ، سینه مې درته نیولې ده او که ستا نور څۀ خیال وي نو دغه باتۍ دَ غوږونو نه اوباسه دغسې نشي کېدې .

نورعالم:. ستا سینه په ګولو دَ ویشتو نه ده بلکه دَ آرام ، سکون ، لذت او دَ خوب دَ پاره ده ، دې سره هغه هغې ته لاس اچوي . هغه دَ غصې نه سره لمبه شي او په مخ ترېنه شړق اوباسي . نورعالم پرې دَ طماچې ګزار کو ي خو هغه ترېنه لاس اونیسي . دَ دواړو لاسونه یو بل سره انختي وي او زور آزمائي کوي . په دغه وخت کښې نورعالم هغې له دومره سخته لته ورکړي چې هغه په زمکه پریوځي او سانتې په سانتې په زمکه زغړي . نورعالم دَ هغې دَ نیولو کوشش کوي خو

هغـه ډېره په تیزۍ سره پاځي ، ډیوې له پوکې ورکوي او په یو شغ په ور اوځي او بهرته منډه کړي . نورعالم چې دَ کوټې نه اوځي اوځي نو هغـه تربـنـه مخکښې غزیدلې وي . هغه ورپسې منډې وهي . هغه مخکښې وي او نـورعـالـم ورپسې وي . په دغه منډه منډه کښې پرې هغـه دوه غبرګې ډزے اوکړي ، خو هغه دَ ډزو هډو څۀ پروا اونکړي البته لرې دَ سپو دَ غپار اواز راشي . دواړه لکه دَ فلمي هیروئن او ویلن منډې وهي . په منډه منډه هغه دومره ستړې شوې وه چې سلګۍ یې وهلې او په وازه خوله یې ساه اخستله . هغه نه پوهېده چې هغې له څۀ کول پکار دي او څۀ اوکړي . په منډه منډه کښې دوه مسلح کسان دَ هـغـې مـخـې تـه اودرېدل او غبـرګ اوازونـه راغلل . هرڅوك چې دغلـتـه اودرېږه چې رپ اونه وهې". هغه په دې ناصافي چغه دومره اوېـریـده چې پـه چـغـه یـې اووې ، "یاالله تۀ مِ مل شے". هغه چې په ځان پـو هـېـده نـو دَ مسـلـح کسـانـو پـه خپو کښې پرته وه . دَ هغې دَ خـولې نـه پـه یـره یـره اووتـل ، "خـداے دَ پاره په مارحم اوکړې او دغه ظالـم نـه مِ خلاصه کړې". په دېکښې دوه سپي راشي دَ هغې خپې بوئیں کـړي او یوخوا ته اودرېږي . مسلح کسان چې دَ ظالم ټکې ووري نو نـورعـالـم تـه وائي ، "دغلته اودرېږه ، مخکښې رانشـے ګینې خیر دے نیشـتـه". نـورعـالـم هغوي تـه پـه ساه ختـلـې انداز وائي "دا زما ښـځـه ده ، مـاله یې راکړې ګینې ګولۍ درغله". مسلح کسان چې دَ هغه دهمکي ووري نو دَ هغۀ دَ یرولو دَ پاره په هغه هوائي فائر کوي او


www.pukhto.net



سپـو تـه وائي ، "اوې نیسـی چې لاړ نشي درنـه". سپي لکـه چې دَ هغوي حـکـم تـه بـنـد وو ، هـغـوي پرې ورغـړپ وهلے ، نورعالم چې مـنـډه وهـله وهله نو دَ هغۀ دَ دواړو سپینو نه یې غټې غټې قطرې په خولـو کښې اوړے وے . نـورعـالـم چې راپرېوتو نو هغوي سپو ته دَ واپسـی حـکـم اوکـړو چې سپي واپس شو نو نورعالم په ګرمه ګرمی کښـې بیـا مـنـډه کړه او چې دَ منجاور کوټې ته رسېدو نو زخمونه یې یخ شو ي وو او دردونـه یـې زیات شو ي وو . چـې دَ مـنـجاور کوټې ته اورسـېـدو نـو دَ هغۀ په کټ کښې په وینو کښې رنګ بنګ دردېدلې پریوتو .

مسـلـح کسـانـو کښـې یـوکـس چې هغې ته تارچ اونیوۀ نو دواړو په حیـرانـتـیـا یـوبـل تـه اوکـتـل . بیا یې هغه په دواړه کسه اوچته کړه او خپـلـي خـېـمې ته یې بوتله . زنانه دَ مخکښې نه دَ هغې په انتظار وې هغوي چې ورتـه دَ لالټیـن په رڼا کښې اوکتل نو ټولو په حیرانتیا یو بـل تـه اوکتـل . یوې پکښې اواز اوکړو "بي بي تۀ ؟" دې سره ټولې په ژړا شـوې او هـغـه یـې په بستره واچوله . فلورا چې ستړګي اوغړولې نـووړمـه او خندانه ورته ناسته وه ، دَ هغې خپې لاس یې منډل او نورو ښـځـو ژړل . میـرام جان اوګـل جان حیران وو چې بي بي دې شاړې ته څۀ بلا راؤړه . خو بیا یې دَ خپل خیال تردید اوکړو چې هم دغسي بلا راؤړې وه کـومي نـه چي خـلاصـه شـوه . سپیـنـې هغې له زر زر شنه چاې تیـاره کـړه . چي کـلـه دَ هـغـې یره ختمه شوه . او حوصله یې په

ځائے شوه نو سپينې ورته پيالۍ اونيوه او ورته يې اووې ، " بي بي پيالۍ واخله". فلورا دَ هغې په پېرزونه کښې هډو انکار اونکړو او دَ هغې نه يې پيالۍ واخسته . دَ هغې جامې ځائے په ځائے شليدلي هم وې او په خاؤرو کښې لړلې شوې هم وي . دَ چاې نه پس هغوي په هغې کمبل واچوله . يوخوا ورسره وړمه سملاسته او بل خوا ته خندانه . چې کله دَ هغې بدن ګرم شو نو سترګي يې ورغلې او اوده شوه .

هلته دَ ميډم رېحانه په رپورټ باندې پولس دَ نورعالم په کور باندې چهاپه اووهله او دَ ګل عالم نه علاوه دَ هغوي ښځي او بال بچ يې ټول شپه په شپه په حوالات کښې بند کړل . دَ هغوي زنانه ، ماشومان او ګل عالم په نور عالم باندې ګواه شو او دَ هغهٔ لټون شروع شو. هلته کاشان او صبا څو څو ځله فلورا ته فون اوکړو خو چې دَ هغې له خوا څه جواب موصول نشو نو بيا يې مېډم رېحانه ته دَ کال کوشش اوکړو. خو دَ هغې موبائيل بند وو. بهرحال کاشان په دې مطمئن وو چې کېدېشي دَ هغې شپه مېډم رېحانه کره وي .

★★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## څلورمه برخه

کاشان او صبادَفلورا په وجه ډېر پرېشان وو . هغوي ترناوخته پورې دَ هغې انتظار کوو خو چې نه هغه راغله ، نه يې هغې يا مېډم رېحانه سره څۀ رابطه اوشوه نو دَ هغوي پريشاني نوره هم زياته شوه. چې څومره شپه پخېده هومره دَ هغوي اندېښنه زياتېده . هغې اګر چې په تلو تلو کښې کاشان ته وېلې وو چې کېدېشي دَ هغې شپه مېډم رېحانه کره راشي . په دے خيال به هغهٔ کله کله زړۀ له تسلي ورکوله او دَ صبا دَ تسلي دَ پاره يې هغې ته هم دغه خبره اوکړه خو دَ هغې دَ هغهٔ په دې غېر يقيني خبره تسلي نه کېده او داسې ورته محسوسېده لکه چې هغې ته څۀ اندوهناکه واقعه پېښه شوې وي يا څۀ حادثه شوې وي . کله کله به هغه په خپل خيال کښې ډېره لرې لاړه ، دومره لرې لکه چې هغې ته رسېدلې وي ، هغه وينې ګورې، هغې سره خبرې کوي ، دَ روغې جوړې په حقله ترېنه معلومات کوي او دَ هغې په خبرو غور کوي کله کله به دَ هغې تصوير دَ هغې دَ تصور نه اووتو او چرته به غېب شو خو هغه به تر هغې ورپسي ګرځېده چې هغه به يې دَ کونجونو او ګوټونه را اوويستله ځان ته به يې مخکښې اودروله او بيا يې ترېنه مختلف تپوسونه کول .

هلته مېډم رېحانه دَ فلورا په وجه ډېره پرېشانه وه . هغه پوليس سره په تفتيش کښې ګرځېده او هغوي له به يې معلومات ورکول. هغې په دې يره خپل موبائيل بند کړې وو چې که صبا يا کاشان دَ هغې نه دَ فلورا په

حقله تپوس اوکړي نو هغه به ورته څۀ وائي ؟ دَ ګل عالم دَ بیان مطابق دَ نورعالم سرچ اپرېشن شروع شوې وو. او پولیس دَ شیخ نیکۀ هدیري ته اورسېدو . چې دَ منجاور کوټې ته وردننه شو نونورعالم دَ بېهوشۍ په حالت کښې په وینو کښې رنګ بنګ پروت وو او دواړه خپې یې دومره پړسېدلې وې چې شنازونه ترېنه جوړشوي وو. پولیس هغه دَ بېهوشۍ په حالت کښې اوچت کړو او هسپتال ته یې یوړو. دَ ډاکټرانو دَ معائنې نه معلومه شوه چې دَ هغۀ دواړو خپو ته خطرناك قسم کېنسر لګېدلے دے او دَ هغۀ په ټول بدن کښې دَ کېنسر جراثیم ډېر په تیزۍ سره خورېږي .

هلته فلورا په درund خوب اودۀ وه او میرام جان ، ګل جان او دَ کور زنانه لګیاوې دَ خپل پړاؤ اوچتولو تیارې یې کوو. هغوي چې کډا وتړله او په اوښانو یې بار کړه نو یوه اوښه یې چوکړه ، دَ بهوسو درې انډې یې پرې بارکړل او درې وانړه یې خپلو کښې ښه مضبوط اوتړل او دَ بار دَ پاسه توشك واچولې شو. بیا وړمې اوخندانې فلورا اوچته کړه او په دواړه کسه یې په اوښه واچوله . دغه اوچتولو او اچولو کښې چې د فلورا سترګې اوغړېدې نو خندانې ورته په مُسکا اووې، "یرېږه مۀ بې بې زۀ درسره یم . زمونږ پړاؤ اوچت شو ، تۀ مونږ سره کاروان کښې روانه یې ". دې سره هغې هم انډې ته ډډه واچوله او کمبل یې په ځان او په هغې خوره کړه ، کاروان ډېر تېز روان وو ځکه چې میرام جان دغه ځائے نه زر تر زر ځان ویستل غوښتل . څه وخت پس وړمه هم اوښې ته اوخته او جلب یې لاس کښې اونیوؤ . بیا ځان سره


www.pukhto.net



لګیاوه او سارباني لوبه یې وېله ، چې ـ

ـ ناقۀ سیّار من ، آهوئ تاتار من

تیز ترک گام زن ، منزلِ ما دور نیست

هغې لوبه وېله او اوښه په شرنګېدلي جرس روانه وو.

دَ کاشان سترګې لګېدلې وې خو صبا له خوب نه ورتلو . هغه ټوله شپ دننه بهرته تله راتله خو په خپله بستره کښې یې ډډه نه لګېده. هغې ته داسې محسوسېده لکه چې دَ دنیا ټول لوې واړۀ مېږې دَ هغې په بستره کښې ډهېره شوې او دَ هغې په بدن اخته شوي دي. هغه ځو ځو ځله دَ کاشان کمرې ته په دے غرض ورغله چې هغۀ ته خپله مجوري اووائي خو هرځل به په دے خیال واپس شوه چې دَ هغۀ په ارام کښې خلل رانشي . یوخوا دَ هغې په بدن دَ نادیده مېږو یلغار وو بل خوا دَ فلورا دَ خیر خبر انتظار وو. دَ فلورا په باره کښې اګر چه دَ کاشان ذهن څۀ حده پورې مطمئن وو خو صبا سره ډېره یره ملګرې وه . دَ هغې یوه یره دا وه چې که دَ هغې رونړو سره دَ روغې خبره شوې وي نو دا شرط به پکښې لازمي وي چې دَ هغې ډولۍ به دَ هغوي دَ کوره اوچتېږي او فلورا به هغوي سره متفقه شوې وي ځکه چې هغه هم دغه غواړي. که داسې اوشي نو هغه به خامخا هلته ځي ځکه چې هغه دَ فلورا مخې له نشي ورتلې . او که هغه هلته لاړه شي نو کېدېشي چې دَ ډولۍ اوچتولو په ځائے دَ هغې جنازه اوچته شي . دَ هغې په زړۀ کښې دا خیال هم راغۍ چې هسې نه دَ هغې رونړو دَ هغې په بدل کښې فلورا په دے شرط کېنولے وي چې ، "هغه راوله نو تۀ څه ".

دَ هغې په خیال کښې دغه دواړه خبرې وې او دَ دواړو خبرو دغه یو مطلب وو چې هغه به په هرحال کښې هلته ځي . دے خیال سره به هغې ته دَ خپل بدترین او عبرتناك انجام یوه یره ونکې خاکه مخکښې شوه او سترګې به یې ډکې شوې . دَ سبانۍ ورځ په خیال به دَ هغې بدن اوړچېدو او په زړهٔ کښې به یې بیا بیا دَ خدائے نه دا دُعا غوښتله چې دغه شپه دومره اوږده شي چې دَ هغې دَ ټول ژوند جوګه شي خو چې چرې سبا نشي .

یو ځل دَ هغې په زړهٔ کښې خیال راغی چې دَ فلورا دَ راتلو نه مخکښې مخکښې هغه د دے کورنه لاړه شي خو بیا به ورله دا خیال ورغی چې چرته لاړه شي ؟ او کاشان چاته پرېږدي ، هغه کاشان دَ چادَ ګټلو دَ پاره چې هغې خپل هرڅهٔ بائللې وو، هغه دومره په اسانه او دَ خپل ژوند په یره ولې پرېږدي ؟ هغه به په هرحالت کښې هغه سره وي . دَ هغهٔ په څنګ کښې به وي او دَ هغهٔ په ننګ کښې به وي . دے خیال سره هغه خپلې کمرې ته واپس شوه او په خپله بستره کښې سملاسته خو هغه زړه مسله ورته بیا راپېښه شوه . دَ هغې په بدن میږي خوارهٔ شو. هغه دَ خپلې بسترې نه پاسېده او دَ میږو لټون یې کوو خو داسې معلومېده چې دَ هغې دَ بسترې میږي دَ هغې بدن ته ختلي دي . هغې په زړه اوخوړه چې هرڅهٔ چې دي خو دَ هغې په جامو کښې دي . هغې خپلې جامې هم لټ په لټ واړولې راواړولې خو هیڅ یې پکښې اونه موندل . بیا یې یوه نوې جوړه راواخسته ، هغه جوړه چې فلورا ورله دَ وادهٔ دَ پاره په ډېره مینه راوړې وه . دې نه پس واش روم ته ورغله او جامې یې بدلې


www.pukhto.net



کړې . بیا یې په زړهٔ کښې خیال راغی چې دَ فلورا دَ راتلو نه مخکښې خپل تیارې ولې اونکړي . دے خیال راتلو سره هغې خپل ټول کالي راواخستل او هغه ټول یې په خوند خوند واچول . بیا لوې ائینې ته اودرېده او خپله سرخنه یې اوکړه . زلفې یې په اوږو خورې کړې او سره بنارسۍ په سر کړه . هغې ته خپل ځان بیخي ناوې ښکارېدو البته یو کمې پکښې دا وو چې په لاس خپو یې نکریزې نه وې لګولې . هغه ډېره شیبه ائینې ته ولاړه وه او دَ خپل حسن تماشه یې کوله . دې نه پس په مزه مزه دَ خپلې کمرې نه اووته او دَ کاشان کمرې ته ورغله . یوه شیبه هغهٔ ته ولاړه وه او په سترګو یې دَ هغهٔ دَ مینې خوارهٔ راغونډول . بیا یې روغوندې اووې ، ”کاشانه تهٔ ویښ یې که اودهٔ ؟“ کاشان ته داسې محسوسه شوه لکه چې هغه په خوب کښې صبا سره خبرې کوي . هغهٔ په خوب کښې څهٔ اووے خو هغه پرې پوهـ نشوه . هغې سر ورتیت کړو او تپوس یې ترینه اوکړو ، ”تا څهٔ اووے کاشانه ؟“ هغه دَ هغې په تپوس ویښ شو او چې سترګې یې اوغړولے نو هغه ورته مخامخ ولاړه وه . هغهٔ چې په خوبولې سترګو هغې ته اوکتل نو مُسکے شو ، سترګې یې اومږلے ، یو ځل یې ورته بیا اوکتل او وے وئیل ، ”دا ته یې صبا ؟ اوه ، ماوې که د جنت حوره مِ مخې ته ولاړه ده “.

صبا:. په ما طنز کوے ؟

کاشان :. نه چرې هم نه . رشتیا ویم ، نوې جوړه ، بنارسۍ او کالي دې مبارك شه .

صبا:. ستا ډېره مننه . . .کاشانه تاسره کېناستې شم ؟

کاشان :. تاخو مخکښې چرې تپوس نه دې کړې ، نن ولې کوې ؟

صبا:. کاشانه ، زړهٔ مې دوړېږي ، راغوندې کړه پلیز .

کاشان :. څهٔ مطلب ( په حیرانتیا )

صبا:. ( په لاپروائي ) هیڅ نه ، سوري .

کاشان :. خفه شوې صبا . سوري .

صبا:. کاشانه ، ماتاته وېلې ووچې زهٔ دا غوارم چې زما ډولۍ زما دَ کمرې نه اوچته شي او ستا کمرې ته راشي . د دے په جواب کښې تا وېلے وو چې ، "دېکښې دَ ډولۍ ضرورت نیشته ، تهٔ په خپله هم راتلې شې . هم دغسې اوشوه کاشانه ، زهٔ ستا کمرې ته په خپله راغلم".

کاشان :. تهٔ خو مخکښې هم څو څو ځله راغلې يې . دا څهٔ نوې خبره نه ده .

صبا:. هغه خبرې لاړې تېرې شوې او دا نوې خبره ده . . .کاشانه ، داسې معلومېږي چې زهٔ دَ ډېرلږ وخت مېلمنه یم . . .ما معاف کړه کاشانه ما دَ خپل ژوند سره سره ستا ژوند هم ازغين کړو .

کاشان :. اوه صبا، دا څهٔ دَ مايوسۍ خبرې کوې . تهٔ خو ډېره بهادره وې تابانده څهٔ اوشو . داسې خبرې مهٔ کوه پلیز ، تهٔ به ژوندۍ يې او تل به ژوندۍ يې". صبا خپل سر دَ هغهٔ په غيږ کښې کېږدي او وائي، "کاشانه ، زهٔ په خپل ځان نه یم خفه، زهٔ په تاخفه يم . ما معاف کړه پلیز .

کاشان :. تهٔ داسې خبرې ولې کوې صبا؟ تهٔ خو زما ژوند يې ، زما تن بدن او روح يې . تهٔ زما دَ ژوند ساز او زما دَ روح اواز يې .



www.pukhto.net



صبا:. ماته پته ده کاشانه . زمونږ ژړونه او زمونږ مينه لاثاني او لافاني ده . مونږ دَ يو بل نه صبرېدے نشو خو دَ قدرت فيصله څهٔ عجيبه وي . هغه په خپله فيصله کښې دَ چا دَ ژړونو او مينې پروا نه کوي . . .کاشانه ، تهٔ يو معصوم ، بے اُزاره او ساده بوده هلك وے. نه په مينه پوهېدے ، نه ترې خبرېدے او نه په دغه ازغينه لارته تلے . . . زهٔ افسوس کوم چې زما په ګناه ته اونيولے شوے . او خپل خوشحاله ژوند درته عذاب شو . ته زما ګناه معاف کولے شے پليز، کاشان په ډکوسترګو دَ هغې شونډې ښکلوي او وائي، "تاهيڅ ګناه نه ده کړې صبا . تاصرف ماسره مينه کړې ده او مينه ګناه نه وي بلکه دا دَ هرانسان فطري حق دے . ما دَ پاره تهٔ فرشته يې . ستا عصمت ، ستا عزت او ستا غېرت ته زهٔ سلام کوم"، دے سره هغه په تندي لاس اړدي او هغې ته سلام کوي .

صبا:. داسې مه وايه کاشانه . زهٔ د دے القابو مستحقه نه يم . زهٔ که ستا په نظر کښې هرڅو مره قدرمنه يم خو . . .خو . . .دَ دنيا په نظر کښې نهٔ يم ځکه چې زه متهيزه يم. زهٔ دَ کلي دَ پيغلو په نظر کښې متهيزه يم. زهٔ به ترمرګه پورې بلکه دَ مرګ نه پس هم دَ متهيزې په نوم يادېږم او زما قوم قبيل ته به هم زما پېغور ورکړے کېږي . . . کاشانه ، نن ماسره ښهٔ ډېرې خبرې اوکړه چې په ژړونو مو څهٔ ارمان پاتے نشي . کېدېشي دا موقع بيا رانشي .

کاشان :. Come on saba .تهٔ داسې خبرې ولې کوې . ماولې دړدوې.



Pukhto.Net

صبا:. کاشانه ، زۀ مرم نه پاتېکيږم ...زما دَ مرگ نه پس ته ازاد يې . دَ ځان غوندې ښکلې بې بې سره وادۀ اوکړه ...ښه خوشحاله ژوند تېروه ...خو ...خو کله چې ځان له شے نو ما هم ياده وه . زۀ به دَ مرگ نه پس هم تاله پته پته راځم ...خو په ويښه نه بلکه په خوبونو کښې چې ستا بې بې په تا شك مه نشي . دَ کاشان سترگې دَ اوښکو نه ډکې شي . لړې لړې دَ هغه په مخ روانې شي او دَ هغې په مخ توېږي . صبا خپلې اوښکې هم اوچوي او دَ هغه اوښکې هم اوچوي او ورته وايي ، "کاشانه ، تاته يادشي چې مادرته دَ پارټۍ په ورځ په کالج کښې وېلې وو، "خُداے دے هغه موقعه نه راولي او که راولي نو چې مونږ دواړه دَ يو بل اوښکې اوچوو. (دَ ناخوالۍ مُسکا) څۀ عجيبه اتفاق دے . هغه وخت واقعي راغے . مونږ دواړه دَ يو بل اوښکې اوچوو ...کاشانه ، په تلو تلو کښې زۀ تاته يو امانت پرېږدم. هغه امانت زما موبائېل دے . هغې کښې ستا او زما تصويرونه دي. هغې کښې زمونږ دَ ژوند راز دے ، هغې کښې ستا دَ ډهولکې او زما دَ لوبو ساز دے . کله کله چې شاړې ته اوځے نو دغه سازونه غږوه . زۀ که هرځاے يم خو د دے اورېدو له به راځم . ستا به پرې زړۀ خوشحالېږي او زما به پرې روح تازه کېږي. زما دعا ده چې تۀ تل تر تله شاد او اباد يې ...زما وخت پوره کېدونکے دے . زما دَ منزل په مزل کښې ډېرلږ وخت پاتے دے".

کاشان دَ هغې په زلفو کښې دَ گوتو گمنزوهي ، دَ هغې دَ زلفونه په گوتو ولونه اوباسي او وائي ، صبا.' My dear saba'. زمونږ بدنونه دَ


www.pukhto.net



يوې وينې او دَ يوې مينې نه جوړ دي . زمونږ په بدنونو کښې يو روح گرځي . او زمونږ په زړونو کښې يوه مينه ده . چې ژوندي يو نو دواړه به يو ځائے ژوندي يو او چې مرو نو دواړه به يو ځائے مرو ...خو

ے لاستا په زلفو کښې ولونه شته دے
زما منزل ته مزلونه شته دے .

صبا، هغه له هيڅ جواب ورنکړي . دَ هغۀ دَ غېږ نه سر اوچت کړي لکه چې څۀ اواز يې ترغوږو شوے وي . هغه چې اواز وورې او مطمئنه شي نو دَ هغۀ په غېږ کښې بيا سر کېږدي او وائي.

صبا:. ے جرس شرنگېږي کاروان روان دے
کاشان:. زمونږ روانه کښې کالونه شته دے

دې سره دَ جرس دَ شرنگاري اواز ختم شي . يوخوا دَ سحر اذانونه شروع شي . بل خوا دَ گېټ تلې اوکړنگيږي . دَ تلې دَ کړنگاري سره دَ هغې دَ خولې نه دَ "بوق" اواز اوځي . بوق سره هغه دَ وينو قې اوکړي . چې گېټ لرے شي نو هلته فلورا ، ورمه او خندانه کورته راځي ، بل خوا دَ کاشان دَ خولې نه چغه اوځي ، "صبا ...صبا ...صبا، سترگې اوغړه وه صبا، آپا راغله . فلورا چې دَ کاشان چغه ووري نو ډېره په تيزۍ سره دَ هغۀ کمرې ته ورځي. کاشان بيا وائي، "سترگې اوغړه وه صبا آپا راغله "، صبا دَ هغۀ په اواز سترگې اوغړه وي ، فلورا ته په مُسکا کښې وخکې اووهي او سترگې پټې کړي . هلته دَ سبا سترگه را اوخته او دلته دَ صبا سترگې پټې شوې .